دَغنی کلیات

Ketabton.com

غنی خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغنی کلیات

د پنجرے چغار، پلوشے او پانوس ویونکے

خان عبدالغنی خان

خپرونکے

د قومونو او قبایلو وزارت

د نشراتو ریاست

۱۳۶۴ ش / ۱۹۸۵ ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه

عبدالغنی خان د پښتنو د استراتیجی، سیاسی شخصیت خان عبدالغفار خان مشر زوی دی. غنی د هندوستان د نیمی وچی د خلکو د آزادی د پوغوړنګی د ماشوم والی څخه د پاکستان تر راپیدا کیدو پوری مخامخ بخړ اخیستی او بی شکه د ضد استعماری او ضد امپریالیستی مبارزی د میدان یو پیاوړی مبارز پاتی شوی دی او په دغه لاره کی یی سختی او جیلونه ګالی دی. د دی سره سره د مستعمره هند تر محدود واک لاندی انتخاب شوی مرکزی قانون جوړونکی اسامبلیه کی د هند د آزادی غوښتونکی ګوند کانګرس له خوا د پښتنو د صوبی یوازینی منتخب نماینده پاتی شوی و.

د هندوستان د ویش په نتیجه کی د پښتنو بی برخی کیدو غنی خان په مړو جوړو ادبی ثمره ګوزاری سیاستونو باندی بی باوره کړ، د سیاست د چیغو او ناروله کتارنه راجلا شو او د شعر تیره تور دی د نابیان شو د حقیقتونو او ناویونکو د ګونو د بیان او د سوا کو تو لپاره له تیکی راوایستله. هر څه یی چی زړه او الهام ورته ویل، هغه یی د لیکل او په دی توګه یی هغه لوی عقل چی "شعر" نومیږی صیقل کړ او د رعایتونو او قیودو له ننګ سره او شرم نه یی آزادی ورکړه.

بله دی چی غنی د فلسفی تفکر په لحاظ تحلیل کړو او بله دی چی د یو ټش بجسته جوړونکی او خوار خیز هنرمند په توګه یی ښکیږو، دی زموږ د دوران یو دیرلوی شاعر دی چی د انسان

A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ښکلا اولوي او دهغه په کمزورو ټولګي پښتون شاعر ښه پوهيدلی دی . دو دانسان نکل غوښتی او ګناه رهښتو دهغه ښه ښه مذهبي فلسفي ، سياسي او عرفاني اندېښنو کی ځيرلی او آزمويلی دی . غني د دی لپاره چې د شعر ژبه پاکه ساتي او د دی لپاره چې انسان د دوکې او پرځان باندې د بادرې کولو په لومه کې نه کړي پرتوګو قرار دادی تقدساتو بازي مينه بزدی او خلکو ته د ريا کارو شيخانو او وطن فروشه اخوندانو کاذبانه لافي او مقدس درواغ برښلا دی .

اې دلبو نيانو نيکه لمونځ ښه که مستي ښه ده
حسن چې ويل ښه دی که حسن پرستي ښه ده

په پاکستان کی د پښتو ژبې د روانی بډرغی او د پښتنو د کم سوادی له کبله د عبدالغني خان غني شعر د نيا وال دده د شعر د پياوړی سوزيک او دهغه د رنګينو عطرو د وږمو له احساس څخه محروم که پيدی ، زه باور لرم چې پښتانه ، افغانان او نړيوال به په لنډ مستقبل کی غني د خپلو نه فنکيدونکو شعرونو په محراب کی وريني او وبه يې لمانځي .

د غني انتقادي ژبه برښلا ده . دی ديو رومانتيک ، رياليست په توګه د ښکلا او د مينې ستايونکی دی . ليکن په هر څه . هر ځای او هر وخت کی انسان د ځمکې خوځنده او وښيار خاوند نه هيروی . هغه له خپلو تولو بلايو او خطاوو سره د ده د شعر په محراب کی ناست دی او د خپلو ښکلو او بدايو په منداريتوب کی د غني د شعر ته د لذت او عذاب په زانګو کی ژړونه د دوام لپاره الهام ورکوي .

سليمان لايق

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه او مننه

د قومونو او قبایلو د وزارت او همدا رنګه د نشرات او د فرهنګی امورو د ریاست له خوا په درې سیو پنځو کلونو کې څېړنې کتابونه او رسالې د مقالو مجموعې او نور ګټور فرهنګی، ادبي، تاریخي او علمي کتابونه د حروفي چاپ په آفسیټ او ګستنر له لیاري چاپ او خپاره شوي دي چې د دغو کتابونو له جملې څخه پنځه ویشت علمي ادبي، تاریخي او کلتوري کتابونه د افغانستان د علومو اکاډیمۍ علمي غړي معاون سرمحقق زلمي هیواد مل د هیواد له فرهنګ سره د مینې له امله بې حق الزحمې، بې افغانۍ او بې پرته له کومې رسمي مکلفیته په ډېرې ډول موږ ته چاپ کړي دي، د ځینو کتابونو د اهمیت او د مقالو د ډېرې مجموعې (د الفت یاد - د نګونو شاعر غني او اجمل) تدوین یې هم ډېرې ترسره کړي دي.

زموږ له کتابونو نه بېرته د باچا خان زما ژوند او جدوجهد، او د باچا خان لیکونه هم د بې کومې مادي ګټې په منډه صرف د باچا چاپ کړي دي. د نشرات او د فرهنګی امورو ریاست د دوه غمه د ډول مخونه په دې ستر ګه ګوري له زړه مننه تري کوي او د دغه په ډېره د هیواد په فرهنګ او کلتور مین هیواد مل نه په راتلونکي کې هم د یادشوي فرهنګي او علمي موسسو هیله لري

په درناوي

عبدالله درویش

د نشرات او د فرهنګی امورو رئیس

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

عنوان	مخ
پیشکش	۱
دعا	۳
ثنا	۴
ژوند	۵
کواه ؟	۷
خوږه	۸
بل څه	۹
تش جام	۱۰
غم	۱۱
هوش	۱۲
حسن	۱۴
اوږکنبے	۱۶
حساب	۱۹
غزل	۲۲
قسمت	۲۳
دَفریدون دموږخط	۲۴
اول سترستادَ لیدَ خورا	۲۸
توقه	۳۱
دِنکنبے	۳۲
جنّت	۳۴
سپرلے	۳۶
ژوندون	۳۹
بلهلار	۴۱
قسمت	۴۳
قارغان مارغان	۴۵
مرگے	۴۶
چینوخ	۵۰
مزه	۵۲
بازیگر کمتر	۵۴
کوچے	۵۶
تورانئ	۵۸
ملاچرگک	۵۹
بورا	۶۱
تارو	۶۳
کوږکوږه	۶۶
مچ	۶۷

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخ
شپږ زمری	۶۹
اوه کلونه	۷۴
پلوشه	۷۹
خیال او رنګ	۸۰
یوخط	۸۲
کاروان	۸۳
بے وفا	۸۴
بَند	۸۵
خمار	۸۶
مدرسه	۸۷
صنوبر	۸۸
ته اوزه	۹۱
صحرا	۹۵
څه وُ چه هیڅ نه وُ	۹۷
جزا	۹۸
شهوت	۱۰۱
خندا	۱۰۲
سپیّ	۱۰۴
کټ ماله	۱۰۶
مسافر	۱۰۹
بے غیرته پښتون	۱۱۱
د امکان او لامکان	۱۱۳
قانون	۱۱۵
آسره	۱۱۶
دَ بورۍ تال	۱۱۷
در په در	۱۱۸
کوداګی !	۱۲۰
مرګ	۱۲۱
مینه	۱۲۳
جنت	۱۲۴
شمع	۱۲۸
جانان نها	۱۲۹
قیدی	۱۳۱
غیرتی	۱۳۲

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخ
تسلی	۱۳۵
سوال ـ خانان	۱۳۶
افسوس ـ راک	۱۳۷
که خیرو ـ حال زما	۱۳۸
که ـ دوصال مزه	۱۳۹
ثنا ـ موږ ـ	۱۴۰
بابیره ـ بهار	۱۴۱
اے دهرچا دلبره	۱۴۳
غزا ـ خان	۱۴۴
اتفاق ـ انسان او فطرت	۱۴۵
غم	۱۴۶
داروش دد دنیا	۱۴۶
انبیلتیه ـ زوراور	۱۴۷
دتورو فریاد ـ جتهه	۱۴۸
خرمستی	۱۴۹
ترانه	۱۵۰
دعا ـ زړه اوس	۱۵۱
کونډه	۱۵۳
دعشق نور	۱۵۴
اے زړه ـ تهاوزه	۱۵۵
بلباته	۱۵۶
خانصاحب	۱۵۷
مورے	۱۵۹
گل که یار	۱۶۰
لیلی	۱۶۱
سوال ـ لیونتوب	۱۶۲
توبه	۱۶۳
سیل	۱۶۴
کلی ـ بهانه	۱۶۵
پلوشه ـ غرور	۱۶۶
اے دخار کله ـ کړے وړے	۱۶۷
پلوشه ـ لوبه	۱۶۸
کړے وړے ـ انصاف	۱۶۹
پهکاردی ـ زور	۱۷۰

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخ
بادشاه خان تخط	۱۷۰
نیمے مرستر حیرانوانے	۱۷۱
دفقیرانو غزل	۱۷۲
خوشحال خان خټک	۱۷۳
لږ شوخمار پیدا	۱۷۴
میاجعفر شاه تخط	۱۷۵
کډے وړے	۱۷۵
پلوشه	۱۷۶
کاږغه او بلبل	۱۷۷
پلوشه	۱۷۸
رشته	۱۷۹
پلوشه	۱۸۰
زه	۱۸۱
معمیٰ - پلوشه	۱۸۲
لنډے چرک	۱۸۳
دمال وزیر تخط	۱۸۳
خـــرو	۱۸۴
دے ژوره	۱۸۶
پلوشه	۱۸۸
پلوشه - دلربا	۱۸۹
هیڅ زمالیلی	۱۹۰
پلوشه - بهار	۱۹۲
ولے	۱۹۳
درو درو	۱۹۴
ولے - مینه او حسن	۱۹۵
زما د کلو لښتے	۱۹۶
ځوانی	۱۹۶
کډے وړے	۱۹۷
پلوشه	۱۹۸
کډے وړے	۱۹۹
خار در نشمه	۲۰۰
پلوشه	۲۰۱
بے پرواه لکه لوے	۲۰
مبارک	۲۰۲
حوره	۲۰۴
غمگین وستر گو	۲۰۵
عدم تشدد	۲۰۶
جدائی - فلسفه	۲۰۷
دفقیرانو سوال	۲۰۸
جانان - رباعی	۲۰۹
پلوشه - لیونی	۲۱۰
سوال جواب د لیونی	
او ملا	۲۱۱
پلوشه	۲۱۲

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخ
کڅه ے ورځے	۲۱۳
پلوشه	۲۱۳
دپسرلی شپه	۲۱۴
دعا	۲۱۵
شاعری	۲۱۶
جنډه	۲۱۶
مور	۲۱۷
دبنډ پیروشهزادگئ	۲۱۷
زه	۲۱۹
تول اوتال	۲۲۰
خـــرو	۲۲۱
اسلام	۲۲۴
سیل	۲۲۶
کڅه ے ورځے	۲۲۷
مسلمان	۲۲۸
دنادشمع کښے ـ دسحر نور راغی	۲۲۹
پلوشه	۲۳۰
اگست ۱۹۴۷ع	۲۳۰
تول	۲۳۰
ارمان ـ بکواس	۲۳۱
پلوشه	۲۳۲

عنوان	مخ
دوه خبرے	۲۳۲
کڅه ے ورځے	۲۳۲
دنیاگئ ـ دالئ	۲۳۳
کڅه ے ورځے	۲۳۴
قصه	۲۳۴
کڅه ے ورځے	۲۳۵
ځوانه	۲۳۶
سلام	۲۳۷
دژمی ماښام	۲۳۸
ژوند	۲۳۹
ربه	۲۴۰
اول سترستا	
دلیدو خورا	۲۴۱
رباعی	۲۴۲
یادے دی	۲۴۳
دنیا	۲۴۵
ژوندون	۲۴۵
جنتی ته	۲۴۶
واوره جنتی	۲۴۸
شان اوشونګ	۲۴۹
ترانه	۲۵۲
شاعراولیلئ	۲۵۴

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخ
اے نایکہ	۲۵۶
ژوند	۲۵۸
غزل	۲۶۰
عبادت	۲۶۱
دایلم توتیان	۲۶۲
سزا اوجزا	۲۶۳
ماتم	۲۶۵
پلوشه	۲۶۶
شاعری	۲۶۶
ټک	۲۶۸
کله ده وی	۲۷۰
پلوشه	۲۷۰
لکه داخلی چه ماشوم	۲۷۱
تقسیم	۲۷۳
بیا	۲۷۴
لیلیه	۲۷۹
شوکه	۲۸۰
وخت	۲۸۱
وائی ملاجان ـ پلوشه	۲۸۳
نوس	۲۸۶
شپه وه دسپوږمۍ	۲۸۷
کیمیاگر	۲۸۹
دبوډ تال	۲۹۰
سانه	۲۹۳
ناوی	۲۹۴
اسپتال	۲۹۶
شهید ډاکتر صاحب	۲۹۸
پروت یمه یوانه	۳۰۰
دانده	۳۰۲
حسین	۳۰۰
سپوږمۍ	۳۱۳
نوی بلا	۳۱۵
دغمګین پټوس	۳۱۷
حساب کتاب	۳۱۹
دزړه خال	۳۲۱
دنیا او غلام	۳۲۴
یورپ	۳۲۶
زما وطن	۳۲۸
جنت او دنیا	۳۲۹
مینه او حسن	۳۳۲
سړی ګل	۳۳۳
دنیا	۳۳۴
چه آدم خاوره	۳۳۹
قسمت	۳۴۱
مرګ	۳۴۵
یوان	۳۵۰
رنګ	۳۵۱
کله ده وی	۳۵۲

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخ
تصور	۳۵۳
د سامری محل	۳۵۵
گلدورے کئی پہ شا	۳۵۷
جلال	۳۵۸
د ازمونږ غونډ....	۳۶۰
زما محترم روزګار سردار علی خان	۳۶۱
بے نواته خط	۳۶۲
پلوشه	۳۶۵
نقاب	۳۶۶
اختر	۳۶۸
تپوس که جواب	۳۷۰
تلے مرک	۳۷۲
لټون	۳۷۴
کاروان	۳۸۰
نه کیږی	۳۸۲
راکه ساقی راکه	۳۸۳
دیوداسی	۳۸۵
منم	۳۸۸
کلونه د ورځاری	۳۸۹
ځمه، ځمه ځمه	۳۹۰
یوه تکے	۳۹۲
بامیان	۳۹۳

عنوان	مخ
سپرلی	۳۹۴
ماښام	۳۹۶
سپوږمۍ سکۍ شو	۳۹۷
چینجی	۳۹۸
د لندن معشوقے	۴۱۴
عجبه فلسفه	۴۱۵
کوکوشتو	۴۱۷
ترجمه د اقبال	۴۱۸
دعا	۴۱۹
میلاد آدم	۴۲۰
یو بے مهاره او بزګر	۴۲۱
سینډ ځمه....	۴۲۲
بادپوه	۴۲۴
تالیے	۴۲۵
خیام	۴۲۶
روږه قلندره	۴۲۸
نوے سیاست	۴۳۰
زما لال	۴۳۱
کنی دنیا بنه ده	۴۳۲
پلوشه	۴۳۴
دعا	۴۳۵
هوبر کیږه هو	۴۳۶

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخ
پلوشه	۴۳۸
حقیقت او مجاز	۴۳۹
اوه، چتول عمر...	۴۴۰
پلوشه	۴۴۱
ته اوزه	۴۴۲
درزنے پہ کیدو	۴۴۳
کڅه وړے	۴۴۴
خندا او ژړا	۴۴۵
چه دمستئے نه...	۴۴۶
وه ملا	۴۴۷
ژوند	۴۴۸
عشق	۴۴۹
په مړدان مارچ...	۴۵۰
یو بڅرے	۴۵۲
سوال جواب	۴۵۳
اے ڈلیونیا نونیکه	۴۵۵
شهید	۴۵۶
منصور	۴۵۷
څرؤ	۴۵۹
پیدایش	۴۶۰
کڅه وړے	۴۶۲
لنډے	۴۶۳

عنوان	مخ
مسلمان	۴۶۶
ساقی	۴۶۷
نوے کال	۴۶۸
زه	۴۶۹
سپرلے خلاصیږی	۴۷۰
دجیلخانی خوب	۴۷۱
کڅه وړے	۴۷۴
قید	۴۷۵
خاورے	۴۷۸
دخوبونو جهان	۴۸۰
اے باد صبا	۴۸۱
مهذب	۴۸۲
سوداگر	۴۸۳
کوکل	۴۸۶
جناب شیخ	۴۸۸
تاریخ	۴۹۰
ساز	۴۹۱
صاحب	۴۹۳
اور	۴۹۴
آدم	۴۹۷
نه کیږی په عقل	۴۹۹
اختلافات	۵۰۲

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخ
لوږه	۵۰۳
ویش	۵۰۵
دغم لور	۵۰۶
زور	۵۰۷
بُت	۵۰۸
پیژندګلو	۵۰۹
ولے ؟	۵۱۰
باچا	۵۱۲
دوزخ	۵۱۵
لیونی	۵۱۸
زه	۵۱۹
اوښ	۵۲۰
مرګے	۵۲۳
کمتره	۵۲۴
باوړے	۵۲۶
میږے	۵۲۷
وصیت	۵۲۸
ماشے	۵۳۱
پیرے	۵۳۴
اَس بَدو	۵۳۵
پلوشه	۵۳۷
قارغه	۵۳۸

عنوان	مخ
پلوشه	۵۴۰
چرګ	۵۴۱
ښځے	۵۴۲
تیروتے	۵۴۴
زبرګ	۵۴۵
ګډے وډے	۵۴۷
ګډے وډے	۵۴۹
عجیبه فلسفه	۵۵۰
دتوت ښاخ	۵۵۳
بس دے افلاطونه	۵۵۵
پټره دادنیا	۵۵۸
جوارګر	۵۵۹
الا بلا به کړدن ملا	۵۶۱
جلال	۵۶۲
پلوشه	۵۶۴
پلوشه	۵۶۵
اراده	۵۶۶
رښتیا	۵۶۷
غمونه	۵۶۹
تجربه	۵۷۱
خدایه ولے ؟	۵۷۲
باباته	۵۷۴

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخ
شه دپاره	۵۷۵
بوډا	۵۷۷
پلوشه	۵۷۸
حال زما	۵۷۹
خدکرم	۵۸۰
زړه چاودے	۵۸۱
کله ے وړے	۵۸۲
زما محل	۵۸۳
قسمت	۵۸۵
اوږ	۵۸۶
دبچو ترانه	۵۸۷
پلوشه	۵۸۹
مینه	۵۹۰
تماشه	۵۹۱
پلوشه	۵۹۳
زړه نو - پلوشه	۵۹۴
کله ے وړے - پلوشه	۵۹۵
مخ دجانان	۵۹۶
یوجام	۵۹۷
هغه دغه	۵۹۸
ولے	۵۹۹
یوجام	۶۰۰
کله ے وړے	۶۰۲
کله ے وړے	۶۰۳
بنی آدم تصیده	۶۰۴
خیال	۶۰۶

عنوان	مخ
دوه مسترکے	۶۰۷
درد	۶۰۹
شان دانه	۶۱۰
راشه ورد یا غمه	۶۱۱
شاعر	۶۱۳
تنظیم نظیم	۶۱۴
اے دلیونیا نونیکه	۶۱۶
دحور و بهار	۶۱۹
کله ے وړے	۶۲۱
لحوانه	۶۲۳
دعا	۶۲۵
مینه	۶۲۶
مړه شمع	۶۲۷
بنده	۶۲۸
سلام	۶۳۰
دژی ماښام	۶۳۱
مست	۶۳۲
نور او سینکاری..	۶۳۴
عقل م حیرانه	۶۳۵
ژوند	۶۳۷
آیینی	۶۳۸
سانه	۶۴۰
ورک خیال	۶۴۲
یره قیصه	۶۴۴
دمدن یادونی ۶۴۶ - ۶۸۰	

ـی ـ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاپه نوم زماربه

د

پنجرے چغار

کوره بلبل په پنجره کښے جوړ
مست شو صحرا او په خوب کښے ئے

لوے یو جهان د کلونو که
ډک تول جهان د سیندونو که

د غنی د جیلخانه د زما شعرونه

هریپور - ۱۵ اکتوبر - ۱۹۵۰ع کښے
د کتاب شروع کوم
غنی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشکش

شاعر دَ خپل ماحول غلام وی، دَ دہ مثال دَ یوداسے حیوان دے چہ دَ هغہ پہ وجود خرمن نہ وی، کہ پوتے دازغی ځوکہ ورورے نو پہ کریکو ځان وژنی۔ اوکہ پوتے آرام ورشی نو دَ خوشحالئ نہ بے هوشہ کیږی۔

اوکورہ انسان تہ چہ بادشاہ دَ ځناورو دے
دے کہ دیر زور وکی وتے نہ شی دَ خپل ځانہ
دے دَ خپلہ ځانہ دَ جهانہ روکیدے نہ شی
کلہ دَ کعبے نہ تاوشی کلہ دجانا نہ

بندہ دَ خپل احساس او بے حسئ پہ قلاکښے بند دے، او دغے تہ خلق قسمت وائی۔ خوشپږ کالہ وراندے واقعاتو دَ خپلے لوئے قلانہ راوښکلم او پہ دیرو ورو ورو دَ خښتو قلاکانو کښ بندیوان کړم۔

دغہ دَ درد، زور او تیرے ماحول کښے ماتہ دَ لا درے روښانہ کولو صرف یوہ شمع وہ، او دا ځما دَ ځوانئے او مستئے کلونہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه په دے تور او تاریک باغ کښې شوی دی او ما تر نه یوه مړاوے
گلدسته جوړه کړے ده هغے فرشتے ته پیش کوم، چا چه د حیدرآباد د نواب
رستم جنگ محل د غنی د تالاشوے جونګړے د پاره پرېښود. او ما ته
دا دغم. د درد او بے سروسامانۍ روځے ډیرے په خندا
خوشحالۍ او بهادرۍ تیرے کړے. زه چه د هغے درد ته کورم
نو خپل درد رانه روک شی. زه چه د هغے نرتوب وګورم. نو په خپله
بزدلۍ ستومانه شم. زه د ډیرو نرانو نرم. خو د هغے نه نر نه شوم.
نو حکه دا کتاب زه په ډیر ادب او ډیره مینه د خپلو بچو
مور ته پیش کوم.

یو خوب د شاعر په جامه انسانی
یو ساز دور. دراز. ښکلے خوږ آسمانی
یو گل د جنت په خصلت رحمانی
یو جسم ناری یو زړه کے نورانی
شوله دا سے پیدا د غنی دلبرا
په غیرت پښتنه په ښایست ایرانی

هری پور جیل
۱۹۵۳ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دُعا

ستر کو د جانان کښې زما بنکلی جهانونه دی
وا دِ خله دنیا زه وږے ستا د دنیا نه یم
کوږه د فقیر کچکول کښې تاج د سکندر ے د پیروت
زه یم د سخیانو د شومانو گدا نه یم
زه نے په غرور درنه د مینے په نوم غوارمه
زه ملنگ بے نیازه ستا د ویر واویلا نه یم
یو د سپوږمۍ شاخکے درنه تیک له د یار غوارم
زه یم د خوبونو د لالونو گدا نه یم
هغه مستی غوارم چه نے مرگ نشی وژلے
زه دِ د غمونو د بیکا او سبا نه یم
او تشه دنیا گئے که دِ بخښے نواے امیره !
ستا شوه ستا دنیا۔ زه وږے ستا د دنیا نه یم

غنی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثنا

تورہ شپہ دِ کلہ کلہ دَ غمونو انبار راوړی
کلہ شمع ساقی راشی او خیام او ستار راوړی
کلہ تورہ شپہ لحد شی هر څہ روک کړی پټ ړه کښے
کلہ رنګ او خمار راوړی کلہ شرنګ او دلدار راوړی
کلہ دوب او بے قراره یو دریاب دَ آسویلو شی
کلہ مست دَ رنګ محل شی بے خودی او خمار راوړی
دا زما بے خودی واړه یو نظر ستا دَ قرار دے
دا زما دریاب دَ حسن ستا یو څاڅکے دخمار دے

غنی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند

چه خمار مستی تے وزی — شراب شی ترخے او به وی
چه سرور غرور نے نه وی — دا ژوند ان ژوند دَ څه وی

چه دَ مینے زړه شی پاتے — لکه کل وی ړژیدلے
یا شغله یوه دَ نور وه — یا یو موتے دَ خزلے

چه په ژوند کښے سخته نه وی — لکه بے مالکے طعام
چه په خوله کښے خنداننه وی — لکه ډک دَ خاورو جام

چه خوانئ کښے تکلیف نه وی — لکه پته میان کښے توره
نه نے پوق شی نه شرنگ شی — په زنگو نوشی زخوده

چه آرام وی او سمام وی — او یاری په جاید ادوی
خو بانو هم شیرینئ وی — هر تروپروفرهاد وی

چه پے سر په خنداداوشی — هله خوږ راز و نیاز شی
چه دَ سپینو تورو جنگ شی — ښکاره هلته کښے ایاز شی

ژوند که تش فیرنی ختل شی — دا خو سپے هم شی ختلے
که تش نسل زیاتول وی — دا غوئے هم شی ښه کولے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندنه خیته نه مانئی وی نه ډیرئ ډسرو لالونو
نه یاران نه معشوقے دی نه باغونه ډکـــلونو

ژوندخوتله دی یو یه مخه
غُرزیدل او پاڅیدل دی
تکے سوز او تکے سازدے
څه خندل دی څه ژړل دی
څو نیپه ستر کو دعاشق کښے
پلوشه ده ډخـــمار
په صحـــرا کښے لټول دی
ډآشنا ډکوڅے لار

غنی
حیدرآباد جیل
۱۱-۸-۱۳۴۹

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هری پور ۱۴ مارچ ۱۹۵۳ع

گواه

یو تکی د رنګ کښې — دریاب رنګا رنګ
یو خاځکی د ساز کښې — هم سوز او هم شرنګ
د ژوند یوه لمحه کښې — سوونه عمرونه
یو چونګ کښې د خاورې — مستی او غمونه
په لپه ایرو کښې — ښارونه د نور
د هر کل په شونډو — رازونه د طور
خاورینه خرمن کښې — خندا او غرور
تیارې د شهوت — او رڼا او سرور
دې بت کښې د خاورو — دا تال د ابد
د خاځکی په مخکښې — جمال د ابد

ثبوت مانه لوئی ستا د ځان کوم دے
گواه مانه سبه ستا د شان کوم دے

خانپور

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان پور

خومره؟

خومره مینه مستی در کرم ادب خومره؟
خومره تا دلدار جانان کرم رب خومره
نه زه ستا په حد دخان په حساب پوه شوم
ستا رپوهیږی پخپل هنگ او طرب خومره
تورانئی په ساز سرود ترکوے رسی
کلاب پوه دے دخایشت(*) په مطلب خومره
داسپوږمئے چه کل جهان حیران حیران کړی
داپوهیږی دخپل نور په سبب خومره
رنگ رنا دخپل خیکر پر خو رونه
دومره خیشت وی چه زماوی طلب خومره
داچه ستا شونلے اورسرور روبنان کړی
معشوق پوهیږی د عاشق په مطلب خومره
خامینه ده ادب د پنجرے اوزی
وایه خومره دِ جانان کرم رب خومره

(*) خایشت ، نهایت .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل څه

په نظر کښې مې د باغونو خیال
په نصیب کښې مې لاره د غرونو
عجیبه اچار مې اچولے دے:
د کلونو او د غمونو
په غوږونو کښې شرهار د ساز
د کنګرو پینزیب او خندا آواز
دوب مې زړه لټې بل څه نوے ساز
بل څه نوے سوز بل څه نوے راز
څکه خیال کښې مې د باغونو رنګ
او نصیب کښې لاره د غرونو
ما د تورو هیرو (*) جوړ کړیدے
ځان له بنګلے تخت
د خوبونو

(*) هیرو : ایرو مرګ پور

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تش جام

هغه څه ساقی وی — چه ئے تش شراب وی جام کښے
نه ورکئ خمار دستر کو — رنگ د سرو لبانو
داد دوزخ اور وی . — چه تش سوے وی رنا نه وی
دا هغه کافر دے — چه خطبے لولی ما بنام کښے
دا د ازغو جاړه دکاڼ اب — خو گلاب نه لری
دا لوگو وهلے میخ — تیکه او کباب نه لری
زهر زهر زا مردی — شراب چه خمار نه لری
کفر کفر کفر ده — مستی چه قرار نه لری
څه هغه بنده وی — چه جنون او دلدار نه لری
هغه د څه رسیند وی — چه غوښے او آبشار نه لری
هغه څه مومن وی — چه مستی د کافر نه لری
څه وخت هغه ستر گے — چه د مینے نظر نه لری
هغه دعا څه وی — چه شرنگار او شنا نه لری
زهر زهر زهر دی — شراب چه خمار نه لری

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غم

پنسن م بخمیر، روک که قلم تش دَسیاهئے نه
کوته کښې ے یخ او تریخ لوکے باهر(*) یخه ب سیلے
دماغ م پریشانه زړه کے پریوتے دَ مستئے نه
خیالات م روک نوستلی غنم وهلی پہ بڑئی
دُنیا م دَامید دَ رنا نشه تک ے تو ره
دَغم دَ قیصو دکه ده خندا آ وازئے هیر
هر یه لمحه دَ ساه ترخه بے خونده او چه سپوره
محمد دِ خان لیونے که شوخئ بته ایازئے هیر
دا غم نه دَ طاقت دَ حکومت، نه دَ شوکت دے
دا غم دَ تیریدو دے ـ بے مطلبه دَ ژوند ون
لیلئ محمل صحرا همه تیاره دی خو افسوس
دَ خان لیونی کولو همت ونکړو مجنون

په پیرول
۱۹۵۰ء

(*) باهر: بهره دباندے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوش

شراب هله شي شراب چه څوکے[1] وڅکي
څاڅکي سيندې شي چه چه شي بار آبشارشي

کل چه خورکړي په سادين ګرنګ دوران کاچل
په تيرو کښے جوړ عجب ګيشت بازارشي

چه آواز ګرم اوزي بد ئے رنګ شي
چه خوږ ي ګرم خوږ اوزي نوخارشي

چه فولاد ګرمينے مستے اوبه واخلي
نو حيران او پريشان تار ګرستارشي

سرپتوب چه لوړ اوچت شي ليونتوب شي
چه صحرا په رنګ مين شي نو ګلزارشي

چه انسان مالک ګرحسن او سرورشي
اوراو کوروړ ته کلونه لاله زارشي

د سپوږمئے حسن روښان شي په شبنم کښے
ګرغانتول[2] او کښے ولونه ګرنبا مارشي

د ژوندون مطلب کمال دے ګر اظهار
يوله او بنکے يوله اخ يوله بکارشي

بل څه نشته خان اوژوند پوړ کول ګرې
قسمتي هغه خوبونه چه بهارشي

بس بنده دے که مجنون دے که مدهوش دے
خر خوونکے اخشتونکے ګرده هوش دے

که جوماتکښے بس الله الله دے
ميخانه کښے يو آواز نوش بنوش دے

دغه خوندکړي چه يو يارشي يو ريبارشي
دغه خيال کله جانان کله بهارشي

تول ګرهوش کفر که مينه که سرور دے
ګرد سرګے دي نه شمع ده نه نور دے

(۱) څوکے : څوک يے . (۲) غانتول : غاتول

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجیبه واکدار که جور رب دجهان — چه دعقل تور کند وته قانون وائی
دے دحسن بنجاری ته لیونے وائی — او دخاور وسوداگرو ته قارون وائی
دژوندون احساس ته خبط او سودا وائی — عاشقے ته دبلا بختو خرو جنون وائی

دده هوش دده دمینے تور بنا مارشی
داعیسیٰ غریب بخپل بستر به دارشی

هوش محل یو دسونو منارو دے — لوئے وطن دد ریابو نو دد رودے
ده کنبے بخے تارخانے دطور دکتو — دے کنبے خوریو تور دریاب تو به تیرو دے
دے کنبے سپین لوئے محلونه دد ریاڈی — دے کنبے خور خاموش ارمان دمقبرو دے
کله کله دمستے سره خمارونه — کله کله تش کچکول دک دآسرو دے
دادے شکر چه دغم به تور محل کښ — رانبکاره کله یا مینه یا دلدارشی
دادے شکر چه دمرگ به بادشاهی کښ — کله کله خاشکے وخاندی آبشارشی
دانعمت دے چه به لوږه کانه شوے — خط وخال تالا به سرو شونلو دیارشی

هوش چه ورک شی دخپل هوشه نومستی شی
چه خودی دخورده اوزی نوخمارشی

«کرسر»

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسن

اوه تپوس دَ حسن مکوه — سمندر شی څوک تللے
څوک سپوږمۍ شی رانیولے — څوک زهر اشی ښکلولے

حسن پلار دَ مینے او مور دَ عشق
پکښے پټ دی ټول سپین او تور دَ عشق
دَ ده خیال نظر همه زور دَ عشق
په سرو شونډو بلۍ ښکلے اور دَ عشق
دا بابا دَ سُر او سرور دے
دا تعبیر دَ جلال او نور دے
دا مکه دَ ستر کو خندا کښے
دا په هر کوڅه کښے طور دے

دَ آدم دَ نوم بس یو دا سبب — دَ بهار سبب دَ ورنا سبب
دَ حوا دَ ژوند او ارمان قیصه — دَ سرود دَ رقص او دَ ژړا سبب
دا جواب دَ لکو نو سوالونو دے — نشته هیڅ دَ ژوند ون بل جواب
دا صوفی ته محراب او منبر خالی — لیونی ته کباب او شراب

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے د خیال اورنګ دنیا کښے دا　　پلوشه د مینے د یار ده
دا د رحم پیغام او وعدهٔ د وصال　　را لیږلے غلام له دلدار ده

دا د مرګ سبب

دا د ژوند ضرور

دا د ګناه تعریف

او معنیٰ د نور

دا د عشق وجود

دا د مینے راز

دا د سوز خوند

دا مستی د ساز

هر نظر ئے شراب دی مستی ده　　دا د روح لیونے میخانه ده
د بنده او آقا د زړه راز دے　　د ژوندون او جنت افسانه ده

خان پور
۱۹۵۰ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اورکښې

دول ډلرے خوږ دے ډهنډ کیانو دا متل دے
هره فلسفه ډلرے ښه او پوره ښکاری
زړه ډبنده نه دے عجیبه بے چله چل دے
دوبه په ارمان کښې چواری هم حوره ښکاری
عقل له دهوکه ورکوی حسن که دلدار دے
خان ته تښتیدل دی عبادت دے که خمار دے
دامسته رڼا دامینه حورے او ما نبام
څه رنګین سراب دے ډلیدلو پوهیدلو
داچه ورته ګورے بل څه نه وینے نه ګوره
دا عجیبه دام چا دے جوړ کړے ډلیدلو
دا یوه قصه ده ډک جام ډ تویدلو
دغه فلسفه ده ډ دریاب ډ بهیدلو
رحم نه انصاف دے یو تدبیر دے ډ دوام
هر څوک ئے پکار دی که خیتو دے که خیام

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرنگ وی د نزدے نہ او ډولکے د لرے لرے
دواړہ غږئ یو شانے او یو رنگے خبرے
ډک د ظلمہ زورہ د طاقتہ د باز پرے
جوړے د مهین او رنگین بوی د گل وزرے
کومہ لارچہ اخلے خو مقام ئے بس یو دے
دلتہ زرجو ماتہ دی امام ئے بس یو دے

ځکہ لیونے دے مرور شی چکلہ کلہ
بل خواتہ ورتا وکړی دا د هوش تهقہ شلہ
پریوزی پہ پړاو کړی بتخانہ کښے دیوہ بلہ
خپے سپینے پولئ طمغے تاقتی د منزلہ
تاتہ او ورسرور دے یو ماوے وژنے او ر کښے
اے دسپین او تور مالکہ خہ مزہ دہ تور کښے
ولے زمالال وی پروت پہ خُلے کښے د بنا مار
ولے دے کلاب لہ نہ او ربل او نہ بهار
ولے دِ بندی کہ ځا ځکے تن کښے د ډنډ وکی
غوارے ترچپے د سیند سازونہ د ابشار
مالہ مرگ او ژوند دے تالہ تش د ځنے ول دے
او ر کښے دے بل کړے ولے حسن الوول دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اورته دے نیولے یم فولاد جوړے زمانه
منبه۔ چه زه فولاد شمه نوخه زما جانانه
جسوله فولادو له جوهرو له کمال له
بس خاورے کیده دی روکیدی دنیا نه
ولے دِ ورانولوله جوړ کړے سور محل دے
اورکښے دے بل کړے ولے حسن الوول دے

غنی
ډیرهٔ اسمعیل خان
۱۹۵۰ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

حساب

یوخوالیونے دے دَتیکروجام پہ لاس
غواړی دَعطارنہ روح دَگل خارد کل
بلخوا ۔ اوبنیارشاہ ۔ دَ پوے پہ کتہ پہ لباس
پوخ ئے کہ خوراک لہ هم ۔ پیخی ۔ لہ هم بلبل
تلہ پہ لاس ناست دے خرڅوی مینہ خار
بس دَدہ ایمان دغہ جنت دے نشتہ بل
بے خمارہ مینہ لکہ بے نشے شراب
زمرئے شکل حرام حرام وړتہ کتل
بے مینے ژوندون دے ۔ لکہ بے سُرہ ستار
تنک ترے نہ او بنکل دَ جنت حوروتہ کنزل
روکہ کړہ مجنون لیلئ محل کښے دَ ایران
دہ تہ سُرمحل شو دَغمونو بیابان
تول جهان تہ اورو دہ تہ مینہ دَجانان
وہ دَ دہ خندا پتہ ژړا کښے دَجهان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دہ تہ درد او چغو کښے وناست مستی ژوندون
دہ لہ وے دوہ لارے یو مرگے، او یو مجنون

ښہ۔ یو خوا خو دغہ بلخوا بلہ تماشہ دہ
ناست ځان لہ نمرود دے او دَ بل درد نشہ دہ

داخہ عجیبہ شانتے انصاف دے دَ فطرت
گل لہ ښکلے بوی دے او دَ نبر خوار لہ لَشہ دہ

داخہ عجیبہ خیشت پرستی دہ دَ رحمٰن
مرہ پرتہ بلبلہ دہ او نښتے پے باښہ دہ

څہ وکړی شاباز یا بہ روکیږی یا بہ زور کړی
څہ وُوی جرس چہ وی ژوندے ھلہ چہ شور کړی

دغہ دے جہان، دغہ ئے چل، دغہ ئے راز دے
دغہ دے ساقی، دغہ محمود، دغہ ایاز دے

دغہ وائی دَ غم او دغہ وخ دَ ھمہ ساز دے
دغہ دَ خیام او دہ بلال دَ ځلے آواز دے

ځان مستول مینہ او خمار زیا تول
دے دَ ژوند تنور کښے سور انگار زیا تول

یو دیار دَ ځلے وبڑے او بل ئے دَ دولت
یو دَ خان پہ ستر کو روک او بل ئے پہ شوکت

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوئے مست پہ شرنگ او پہ خنډا او پہ سرور
بل ئے پہ غضب دَ غور زنګونو دَ شهوت
یوئے پہ تیرو دَ غم پہ لړو دَ ماښام
بل ئے پہ سیلئے او پہ باران او پہ قوت
یوئے پہ پَستو پَستو سوالونو دارمان
بل ئے پہ باهو او پہ جلال او پہ شوکت
یوله تیز نیلے، ستر کے سرے سره توړه پہ لاس
بل له تنهائی، رنګین ملکونه دحیرت
یوله دَ الماسو محل، سپین او رون او پاک
دوی سره حساب خو لږ گران شان دے
ستا پہ هر جنت کښے لږ عذاب شان دے

غنی

ډیره اسمٰعیل خان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

هله یار وته نزدے شوم — چه دَیارہ شومه لرے
هلے(*) پوئے شوم پہ خبرو — چه ئے ناورمه خبرے
چه ملنگ شومه جانانه — خزانه م و مُنتله
په زړګی کښ م پرتے وے — ښکلے ښکلے ملغلرے
چه م کل بُستان قربان که — نو د کل بُستان مالک شوم
چل م هله دَ پَړ زده که — چه م وسوے وزرے
چه په جام کښ دَ ساقی م — دَ خوانئے وِینه کړه کړه
هله پورته شو محفل کښے — د خمار خمار بڑے
چه په شوق او مستے م — دوارہ ستر کے ورلوکے کړے
هله هله راته او کړے — دَ ساقی ستر کو خبرے
چه پرے مستہ خوانی دا وکړے — چه پرے ښکلے سرکړی خاورے

دهغوی دی لیو نیه!
دَ جانان شونډے شکرے

غني
حیدرآباد جیل

(*) هلے = هله یی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسمت

چه څوک سوال د پلا ؤ وکړی ورکړے دال
اکثر خورکړی په ښکاری د ښکاری جال

چاته جام کښے د سرو خاورے شکے واچے[1]
چاله ورکړے د ایرو په دهیر[*] کښے لال

یو وبال چه څوک په صبر صبر تیر کړی
ورله راولے د هغے لوئے وبال

څو مره بار چه څوک وړی دومره ورا چے
د زمری خطرے نه تیری شغال

چه کوم کال خلق زاری د باران وکړی
په باران پسے[2] راندہ کړے هغه کال

لیونی نه خفه مشے در قربان شم
اکثر ؤ داغے د خر په ځائے کلال

غنی

حیدر آباد جیل

(۱) واچے: واچوے۔ (۲) پسے: پسے یے۔
(*) دهیر: انبار، ڈھیر

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ فریدون دَ مور خط

خما دَ واده په دولسم کال په ۱۵ر تاریخ دجون دمیاشتے ۱۹۵۱ع خما صرف یو اویوازے زوے فریدون • رستم جنگ • پیدا شو. دهغه مور دَ پښاور په هسپتال کښے وه، اوزه لرے په هزاره کښے ناجوړه پروت وم. هر وخت به م دَ کوټے دَ دروازے په مخکښے یو تور بدرنگه توپک او سنگین په لاس پولیس ولاړ وو. تول جهان تور او تاریک وو، دَ وجود دَ ناجوړتیا سره م روح م دَ مایوسئ آخری مقام ته رسیدلے وو چه ناگهانه خبر راغے چه زوے دِ وشو، ماوے ښه ده غنی روک خوئے خو میرات خونه ئے.

دَ دغے ورځے دَ درد او دخوشحالی بیان نژ نشم کولے. خو درد او خوشحالی دواړه انسان دیر ستومانه کوی، او چه آخرم ستر کے دَ هوش دنیا ته پټے کړے، نو څه وینم چه دفریدون مور راغله

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ماته ئے یو خط په لاس کښے کینبود

داهغه خط دے :

ماد دو ولپو خاورے تاله ژوند او جهان جوړ که

خپلے مینے داسے یو ړم بل م تاله جانان جوړ که

داچه زه د وفا دکه د جنون جهان له لاړم

دام لال هغلته وموښت(*) د همه لالونو ښکلے

دا زما د غرور نخښه د هغو کیلو جواب دے

چه به تا په ما بنامی کښے ماته کولے غلے غلے

داثبوت زما د مینے د ایمان او د وفا دے

دا زما روح چه روښان شو د ده سترګے کړے

داتصویر زما د ژوند دے څه خنده څه ژړا ده

د شهباز د وزر شغ دے پوست سرو نه د بلبلے

داثبوت د شاه د مینے ، دازاری ده د غلام

دا انعام د تولو ښکلے د هما و ښکین جام

داتعبیر ستا د خوبونو او زما ځ د ارمان دے

ما جوړ کړے د خپل ځانه ښکلے عکس ستا د ځان دے

په صحرا م وو خور کړے سور ګلاب د ګلستان دے

هر ساه کښے م لیکلے نوم د مینے د جانان دے

(*) وموښت : وموند .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچه زه ستا د خوبونو د جنون تالاش کښې لاړم
ستا خانګې له م جوړ کړے ستا نه ښه غوندیو خانګې
داچه ماستا وزرونو کښې ارمان د عقاب ولید
داعقاب م ستا نه جوړ که، هم عقاب هم ئے ارمان دے
داسرے سرے د ساقی شونګې خه مستی او خه خیام
داپه سوز کښې رنګ دساز دے د ممبر د پاسه جام
داد. نیشت، په شاملات کښې ما اجل ته کینود شلے
داخوما د سبا طمع کړے پرون سره بدلے
داچه زه یو رنګین خوب شم د تالاش او د آرمان
ستا په تور تاریک محل کښې سپینے شمع شولے بلے
ما د در ولپو خاورے تاله ژوند او جهان جوړ که
خپلے مینے داسے یو رم بل م تاله جانان جوړ که
ماکه داو په یو آرمان ستا خپل ژوندون تمام تمام
ماخپل هوش کلال له وکړه چه تر تاله جوړ کړی جام
چه ته تول مجنون مجنون شوے. زه همه لیلی لیلی شوم
چه ته رنګ شوے او خیام شوے، زه شراب زه کل اندام
چه ته طور شوے او موسیٰ شوے، زه د نور برق او رنا شوم
چه ته شور شوے او ارمان شوے زه د وصل کل سمام

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تہ چہ شوے دَ اوربخڑے زہ هم سرہ لمبہ د اورشوم

چہ ستا زړہ پہ تالاش سرہ شو، زہ شوم لاړہ. زہ مام

د اچہ ستا شونډے شوے تږے دَ مستے دَ سرو شرابو

د اخوځکہ زہ جانانہ هم شراب شومہ هم جام

تا چہ سوال دَ رنا وُکہ، دَ بهار صبح صادق شوم

تہ مُین چہ پہ تیارہ شوے، زہ دَ ژړمي شوم ما بنام

چہ تا نوم دَ غُرا (۱)، واغشت (۲) ما کړہ مرک تہ ډیوہ ملبہ

چہ تا نیت دَ طواف اوکہ، نوما وتړو احرام

ما دَ دوولپو خاورے، تالہ نور او بُستان جوړ کہ

خپلے مینے دا سے یوړم، بل مِ تالہ جانان جوړ کہ

بهمکنوتر
۱۹۵۰ع

(۱) غُرا دمکے. دَ عربو د جنگ بت خدائے وو. دَ اسلام نه اول. (۲) واخیست

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آرزو

« اول ستر کے ستا دلید وخورا »

زه خوساز او سرور او خمار پیژنم یا لیلی پیژنم یا ایاز
زه خو غم او اور او دلدار پیژنم یا رقیب پیژنم یا غماز
دے نسکور شمکور (*) ته د نور قصے د جنت قصے د جلال قصے
منز کوری (+) ته د زهرا قصے د ماښام قصے د هلال قصے

زه خو گل او چمن او شراب پیژنم او بهار پیژنم او خزان
زه خو شرنگ او رنگ او کباب پیژنم نه گناه پیژنم نه شیطان
دے مدهوش بے هوش نه د خو طمع ته به ظلم درته زور دے
دکیکر نه ستا د مال تو طمع او کیکر غریب له اور دے
دے شمکور نه ستا د لید وطمع، دے نسکور نه تا ته د تلو طمع
اول ستر کے ستا د لید وخورا، بیا کوه د مینند وطمع

زه خو ساز او سرور او خمار پیژنم هغه خرم ته به چے محکلے شم
زه خو شرنگ او غور رنگ او ستار پیژنم او جانا هغه چے لیدلے شم
زه خو ناز او مکیز مسخره پیژنم ښکلے خط پیژنم ښکلے خال
زه خو شونډے پستے او خله سره پیژنم، او رنگینه خندا د وصال

(*) شب کور۔ شو کور۔ (+) منز کوری، د موربک چوچی۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خوستر کے خوږے په ارمان پیژنم، اونړۍ تر مکئے[1] ملبنام

زه خوست اومنت دَ جانان پیژنم، دساقی په سرو کتو کښے جام

دَ مدهوش بے هوش ته دَ نور قصے دَ جنت قصے دَ جلال قصے

دَ اکو نکتے ته دَ باتور قصے، دَ پرواز دَ خیشت[2] او کمال قصے

چه پتنگ دَ نمر رنا نه شی لیدلے

گنا نگار[3] شو چه په شمع شو شیدا

زړه کښے چونگ لپه هیله دَ خاورے خای شی

چه تر خاے کرم پکښے دا دَ نور دریا

څنگه څنگه په یو گوټ کښے دا جهان او آسمان واچوم؟

دَ شبنم څاڅکی کښے څنگه دَ سیند و نو دوران واچوم؟

او بیا لا۔ دا۔ دے دَ پاسه به حساب او کتاب هم وی!

دَ رند و ستر کو بادشاه له به سزا او عذاب هم وی!

دغه شونډے ستا دی جوړے ماله ولے شو عذاب

چه خواږه پرے باندے لگی دَ شکر و نه شراب

دغه ستر کے چاکړے جوړے خیشت ته وکے او حیرانه

په کلونو کښے چا خو رکه دا خایشت دَ لامکانه

چا که جوړ ځان له مکان خپل روک[4] زما دَ کل امکانه

زه په څاڅکی کښے دو بیږم۔ سمندر بے پایانه

(۱) تر مکئے، تر وبو ئی تیاره۔ (۲) خیشت، خایشت، بنایست۔ (۳) روک، وبک۔ (۴) گنا نگار، گنهگار۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یو تور د تیرے سورے، ته د زمکے آسمان نور(۱)

بے کناره دریاب د رنگ ته زه یو شاخکے د سرور

ته ژوندون د کل ژوندون ئے زه د مرگ لمحه ناکام

سمندر ته د مستئے ئے زه یو مات او سوره جام

ستا په رحم ویر نیاز یوم حکیم ورته کویا نه

د غلام کیله هم واوره د سپوږمئے او ستوره خانه

زه خوساز او سرور او خمار پیژنم، هغه خوږم رباب چه شکلے شم

زه خوشرنگ او غرزنگ او ستار پیژنم او جانان هغه چه لیدلے شم

زه خوناز او مکیز مسخره پیژنم ښکلے خط پیژنم ښکلے خال

زه خوشوندے پستے او خله سره پیژنم او رنگینه خنداد وصال

زه خوستر کے خوږے په ارمان پیژنم او نری تر مکئے د ما بنام

زه خوست او منت د جانان پیژنم د ساقی په سره کوتو کښ جام

دے شکور نه ستا د لید و طمع، دے نسکور نه تاته د تلو طمع

اول ستر کے ستا د لید و خوږا، بیا کوه د مینید و طمع

(۱) اَللّٰهُ نُورُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

توقه

مابه شمع شمع کوله
تاکه جوړ رانه پتنګ
تلمه ښکارله ډکبورو
تاورهېښ کړم په ځمنګ
ما ډقصته وے ملنګ یم
تا رهښتیا کړمه ملنګ
ماپېښے کړے ، ډ تورزنو
تام کوله راوړو جنګ
زه خوغږ کولے نه شم
په کیلو ته خفه کیږے
خو حقه داده لویه خدایه
ته په توقو نه پوهیږے

غنی
حیدرآباد جیل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډن کښې

ګوره بلبل په پنجره کښې جوړ
لوئے یو جهان د ګلونو که
مست شو صحرا او په خوب کښې ئے
ډک تول جهان د سیند و تو که

دا روحانی کارخانه زما
زور او ستم نه خمار جوړئ
دا لیونے شان حیګر زما
او ښه پیسئ تر نه هار جوړئ
دا مصور په خپل رنګ مسرور
تول جهان مست او شار وینی
ډن کښې چې او خندا د سیند
ځاځکی کښې مخ د آبشار وینی

ګوره بلبل پنجره کښې جوړ
لوئے یو جهان د ګلونو که
مست شو صحرا او په خوب کښې ئے
ډک کل جهان د سیند و نو که

وتره سپرلے او خوانی شو مخکښې * * * لیونئ روح او رنګین ما بنام
خوا کښې کلاب ئے په مستئے تیر شو
شونډو کښې رنګ او کوتو کښې جام

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وره چینه شوه چرته رواب — دژوند او مرګ ئے شروع که ساز
ژوندون ژوندے شو عشق راز غوښتن شو — خیشت پټ که شال کښے دمینے راز
بیا خزان راغے ګلونه لاړل — ستار شو غلے او شراب کم
حوانی رخصت شو خندا نایاب — دعا اوږده شو او رباب کم
زړه خپل تخت وکړه سر او سودا — وخت شو بادشا او ژوندون مریے شو
مستے جنګ بیله توره ئے کیښوه — سرور غلام شو جنون مرئے شو
واړه رنګونه تیرے کښے دوب شو — سبا رخصت شو او ما بام راغے
او میخانه شوه دجرا ډکه — ساقی رخصت شو او امام راغے
خونا کهانه وره لولکه — په خوب اوده شو او خوب ئے ولید
نوے سپرلے او سره ګلونه — دعشق ایمان او نور توب ئے ولید
دخپلے مینے جواب ئے ولید — نوے لولکے نوے ګلونه
روښان ئے ولید یونوی رنګ کښے — خپل ارمانونه، خپل امیدونه
مصور په خپل رنګ مسرور — تول جهان مست او شار ولید
دن کښے (1) چپے او خندا دسیند — ځاځکی کښے مخ دآبشار ولید
کوره بلبل په پنجره کښے جوړ — لوے یو جهان دګلونو که
مست شو صحرا او په خوب کښے ئے
دکه تول جهان دسیند دنوکه

تهنه بانی حبل

(1) دن = دنه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنّت (۱)

ستا د رحمت څه حد هم شته دے ؟ اے بے حسابه اے بے پایانه
ستا خیشت او مینه څوک شی تللے . د ستر کو پته روک د ارمانه

د ملا ستر کے د قهر د کے راته قصے کوی د د ر د او زور
د جانان شونډے د کوکو وږے وی (۲) راشه او کوره جنت کښے اور

مرک بلے ستر کے او خورے پنجے راته خوزی (۳) لحد . نیست او عدم
شیطان ، ملا . دواړه په یو آواز وی . ستا گناه ډیره ده او رحمت کم

مشرک ولاړ عصا په لاس . قبا په ولی دستار په سر
لاتو وزرے د بلبل اینبے ، مبنائی شهبازته د الم سر

مبنا پیرک مشر دے د کاروان . د زنا خیشت او سنگار لتی
ساری ژاری د زوبت کښے ژوند ون مستی او خمار لتی

---

(۱) په جنت مانوم دوه دے او بد ده او بد ده نظریه لیکلی دی ، مخکښے به د انسان په دماغ کښے د جنت تصور ډیر عجیب او لطیف دے . خو عامو انسانانو د یو تصور د پاره هم دومره د ر د نه دے هضم کړے لکه د جنت د پاره . (غنی)
(۲) وی : وایی . (۳) خوزای : خوخوی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کونکت د سوتو په ډیری پورته ، زیرے لوکے ته د نوریان کی
چینجے د خاورے په ممبر بره ، قیصے د حورو او د آسمان کی

حکه په چغوزه د جماته لارم په لوری د میخانے
دے خپلو ستر کو ډوب کړم ځکه کړم هم شرابی کړم هم لیونے

خوچه په بلدو او بد رنګو خپل لکه د سکور لوګے او د شمه
چه سر او تال م تیاره فنا کړی د بے وسئے فریاد ژړا او شور شمه

نو ځان ته وایم تانه واو روم دا د مجبوره زړګی بهانه
ستا خیشت او مینه څوک شی تللے راے بے حسابه اے بے پایانه

غنی
خانپور جیل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپرلے

بیا سپرلے راغے بیائے پیغام راوړه
د رنګونو ـ ګلونو ـ او ـ رڼا
شو ساقی مسکے ړک ئے جام راوړه
د مستئے ـ خوانئے او خندا

یو سبا راغے ـ یوه شپه لاړه
د تیرو ـ پریدو ـ او ارمان
یو زیړے کل م ما بنام ولیده
سلامونه ئے کول د جانان

دا دماغ زما چرے نه منی
چه د کل خالق په سقر کړی جوړ
څنګ خوږے به پے زما کړیکے لګی
چا چه ماله نرګس او دلبر کړه جوړ

دا شینکے چمن ـ دا ګلونه سره
دا مست مست شانے مستانه ما بنام

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ثبوت د ساقی د مینے دے

دا د سرو شرابو بر پوره جام

د ساقی چه ستر گے خمارے دی

دا خمارئے ماته جور کړے دے

د جانان چه شونډے دلدارے دے

دا سینگارے ماته جور کړے دے

دا سپوږمئے اوستوری اومست ما بنام

مشخولا (۱) نړما د غمونو ده

دا په ما مئین دے مالک نړما

ځکه ډکه دنیا د غلونو ده

سپرلے ځه د جانان مست شوید

هره ساه اوزړه کښے خپل نور خوری

په گلونو کښے خپله رڼا خوری

په نسیم کښے رنگونه د طور خوری

چه ترڅو یوه نظاره د رنگ

د غرزنگ د مستئ په انسان کښے دی

ترهغے به دازه و نه منم

چه اورونه به هغے جهان کښے وی

(۱) مشخولا . مشعوف .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه جور کړے نه یم سزا له یار
زه ئے جور کړے یارانے له یم
مانه مینه ـ خندا او مستی غواړی
که جمات که بتخانے کښے یم

بیا سپرلے راغے بیا پیغام راوړ
د رنګونو، ګلونو، او رڼا
بیا ساقی راغے ډک ئے جام راوړ
د مستئ ـ خولئ او خندا

بیا ئے سرو کوتو کښے وینوه
لیونی ته جام د غمونو ډک
د ژوندونه ډک، د فراق نه ډک
د وصال د رنګونو خوبونو ډک

فروری
۱۹۵۰ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندون

لکه کال کښې سپرلے او خزان — لکه روح کښې سبا او ماښام
لکه سینه کښې چې او غلے شتے — لکه ژوند د مرګی دے غلام
لکه تله. خلاصیدهٔ دمستے شته — تشیدهٔ . ماتیدهٔ . د هر جام
ژوندون څه دے یو سینه د روان دے — اول لوے لوے موجونه کښې تو نه
بیا تش شه شی چې نے ورے شی — غلے لګے شی ډیر شی ډبونه
اول هر یو غوږ نګ کښې ورانے کی — ورانوی غوږ زوی کولو سے غږونه
اول هر څوک روکی (۵) یو ځای خان — بیا دبل شی روان کړی نهر ونه
دریابونه لوټ لوټ کړی فنا کړی — غوږ نګونه لښتی کړی تالا کړی
یانے هر څوک د خپلو لاند دل وی — یا مرګے شی خدمت د هر چا کړی
خان کړی روک خو کلا باد نرګس کښې — په زرګونو سینه ګانو پیدا کړی
ژوندون څه دے یو باغ دے لویدی * * * روکیدل دی د خیشت (۱) زیاتیدو له
خپل ژوندون خپل سنګار ورکول دی — سوزیدل دی ژوندون خوریدو له
د انګور په شان روک فنا شه — چه خمار شے د چاسترګو سره وله
د منصور په شان او خبره دارته — څه بهانه لټوه رسیدو له

(۱) خیشت : بنایست . (۵) روکی : ورکوی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندون څه دے یو خوب دے لیدے شی — دخندا او ژړا واک ډبل دے

یو دوران د سحر او ماښام دے — د ماښام او سباواک ډبل دے

یو رنګین شان محل د هوا دے — د هر کوټ د هوا واک ډبل دے

باغ ډبل په ګلونو زه پریم — غم زما د خندا واک ډبل دے

ژوندون څه دے یو سازد بے غږیدی

کله پوست، کله زیر۔ کله بم

کله اور سوزیده شور غوغا شی

کله غلے، قلار، شومه دم

کله شرنګ د ګنګروشی خار شی

کله یخ اسویلی او ماتم

کله تال مستانه د خیام شی

کله سپور ماښامونه د غم

که وی تریخ۔ که وی خوږ تیریدے شی

ژوندون څه دے یو خوب دے لیدے شی

غنی

دارالامان

په پیرول

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله لار

رحم فقیرله روا ، بادشاه له حرام دے
شاعرله کوټ د زمزم د میوجام دے
بښل د مینے کمال خون د انصاف دے
سخاوت شان د خان مرګ د صراف دے
رقیب له شور او ماتم یارله وصال دے
یوله د وینے ځاځکے اوبل له لال دے
ماله د کندکنده ـ لاله ته بام دے
یوله د مرګ پیغام بل ته دوام دے
د عجیبه ژوندون عجب کاروان دے
دے کوټ دوکان کښے کته کښ زیان دے
یو ناست محل کښے غمګین حیران دے
بل ته ایرو کښے وِیر پروت ایران دے
داروک کاروان کوم خوا روان دے
روند ئے نظر دے اوچ ئے ایمان دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظالم - جابرته - سجده - دُعا ده

هیرے دَعُمرہ رحیم رحمٰن کے

دَ زوراو یَرے[1] بت ته نکو. دنه

روک ترے دَ مینے - دنور مکان دے

دَ بل دَ وینو لاس کښے جام دے

تنک لے جمات دے روند مام دے

خوږه خوږه کرم چه وینم په تمرو کښے رنګ دَ یار

دَ کلونو ورځ ید و کښے امید ونه دَ بهار

دَ تاوان قلا کښے پټ دجنون ناو مستانه

رنګ محل ته نه شم تلے دَ صحرانه دَ جانانه

ماله غم ماتم دَ یار نه دَ غم دَ غم تعویذ دے

ماله بل کل ته کنه بے شری دَ شوق دَ بیزدے

هغه غم چه مستول کړی دَ نامبا[2] تونه لذیذ دے

زلیخ ته تور ځنګل دے سوره محل که دَ عزیزدے

ماله بله لاره نشته دَ جنون او دَ جانانه

کنی خوښه م خنداده، دیره دیره دَ ژړانه

غنی

دغرسر

دیره اسمٰعیل خان

(۱) یرے : ویرے. (۲) نامبات : نبات.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسمت

زه نرمه خته یم لاس د کولال کښې
یا به د میو جام شم او یا کوزه د جمات
یا د پیرګئې د زیارت د میخانې فانوس
یا د دیران تیکرے سرے او مات
د خوانی مستی شونډو د بل د لاسه دی
د خانه وس شته او نه م واک
شیخ په باغ کښې د یار د کوره
کوم ګل پلیت کړمه او کوم پاک
څنګه ملامته زه په ګناه شم چه وس قسمت او تدبیر د بل دے
څنګه ستوماني زه په خنداشم خوب د بل او تعبیر د بل دے
! م ګناه ده مین په ګل یم
نه زه د ګل آقا نه د نظر
نه م د واک دی خماری ستر کے
نه او بزے شونډے مدهوشه سر

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما نه دی اینبی دَ یار نظر کښې — سپرلی کلونه اوسوړ خار
ما دَ خپل نوم نه دی جوړ کړے — شرنګ او غوږ ګنګ او ګنګ دبار
ما دَ سبا په پسته دنها کښې — نه دے خور کړے دَ جادو ساز
چا شیرنئ وو فرهاد ته خولے — چل جوړ محمود که خان د ایاز

زه نه پوهیږم چه چا رو بنانه
دَ زهرا نور که په مخ دَ لال کښې
زه تصویریم دبل دَ ګوتو
بے جبانه (*) حنه لاس دَ کولال کښې
یا به قسمت وی یا به دوزخ وی
او که وی دواړه نوته رحمن نے ؛
نه شم زغملے . نه شم منلے
چه ته جلا دئے او هم جانان نے

غنی - خانپور

(*) جبانه : زبانه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قارغان مارغان

تراوسه پورے مودَ ژوند در نے در نے مسئلے واړو راوړو لے. دګوے
ورځے نه چه آدم له قاتل هوش ورکړے دے. داسوالونه دهغے ورځے راروان دی. هر سړے
ولړ دَخپل طاقت اوپوهے په مناسبت جوابونه کوري. انسان سره دَهر سوال جواب شته
ولے دَمرګ جواب نه لري. دَجهان اکثرے فلسفے اوتول مذهبونه دَعزرائیل
دَشاهنشاهیت برخلاف بغاوت دے. تول دَدغے توري کنډے نه تښتي. څوک یوګز
څوک یومیل اوڅوک زمیله څوک دَغمے چغه وهي. لکه ماچه پهٔ خوانی کښے یوونه وهلے وه.

خاورے

چغے وئ (*) اَجل مُلا ته اورے که نه اورے
تشه خاوره نه دے غنی څنګه به شی خاورے

اویا بله ورځ چه دَلحد په تورو رزم دَمستے سوشال
ویرکړے وو.

(*) وئ، وهی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرګے

مرګے دِ راشی چه کله ئے وس وی
کل به مِ لاس کښے وے اویا به اَس وی
یا به توپک وی یا به قلم وی
ډوب به خند اکښے دَ دنیا غم وی
په څه موبخت وی دومره به بس وی
مرګے دِ راشی چه کله ئے وس وی

ولے آخر سړے ستړے شی ، او دا اومنی چه ،

چه جام کښے ګوټ ګوټ شراب کمیږی
سپرلے خلاصیږی کلاب کمیږی
دنیا دَ شمع کښے دَ سحر نور راغے
ګور دَ بلبلوته نومَ دَ باتور راغے
ستار کښے شرنګ هغه دَ ما بنام نشته دے
سرور په ستر ګو کښے دَ خیام نشته دے

دَ ښکلے نه ښکلے ، دَ مست نه مست ، دَ سُونه سُور کل آخر خپلے جبرانے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او غمجنے ستر کے دَخزان یخو او بے رحمو بادونه پورته کړی او دخپل ژوند د شروع او خلاصیدو تپوس تر وکړی او دغے ته وایو مونږ فلسفه .

زه مرګ یوه ورځ په مخه کړم ، او دَ خپلے مور دَ سینے نه ئے دَ خاورو هغه ډیرئ له بوتلم ، کوم ځاے چه په یو دشت او بیابان کښے دَ هغے هدوکی پراته وو ، ماچار چاپیره او کتل . ستغ درب ، سره خاوره او شنه کانی وو . دلته نه دګلونو چمن وو ، نه دَ بلبلو باغ ، دَ دَ بدرنګئ په سمنده کښے دَ حُسن یوه قطره هم نه وه ، زه دخاورے دَ یو ډیرئ خواکښے اودریدم یوه ماته شنه خازه وه مثل دیرش کانی ښکته پراته وو . نورے ټولے اوچے تږے وږے خاورے وے ، مرګ هم را ورسید او شاته م دَ آسمانه اوچت ولاړ وو ، خو ما سر اوچت که او دَ مرګ خالق ته م اووے ،

زه دَ هغے لال زه دَ هغے دستګو تورومه

زه به دَ هغے په سینه تل وُده نسکورومه

او س ئے ښکته ښکته دَ مزار کانو ته ګورمه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاورو کښې هغه ده چه ئے زه دَ زړه هلال ومه
هغه لال شو خاورے چه ئے زه وړو کے لال ومه

لاړمه آسمان ته ماوا ئے دَ جهان مو رسپوږمۍ
زوردمرګی زیات دے که دے زیات دَ مینے زړه سپوږمۍ
اوری په لحد کښې څوک دَ سوی زړګی شو رسپوږمۍ

موتے خاورے څنګه پټ دَ حُسن یو جهان کړی
یو پوکے دَ باد دا چمن څنګه بیابان کړی

خول مِ نه جوړیږی چه ظالم وو ایم رحمٰن ته
خو مرګ چه دَ جهان بادشاه کړم څه وو ایم خان ته
ولے دروازه دعلم لرا، نه شوه انسان ته
سیال ئے دَ ځان ولے کړم چه زه دَ خاورو سیال ومه
هغه لال مِ څه شو چه ئے زه وړو کے لال ومه

خودژوند خایشت دادے چه تول عمر انسان سره دَدے دَ خلاصیدو فکر نه وی ، کله کله ئے دا توله غټه غټه هیرے شی ، او په خپل ماحول کښې دوړو وروخیژونو په تماشه شی او دوړو وروشمعو په تلاش کښې ځان دَ هغے لوئے تاریکۍ نه اوتښتوی .

(۱) لو - لوبی - پرانستی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَحیدرآباد سندھ پہ جیل کښې زمادَ توتے تو ـــــتے
مستقبل نہ علاوہ دیرنورخہ هم وو، دچکنے دَ دروازے پہ خواکښې
دمیږوجالے وے، کلہ نا کلہ بہ زهوبز دا احاطے پہ کیکرکښې کمتړے(۱)
کیناستے، کلہ بہ مونیمہ شپہ کښې دَ تارو چرچق واورید
کلہ بہ تور قارغہ لکہ دَ یوجمهوري وزیراعظم دَشور او
چل نہ دک پہ دیوال کیناست. دَ بمبے خوالہ بہ ما بنام کښې
چینلخہ راغلہ. دَ دیوال دَ پاسہ بہ دَ اوبس بربر راغے
او پہ دغہ ورځو کښې زہ دیروبزے تږے اویوازے وُم، نوماہ
دے تولوسرہ خبرے کولے. میږوتہ بہ مِ خپل دَ تیلو
پوخ ساک(۲) غورزوُ، اوکمتروتہ بہ مِ خپلہ دَ باجرے دودئ
چوري(۳) کولہ. دا روان شعـــرونہ ما دَهغوی پہ مجلس
کښې لیکلی دی کہ زہ دَهغوئ پہ طبیعت نہ یم پوے شوے
نومعافی غواړم زہ دَ انسان هلوکی لرم. اودَچینلخ
پہ خـــرمن نہ شم ننوتے.

(۱) کمتړے: کوترے. (۲) ساک: سابہ. (۳) چوري: مالیدہ.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چینلخ

ځ دِ دَ شیخنو په شان نه خاندی او ښیاردے
ښکلے دِ آواز لکه دَ ژرندے دَ غرار دے

سرګے بتے بتے، بغے بغے تشے تشے
چغه دوه منے غریبه، توره دوه اور بشے
ځله کږه وږه لویه او ږده او واره ویته
زرد دِ زړه کے خورشی دنکاچه کړے راپلیته
خیته دِ چیته، لویه او پلنه دَ لاله په شان
لنګاے دِ پاپے، ارتے سپین مے دَ نتولا په شان
توپ وے تل نه کے څه بد رنګه دِ رفتار دے
ښکلے دِ آواز لکه دَ ژرندے دَ غرار دے

اوسے په او بوکښے دَ تپخ او دَ ملئ په شان
کښ دِ دَ سړی مے کاته دمار ګمئ په شان
ګرزے په پټو کښے دَ نولی او دَ لومبړ مے
توپ دِ دملغ په شان، غټے دباکو کړ مے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه اوبه څه خاوره شوے څه مږ څه کبورے
کله دِ په ستر کو کښے چپے وی کله دورے
رنګ دِ بے نمګه دَ خزان نه دَ بهار دے
ښکلے دِ آواز لکه دَ ژرندے دغرار دے

شپه کله ښانګ کښے کله شپه دَ لښتی غاړه کښے
چ ماشے چه پښې شی خپل خانه ورله ریجاړ کړے
خوب کوے په خاورو خوستی یاری اوبو کښے کړے
اوسے په تیراه (۱) کښے خوږچی راوړه پیو (۲) کښے کړے
پنجے دِ دَ بتے اولینګی دَ چرګوټی په شان
چیت اولنګ اوپلن، راغونډ وجود دَ مرهتی پهشان
تمغ دِ دَ دله دے رنګ روغن دِ دَ ښامار دے
ښکلے دِ آواز لکه دَ ژرندے دَ غرار دے

---

(۱) تیراه دافریدو وطن.
(۲) دَ پښاور خواکښے کلے دے. پکښے مشهور زیارت دے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرګه

اوسے پہ کندو کښے یارہ غل ئے پلار دِ غل دو
مور دِ غلچکئے وہ، ستا نیکہ دَ بد و مل دو
قوم دِ حرام خوردے قبیلہ دِ حرام خورہ دہ
مرشوے پہ غورو پسے لکئے تورہ دِ سپورہ دہ
ستر کے دِ کاسیرے دی، چلبازے دی بے شرمے دی
کلک دِ دی غابنونہ او پا پئ دِ نرمے نرمے دی
خیتہ دِ کوپئ دہ دکدو پاد شنانہ ھسے
سر دِ دَ نولی اوبریتوکی دَ تُرہ باز ھسے
غلا کے دَ غریبہ غلا دَ خانہ، دَ بنھیا نہ کے (٥)
سید او مُلا نہ پیژنے، بوتہ دَ ھرچانہ کے
ستا د اروکے (١) خیتہ دے ھمہ جھان مرہ نہ کرہ
ستا کاسیرہ تندہ دَ عمرونو غلا سرہ نہ کرہ
ذات دِ خُناوردے خوخوراک کے (٤) دَ انسان ھسے
اوسے پہ سخسوری کښے فیرنی شتے دَ خان ھسے

(١) روکے = دروکے، درہ (٥) کی: کوی. (٤) کے: کوت.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه دِ دَ یزید دے طبیعت دِ دَ شیطان هسے
چین دِ دَ منت دے خوهمت دپهلوان هسے
خوورشے چه پیشوله نوپولاؤ پیتی دِ هیره شی
پش په خیته مورشی په تاکیاره . باره . تیره شی

غل ترهغے غل وی چه ترے بَره غل پیدا نه وی
چل ترهغے چل وی چه ترے بَره چل پیدا نه وی
دوه دانے ترے اوخوری دوه دری خاوری ایرے کړے
اوبوے خوله دِ خاوری شه انبار ذرے ذرے کړے
خوئے دِ دَ خنزیرے اوفطرت دِ دَ سنا مارے
خوله کښے دِ آفت دے اوپه شونډو کښے آزار دے
خوغوته چه شی سخته آخر پښه ئے چاره شی
ته شے په جوارو پیشو چان په تاماره شی
اوسے چه کوم کور کښے حرام خوره هغه کورلوټے
دا سے حرامی ئے خپل بابا اوخپله مور لوټے
خوورشے چه پیشوله نوپولاؤ پیتی دِ هیره شی
پش په خیته مورشی په تاکیاره باره تیره شی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بازیگر کمتر

چاله لوږه چاله تنده
چاله نور چاله نظر

څوک بندی دَ خپل زړګی وی
څوک غلام دَ خپل ځیګر

یو جوړ کړی دَ سقر نه
سره ګلونه مار یګر

بل دَ حورو دَ غلمانو
نه جوړ کړے دے سقر

په تیګری پسے ژاړی
یو خوانا ست تخت په قاړون

بل خوا زر رنګه وصال دے
او لکها قسمه بیلتون

چړته سپی ته خپله لوږه
هم لیلی شی هم مجنون

کله خر ته خپل خر توب شی
مست جادو رنګین افسون

دلته رنګ بله رنګی دواړه
دَ احساس دَ تول یو جام دے

زما ستر کو پیدا کړے
سپین ساقی او تور لهام دے

شپه او ورځ زما نظر دِ
روند له غم او ما بنام نشته

زه عاشق ځکه دَ رَبّ یم
چه اِنسان له دوام نشته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

رَبّ دے هرڅه، اوهغه چه زما هوش پے نه پوهیږي
رَبّ زما دَ روکید ونه بَرَه، لوے، سپین مقام
رَبّ زما دَ هوش صحرا له یو محل دے دَ کمال
رَبّ زما دے مترې سره دَ مستۍ بر پوره جام
دا دَ روکو په وطن کښے یو ارمان دے دَ دوام
دا په تورې تورې شپه کښے محبوبا ماه تمام

چه امید دَ هوش یاغی شو
چه مد هوشه شو نظر
خپل طاقت وتړه سرور شو
په سیل ووت بازیگر

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچے

"کوچے" زمایو پیر زبردست سپین سپے
ما قسم قسم سپی ساتلی دی - انگریزی
جرمنی، لغړ او بیر، ولے د کوچی
په شان بهادر، خیشته
او او بنسیار سپے
نه پیدا شوے
دے او نه به پیدا
شی، زما د بند په دوران
کښے مړ شو.

زما کوچیه! زما کوچیه — ته خو پیسے نه وے ما آشنا وے
په تنه نروے ترا نمریه — قصه دَ مینے نوم دَ وفا وے
چه نړه او چت وم دَ کل جهانه — په لکها سړو م دا سړی بره
ستا سترګے زړه د مینے وے — تیرے دَ ژوند دَ ځان او سره
چه نړه آسمان نه خاور وله راغلم — تاج م راکوز که او کجا رل م دا خست

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شال او دستار او خاعت مې ورکه کندم پې سرکه او جمول مې وخست
تا نه زه هغه شان د ملک بادشاه وم هم هغه ستر کې هم هغه مینه
چې تول جهان غپل دا ول کړل تا ز قوله لکۍ مهینه

ته خو آشنا وې زما د ستر کو
نه مې د زور وې او نه د زړه
د تقدیر تول که دروند که سپک شو
ستا بس یو تول و او یو نظر و

ته زما یار وې د بد و ورځو د بد و ورځو یار نه هیرېږی
چې تول جهان یو تور صحرا شی د سرو کلونو خار نه هیرېږی

هائے چې د ژوند په رنا بلے
ستر کې روښانه ستا د وفا وے

زما کوچیه ! زما کوچیه !
ته خو سپے نه وې زما آشنا وے

(تمندیانے)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تورانئ

دا سے تکی پہ پښتو ژبہ کښے نشتہ
تورانئ چہ پرے زہ دوایم ثناستا

دے دَ خاورو جوړو شونډو کښے ځنګ ځائے کړم
خوشحالی، مستی، ځوانی او خندا ستا

دَ غمو پرځنګ پہ تولو کښے منګاړہ کړم
ځنګہ کیږہ کړم مینو مئی درڅ دام کښے

ځنګہ ونیسم پہ کوتو کښے سرو دستا
ځنګہ واچوم دَ نور دریاب پہ جام کښے

ځنګہ خوب دَ ځوانئ کړم بندی دَ خاورے
پہ څہ اوتلم رنګونہ دوصال

ځنګہ نور دَ یار دَ ستر کولاس کښے واخلم
ځرنګ اوترم پنډوکی کښے هلال

نادیدہ غلام دربار کښے دَ سلطان
دا سے زہ ولاړ ستا حسن تہ حیران

دادہ بس چہ مجبوری م خپلہ اوښوہ
تورانئ نہ شم کولے ستا بیان

خو چہ ستا پیغام دَ نوی صبا واورم
لکہ گل چہ دَ سپرلئ واوری پیغام

تیارہ میرہ کړم پہ طمع دَ رنا شم
پہ لحد کښے اوشکم دَ مستئ جام

امید دِ ینښی ژوندتہ بل خیشتہ مشال کړی
دَ مرګی دَ محنہ تاو دَ ژوند ون شال کړی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مُلاچرک

زیړ دِ قمیص دے — خرد خنبتک دے
شملہ دِ نیغہ دہ — او کوټ دِ برک دے
تولہ ورځ کنے کنے — پہ ځان مینہ
چا خوار چینجی پسے — کنده کوینہ
نمایشی شان نے — کړے دَ نخرو الوتہ
دَ مشروتونہ دِ ک — ستا قدمونہ، کاتہ
پخے پخے دِ ستر کے — دی دَ پشتو (۱) پہ شان
پہ دریغہ دریغہ تلہ — دے دَ تہو پہ شان
دَ سلیمان دَ لالی ! — نوم او صافہ دَ امام !
یو خوا قبا او تسپے ! — بل خوا پیالہ او خیام !
یو خوا سپین روے ملک — مَرینے دَ رسم او قانون !
بل خوا د مینے دلال — بندی دَ رسم او افسون !

---

(۱) "پشتو" زما معزز او محترم دوست مهر دل خان دَ هوتی - خان خیل، قد نے وړو کے دے، خو دماغ نے ډیر اوچت دے. او مونږ وبته دَ قهر او محبته - پشتو" وئیل.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو خوا تنکی تاریکی — دَ بل د خیال سودا
دَ بال او بچ سودا — دَ ځان او مال سودا
بل خوا دَ بل په مینه — ځان او ناموس ورکول
پټ شاباشی له دَ زړه — دَ خار جلوس ورکول
یو خوا دَ بل مسترکو کښې — د درنیدو تالاش
بل خوا دَ ماتو ځانکو — دَ الوتو تالاش
زبرک او معقول پخمنیه — پکه په سر مُلا
تا کښې ښکاریږی ماته — د ژوند عجیبه قصه
چه کله ته والوزے — ملکه سبا ووینم
او سلیمان ته خاورے — تولہ دنیا وُوینم
د بحر و بر بادشاه — ورے شان جوړے ته
قربانوی خوشحالی — دَ غم میرمنے ته
د کل خندا وُوینم — دَ لولکی پرواز
دَ محمود او ایاز مسترکے — معصومه خُلہ دَ ایاز
زه دَ آدم دَ جوړښت — په وجه راز پوی شم
په خپل انجام پوی شم — په خپل آغاز پوی شم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بورا

تورہ بورا تورہ — تہ مهمند ئے که خټکے(۵)
زړه کښے دِ کو نکټ — دا ارمانونه دلو لکے
مور دِ کل اندامه دُ — بابا دِ تُرابان(۱)
رنګ دِ دَ شاخیل — او طبیعت دَ شاهجهان
بنګ دِ دَ دمبردے — فلسفه دِ دَ خیام ده
تورکو نکټه تاکوم ځائے — څکلے خواد جام ده
تادَ رنګ او حُسن ساز — دَ چا په ستار واوریدلا
تادچا دَ ځُلے داستان — د مینے اویار واوریده

اے تورہ دیچکیه تاکښے دَ شیرازولے
اے خپه ما بنام: تاکښ نور او کدازولے

خو یاره تاکښے م ! — یو صفت بَدی شِی
ستا کوڅه دِ بشان: — م عادت بَدی شِی
اے مرجائی عاشق — دَ یو کل یار نه ئے

---

(۱) تُرابان هغه دیو دو چه په کل اندامه بنا پیرئ مئین دو.
(۵) خټکے : خټک یے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ مینے نوم دِ سپک که — دَ یو دلدارنه ئے
هره لمحه لحظه کښے — نوے خمار لته ئے
او په مذهب دَ مینے ته بے وفائے — پروان دبل وے اونن نه مائے
په رنګ او بوئ مینه — جانان دِ هیر دے
خوانی مستی ښکلوے — خزان دِ هیر دے
دَ فراق تور غمونه — ژړا افسوس او ماتم
هیر دِ دی اوچ سینلونه — زړه خوانی، نوے غم
دَ زیړو ګلو شان کښے — مرګ روکیدُ دِ دی هیر
دَ نن په شوق مسته — سبا راتله دِ دی هیر
داسے بے توله ته ئے — څنګ بے پایان چه نه یم
ته دَ هغه ئے بورا — دَ چا اِنسان چه نه یم

تا کښے رهنا او تیاره
سپین شته او تور شته
چه ته ښکاره شے نه ویم
زما هم دور شته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تارُوِ

وکوړ یو ونځے تور تارو په سجده پریوتہ
وے کړلہ ربّ تہ عجیبہ غوند ے دعا

وے تورو لے تنده ے دے اوخړه و لے زانہ ؟
ولے یو۔ باتور۔ یوه کنجے۔ یوه هما!

زه به تل حسینؓ یم اوښکاری به تل یزیدی ؟
لاس کښے کلہ دام۔ کلہ توپک۔ کلہ لینده !

پَرَد بورا یوسی تور بورا دَ کلو مینځ لہ
پروری کنجے غریبہ بوی لہ او دیرا ن لہ

پَروری لولکہ، لکہ باد دکلو پا ے
پروری پتنگ دنالہ ، سوزلہ، او تاوان لہ

پَرُوری مینہ ے دتورانئ بنارو منبو کے لہ
پَرُوری کرکوره دَ شهبازاو شِکری نو کے لہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پَرقارغه پرکند، پتنگ وروا چوی پہ اور
پَرعقاب لہ فخر او تپوس لہ شی پہ غور
پَرتَو پہ باغچہ کښے د صحرا د درد لیوالہ کړی
بل لہ جام دَ ژوند شی، جام دَ زهرو دَ منګو
پرد عقاب لوئی شو رتبہ وے دَ تنزرو!
ولے هر مارغه کښے نشته تله دَ توتکرو
ولے هغه ملک دِ دَ شهباز دَ شکرے کورکہ
کوم ځائے چہ درانه کوزی سیلونه دکمترو
یو تنزرے بس دو ستا کمال بنکاره کولولہ
بنکلے دَ طاوسه خوش زبانه دَ کمترو
بس چہ یو مارغه وے، یوئے پَروے او یو تہ وے
بس چہ تل باجره وے، خاورے دوے دوا ښه وے
بس چہ تل سپرلے وے، زیرکلونه وے، سبا وے
بس چہ بس یو تہ وے، یو ارمان وے، او یو زړه وے
تول جهان خاموش شو دَ خپل زړه آوازئے واورید
زیرلکہ غلام، د بادشاهانو رازئے واورید
تول جهان خاموش شو، یو آدم وو چہ کویا نه شو
مینے دا سے یو رو بے خبره دَ خپل ځانه شو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

منبکلے منبکلے سبزه زار
شو موسم د نوبهار
غوټئ پیغلے کړی خندا — عاشقان کړی مشغولا
بے خبره د دنیا — څنګ په څنګ سره دیار
شو موسم د نوبهار
ګل چمن نه نار زار

(*) وئ: ولی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

معشوقے شولے مغرورہ ستر کے د کے تل د نورہ
داشناسرہ مخمورہ پہ مستی کوی رفتار
گل چمن ترے نہ زار زار
شو موسم د نوبہار
شو بدل جہان د رنگ رنگ شو تول جہان پہ رنگ
پسے دیارنے چنگ پہ چنگ زرہ زما د گلخار
منگلے منگلے سبزہ زار
شو موسم د نوبہار
سرہ گلونہ شین اسمان پاک نسیستہ (*) مخین اسمان
لر شلنتے رنگین اسمان یاسپوږ می یاخ دیار
گل چمن ترے نہ زار زار
تول وطن ترینہ زار زار
گورہ ستر کے وھی ستوری یارہ! راشہ پہ دے لوری
وارہ غلی غلی گوری شو موسم د نوبہار
منگلے منگلے سبزہ زار
گل چمن نہ زار زار
سپوږ می تول وھی گلپیزی اودستور ولاس پرقیزی
اوس منگا رشی اوس تیزی دوریخو پہ گلزار

(*) نسیستہ : جایے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلے ښکلے سبزه زار

شو موسم د نو بهار

غنی ناست د سیند په غاړه د غمونو ترے تاوجاړه

څه به کړی سپوږمۍ واره څه فقیر څه نے ستار

ښکلے ښکلے سبزه زار

ګل چمن نه زار زار

ای دهرچا دلبره

مخ دے تابانه ستا ستر کے روښانه ستا

حسن بے شانه ستا زه دے دلګیر کړمه

ما بام د سیند په غاړه چه وه دنیا ویجاړه

ته وے ښیسته ولاړه ګل دے په ویر کړمه

***

اے دهرچا دلبره! اے بے وفا دلبره!

شه بس زما دلبرۍ! ظلم کول وران دی

هم نے نژدے هم لرے ستاسو کے کړی خبرے

څومره ښیسته بشر نے تا ته کتل کوان دی

***

کوان ے ژوندون ویرشو د زړه ماړه ګیر شو

لاړو بهار تیر شو عبث فریاد کومه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنورو یار شولے تہ — پہ بلہ لار شولے تہ
منکار د ریبار شولے تہ — خوبہ دے یاد کومہ

* * *

زرہ دے صفا دغنی — قصہ د بنتیا دغنی
مینہ بل ما (۱) دغنی — جانہ ! اتبار وکړہ
راشہ جانان شہ دہ — ورو کے خان شہ دہ
یو ورځ میزبان شہ دہ — دیرے مدار وکړہ

غزا

مسلمان بہ نن غازی ئو — کہ ھندو باندے غزا ئو
وئی (۲) کتبے تہ دتینگ نہ یم — خو مولی تیپر تہ واوہ

خان

خان راخیستی دی ملا پسے خوبار ے — خپل کور سم کړہ خپہ پردی غمونہ زار ے
بل تہ وائی دحرص وباسہ غاښونہ — او پخپلہ سوان پہ لاس تیرو ے دار ے
تل وطن پخپلہ وران کړے بل بدنام کړے — ملایان دکرلی قارغان خوار خوار ے
چہ پخپلہ پہ بیہ قام خرخوے تہ — بیا پہ کوم مخ پہ ملا کوے پیشار ے
چہ پخپلہ دمخ کال کتبے نئ (۳) ویخلی — بل تہ مہ وایہ زرکیہ ! چہ پوار ے

---

(۱) دیرہ. (۲) وائی. (۳) نہ وی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته اول د صاحب پرین ده سلامونه بیا په ده سر سایه پرین ده په ولاړ ے

دغفی نصیحت واوره اوس خان سم کړه

خو لے لنه راځی بیا یا تو کلی لاړ ے

اتفاق

ملاوائی مغربی تهذیب کړی کړ ے وکیل ګرځی مونږ ته غواړو اصلاحات

دهقان وائی ها ی افسوس باران لا صو کړو سرکار وائی چه لږ تیکس مه کړو مونږ زیات

بورا پلار وائی فیشن د نجو کار دے کالجی زوی وائی په کار دے مساوات

دنیا وائی علم لار د ترقی ده منکل وائی د سقا و پلار نه ګټو بقراط

باچا خان وائی آزاد د اخپل وطن کړی ملکان وائی اول د ان کړه حوالات

غنی وے که ما د زړه خبرے ووے

پښتانه به م په سر لوګی کړی مات

انسان او فطرت

زما زړه د خوشحالی تازه چمنو چار چاپیره ترے باغچه د یاسمنو

دلته زرکے هلته سوی بورا کان وو یو خوا کوټ کښے په چنداشینکی طولیان وو

وے په منځ کښے فوارے د امید و نو دیارانو د دوستانو بنیسته جنو

څوک به ترے ترے لاړے د تیزی نه څوک به پوته قدمے شود خپله خانے نه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عرش دا چه هلوف ته خوشحالی وه — خوشحالی که خوشحالی ؤ د مالی (*) وه

څه خبروم چه خزان به م برباد کړی — دا زما هیش خندان ازره به نابباد کړی

ای ظالمه اے کمبخته اے بے داده ! — اے زما د خوشحالی د سر جلاده !

دا نبیسته بنیسته کلونه لا غوټی دی — په دوی مه خاورے کوه دنیا آباده

خدائے د پاره خدائے د پاره رحم وکړه

دا نبیسته بنکلے وړه باغچه زماده

غم

که زه نه یم خوشحالی به چیرته وی — که خزان نه وے مالی به چیرته نه وی

که بلا نهک لا ایل خوشه نهک بیوا وه ورکشی — که تیکری نه وی کالی به چیرته نه وی

دالله هر یو قدرت د حکمت رک دے

دانسان عقل لا نه پوهیږی هلک دے

د اروش د دنیا

لندن

چه ترمخ شی د چالرے — شی د زړه نه هم فنا

کیله مه کوه د چا نه — د اروش دے د دنیا

د دوی لا نے م دی یادے — ما بنام تیر شو اوس سبا

بس ما نور غولو لے نه شی — د زاغانو مشغولا

(*) مالی = مالیار . باغوان .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروره ! کلک ختک شوم — چه راپورے داتک شوم
دقسمت پہ تال تالئ خورم — کله خه کله راخه !
هم پښتون یم پہ نسب — بدل اخلم دهر ډب
چه زے (۱) هیر شوم زه بے هیر کړم
دا روش دے د دنیا

لندن

ازبیل ته

زما هیر به نه شی ستالبان ښیسته — نه د سرو زرو په شان زلفان ښیسته
نه خندا ستا غلے غلے زما خوا کښے — ستا شنو ستر کو به کړل جهان ښیسته
فرښته به وے دورځے ، د شپے حوره — چه دیدن له به دے جوړ مرحان ښیسته
هغه لاس چه لاس زمونږ د باغ سیلونه — هغه شین دستونه ډک آسمان ښیسته
دا تل دی چخه تیر شی هغه هیر شی — خو ما هیر نه کړے شو ستالبان ښیسته
خدایه ! بوخے دا خزان چه بهار راشی
بیا زمونږه د مینے شی جهان ښیسته

لندن

زوړاور

اوه دغمه م شو سپین دستر کو تور — وسوم خاورے شوم ایر شوم لکه سکور

---

(۱) زه ئی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے بلبله! که ژړا کړے ماله راشه — گنے څه که خاندے وخندوه نور
سوے لوے لوغړن پتنگ وے خلکه: — راشی ذکوری زه نیم سوے په اور
لاله وشهیدہ ستر کے نے کړے ښکته — بورا ولیده راپریوا ته نسکور
غټے ستر کے دنرګس او ښکولا هو کړے
په لمبو شو د مور و مړ شوے اور

لندن

د ټوپے فریاد

چا کړو خرڅ خپل دین ایمان په جینکو — چا په مال چاتش په تمه د روپو
چا بدل کړ په هلک چا په شراب — څوک ناے د ړمو اخلی په تسپو
مونږ ځانه کړل په نومونو لقبو نو — د صاحب د پښو په ځای مو وتپو
اوس نومونه شو خوږے نه ښکلولے
تش شپیلئ ته لکئ واو (۱) لکه دسپو

جته

بے تعلیمه ښځه غواده — سخو کتوله بے بهاده
نه ورانیږی نه سمیږی — بس یوشی یوه بلاده
خوله ئے ژرنګ نه ودریږی — د چرچنو شغولاده

---

(۱) وهو.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړی ئې وران لوړئې ناولے — خود غوا پرے څه پروا ده

یو واده د خدای رحمت دی — یو طاعون دی یو وبا ده

په کالو نه ښکلے کیږی — دا بد خو یه دلر باده

په کیلو نه ستړے کیږی — تل ویرونه دی غوغا ده

فلانے دا سے فلانے دا سے — دا ئے کار دا ئے سودا ده

وائی غنی مین په غوا

چه د روغ دے کے رښتیا

خرمستی

هسام شو له ما نه نیمه لاړه کښے شوم پاتے — خوانی م شو له مرا و د بیوپاړه پرے شوم پاتے

یا ما به خندے وجو نے ښکلے سړے بلبلے — بو د شاخیل شو م ویم (*) شلیدلی تبل ته غړے

ستار شو تار په تار د لوے د ریاړه پرے شوم پاتے — هسام شو له ما نیمه لاړه کښے شوم پاتے

وه لو یه م سینه خ م اینه ستړے چلبازے

اوس ستړی مسافر په لوی سفر څه یوازے

ستی شه دا مستی د کرد کاړه پرے شوم پاتے — هسام شو له ما نیمه لاړه کښے شوم پاتے

یا تله الوتمه پر قید مه اور وم اور

سپیره پاتے ایرے شوم په زړه سوے په مخ تور

شه ورک دا بو د اتوب د مخ د پاړه پرے شوم پاتے — هسام شو له ما نیمه لاړه کښے شوم پاتے

(*) دیم ، وایم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترانه

کرم به خپل وطن د ټول جهان د ننداره رو ملک به کرم آزاد

نه جوړیږی بے نماد و ینے دا دا ورو تل به وی نابناد

یا چه خان قربان کړو په وینو ئے سم و دان کړو

یا چه نے سم جوړ کړو یا چه ئے سم ورانکړو

ځئ چه بیائے وینس د انقلاب کړو په ناروړو هسی شو برباد

کرم به خپل وطن د ټول جهان د ننداره رو هسی شو برباد

واچوئ ښیستو ردئ (۱) سره په وینو سره ور دئ

کوری مونږ ته خپل پردی نن به شی ښکار هر دی

خان د خندا نکړئ ای د تورو لاړو رو (۲) دا وخت دی د مراد

کرم به خپل وطن د ټول جهان د ننداره رو ملک به کرم آزاد

څه به کرم بے ننګه قام څه به کرم بے جنګه قام

وینو کښے رنګ بنګه قام څه دی د بے ننګه قام

یا به پرے لوګے شم یا به ئے جوړ کرم بے دار و رو دا وطن برباد

کرم به خپل وطن د ټول جهان د ننداره رو ملک به کرم آزاد

(۱) لباس، درشی. (۲) مخفف د ملاورو.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعا

خدایه! ستاوره دنیام نه ده خوښه — ماله راکړه پخپل لوی جهان کښې برخه

چه کوم ځائے کښې بے گناه گناهگار نه وی — چه کوم ځای زړے چړے د اغیار نه وی

چه کوم ځائے کښې وی بے حسن نه احساس — چه کوم ځای صبر زړگی وی لوټ لاس

چه کوم ځائے کښې فریاد نه اورم د کونډو — ماشومان یاپه تو کړو پسے په منډو

چه کوم ځائے کښې نه مزه شته نه قانون — نه عشق نه وصل نه بیلتون

چه کوم ځائے کښې واز ے ستر نابینا وی — چه کوم ځائے کښې یوشان نن پرون سباوی

چه کوم ځائے که بادشاه وی که ملنگ — یو تخت او یو تاج یو ئے پالنگ

چه کوم ځائے کښې مال اولاد دوستی بیکار — چه کوم ځائے کښې نکاروان اشته او نه لاره

ستر ے ستر کے م کړے پټے یا الله

زما خوښه نه ده ستاوره دنیا

زړه اوسر

نن بادشاه سره په جنگ شو لوړ وزیر — غصه عقل شو په لار ود ضمیر

وے عشق مه کړه دا پیغام دے د مرگی — زړگی وے نه! عشق آرام دے د زړگی

دا د پاک الله صفت دے — دده نور دده رحمت دے

دا په دے محکه جنت دے — دهغے جنت نعمت دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دالہ تولولوی دولت دے دابانی دشجاعت دے

بے لہ دے بہ جہان سپوروی

بے نمکہ لکہ چکور وی

سر:

چوپ شہ چوپ شہ ے انوکرہ دبتانو! ئے غلام دتوروزلفو سرو لبانو

تورے زلفے دے دیار دغم تیارے دی سرہ لبان ئے دوزخ کور دشیطانانو

دکنا مارپت پہ دے کلو کنبے ناستے دی لہ جنتہ غور محولے دی انسانو (۱)

لیونی دے کر مجنون فرہاد دے ورک کر بنارئے دے کرے تباہ دبادشاہانو

دے بد نامہ زلیخا پہ تول جہان کرہ دمغولو کور دے دلاسہ ورانو

چہ زما سرہ خوک مل وی تل یادیږی خوک سقرا طو خوک بقراط خوک لقمانو

عمر خوک ہارون خوک مامون خوک لہ ھر چا ولی باشاہ (۲) لوے سلیمانو؟

عالمان پیغمبران زما دوستان دی

عشق دے کار دلیونو یا ملکانو

زلمے:

مکرہ لاپے دخان نہ م دی پہ کار عطروائی چل قیمت چوپ وی عطار

راتہ بنکاری تہ ئے روند پہ بینا ستر کو پاپوھیږے خوکرے مکرئے مکار

تہ انسان تہ بنیئے لارہ پہ جہان کنبے؟ دجنت انسان تہ مینہ بنیئے لار

---

(۱) دقافیے پہ لحاظ دجنے او مفرد املا پہ یو شکل دلیکل شوہ. (۲) باشا: پاچاہ بادشاہ.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آدم نه دے راز پوښتنه وکړه — ټول جنت ئے کړ په ده باندے نثار
یا تپوس د ارنی موسیٰ نه وکړه — لا ښه وپوښتنه یو ورځ د حرا غار
د مجنون یاد فرهاد نه سلا واخله — یا منصور ته وایه ولے شوے په دار
منصور ځان کښے موسیٰ طور کښے نور لیلو — پخه کوم لیلیٰ مجنون کړ بے اختیار
یو معشوق په بل بل رنګ په بل بل لباس کښے — خندوی او ژړوی هزار هزار
جلال یو دے جمال یو دے کمال یو دے — هر عاشق ئے وینی خپل یار
لکه څنګ د نور په زور سپوږمۍ بلیږی — دا ستا بینیئی معشوق نور د رب غفار
څه که خلک لیونی غنی ته وائی
دیر مینه پیر غنی خپل یار هم نور دیار

(اتمانزی)

کونډه

کونډه ناسته په ژړا سر ټکوی — چه زامن ئے په کولو شو شهیدان
کور ئے کور شو تیاره دیوے ئے سړے شوے — کوډګانو کړل فنا بیسته ځوانان
د ورځے ورځے بچی سر ته ده ناسته — په ویرو نو لړزوی ځکه آسمان
آزماد کونډے ملګرو یه خدایه!
آ منصفه آزماد انصاف ځایه!

زړه وکړه په سپین سر تانه ژړیږم — دا زما روستے کلاب رانه مه بیایه
دا یوه څانګه زما د تالا باغ ده — دا لالے زما مه بیایه له دے ځایه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور دے ورک کړل په کولو د کوګانو — دازما ورو ستے بچی پرېږدا ے خدا ے

دازما دسوی زړه یو قلار ے دے

که نے اخلی نو چمان خان ته مه وایه

دازما دکړے ملا یوه مساده — کښے بیا نے ماتم لار دکورو بنایه

الله رحم په سپین سر دبوډۍ وکړ — مرګے راغے خلاص کړو له کریان

دبچی په سینه ساور کړه عاجزے — بوی ترے لاړتش کل شو پاے په میدان

په آسمان کښے فرښتے په ژړا سرشوے — په سجده پریوا ته تول پیغمبران

دعشق نور

دآسمان دسوری لاندے — اودستور و مشغولا کښے

دیخ سیند په غاړه ناست و — دوه یاران مشغول لا کښے

دسپوږمۍ زړه شو خوشحاله — په خندا نے لاس کړ پورے

دعشق نور نے هر خوا خور کړ — په بلبل کښے په لالا کښے

خوشحالی وزړے وکړے — چه دزړه دباغ سیل وکړی

اودادوا ره یاران بنکل کړی

دسرو ستور و مشغولا کښے

(اتمانزی)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے زړه

اے زما د زړه بلبله ولې زاړے؟؟ ولې څه پسے خپه ئې څه شے غواړے: ؟

څه دپاړه دے بوستان د عشرت پرېښود څه دپاړه دے غمونو لټے (۱) جاړے

دا ته ښکاري جوړ بیائے شیدا شوے خکه نه وے نغمے کوټ کښے ولاړے

دا ته څه وے؟ چه یورپ کښے دلبرے د رقیب یاري کړه جوړ چه ته لاړے

دا یورپ دے جینکو کښے وفا نشته

بے وقوفه! ته د مرګ مستي غواړے؟

(اتمانزی)

ته اوزه

ته د همه ګوخوبند وکشره ئے اوزه د خپلو مشر رود یمه

خوبه ښایست د تولو مشره ئے خکه همیش زه پروت نسکور یمه

ته ئے کلاب په شکل او فطرت اوبلد رنګ کیکر از غمے یمه زه

خوږ د کبین نه خوږ دی ستا لذت هسے بیخوندے مزے یمه زه

لکه د ستوری ته ئے کل د آسمان د جهان د ناپ کښے د زړه عکس نه یم

د شپیلۍ ساز پسے یم کله روان کله په زړ کو کښے ستا رقص نه یم

ته د سحر په شان ښیسته او ښکه زه د ماښام په شان غمګین اوستړے

---

(۱) لټوے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشه په ژوند دشراب ستا ډبرخه — زه په وسواس خوړلے شوے مزے
ته د سپوږمۍ په شان موسکۍ هوښیاره — او زه دلمر په شان سوزیږم مه تل
ته د لوئی په شان د ګلو یاره — زه د بلبل په شان ژړیږم مه تل
ته ئے نسیم رازدار د ښکلو ګلو — زه ګونګټ یار د ژړید لو ګلو
ته ئے شبنم بے بے دنوو ګلو — او زه زور ګلشن وطن د سوو ګلو
ستا په خوږ وهر یو غزل دے ښکلے — او هر یو ویر زما د زړه وتلے
سرهنګ تا نه ده خندا زده کړے — شپیلۍ زما سلګۍ دی اوریدلے
زه مقتدی یم او ته یم امام — ته ئے مالک زما او زه دے غلام
ستا د پښو ځاے زما د سر دے مقام — ستا ښکلے تن دے ما بیت الحرام
زما جونګړه یوه ده ویجاړه — ګلے ! راځه چه ورله ورشو د واړه
ستا په ښوبت به زما بدشی واړه — ازغی هم ښه ښکاری د ګل پیجاړه

(اتمانزی)

باباته (۱)

ستا خطونه تول زما سر ته پراته دی — زه ئے لولم هره شپه دوبار دوباره
کله خاندم کله ژاړم لیونے یم — اے زما په بند کښے پروت غریبه پلاره
نه ته ننګے غریب ته دیر لوے اوچت ئے — مصیبت دے ستا غرت ته غرت داره

---

(۱) دا یو منظوم خط دی چه غنی باچا خان ته دلندن نه د هغوی د یو شکایت آمیز مکتوب په جواب کښے لیکلے دی، باچا خان د غه وخت په جیل کښے ؤ.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای به رحم وُ نه تا باندے لږ کړے — بل ښه زوے به ئے وُ کتلی ستا دپاره

چه په تا کښے کوم جوړ دے ما کښے نشته — ستا نیکئ زما بدئ دواړه بے شماره

ته سالار ئے د کاروان په نیغلا رځے — زه کوږ خُفلم لکه اوښه بے مهاره

ستا د زړه فوارے د کے دی د مینے — زما زړه وچ کوهے نه لری یو داره

وهم منډے تا پسے خو ته هم لرے — وینم ستا ایله ایله د پښو غباره

پروا نشته که په منډو منډو مړشم

فقط ستا اوږد خپل قام د نوم د پاره

(لندن)

خانصاحب

پیسه تک خان زما لوے یار دے زما خوښ ډیر دے

کوی لمونځونه په روژو کښے له هر چا تیر دے

ابله ورځ م په یو ځاے کښے ډیر دلګیر ولیدہ

ماوے کاکاولے خفه ئے جومات دے هم میر دے

وئے وے بچیه! بیکاوور اکړه غله راغلے

اوس دانه هسے د خفکانه روګو در هیر دی

خوشحاله زړه کښے شوم خو مخ م له خپکانه کړ ډک

په یو کوټ میخ نه کیږی کور د بو ډالوے نیر (۱) دی

---

(۱) نیر = ویاله، نهر.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیام تپوس پہ ھمدردی ترے د نقصان وکړو
بود اپہ سرو ستر گو پہ خوږ زړہ دا بیان وکړو

وئے بچیہ: ماتہ ھر څوک مالدار وائی — تول پولیسان اتہ غاصب یا نمبردار وائی
او اماماں رانہ تپوس دز کا تو نو کوی — زما پیشاں سہ بل نشتہ څوک ید ار وائی
مولی وائی چہ انانو کښے یو خان یمہ زہ — عبث زما لخ کښے بطرا تہ څوک ھوښیار وائی
غلہ پہ تمہ د روپو زما کړہ راغلی — ماتہ پخپلہ استہ صیب دسہ کار وائی
خوږ خپہ چپہ تش لاس شو لو رخصت موز دان — اوس بہ قصہ زما د کور پہ ھر بازار وائی

چہ منږ کان پکښے د شپے نیزہ بازی کوینہ
دیو جوار پہ دانہ ھم چرتہ تیندک نہ خوریږ

ماوے کاکا: نن وږے ھر څوک د غہ کا ته کوی — پخپلہ مزی د لوږے بل نہ خیر اتو نہ کوی
محکمہ کا نہ کړی یا پہ سو مال د بنیانہ خلی — بیا پہ مرپلا لہ د صابو کوږے صفا تو نہ کوی
بریشو نو کړی چہ تو د مم اوس تو دہ د خوږہ — یا تمانچہ پہ تخ کښے واچیئی (۱) فساد تو نہ کوی
دا ھمتہ بریوہ پیسہ کتلی نشی — کوږی نمرے جمعدار تہ بستو نہ کوی
نشہ دردہ دا نلا طو خرخئی (۵) ڈپلا رمدی — ممرے ئے ھم د کوږہ تبستی مجرتو نہ کوی

خدای دے پخپلہ وتہ وکړی ھدایت دلارے
غنی کہ وائی شہ وتہ وائی تم د کومہ پلارے؟



(۱) واچوی . (۲) تم - تہ مو . (۵) خرخئی : خرخوی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ ے

کرچه خاورو کښے دے پټ وجود ستا موږ ے !
ماته یاد ے هغه شان ستا ستر ګے تور ے

موږ ے ! ستا لاسونه ماته نه دی هیر
چه تکلیف کښے به زما نه وُ چاپیر

ستا د خولے تصے یاد و مه هر ما بنام
د ګنجی دهره مونے د بهرام

ستا وهل د بل د مینے نه خواږه وو
ستا ګنځل زما ته د بل دعا نه ښه وو

یا چه ما به د یر خراب وکړل کار و نه
او بابا به لږ زول مخکے آسمان و نه

ته به وے زما ملګرے زما مل
او زما سلګو سره به تاړل

موږ ے یاد دے ماته آور و کے تال
چه تا زه به زنګولم کال په کال

ستا جوتے جوتے سندرے ارخندا
چه به ئے سپک لکه د باد کړو زره زما

یا چه ماته به له قسته شوے په تار
زما اوښکے به دے بوتلے په زار زار

موږ ے یاد دے ماته واره اختر و نه
چه به تا په ښکلی مخ کښول خالو نه

په جګړو به دے زه کړمه پاک ښیسته
ما به ځان کړلو په ختو ابته

تا به وو هلم بیا به دے کړم ښکل
په خندا به دے زما ګنځل زغمل

ماته یاد دے هغه شان ستا موسکے شوندے
ماته یاد دے هغه شان میلوته منډے

چه ما بنام به ستر ګے کړ ته راغلم زه
ستا په غیږ به الله هو به شوم ویده

موږ ے ! ماته یاد ه شپه د ه یوه تور ه
چه زما وجود وُ کړم له سره اور ه

زما سر کښے وُ شغار د جهان زونو
او غوږ و نه م کانه په آواز و نو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما مرګ موري ! ته تا به وې قربان ، زما مرګ وئی ، ته به تا کړه ګریان

موري ! ما ته یوه بله ورځ ده یاده چه زمونږ کورلړزید لوله فریاده

وه دیرېخ شان ستا تاوده لاس نازنین کلابی ننګی ستا وه بے رنګه سپین

ته موسکئ په خوب ویده وې پاخیدې نه ما ژړل درته او ته راویښیدې نه

ما وې موري ! موري ! تا ته قربان ، وې وې وې پرته خاموشه کل په خزان سوې

ما ژړل او ته ویده وې خندیدلے ما ژړل او تا تپوس نکړ چه ولے ؟

که چه خلور وکښے دی پټ وجود ستا موري !

ما ته یاد دے هغه شان ستا سترګے توري !

ګل که یار

اے زما دسترګو توره ! اے زما دزړه قراره !

اے زما دسر کلابه ! اے زما بنایسته یاره

په زاري درته ولاړیم یو نظر را باندے وکړه

ستا زیارت لیږم راغلے مسافر یمه په لاره

مال دے حسن ته امیره او زه خوار او زار فقیر

دبنایست زکات دے راکړه اے زما مهربانکاره

ته بلبل ته منیسته ګل یے او پتنګ ته رڼا وے

خوله دے وسپړه اے کله ! تول پرآدی بیقراره

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په پانو دا شبنم — دی زما په سترګو نم
ژړوی ما هر دم — ستا ازغی تیره بیشماره
درکوم زه د زړه وینے — چه ستا پاڼے شی رنګینے
دا ستا سرے شونډے ګلینے
شوے دے وینو په داره

لیلیٰ

په پالنګ ناسته لیلیٰ په لاس کښے او په غیږ کښے ستار
ستړے دے د پرسان او انتظار نه دیار
د مرا وے ګل په شان ئے مخ زیړے زیړے شان دے
ول ول ئے زلفے ترے چاپیږلے که تور ښامار
واره واره ښیسته لاسونه د خفګان نه مړه دی
په چو په خوله د عشق سازونه وهی هر یو تار
لیونے نمر په زیړو ستر ګو د دے ستر ګے لتئ
ورو ستئ سلګئ کړی رو رو مری لکه د غم بیمار
خو د دے ستر ګے د بل چا د ستر ګو نور غواړی
نه زیړے لمر وینی او نه دده د ستر ګو خمار
د سرزړګی غوښ کړو ځان ئے غرق په خپلو وینو کښے کړ
سپوږمئ سر تور کړ ورپسے ژاړی په زار زار زار

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پہ پالنگ ناستہ لیلی هغه شان سه تار غږ وی

او خدای خبر عشق به کله بیا زړه کے دیا ر خوږ وی

سوال

خدایه! وکړم د غنچے سره خندا؟ — که د خوار غریب بلبل سره کریان

خدایه! وکړم د خپل یار بنکلی مخ ته — که د خپل سوی زړگی شم تماشان

خدایه! وویږم ستا د لوښ د دوزخ — یا که تمه کړم شروع د حور غلمان

ته مے پوه کړه ته مے پوه کړه نه پوهیږم

چه زه تا کړمه خوشحاله او که خفا ن؟

لیونتوب

یا زه جوړم دا کاخ خلق لیونی دی — یا دوے جوړ دی بس یو زه یم لیونے

ما محتاج د ستا د دوزخ جنت — څه پہ بل د باندو نو خان درسے (۱)

وړک داستا د ناز جهان کړے عالم شه — وړک داستا د عشق کړی زنده پہ کوانے (۲)

راشه لوړ زما د خیال جهان ته — چه خپل جهان شی ړک د پسیمانے

نه نیته لری نه غم نه ورنج نه لوږه — تل سپوږمۍ شباب یار ے جان جانے

د سینا نه د چیو پہ شانے دا ئکے — خوشحالی ئے بے پروا جاودانے

---

(۱) درنوی. (۲) کوانے. مکرر لته د شعر د ښکلا د پاره پہ ملینه (یا) د لوستل شی د پښتو ادب مهم رغنے دے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما لمړم ستا دلمر په شان خلیږی — خو دښمن دی نه دکل نه د خوانے

زما خلک هم ستا د خلکو په شان سوځی — خو په عشق کښے نه د خپلے په خانے

زه هم کړمه زلزلے عالم تباه کړم — چه موسکی کړم څو ګډ لیږی ښه جشنانے

زه هم وژنم عالم خاګانے تو لجد کړم — چه بیتوانه شی دمینے د توانے

زم دوزخ جنت لوم وړو کے نه یم — دوزخیان کړم ستا د ملک په کامرانے

جنتیان کړم بوډاکان په باغچو کړی — یا لوئی چه دکلو نوښتی خوانے

زما ملک کښے دولت نشته خوشحالی ده — دی زمزم زما شراب سه افغانے

وی باران زما په ملک زما په اوښکو — په خندانے تاته کړم زندے خوانے

مست رنګین شیرین جهان دلیونی دے

ورته خاندی دک د مینے لیونے

توبه

په نیلی د خیال اوچت شوم له جهانه — و د عقل فانوس لاس کښے مے روښانه

له رنګو چه شوم تیر فانوس م ړیشو — په تیاره م نیلے لاړ تر نیم آسمانه

د فلک شهزادګی ناسته و باغچه کښے — ماله نے راکړیل فانوس ښکلے روښانه

د سپوږمۍ په رڼا تلم مخمور عاشق شوم — خو تیاره راغلے شو بیت مثال زمانه

چه د ستورو د رڼا نه هم اوچت شوم — ما کړه قدر یو شغله له خپل ایمانه

ما د دے په رڼا خپل غلیظ خان ولید

په ژړا م سر کړ پورته له ګریوانه

---

(۵) زم : زه هم .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیل

مالیدلی دفرنګ ښکلی جیږونه (۱)، چه دالاندے ترغونګ وهی سیندونه

مالیدلی محلونه دالنـــدن جینکئی مستے ازادے کل بدن

مالیدلی داتلی ښیسته ښارونه سرے انګور سرے شراب اوسرے کلونه

مالیدلی دپیرس ښاپیرئی ښکلے په کردار کفتار خوږے لکه بلبلے

مالیدلی امریکه کښے دی ښارونه چه ورځوته نے رسی مکانونه

مالیدلی تاج محل غوټئی دکلو دد هلی ښکلی ښارونه دمغولو

خوچه ووینم زه خپل دختو کور رانه هیرشی محلونه ښیسته نور

دانرئی تنګے کوڅے زما دکلی ورته څه دی ددنیا ښارونه ښکلی

چه خرمخی ورور پښتون سینے لدرشی درنه هیر به قول بنا دبجرو برشی

خدایه شکر چه پیدا دے له دے قام کړم دپښتون نروجود دے یو اندام کړم

څه به کړمه دلندن لوے محلونه دپیرس جوړے ښیسته رومی کلونه

په والله چه له جنته به شم ستون
که کفل پکښے وانورم دپښتون

(۱) جهازونه .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

گلے

تہ چہ بنکلے بے بھانے؛ زما دین زما دنیا
گلے؛ تہ گل لالانے زما ستورے د سبا
گلے؛ گل دے کړ گلزار ستا د مخہ پرے بہار
کہ چینہ دہ کہ ابشار ستا خبرہ ستا خندا
شو حیران پخپل کردار چہ ستا بت نے کړ تیار
ھغہ لوے پروردگار ستا پہ ستر کو شو مشیدا
تہ نے جوړہ کړے حسینہ گل بدنہ گل رنگینہ
بیانے کړہ ستا پہ جبینہ
د سپوږمۍ سپینہ رنا

بھانہ

چہ نے عمر پہ صحرا وی لہ خزانہ کیلہ نہ کہ
د مرہ د سومہ غمونہ چہ اوس سے سینہ نہ کہ
تاوے مالہ دالۍ راکړہ ما غریب مرہ شہ وینے
چونک انغمے دی تول کړی پہ دے لارے ستا پہ مخکہ
زما اوبکے شکو چنبی گل لالہ تو زړہ غمین نہ شو
پہ ما نے دام پیوزہ شو بیا لہ خوا دہ نہ کیلہ کہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به څه ستا ماړو کړم په څه ستا ستر کے ورنے کړم

زه ولاړ کچکول په لاس کښے پکښے بوے زړے او به که

چه خوانی نے ورتر بیږی او د زړه غوښتنی شی مراد ے

د تاتار کوه قاف حورے بخوا څه که او څوک څه که

لیونی ورو ورو ورکیږی خان پخپلو سکو تو وژنی

ستا فراق عشق نے بهانه کړم او هر څه کا او س هر څه که

پلوشه

چه پخوانی وو څه وزیران وے به ئے بزیرے لوی لوی مچان (۱)

ته راته کړه داد خدای شان چه نیم لغړ دی او نیم کنجیان

غرور

که زه بلدیم ښه دی څوک؟ چه زه ښه ئم څه دی څوک؟

که هر کل با نجه کښے خاندی په دیران پراته دی څوک؟

دا چه تے لوګی ته ژاړے په دی اور وراته دی څوک؟

هم کړے عشق هم کړے ویړونه د بونیر دا خره دی څوک؟

غنی او رسه کړی لونے خو خبر ترے نه دی څوک

---

(۱) لنډی بریت.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

وو تونه راغله پیسه سیر پښتو ایمان خرڅیږی
پخوا به جوړ خرڅیدلے اوس خوانان خرڅیږی

ژړا به نه کړم چه غنم جوار ارزان خرڅیږی
پرو سکال کوړے خرڅیدے سړے بیوپاریان خرڅیږی

اے دخاور وکله

په تکلیف کښے دیو دوست تکړه آواز
دے لټولو خوږ له واړو ښکلے ساز

سوے زړه م یو ځل اوه آسمان تړکه
فرښتو ترینه چل زړه کړ د پرواز

بے پرواز مال عشقه په خندا ځی
اے دخاور وکله ته په څه کړے ناز

کډے وړے

چه بے ننګه شی پښتون په سړے دانګه
تښته دسغاتی ملاد بانګه

چه په طمع د دنیا کوی وعظونه
خدای دے وچه کړی د خبیث غرانګه

په والله که وصل اوړے دے پرېږدی
که ویرېږی په دښمن دپیشو پرانګه

کله کله دغنی هم قصه اوره
دا هم ده ورو ورو دلوئے ونے څانګه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

دجهان خبرے کوره — بیل به نکړی سپین له توره
اے غنی! کیله ترے سه کړه — شو پنده دنیا شبکوره

لوبه

دلرے لرے خلک راغلل تمام — دیدن له ستا دلرے لرے
زما یادیږی ستا وړے وړے خبرے — دلبرے دلرے لرے
خوله دمسکی سترگے غمازے — پهلچک لچک په هوا خیے
باغ کښے بلبلے سترگے ناز — ستا دریدن شولے موتازے (*)

خدایږ وکه حورے ستا دنوک وی برابرے
جانان دلبرے دلرے لرے

زما پخوا کښے هم غمرے کړے — چه دنه تبستم هم نعرے کړے
کله خندا کله ښیرے کړے — زما خوان زړه دنه ذرے ذرے کړے

ژبنتے ماتے دشیطان کړلے وزرے
ارمان دلبرے دلرے لرے

کله دے دهو! کله دے ناوی — کله دے نن کله سبا وی
په ژړا سرے سترگے زماوی — موسکی رنگینے شونا ستاوی

کله سوره گل شے کله شے داوریخرے
جانان دلبرے دلرے لرے

(*) موتازے : محتاجے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کڅه وړے

د سپنسو تار کښے لعلونه زړه پیمه — په پښتو کښے کړم خبرے عجیبه
د آسمان میل کړم په ماتو وزړه نو — بے جانانه یو وزړے عجیبه
تل ملام م په زړګی کښے جانان ناست دی — خو خپل زړه له مانه لرے عجیبه
چه م یو ټکے ترے لرے کړ حیران شوم — خزے (۱) خوږے شوی برابرے عجیبه
نه څه چل د ناز وړځی نه د نیاز — د غنی جټے دلبرے عجیبه

لیونی د ختو لو تو په ډیرئ کښے
اکثر تو سے کړے ملغلرے عجیبه

پلوشے

جو مات ته لار په میخانه کوره — په زیان کښے سوداګر شان جانانه کوره
نیته ده لنډه او کار نه ډیر دی — پوره بے نکړے خان له بانه کوره

انصاف

تورے زلفے ئے خورے شوے وال وه په غونډ لو — عبادت م بل لا هو شو جو مایو او خادم م بلو (۲)
د تسیم په لوړ ئے کوره هغه لو ویشو نکی — ماله عشق د شلو اکو تالره بنایست د سلو

---

(۱) خبخے . (۲) بل ؤ .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پہ کاردی

لوی دے درکے لری چہ اسرے لوئے لری
چہ خوک ماتیان ساتی درواز لوئے لری

مہ ژاړہ مہ ژاړہ دا بہ ھم تیرشی
ھر خوک کہ کل شو کوی کوتے بہ سرے لری

زور

خدای چہ پیدا کړ دا ځان نہ زور
کړل نے ترے لاندے ځیزونہ نور

سرنے اوچت کړ تر نیم آسمانہ
بادشاہ دھر ځہ و بے سرہ زور

اللہ موسکے شو حسن پیدا شو
طاقت پہ مخکہ پریوت نسکوی

بادشاہ خان تہ خط

زما کریوان شلیدے
ستا شنہ قبا مزہ کا

زما ړک جام دمیو
او ستا ھسا مزہ کا

چہ شپہ خلاصیږی تورہ
دنیا ویڅ وی نورہ

ستا پہ ھوکنبے کورہ
خند از ما مزہ کا

پہ ښکلے وخت دسحر
لرے د ملکہ بھر

دسوی لوی خیکر
ورورو ژړا مزہ کا

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه وږدوان شی نسیم — ته په سجده په تعظیم
ستا بندګی او تسلیم — مستی زما مزه کا
ته د سبا په تمه — زه د دنیا بے غمه
ستر کے مے سرے پرنمه
لیونتوب دا مزه کا

نیمے مرے ستر کے حیرانه وازے

په ړک جهان کښے کړخمه یواځے — نیمے مرے ستر کے حیرانه وازے
چه ورځ شی خلاصه ما بنا ے راشی — تورے دغم ماله هم جامے راشی
دا لرے ستوری سپوږمۍ بے مهره — اوه که دتش ژوند تمامی راشی
کله به بس شی دا راتلل یواځے
نیمے مرے ستر کے حیرانے وازے

ماوے سپوږمۍ ته د نور میرمنے ؛ — دیار لیدے دی تا ، ستر حوب جنے
موسکۍ شوه پته شوه په وریځو — هیڅ حال نے ونه وے د خلبدنے
اوږه پرینبوم غمګین یواځے
نیمے مرے ستر کے حیرانے وازے

ماوے لاله ته د حسن لورے ! — شونډے لیدے دی تا ، م د دلبرے
شرمنده سرے روروکړ ښکته — ماته نے ونه کړے د یار خبرے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه زه نے پریښوم غمګین یواځے
نیمے مرے ستر کے حیرانے وازے

بورامے ولید د غمه توره دپریشانه دیر کرو کوره
ماوت دیار زلفے دے تالیدلی څه لټوے روره! دالور پہ لوره

لیونے لاړه اوزه نے پریښومه یواځے
نیمے مرے ستر کے حیرانه وازے

لرے مے واورید د مجنون شور لرے مے ولید فرهاد نسکور
د شیرین آه راوړ نسیم غیږ کښے دلیلی روح سوے د غم په اور

پوه شوم روان شوم یواځے
نیمے مرے ستر کے حیرانے وازے

د فقیر انو غزل

وروره! دی داجهان یو مکان دفنا
ورته مکره ژړا ورته مکره ژړا

ما بنام خاورے شی کل چه سحر شی پیدا
ورته مکره ژړا ورته مکره ژړا

داچه لانه ے دپښودی داخاورے ته کورے
وے دچاشونا ے سر نے اودچاستر کے تورے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ایرے معشوقے وی چہ تلے پہ خندا
ورته مکره ژړا ورته مکره ژړا
دا مستی یو ساعت دا پستی یو کړئ
دا سور شال دا میر د فقیر دا شړئ
دی دا واره خیالی بے بنیاده دوکا (۱)
ورته مکره ژړا ورته مکره ژړا
هر ذره کړی صلا چه دنیا ده فانی
د پرون بنار یو کښے نن ده ویرانی
دے یو خوب دا ژوندون دا خوانی یو نشا (۲)
وے خے پہ ژړا وے خے پہ ژړا

خوشحال خان ختک ته

د ختکو لویه خانه (۳) ! دهمه پښتون سردار ده
اے غمگیره د غم جنود پر یو تو مدد کار ده !
آجره چه ته ئے خان وے، آکاروان چه تے امیر وے
آجره پہ ورانیدو ده، آکاروان دے بے مهار ده

---

(۱) خدعه، فریب. (۲) نشه. (۳) خوشحال خان ختک (۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ هـ ق) :-
قهرمان، مبارز، شاعر او لیکوال د پښتو مولانا تر نښتن.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په اوښکو زړه غوږن شوے ستا په وینو پاڼیاڼے

هغه باغ او غړان پروت دے بے بلبله بے بهاره

بیا دننګ توره تیره کړه بیا ننګیاله دا دیره کړه

شه رضا مرور خانه شه خوږلا دلګیر سالاره

پاوشه

لکه مور مچه پرې لګې خوږے کا دا پروت دے په غیږ کښے کل جهان

ډغه جنه مینه ناکه دمور ستر که که سپوږمۍ ډډا ولاره په آسمان

لږ شو خمار پیدا

دا سره شراب دا سره کلاب وخت دشباب سازد رباب ما شوم دلبر هم بے حجاب

لږ شو خمار پیدا پخ دیار پیدا

دا ښکلے خط دا ښیسته خال کچه جمال لکه هلال جانانه کړم دے حلال حلال

چه شو خمار پیدا ستا په خسار پیدا

وخت دے ما بنام دګل وجود ما تمام او دنمرود ماته نے زیان هم کړو لکه سود

چه شو خمار پیدا پخ دیار پیدا

دژوند کاروان وړی جانان دغه م دے دغه ارمان

چه شی خمار پیدا ستا په خسار پیدا

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

دومره ښکلی دے زما بانان ښیسته — چه دیدن کړ زما یان ښیسته

نور یار م تش په تن باندے ښیسته و — دره حسن کړ همه جهان ښیسته

دے جادو دد وو ستر کو مینه ناکو — لیونی ته م بکاره شوخان ښیسته

میا جعفر شاه ته خط

بیا را یاد شوے د ملک خوبے خبرے — په پنجره کښے کړم فریاد لکه تخرے

چرته نوم ښتین تار چرته میزرے — چرته زه چتر کوله (۱) چتر شکرے

چه ے خوک ماته نور دے زمانه کړے — څه که ما ته په پکړم د خیال وزرے

د کوڅے ساده خراب د چنو دال کړ

په پولاو پسے ستر شوے چغرے

کلیے وړے

زړه م پسے وچاود خوشنام نکړ لاندے — هغه په موټر کښے زه په ستر ګو باندے

کوره نو اچاړے په ایشو لو تر سکو نیږی — ښځه مړه زه چته زه وی مړه کاندے

مالی د وصال به سبا راکړ تا نب که پې بل — دوره معذب او ښایسته زما جانان دی

---

(۱) ولہ: کوکو ناتھ دھندوں پہ (یو۔پی) ولایت یو ھاوے ښځے ښځے دبوے پہ کاخانہ کښے افسر۔

(۵) میا جعفر شاہ (د ولادت ۱۹۰۲ع) د زیارت کاکا صاحب د صوبہ سرحد د مشہور سیاسی سیاسیونو او د انقلابی پہ مقابلہ لوستو میارزو کولو یو ګډ ورځی۔ دی د سیاسی سیرت پرته ادبی سیرت هم لری۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن چه دمس کوتے (۱) دبابا په کور داخل شوم
لستوته نے تاپخ ورکړے وار دغنی خان دی

پلوشه

پیالے دجانان سترګے دنیا زهیرو اوبنکو دکے
لږ رنګ نے کلابی شو په وزړه دلو لکے
نادان شیخه! ورکړ شه شراب نه دی شراب نه
دا دنیا زهیرے اوبنکے چه کړی نرم سینے کلکے

پلوشه

کفتار دلیونو کنبے وے کلونه هم ماران
قطار دلیونو کنبے دیرولار پیغمبران
پروائے غنی نکړے که نے سپک تلی که درند
تف! شه به داجهان وی او شه نو دے جهان

پلوشه

حسن په بازار کنبے مولانا یو ورځ روان و
پوشاک نے مقدس مانچستر (۲) دمل سپین ساو
ناکاپه آواز یو دقبلے دد دے وشو
شه سخا له شه ملا، داد کوشه دلیونانو

پلوشه

بیګام خوب کنبے خان بوجنت کنبے ولیدو
پلاس کنبے وو نیولی دیرپلو نه دروپو
دربان چه لته وکړه دد دوزخ تاترین کوته ته
خان خپله کته راوړه نه خرخیږی په پردو

پلوشه

چاته نے بنایست ورکړ غمګین
چاته نے غم ورکړ بنایسته
زه نے هم مست او هم هوښیار کړم
هم نے په تخت کړم هم په تخته

---

(۱) پیغلو کے (۲) دانظم دوزن دمراعت نه آزادی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاڑغه او بلبل (۱)

دخزان دوران ؤ نوے — وو یو دوه گلونه سوے
یو بلبل په مړاوے څانګه — نغمے کړلے سوے سوے
خدایه ! شوکور دغم روکی زړګے زما — شوے شمکوړے په غم ستر خوږے زما
تازه عشق نوے دلبر نوے شباب — دلاله پیاله کښے سره ګلرنګ شراب
د دنیا دوو ستر ګونه په دوه — یو باغچه کښے پټ په غاړه د دریاب
د نبیسته ستوروپه باغ کښے سپوږمۍ سینه — کله خاندے کله پټه په نقاب
زه ملشوم ورک شوی یار پسے ژړیږم — په جنت کښے د دوزخ غم عذاب

هاے شوکور دغم روکی زړګے زما
شوے شمکوړے په غم ستر خوږے زما

یو کاڑغه چرته راوتی ؤ له کوره — په خزلو کښے کنده منبو که توره
د بلبل ژړانے تیره شوه تر غوږو — ورو ران شوو رتے وے کم عقله وروره

ولے صنم صنم ولے نعرے دغم
مکړه کیله دستم له روزۍ ورک دی عالم

کوره خیته چه دی ورته نو صنم مړه نه کا — خوږ ستر به دیار دچرما تنده نه کا
ما به هم داستا په شان په خدائی نهایت شیدم — زه خو پیدا الله که هم خو سینه مړه نه کا

(۱) دا نظم دوزن د مراعت نه آزاد دی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږه توګان خاند بلبله دا دنیا ده نشته بله نن نصیب دی کوی غوږ شیدا سبا غوږ نه کا

پریږده دا غم کوږ لکه ماشوم نادان
ته د آسمان دغمه پخکنه ینسے (۱) توګان

پلوشه

یاری ممغه مزه کا چه دواړه سیال وی
ورځ هم دومره وی چه خوږ ئے خیال وی
شپه به جنت خدایا چه دواړه ال وی
خوږ چه نږدې وی منګلے دومره جمال وی
دقام په مینه مسته کوخه که لال وی
دالیو ئے به هله خدایه خوشحال وی

چه لاس اوږدې وی دده
تا روان مال وی

پلوشه

شین زړی شه مدام خوږ دهوسو غوږ ینسے که باز شه همیش خوږ دسیسو غوږ ینسے
یا کوه تن اسانی دغنی یار شه خوږ هر کله بازاری دپیسو غوږ ینسے

پلوشه

لکه بت بینا نکا پیه روند شمکوریم عشق دا نکله کا وکړے په ما باندے

---

(۱) ستایل . (۲) نه ویسے .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غنی جام دجلدئی مخمور پاکل کړے کہ اپیوتے دے بشه سر دلاندے

پښتو شعر

دعاشق مخمورے ستر کے کہ دیار مشکورے شونډے
کہ غوټئ دی دنرگسو پہ سرو کوتو کښے راغونډے

رشته

یا بے جرو ونه زه وے او یا بے پرو مارغه وے
یا د نیم آسمان وے ستوری یا د سیند د منځ اوبه وے
یا تلاو وے د شبنم زه نه م پلار نه م نیکه وے
نه م دوست نه م دښمن وے نه م بد وے نه م ښه وے
داجهان به لوت جنت ز که رشته نه وے سرخه وے
خدایه زه به ستا عاشق وم که ته وے ستا تبه نه وے
عاشقی به بزرگی وه که عشق وے معشوقه نه وے
دښتیا زه که خپل مالک وم یا به زه وم یا به ته وے
غنی دغه د سردا واوره
که غنی وے خه به ښه وے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

ستا فراق په ما قیامت کړ — یارۀ څه به وی قیامت اوس
ستا په عشق کښې رسوا خوښ یم — یارۀ څه به وی عزت اوس
دهمه جهان بلبلے — ستا یو خال نه دے ستا یلے
خو دګل صفت پوره کړی — دګل څه به وی صفت اوس
ستا یو خوږ نظر دلبرے — ستا یو دوه پستے خبرے
ماته ملک جنت جنت کړ — کوره څه به وی جنت اوس
بار (۱) درون جلبل صنمے — ستا د دوو ستر کو په تمے
خوار غنی لو غرن پروت دے
ستا به څوک کوی صفت اوس

پلوشه

یو ارمان م په زړه راشی کله کله — شنے لښے داورم خیژی له کو کله
ناکهان م دمستئ چپے لاموکړي — ناکهانه م سر عقل شی بے کله (۲)
زړه م ونیسی یو پنجه دفولاد و — کړی نچوړتے دخودئ عرق یو ځله
زه بے خوده لیونے زړه م آهو شی
نه پوهیږی که ئے پوه کړے هزار ځله

---

(۱) بهر، یعنی دننه بیرون.

(۲) کل هندی کلمه ده، یعنی عقل م بے انتظامه او بے اداره شی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

مراوے ستر کے کړه راپورته ستر کوته زما دلبرے

خانده وخانده مسکئ مشه په رښتیا نها دلبرے

راشه خوا کښے زما کښینه سر زما په سینه کیږده

دمستی په خوب ویده مشه پریږده دا دنیا دلبرے

دا غمونه نه خلاصیږی چه څوژوند نه وی خلاص شوے

څه چه پټ ترے یو ساعت شو دیوبل په خوا دلبرے

زه

نه زه فلسفی یم خلکه نه زه لیونے یم

یو غریب بچی زه د پښتون د پلار کلنے یم

واړه م یاران دی یود ښمن م چه ته نشته دے

زه دځان د ښمن یم چه پخپل ځان د پیر مړنے یم

بعضے ځائے کښل بعضے کښے د پیر یم خدائے کوے کړے

خیال م د سبا دے پیدا شوے پرونے یم

خوښ م دی کلونه هم ښکارونه هم اسونه

خوښ م نر پښتون دی زړه راوړی پښتنے یم

نیت م دے طواف ته د ولمن د تورو ختو

ستر ے د طواف د مکے د مدینے یم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه وم په وطن مین خو تن جلا وطن کړم

زه د سر کل نه شوم هسے زه تورے سپیلنے یم

زه هسے بیمه او ایمان په تیپر نه خرخوم

خکه لیونے یم خلکه خکه لیونی یم

پلوشه

په تورو شپه دغم کښے یو نجرئ د رنا — زړه غوندے په دیدا کښے نه بیسته بو دلالا تی

دویرے تو خنکل کښے یوه زړه که په خندا — یو خاخکی د امید د ناامید په دنیا

دنیا کښے د بودئ تلال د تورو شکو په چرا

مستی ذکه خوانی ذکه دلبرے که الله

معمیٰ

هم زما خوراک دے هم خوږے بنا پیرک دے — هم د ښځے هم د هوسئ هم د منزک دے

اوسی په خرمنه کښے راځی په تکلیف — خو بیا د پنلتانو د ملکه صاحب پروړک دے

پلوشه

ته زما د مات زړه کی دارو دغم تعویذ نے — ستا په مینه مستے سم کے خوږه دی عزیزے

سما بنکلو پاپولا اے زما د کلا پښتے ! — پټے به د خوږ د جنت نه که هم نکریزے

ستا د اخوا زه به د نرګس غوته ایرے کړم

بنکلی شهزادگی به وا ره کړمه ستا کنیزے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډۍ چرګ

نن چرګ د انقلاب وهي نعرې - قوقو - جوړه ښت شود سبا

خو نه ځي د جومات نه انګازې د الله هو ویډۍ پروت دی ملا

بیکار جمعې شپې ډیر تالی راغښی وو خو ډېر پکښې حلوا

خو څه شول طالبانو ماپرون لید لی وو که دینې نه دے ملا

پرون ئې طالبانو ډیر باد رنګ خور لی وو ټول ناست دی په بیډیا

ورو کې چینې څه شو چه هم په کړی دا ډو راوینې به کړی ملا

هغه بیکا تیار کښې ډیر تیپر خور لی وو دموکه کښې د حلوا

الله په نس ئې د ډوټول پشپه لګ کړل - او لو - وه پروت په مصلا

اوس څوک وکړی جومات کښې انګازی د الله هو جهان کښې شور نا

لنډیه چرګه زور کړه وا نعرې د فوقو راوینې به شی ملا

دمالګ وزیرته خط

لویه اوبده بزیره وروره! اوږد آمدن لری

صیب ولګاه وه دمرد کیل په خوله میتر

دام یو مشین دے تیز رفتار لکه موتر

(*) ط: وهه.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

صیب تیکس[1] به اخلی دبکواس[*] او دتوتر زیات به پهنوی چه دکری[+] خوک دلندلری

لویه اوبه ده بیره وروره: اوبه دآمدن لری

صیبه: مالیه کیږده دچایو به چاینک لوی به آمدن وی دتیکس نه دبنانک

داتپوس دنه وی چه خانصیب دی که ملک اخله تر تینه تیکس آن دصیب لوک (۲)، دویدن لری

لویه اوبه ڈبیره وروره: اوبه آمدن لری

کیږ ڈیو تیکس صیبه: به لویو لویو بیرو ونه کړی معافی که خوک دسوا او یا دویرو

تول عالم به وائی ویره دیر هوښیار وزیرو خیال دخزانی دی دی دغریب وطن لری

لویه اوبه ڈبیره وروره: اوبه دآمدن لری

مائی تحصیلدار کړه صیبه واوره سفارش ستا به دیر ثواب کیږی زما به لږ درزش

دک بله روپو کړم دسرکار خمونه تش صیبه: تحصیلدار هر چا پولا پالنک برستن لری

لویه اوبه ڈبیره وروره: اوبه دآمدن لری

خرو

یوم خان لالا دی چه دی نر به سرخپو شانو

یوم ملخرو دی چه تاکو دی دچور یانو

یو معتبر خان دحجرو قاروباسی کور

ده نه خناوره ده د ده دبچو موری

---

(۱) مالیه - محصول. (۲) خلک. (*) بکواس چیچیرے. قصه جبرے.
(+) کری: شهادتنامه، دتحصیل سند.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس نے ربه: مات کړے چه دهی د پښتون خور
کاشکی دده پوزه کښے دده د خور پیزوان ؤ
منه زما خروے چه تاکو دے د چوریانو

یو مستانه خان دے تیز رودی کښے لته خیرات کښے
رمی بریام (۱) ته کړی دیر کښے که وی سوات کښے
هار او پشکال د مالیښے په حوالات کښے
یار د متیز کو مد ګارد بد ماشانو (۲)
منه زما خروے چه تاکو دے د چوریانو

پو پیسه تک خان دے خبرله چنګ ربابه
مرنو کر به قبض کړی د ودی ورکمیئی (۳) خرابه
نه څه دی خوری شی نه ویستے شی بے جوابه
ورور به زمانه شی داورورګی د مارواریانو (۴)
منه زما خروے چه تاکو دے د چوریانو

یو زور پښتون خان دے خوښوی نیزه بازی
خوښ نے دی ښکارونه دلغړ او د تازی

---

(۱) بریمام پاکستان کښے یو زیارت دی چه کالنی اګرمه په کښے لګی.
(۲) بد معاشانو. (۳) ورکوی.
(۴) مارواړه د هندوستان د سوراشتر په صوبه کښے د دیوځای نوم دی چه خلک نے په کور پټیانو مشهور دی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوزد ورتې دیوسفزی د محمد زی

هم په قام مین وی هم مین وی پخپلوانو

خوښ نے ډیر خړوی چه تاکودی د چوړیانو

یولیونی خاد نه په خاد نه په بل

نه دوړی بونه پرے ولړ نه دوړ خی داچل

نرخلمی ته نروانی او غل ته وانی غل

خدای بے پرواجوړ که پروا نه کړی د خانانو

خوښ نے ډیر خړوی چه تاکوے د چوړیانو

درے ژوړے

سوال: خوک نے ته جناب ! خان نے که نواب !

ښکاے د جوسه ده بریتو کښے د وضعدارے دامزے د نبار دے

(۱) ښه انګریزی بوټ ښکانوے سوټ

هیټ (۲) د قرناک خو جرابه کښے دے سوړے وینم شپټ د لږ نرے وینم

ځواب: چوپ شه بے وقوفه ! زه یمه مصروفه

زه تیکه کوم او زده بخشونه د چل ول فیس راوړه اول

شکر د تو پک تل م جیب وی ډک

---

(۱) وکیل د عرا . ډاکټر . بتیا (۲) انګریزی خولۍ .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنه م دلال هم دے دخبرو چنچنک — شکر دتوپک

سوال: ته څوک ئے حضور؟ — سوے لکه طور

لاس کښے دے انبور دے صیبه ته ئے جوړ لو هار؟ — دامزے دبنار

رنگ دے مرخن — غوپ دے بدن

پاد دے چشمے دی خوتوپی کښے دے داغونه دی — زیرشان دے غاښونه دی

خواب: زه کرم انجکشن — تشخیص او اپریشن

لاس کښے م شفاد په تندی کښے م اجل — فیس راوړه اول

پاس که دلندن وی — یا د امریکن وی

واړه ماپړه کړی زه داکتر پیدا یشی یمه — شی بوسودیشی (۱) یمه

سوال: ته څوک ئے چاتا ! ؟ — دئ که کوا تا!

چچنی دے پاپی دی نوم ازکین ئے بے مقدار — دامزے دبنار

خوږ مهین کلام — غوړ دے هر مقام

ستر دے دمار دی پلنه خیمه دلرم — شان شوکت دے کم

خواب: دیر کړے دے خان — کوړ کښے تاوان

لسو باندے واخیستل او خرچ ئے کړه په شل — خپل کور ولو تل

دلته چه بیو پار ؤ — یار زمونږ ستا پلار ؤ

مونږ یو دوه کالی هم مغے نه واخیستل — خپل کور ولو تل

---

(۱) وطنی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

دلبر دوارو دلبرانو دے دلدار زما

سردار دوارو سردارانو دے سردار زما

زما پټ کله شغله کښے دسپوږمۍ شی جانان

کله لاله شی کله بیا بنیسته لوئی شی جانان

کله راهیل کله دسوره گلاب غوټۍ شی جانان

ورته به وایم چه بیا ماسره یو ځای شی جانان

دلبر دوارو دلبرانو دے دلدار زما

یا لمر خاته کښے خمار هستر کے راپورته کړی

سپینه سپوږمۍ شی موسکۍ خوله دجانان لوټه کړی

ما په خندا خندا دغم له کندو پورته کړی

دلبر دوارو دلبرانو دے دلدار زما

سردار دوارو سردارانو دی سردار زما

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

لاړه که ځوانی شی ده ځوانی جانه د تللو شی
لاړ که ښکلی رنګ شی ښکلی رنګ دے د بایللو شی
ځکه ژوندون د خلاص شی دی ژوندون د خلاصیدلو شی
واړه دافانی دی بے فنا د عشق سازونه دی
عشق به تل ژوندی وی څو چه ځکه آسمانونه دی

دلربا

نه م پلار شته نه م مور — واړه خونه م تالا
نه زما په غم څوک پوه شو — نه زما په واویلا
دا چه ماده کومه کړے — څوک دی بچ له دے کنا!
دا کناه ده د فطرت — دا چه کنا نه ده زما
خو یو کس مه دنیا کښے — دی م پلار هم مور زما
تل زما د غمه ژاړی — سودائے م ده سودا
نصیحت به پسته ژبه — شکایت هم به پخندا
وار خطا لکه د مور شی — په پوټی سختی زما

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکیزلکه سپوږمۍ ده — دهمه خوږ و خوږا (۱)

په ښایست دجنت حوره — په خویونو فرشتا (۲)

ما پخپله مینه پټ کړی — له غمونو د دنیا

دجنت د رنګه زیات — دی رنګین دلبر زما

که دنیا کښې وحدت نه وی — ما لیدلی ده چینا (۳)

دالله د نقش کمال دی

مخ زما د دلربا

هۍ هۍ زما لیلۍ

ماوې زما لیلۍ به ښکلې مسته مسته کړې — یو باغ کښې پټه چنګا

ماوې زما لیلۍ به لکه ګل تر و تازا (۴) — دګلونه ښیستا

ماوې لیلۍ شونډې به غوټې وی دګلاب

ښیسته به پرې سازونه ټنګوی لکه رباب

په سور اور د مستۍ به ټنګی وی سره کباب

بې تاجه ملکه به وی د حسن د دنیا

دګلونه ښیستا (۵) هۍ هۍ زما لیلۍ

ماوې لیلۍ ستر ګې به سرې مستې په خمار وی

(۱-۲-۳-) د ضرورت شعری لرکبله ۵ په الف لیکلشوه.
(۱) خوږه (۲) نرګسه. (۳) چینه. (۴) تازه. (۵) ښایسته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماوے پہ سپینہ غاړہ بے (۱) دسرو گلونو ھاروی
پہ لاس بہ ئے کوتے خہ چہ بہ دنرگس بمبل قطاروی
ورنبمینہ دوپتہ کښے ښیست پټ او خہ ښکارہ
دگلونہ ښیستا ھئی ھئی زمالیلئ

ماوے زمالیلئ دہ دلالا دستر چوتور
باباتہ ډیرہ گرانہ دہ نیا زبینہ دہ دمور
زما دزړہ بی بی لیلئ بی بی دہ دخپل کور
موسکئ مابنام ویدہ شئ سحر پاڅئ پہ خندا
دگلونہ ښیستا ھئی ھئی زمالیلئ

نشہ پہ دے خیالا تو خوبونہ پہ جهان کښے
محلتہ دلیلئ مجنون روان شو بیابان کښے
نہ باغ ونہ ښکلہ وہ لیلئ ناستہ وہ دالان کښے
ښیستہ سرئے سرتوړ وہ غوجل کښے لوپټا
ھئی ھئی زمالیلئ دگلونہ ښیستا

بمبل دنرگس کوتے دڅپیا کے نہ چاپیرہ
پہ صفا ریمن (۲) کمیس ئے وہ هم کیاړہ باړہ تیرہ
لیلئ مینځ کښے لوغیږی شین لوکے ترینہ چاپیرہ

---

(۱) بہ ئے . (۲) خیرن غوندے .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلوینت خوابده دوستان نے ؤ راغلی دلالا

مئی مئی زما لیلئ دکلونه بنیستا

لبستی نے دخولو دملا په تیر بنکته روان

په زلفو کښے خو قسمه نمونے وے د پیران

سرے شونډے سپیڑو چیے دخندلو په ارمان (*)

مئی مئی زما لیلئ دکلونه بنیستا

پلوشه

دادے وینم دلربا! په مخ کښے ستر کے — که د حسن سمندر کښے د نور کر کے

دادے وینم دلربا! په خوله کښے شونډے — که د ګوره د جنت باغ کښے برنډے

دادے وینم دلربا! ستر کو کښے نم

په ننګو که د نرګسو د شبنم

بهار

بلبل کلزار ته نن په ډیر سینګار راغے — په خمار و ستر کو کښے نوے خمار راغے

جوړے بهار راغے جوړے بهار راغے — غوټئ شوے پیغلے وخت د بهار راغے

بلبل راپرېږی نن نے دلدار راغے — خو نے خبر راغے او نه م یار راغے

غوټئ شوے پیغلے وخت د بهار راغے

(*) نامکمل.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپوږمۍ شراب لونی دبنیست پہ جام یارہ — ورتہ مرے مرے کړہ پورتہ مستر بادام یارہ
چہ درتہ روائی بیا زما سلفام یارہ — سپوږمۍ مې ونہ لیدہ دستا پہ بام یارہ
دا څوک شراب لونی دبنیست پہ جام یارہ

کلہ دے شراب کښے کړہ سپوږمۍ سوران زما — ورویہ بنو لونہ داد جانان زما
وایہ چہ بنکتہ شی اوس داد لی آسمان زما — چہ خوب کښے ورینی تول نګین جهان زما
کلہ دی پہ شراب کښے سپوږمۍ سوران زما

خوانی لہ مانہ واخلہ مستی لہ مانہ واخلہ — دا دوہ کلونہ سپوږمۍ لہ بیابانہ واخلہ
پہ پښتو لونو وایہ جانانہ واخلہ — صدقہ دسرے شونګ دے دخپل اشنا نہ واخلہ
خوانی لہ مانہ واخلہ مستی لہ مانہ واخلہ — بلبل گلزار تہ نن پہ دیر سینګار راغے
جوړے بهار راغے جوړے بهار راغی — چاتہ سلام راغے چاتہ دلدار راغے
خونہ خبر راغے اونہ مې یار راغے
پہ خماری ستر کو کښے نوی خمار راغے

ولے (۱)

څوک دے ماتہ ووائی — څرنګے شیدا شی څوک ؟
څوک چہ چاتہ وخاندی — ولے پہ خندا شی څوک ؟
ستورے دغرہ څوکے تہ — غلے شان بیکاو دے

---

(۱) دا شعر غنی دخپل دادہ پہ شپہ لیکلے دے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینے پہ ژړا ووے حسن پہ خندا ووے
ماتہ موسکو ستر کو کښے ښکلی دلربا ووے
ولے ځوک زړہ وبایلے؟ ځرنګے شیدا شی ځوک؟

ځوک چہ چاتہ وخاندی
ولے پہ خندا شی ځوک؟

ستر کو د مجنون ووے او ښکو د لیلیٰ ووے
ووے پہ نشہ ځوانئ غم ورو پہ سودا ووے
ماتہ موسکو ستر کو کښے ښکلے دلربا ووے
ولے ځوک زړہ وبایلی؟ ځرنګے شیدا شی ځوک؟

ځوک چہ چاتہ وخاندی
ولے پہ خندا شی ځوک؟

ورو ورو

ورو ورو ظالمہ داچغے ناوړے
ورو ورو پرے پښے زړہ دانہ دی خاوړے
داخوستئ دی داخو ځوانئ دی
سپینے دے کوکے لکہ دواوړے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولے تہ

سر پہ مخکہ باندے کیږدہ — چہ پہ راز پوہ د آسمان شے
ستر کے ستورے تہ کړہ پورتہ — چہ پہ شان پوہ د جہان شے
لږ سر ښکتہ پہ ژړا کړہ — چہ مزہ د خندا او خلے
د دنیا نہ ځان راغونډ کړہ — چہ مزہ د دنیا او خلے
د چیلے پہ کوټکئ کښے — یو پیالہ د شراب واخلہ
خولہ دے وچہ پہ ژړہ کړہ — بیا مزہ د کباب واخلہ
لیونی زما پہ شان شہ — چہ پہ راز د خوږئ پوے شے (۱)
سر او زړہ دے ماشوم کړہ — لیونیہ چہ سړے شے (۲)

مینہ او حسن

ستورے تہ آسمان کښے یوہ ورځ ووے ملال
خدای آدم لہ مینہ ورکړہ مونږ لہ تش جمال
زہ بہ پہ خندا ورکړم د اخپل ښیست د کمال.
مالہ کہ یو ځاځکے مینہ راکړی څوک پہ سوال
مینہ حقیقت حسن سایہ د حقیقت دہ — حسن لہ زوال شتہ مینہ نہ لری زوال

(۱-۲) چہ د پوہ (ھ) او د سړی (ی) پہ مجموعہ دے تلفظ شی نو قافیہ بہ جوړہ شی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د کلو لښتے

خدایه زه به وم خوشحاله د جفا خنجر به زړه کښے
ستا وفا لالو غرن کړم بے وفا به وے لا ښه

موسکئ ستومانے دلښتے دے ما د روڼ بیړن ستی کړے
ستا خندا د شوق کوزار دے په ژړا به وے لا ښه

تجه ژاړے زما غم کښے بل غم هم په ما انبار کړے
ستا سودا زه سودائی کړم بے سودا به وے لا ښه

خان م هم خاورے ایرے کړ ته م هم په اور ستی کړے
اے زما د کلو لښتے بے زما به وے لا ښه

خوانی

دا بسم الله خدایه: دا لیونی ده
چه خوانی نبیست دے او نبیست خوانی ده
بود اخوشحال بابا سپین سر کړ پورته
وے خانی توره ده او توره خانی ده
دمنان خان همسا دمنانی دا ملا
دا هم فانی ده
دا هم فانی ده

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مستہ رندی زما روغہ مستی زما

خاندانی دہ

خاندانی دہ

پلوشہ

دمستے جینئ نښہ دہ بنکرې دیرې ماتوې

چہ لږہ نورہ مستہ شي زرکی دیرماتوې

کډے وډے

شوق کښے د وصال چہ د مس خوږتہ ورنژدے شومہ

خولہ کښے ئے سکرټ د زما خولہ وسوخیدلہ

راغے د تهذیب باران پہ ملک د خوار پښتون

هم ئے جومات لاموشو هم کوټہ ئے ځخیدلہ

نوے زمانہ دہ کہ د کلو وصل غواړے

اوس پہ انګریزئ کښے وادیلا کوہ بلبلہ

ماسر دیوے نہ ټکاوہ پیدا شوہ بلہ

بند دلاس نکریزے شوے کرئ وچلیدلہ

تلے دے لندن تہ مجنون اوس د رایوړی زدہ کئ (۱)

اوښہ لیلی خرڅہ کړہ موټر کښے کرخیدلہ

(۱) کئ، کړې.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوناست شاعر په کوټ کښې — هغه شان قصې دګل کوی
شمع سره خاندی — ساقی سره محفل کوی
راشه زما وروره — دیار ستر کوته بیتری وایه
ګل و بلبل پریږده — الجبرا او جومیتری[1] وایه
وایه ستا وجود دے — دوے ایټ دزاویو په شان
ښکلے دے آواز — زما دریدیو په شان
وے[2] ستر دے کار بوه لرے — او شونډے دے کترین
او ښه رنګین دکریم ګمین — ستا ښکلے جبین
هیرے کړه رحمان[3] سعدی[4] — غزلے دے بایرن وایه
کیټس او شکسپیر وایه — شیلی او ټینی سن وایه
او زه لیونے خدایه : — کله خاندم کله ژاړم

لاړم پښتو لا هوشوله
زه په ژړی وتم ولاړ وم

پلوشه

په غمونو کښې خندا کړه — په خندا کښې غم هیر نه کړے
او د پیرو په سودا کښې — په قیمت دکم هیر نه کړے
د وصال په لمغرو کښې — د فراق ستم هیر نه کړے

(۱) هندسه. (۲) وایه. (۳) صوفی عبدالرحمن مومند (۱۰۴۲-۱۱۲۸ ق) (۴) دپارسی ژبې مشهور شاعر او دیکوال مشرف الدین مصلح بن عبدالله سعدی شیرازی (۶۰۶-۶۹۱ یا ۶۹۵ ق)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چه ته ئے ستر کوته خاندے دد ے ستر کو غم میز کړے

د الله الله په شور کښے

چه صنم صنم میز کړے

پلوشه

نه خوشحاله دے وفا کرم نه خفه دے کړم ستم

ژوندیو تال دے چه غږیږی کله زیر او کله بم

دا یو دوه کړئ ژوندون دے په خندا خندا ئے تیر کړه

دا جهان خدائی جنجال دے

کله وران او کله سم

پلوشه

ژوند او ساز واړه دباد دے ژوند هغه بوبه چه ساز وی

ساز هغه چه سا پکښے وی سا هغه چه د نیاز وی

کړے وړے

خوند ورور جانه ډیر کوی خبرے بنوسئ (۱)

دوی وائی - لکه شوی ده - مونږ وایو ده هوسئ

نوم ئے په کور کوړه دی - ببوغیه بی بی - ایغی (۲)

ژبه خوره گران دے راله ئے وکړ او ده تریخی

---

(۱) بنوخئ - (۲) اینبي د شعری ضرورت له کبله په د خ ئ لیکل شو :

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مینا، سرکوسه، شمشتنی خواره، شکرتاتی،
تتے سره نے شوق دی نه نے لکی بنکریواتی
وانی، ورکیه، کیرونکیه میدون ته بیزه بیزه
سه کنسی لوردے در شخومه په دے پیزه

خار در نشمه

اے خدایه! عقل راکړه — اے خدایه! پوهه را!
زړه کے مضبوط راکړه — او سینه لویه را
ستړے دلمر راکړه — رحم د خان را
بیا تول غمونه دی — د دے جهان را
ماته نے په سر کړه — خار در نشمه

زه به نے ورمه
زه به نے ورمه

یار بهادر را کړه — که همت نه راکوی
غیرتی ورور راکړه — که غیرت نه راکوی
د سکندر بخت را — د دارا خیال را
مت د خالد کښے — توره هلال را
اسلام دے پریږدمات — خار در نشمه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه به نے کتمه

زړه به نے کتمه

د شپے خیمه کښے د عشق شراب را
پاک مل دلارے لکه گلاب را
د سپوږمۍ نور راکړه لوبو کولوله
د بودۍ تال راکړه جوتو و هلوله
جهان دے پریږده خار در نشمه

جنت به نے کړمه

جنت به نے کړمه

پټوښه

مخ نے و، قبلے ته لیونے ترے خبر نه ؤ
سترګے نے وے وازے دانسان په تماشا

عکس د سپوږمۍ نے د شبنم ځاځکی کښے ولیدے
خکه په سجده شو د جانان په تماشا

نشته دے د ژوند د خوب تعبیر کتاب کښے نشته دی
سترګے دے کړه پورته د آسمان په تماشا

خدائے مکه کښے نشته د منصور دے خوم واورید
لاړشه لیونیه! شه د خان په تماشا

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بے پروا الکه لولئ وای

بے پروا الکه لولئ وانے — په کلونو کړ خیدلے
او چه تول عمر ماشوم وے — په بلا نه اوړیدلے
د دنیا د وږو وستړکو — بے خبره کړ خیدلے
چه په خوله د جانان نه وے — د فراق وریتے غږلے

بے پروا الکه لولئ وے
په کلونو کړ خیدلے

بے خبره چه آدم وی — د رازونو د حوانه
نا اشنا مجنون وید وی — د غمونو د لیلئ نه
او وه چه حسن خبر نه و — د خپل حسن د غور زنګه

د راز مازره نا اشنا وے
د دے ښو بد و د جنګه

ښاری

سترګے مشے مشے نه خیر سره راغلے — "دوړ دوپټے د کلے تے دوپټے دی چاه"
سه ګرمی کښے چا نسکے خانو په ښار سه دی — ښځه شرمه ناجوړه نیبو ماکښے ښه نه دی

---

(۱) په هند کو خپل مزه ورته وائی. منډه کوه د دوه پیسو کلیے او د دوه پیسو چای خان له راوړه (۲) نیبو لیمو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا قسم دی خان : دودی نمونږ سره به نوش کوے
دنا، ونه وے خان مونږ دغم نه به بے هوش کوے

راشه لاړه وبنیم تاله زوم (۱)، زه انتظام کوم
خدایږ ونن دبنار کړیلا تول به تا تمام کوم

ځمونږه هغه کوټ باندے دے پروت دسیټ دوکان
هغه سیټ دوکان پسے دی بل دسیټ دوکان

هغه سیټ دکان پسے یو وړوکی شان مسیت دے (۲)
خواکښے یو پیپل دے یو نالی (۳) لیږ شان پلیت دے

اخوا دوه کوڅے دی یو راځی او یو ورځی

هلته ناست دی کوټ باناً، ے دکان یو درزی (۴)
شاته زمونږ کور دے مونږ ورځو به بله لاړے

اسی اوتی بیټهی اوسان وینی دکنارے
لاړه که غلط شی کوره دغه خی دکان دے
دلته بنه تیکه جوړیږی الله مهربان دے

---

(۱) خم. (۲) مسجد. (۳) نالی : لښتے (۴) خیاط.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

حوره

خلاص شراب جنت کښے شوتو لګی راغے حورے ګډے په خندا شو یو باغچه کښے د انګورو
نه ترے چتر پته شو د ګل د بوټی خوا کښے څه مجبور تاثیر و د بلبل په واویلا کښے

راغی د شبنم اشنا مالیار د باغ غمګین
وے لیدو په ګلو کښے د یو بل ګلاب رنګین

وے شو کاو په شونډو، سر کښے د یو په مینه کینود،
راغله لیلی سر ئے د مجنون په سینه کینود

خوب کښے دے جوړ یا چتر د خپلو خوندو ساز واورید
چتر د باغ کوټ کښے دے د زړه وطن آواز واورید

وے لرو ستورو ته په مړاو ستر کو کو ګورے
دے باغ د رته یاد کړلے حورے! باغچے نورے

زړه ند د دوه ستورو نه چه ستا د زړو تالو
پروت چه په دے زلفو کښے د منګ په خای هلالو

هغه چه به لرو کښے د ستورو کړ خیدلے
یا به د سپوږمۍ شغلو کښے پته کړیدلے

حورے: ماهم بوخه د رنا د غه جهان له
تاسره به زه هم خوا کښے تال واچوم خالان له

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غمګینو سترګو

خوب کښې بابا ولیدم　　مور م پیدا کړم
د سپوږمۍ عکس وې　　زه هم رڼا کړم
قسمت خلمی کړے　　کله په دنیا
خوانۍ ویده کړم　　راوینې لیلۍ کړم

غمګینو سترګو
دغم اشنا کړم

مینې شاعر کړم　　او غم دانا کړم
یار لیونے کړم　　بیانے اشنا کړم
مرګی ته خاندم　　ژوند ته ژړا کړم
کله موسکے شم　　کله ژړا کړم

غمګینو سترګو
دغم اشنا کړم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

علم تشدد

دغضب په نیلی سوړ شو — دشیرشاه(*) لمسی باتور
ستر کے بیا د پښتون سړے شوے — چه نیم اور دے او نیم نور
خوان کړل شنه بریتنه تاؤ بیا — په مستۍ چټر روان دے
دیار مستے ستر کے وینی — بے خبر د جهان دے
مور نے نور دے په سر قرآن بیا — خو ستر کے کړے تورے
د بابا پښتنو ستر کو — ورته وکړے قصے نورے
اے زما د نیکه خو یه ! — اے زما د مینے ورورہ !
اے دنر بابا بچیه ! — اے پیدا له نړے مورہ !
ستر کے د کے د رنا ستا — لاس دے تش تیر د څه شو ؟
دغضب په نیلی سوړ شوے — فولاد دی زغړه د څه شوه ؟
وے په نوی مستۍ مسته — پاکه وینه د پښتون شوه

وے کوره که لیلی بیا
تش په مینه د مجنون شو

(*) مراد شیرشاه (۱۵۴۵ع مړ) د صلد د بهادر د ایالت په سهسرام کی مړ دی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جدائی

جدائی راغله بیا تکه توره

که لوکی وخوت دعشق له اوره جدائی راغله بیا تکه توره

بے خودی لاره زړه هستی شو وریته پخپل اور وریته مستی شو

بلبل ورو راغی دبوټی خواله ویل خدای دمل شه دخاورو لاله

جدائی راغله بیا تکه توره

تازه پسرلی کښے په ماخزان راغی ساقی کړه خلاص بوټی دبل دوران راغی

سړے کړ بنکته بوے دبوستان شو مجنون شو خاورے روح دجانان شو

جدائی راغله بیا تکه توره

که لوکی وخوت دعشق له اوره

فلسفه

واوره فلسفه دلیونتوب دلیونی نه دآیت خونه دے خو قرآن کښے ماویلے دے

مرګ او ژوندکی یو دغم او خوشحالی یوه دے ژوند چه چرته نه ومرګ چا هلته لیدے دے

زړه لکه دچاد خوشحالی غم نے شراب دے توبه خصت شی تا خو غم ته نسکور کړے دے

خوند که نے جدا دده نشه یود دوارو دوارو کښے خمار لیږ دساقی دستر کوتلے دے

مرګ کښے پټ دے راز دمرګ ژوند نے پوهیږی

دآیات خونه دی خو قرآن کښے ماویلی دی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فقیرانو سوال

ستر گو د جانان کښې زما ښکلی جهانونه دی
وادے خله دنیا زه وږے ستا د دنیا نه یم

گوره د فقیر کچکول کښې تاج د سکندر دے پروت
زه یم د سخیانو د شومانو گدا نه یم

زه ئی په غرور درنه د مینے په نوم غواړم
زه مانگ بے نیازه ستا د ویرو او ویلانه یم

هغه مستی غواړم چه لے مرگ نه شی وژلے
زه دے د غمونو د بیگا او سبا نه یم

یو د سپوږمئ خاخکی ماله تهیک له د جانان را
زه یم د خوبونو د لالونو گدا نه یم

تښته دنیا گئ که دے ښې نو اے امیره!
ستا شوه ستا دنیا
زه وږے د دنیا نه یم

۱۴ جنوری ۱۹۴۱ء

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانان

دوه مینو ستر کو کښے رنګونه په سوونه
ماته ئے جهان ډک کړ ګلونو د نورونو

کوټ ئے د شرابو د جنت په جهان راکړ
خوب کښے ژوندون راغے شوژوندون ک د خوبونو

سپینے د سپوږمۍ د رنا لپے ډکے
ونوستی (*) تاخاورو کښے زما په قدمونو

رب دے راته وښود پټ د مینے په رازونو کښے
واړه چول خولۍ کښے زما بستورے په پندونو

ساز د حورو اورم ستاد حسن په سازونو کښے
ماته دے رب وښود پټ د مینے په رازونو کښے

رباعی

که تش په عقل وے په لیاقت وے
نه په نصیب وے نه په قسمت وے

شیطان به نن ولوے له جبریله
غنی به هم لایق د ولایت وے

(*) نوستل : شیندل .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

نه په لیونتوب ترے فلسفے کړله څه جوړه — نه په فلسفه ترے څه کړه جوړه لیونی

داکړه وږده دنیا کړه وږده روانه ده — بویه دوم بویه بویه بخت د خوار غنی

داد ستور و شمار د وخت تلل د ساز لیدل

بنه خونیتو لاړے چه ډیر و شو کنی

پلوشه

هر تیتو براق دی کړے سوره محمد په شان — هر څپه کعبه ده که اوسیږی ابراهیم پکښے

هر لاړ مکے ته ځی چه نیت دے د مکے وی — هر تیر گلشن دکے وږه ورلکی نسیم پکښے

لیونی

یو بنار روان کړے د نرو نرو کو څو دی — یو خیال روان کړے د زړه دتلو سودے

یو سر روان کړے مکے سوره او تکی ساز — یو عشق حقیقت د جوړه د عشقونو د مجاز

یو کوټ روان کړے د خوبونو د رنگونو — د تورو تمترینو کړنگبد رنگو سرنگو نو

او خانگی لیو ستر نے ډکے د مستونه — وحدت نے روان کړی دلکه بت پرستونه

او کله لیونتوب فلسفه کل او صنم وائی

او کله د مستی خبرے ډیرے په غم وائی

سر نے پاکل غوږنی مخ د شبنم پرے پتوی

او ربل مست خوروی ستر کو غم پرے پتوی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال جواب دلیونی او ملا

لیونیه: مګه څه ده؟ ملا: کور دیو عاشق دی
کوټنۍ دی کښې ډیرې دهمو رب خالق دی
لیونیه: ایمان څه دی؟ ملا: دا دے پوخ ګمان
دیو خوب په زړه لیږدی دوصلونو د جانان
لیونیه: جنت څه دے؟ ملا: ستا جنت پیتی ده
او زما جنت وصال دے یو خمار یوه مستی ده
لیونیه: حور څه ده؟ ملا: لهرا(۱) دخمار دے
یوه کرښه ده شفق ده دخندا بریښکی ده
لیونیه: نشه څه ده؟ ملا: دا په سیل واته دی
دمستۍ رنګین محل کښې دا واته ننواته دی
لیونیه: چه لمونځ څه دے؟ ملا: خاورے ښکلول دی
د جانان کوڅې ته تلل دی دامید ارمان کیدل دی
لیونیه: سجده څه ده؟ ملا: ځان خاورے کول دی
دمستۍ دګلو هار دیار پښو کښې اچول دی
لیونیه: ژوندون څه دی؟ ملا: زړه یمه ژوندون

---

(۱) چپه - موج.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دازما دخوب لیده دی — د سبا اود پسرون

لیونیه! وصال څه دے؟ — ملا! نبیست کښے دوبیده دی

دا په ستورو کډیده دی — په سپوږمۍ کښے خوږیده دی

لیونیه! حسن څه دی؟ — ملا! لهر دخمار دے

یو موسکی موسکے شان خیال دے — یو نرے د رڼا تار دے

لیونیه! ته نے څوک؟ — ملا! زه دچا ارمان

زه یو کل دچا دکوتو
پروت په پښو کښے دجانان

دارالامان - ۲۵ فروری ۱۹۴۴ء

پلوشه

چه بے خودی پیره شی دخودئ رنګ ورکوی
یا بوډا توب له هم دځوانئ رنګ ورکوی

غم چه دیر زور وکړی دخوشحالئ په شان
دژوندون تار له رقصانه شرنګ ورکوی

ستر کے چه تشے شی خوبونه ډک وینی
په تش کاغذ مصور مستانه رنګ ورکوی

سحر له شپه ورکوی شپې له سبا ورکوی
دفلسفیانو سر له اړنګ دوړنګ ورکوی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کډې وډې

مچ دزمرے سترګے شکوی ماشی داوښ وینه

خدایه! ستا دا عجیبه دنیا تورۀ ده که سپینه

مرلسوګیدرو ببر شیر په بونډۍ چرګه کړ

سپور شغال په پړانګ دے دغرخوو ښکارله ځینه

پریوځی چواړی تهخان کانه په دتئ زروکړی

ښکلے ستادګوتوجوړه ځوانه نازنینه

ناستهده دړم دلندن لوړ په سرو ورینمو کښے

لوړدلوے شیرشاه لوړئے په لاس دے لوله ځینه

مست مغرورۀ سرد پښتون تیت سترګے نے ښکته دی

شرم داسی شرم چه شرمونه شرموینه

پلوشه

که شرنګ دے که رنګ دے تول رازونیاز دے

که ښایست که مستی دے یونازیو انداز دے

که حسن که نور دی یوسپین سپین ښکرے

که کل که یسمین دے

یوسوز او یوساز دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

روند به څه قصه دد ے رنګین جهان د رنګ وکړی
دا نیمے مرګ وتے به څه ستا د طبعے شرنګ وکړی
وچے سپیرے شونا ے به په څه ناز او نیاز وکړی
دا غمګینے ستر کے به په کومه نشه رنګ وکړی

دپسرلی شپه

دپسرلی شپه وه مسته مستانه — ستوری کیدل دیر روښانه
سپوږمۍ ولاړه وه بنکلے حیرانه — لیونی سوال کړو دخپل جانانه
د نام پوهے له دلا مکانه را — مستی م ستر کوله دخپله ځانه را
دخپله ځانه یاره! دخپله خپله ځانه — لیونی سوال کړو دخپل جانانه
ناګاهه برق شو دریاب دنور راغے — څه په مستۍ راغے څه په غرور راغے
هستۍ شوه کونګه مستۍ کو یا نه — لیونی سوال وکړو دخپل جانانه
او لیونی چه وتړه زړګی کړ لرے — دیر به خواری بکنے ځای شو یو بخرے
نور دک دځانه و دک دجهانه — لیونی سوال وکړو دخپل جانانه
دریاب دنور لاړه بنبیست او ناړه — او دجانان مستی جانان له بیا لاړه

لیونی پاتے شو خیرے کړ یوانه
دپسرلی شپه وه مسته مستانه

شمله. هندوستان - ۷ ستمبر ۱۹۲۴ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعا

دے بے انصافه زور جهان کښے دے بے کینے د پیغور جهان کښے
دے پہ غریبو نسکور جهان کښے سترګے لیدونکے راعقل روښان را
زړه م مین را ربه! زړه م رحمان را

دے د مطلب اوتکئ پہ دنیا کښے دے د راهنکو غوندلو سودا کښے
دے خوږ و زهرو سنګلے بلا کښے مینه بے طمعے را زړه بے ارمان را
سترګے لیدونکی راعقل روښان را

دے د دروغو او تور جهان کښے دے بے کینے د پیغور جهان کښے
دے د بد نیتو د اور جهان کښے پاک دا ګلنے پہ شان نیت او ایمان را
سترګے لیدونکی راعقل روښان را

دے بے همته کمزورے دنیا کښے دے پہ نفرت تورے تورے دنیا کښے

. . . . . .

مرګ چه ترے ویریږی داسے ایمان را
سترګے لیدونکے راعقل روښان را

سر بے پروا مستانه و منصور را سترګے خاکسارے مینے د نور را
سنګلے هر خیال ایمان د سرور را زړه د ملنګ را او شان د سلطان را
سترګے لیدونکے راعقل روښان را

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعری

لږ خیال کړه لږ تاک کړه لږ شان دجانان
لږ ژړک کړه غوږ ځنګ کړه یو آه د ارمان

لږ نوکر کړه لږ نار کړه لږ سوز کړه لږ ساز
لږ یار د سپوږمۍ شه د ستوري هراز

لږ کوټ د کعبې کښې لږ چکل د شیراز
لږ باغ لږ باغچه شه لږ توره بیابان

لږ خیال کړه لږ تاک کړه لږ شان دجانان

جنګړه

سرم لوګی شه له تاسترګې م
شونډې م خاورې ستا دیار شه

قربان خلمی لتانه قطار قطار شه

ته دخزان کښې یو ګل د بهار ئې
دے توره شپه کښې ته یو زیړ د سار ئې (۵)

ته د بهار خوب د کلي وران ئې
ته یو تصویر د پښتون د ارمان ئې

ته د پښتون د ناموس او د ننګ نښه
ته د پښتون د سپین ږیرې ملنګ نښه

ته زمونږ د صبر د جنګ نښه
ته یو ګواه د پښتون د مړانې

ته یو تصویر د پښتون د ارمان ئې

ته ئې د مینې او د زړه او طاقت قصه
ته د شهید د مستۍ او د شوکت قصه

ته د پښتون د یو خیال او د نیت قصه
ته یو آواز د مظلوم په آسمان ئې

ته د بهار خوب د کلي وران ئې

(۵) سار: سهار.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاس بہ دے وپر قوم زہ پہ حصار نشے — یا بہ تہ نے پہ خیبر یا زہ پہ دار نشے
سرم لوکی شہ لہ تا ستر کے م خار نشے — تہ د بہار خوب د کلی وران نے
تہ یو تصویر د پښتون د ارمان نے

مور

دا پہ ستر کو د مریم کښے — چہ ژړا وہ کہ خندا وہ
چہ نے سور پہ صلیب و لید — د عیسی د زلفو ول
دا خہ وو ایمہ تا تہ ؟ — چہ رحیم نے کہ رحمن نے
چہ پہ خاورو کښے کړے خاورے — د گلاب ښکلی اوربل
دا مستی وہ کہ معراج ؤ ؟ — دا جہان نے چہ روښان کړ
کہ د نور د یار د ستر کو — د ریا بونہ بہیدل
چہ دا کفر کہ ایمان ؤ — چہ دا زہ نے لیونے کړم
چہ دا غم م پہ خندا شو ؟ — کہ مستی م وژړل

د نبا پیرو شہزادگئ

د سرو زرو محلونہ کښے یو تخت ؤ د لالونو
او چت د غرہ پہ سر ؤ یو کمال د کمالونو
چا پیژندے تر خندا وہ او مستی مشغولا وہ — کاونہ وو سرونہ وو رنگونہ وو رنا وہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوناستہ دے محل کښے شهزادگۍ د بنا پیرو وه

چه جوړه له خوبونو بنا یستو نړۍ نړۍ وه

ماوے ابی بی د جنت : زه ستا د ډر ملنګ یمه

دیه تنګ د دے جهانه د غمونو نه تنګ یمه

لږ پټ م کړه د غم د تورو ستر ګو نه محل کښے

زړه ورکه دا ذره به شی د ستورو په غوبل کښے

اوستر ګے نے راپورته کړے پستے د ړنا سپینے

ناز کے ناز نینے په رنګونو کښے رنګ سپینے

ور د غم پکښے راوخوت لکه لړه د ما بنام

چا ډک کړه له شرابو د سپوږمۍ د ړنا جام

وے داخله د محل د تخت د اتول ساز و سامانه

د غمه پټیدۍ نشته څوک پټ به شی له ځانه

څه ! پښوله د جانان دے د انغمه د جهان یوسه

څه ځاځکیه : د اد ریاب له یو قطره د ارمان یوسه

ته غم نے ته خندا نے ته بهار نے ته خزان

خو ما لید لی خوب کښے د ی د حسن یو جهان

چه د وب به په مستۍ کا ندی ستا غم او ستا ارمان

ماوے سر م لوګی شه له تا ستر ګے م قربان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

راحه چه دے دنوجهان له دواره شوروان

اے شرنگه دگونگرو! درباب تال اوشرنگ کښے دوب شه

اواے اور اورکیه: دلمرپه رنگ کښے دوب شه!

وے رنگ رنا نیولی یم ماد رتلوته نه پریږدی (۱)

او ماخپلی وزرے الوتوته نه پریږدی

زه

اے د منطق فلسفو ملا! اے د جنت د قصو ملا!

اے د جزا او قسمت ملا! اے د دوزخ او جنت ملا!

مکړه ماته قصے د ژوند ناورم ته خه ستا قصے د ژوند

زه نه مالی یم نه خان د باغ ماته ته خله کړے داستان د باغ

زه خو د شاتو مچئ یمه شات پیژنم او کل پیژنم

زه یو وړه لولکئ یمه سات ته راتلل او تلل پیژنم

زه یو چپه د نسیم یمه بس یو لمحه د ما بنام پیژنم

زه یو قطره د شرابو یم شونډے پیژنم او جام پیژنم

نو ماته ته خله کړے داستان د باغ زه نه مالی یم نه خان د باغ

زه خو د شاتو یوه مچئ یمه شات پیژنم او کل پیژنم

---

(۱) دا شعر نامکمل غوند ے دی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یوه وره لولکنی یمه سات له راتلل او تلل پیژنم
زه خو یو شرنگ دگونگروی یمه پښې د رقاصې کښې تال پیژنم
زه یو بخرې د سوزیمه
غم پیژنم او وصال پیژنم

تول او تال

په ستر که دے پردے دلیونتوب دی لیونیه:
ته نه پیژنے تول، ته تش تال پیژنے
ته ستر کے دلیلی وینے لیلی نه وینے
ته زړه د سپینۍ نه پیژنے لال پیژنے
ته وینے د گلاب ستر گو کښے سور ژوندا خمار
نه ئے جال د جرو وینے نه ئے جنجال پیژنے
اوے آدم زویه اے ناز بینه د الله:
د زړو کالو باب کښے ته یو کال پیژنے
زما او ستا خبرے د ماتی ماشی واده دے
زه تول لیلی وینم ته ئے یو خال پیژنے
زه ترک د لوگی ترک یمه د تول د آدم
ته نه پیژنے تول ته تش تال پیژنے
خو خاص دے د دو لیونو ستر گو د پاره
زه جوړیه خپل تصویر کړمه د تکو د غباره

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خرو

تو تو تو خرو: وده تته تته

ارمان زمالنډی له فرنګ شنه جامه کړه کته

خبرے اوس پښتے کوی شمله نے ده بے بته

یونوے اسلام راغی دخانانو دمحلته

چه خوښ نے دی موتر داکړی هجرت دجماعته

تیز کرخی په پتروګلو کله بره کله بنکته

په بلده تمانچه کرخیمی (*) ویریږی دپنډته

وده تته تته خرو! وده تته تته

ارمان زمالنډی نن په اسلام کړے دے ننګ

ارمان زمالنډی سبز کال کړلی دی باد رنګ

ارمان زمالنډی کنبے دی چالونه رنګ په رنګ

ارمان زمالنډیه: کله پلن شے کله تنګ

ارمان زمالنډے وی کله بړ کله بنکته

وده تته تته خرو! وده تته تته

(*) کرچنی کرخوی۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمان زمالنې یه : لرې خپته دهاتی

په نسل فتح خان او په خویونو جلاتی (*)

ارمان زمالنې زړه کښې زړه کینه ساتی

ارمان زمالنې نن کړی کار ونه خیراتی

زمالنې حاجی شونه سوکان ګمی نه لته

ووه تته تته خرو ! ووه تته تته

زمالنې غصه دے نن غیرت د مسلمان کتهی

مړوله جنت کتهی ژوندوله د اجهان کتهی

زوے له نوکری کتهی او خان له پاکستان کتهی

داستاد رقیب دلال به نن تاله جانان کتهی

په بله تمانچه ساتی ویرې دی دپنډی ته

ووه تته تته خرو ! ووه تته تته

ارمان زمالنې چه پنجور لکه زمرے دے

په لنډه کښې ښه درنګ دے خوکړ بوروکښې نرے دے

په فکر افلاطون دے په اخلاقو بنا پیرے دے

په عقل لوی ښین دی خو په ژبه چرچرے دے

ارمان زمالنې دے ډک د چل او د حکمته

ووه تته تته خرو ! ووه تته تته

(*) فتح خان بریالی او د جلات محبوب او د هغې جلات ته اشاره ده .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله: زمالنې نن دفرنګ نه کتهی خان

الله: زمالنې هم کتهی مصر هم ایران

وئے نیت م دکعبے دی خولندن ته دے روان

هندو دے فیرنګی ته خوئے نه لګی هندوان

ارمان زمالنې نن نه کوکړے اونه بته

وو ته ته ته خړو! وو ته ته ته

پرون زمالنې چیرته ملاړو په ویران؟

پرون زمالنې چیرته خوړل پردی توتان

پرون چه جهان وران ؤ، و زمالنې وو دان

پرون دچا په دین ؤ چه دانن شو مسلمان؟

زما دبنادی مشه! ستاوی غم کښے کومه بته؟

وو ته ته ته خړو! وو ته ته ته

زمالنې یه: واوره دبونډی لګی دے خار شم

دښمن ته م دښمن شه نوره یار به ستا دیار شم

کښے دجانان کوته زه به ستا دپښو غبار شم

ته خار شه په وطن نوره به ستا دستر کو خار شم

که سم نه شو روان چوکه به زه دروم بنکته

وو ته ته ته خړو! وو ته ته ته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام

اے په اسلام مینه! اے سیاسی مؤمنه!
نن چه اسلام ستائے ستایه دے څوک پرون!
دا هغه مخ دتپوس خونوی شنه پرونه
دا د عقاب پنجے دبنا پیرک درونه
نن د جنت وعدے پرونی دوز خونه
چار بیته هغه زړه خونوی دی سرونه

اے په اسلام شیدا!
اے سیاسی مؤمنه:

ستر دے برکے بهر برک دے ایمان دننه
پرون ئے خان نه کاته نن دے اسلام کتی
په خرڅ دننگ دپښتون خپل ننگ اونام کتی
زما په وینو چا له ایران اوشام کتی
او د شرابو تاجر ساقی او جام کتی

اے په اسلام مینه:
اے سیاسی مؤمنه!

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه به وے رب ته خپل — چه ئے دکور دننه
تا د پښتون ستر کوته — د تیارے جال جوړ کړ
او د جناح د خرهٔ — دے خرد جال جوړ کړ
غلاف کعبے له دے — د وایت هال جوړ کړ
ماله لندن کښے تا — نوے هلال جوړ کړ
او د بلا نه دے — ماته بلال جوړ کړ

اے په اسلام شیدا!
اے سیاسی مومنه!
کلاب نیوے نه شی
چرے د زوزونه

او د رقیب نوکر — نن ماله یار کتی
زاغ نن بلبل کتی — خزان چه گلزار کتی
منا پیرک جنگ له وخی — د شهباز پلار کتی
نن په بورا له گونګټ — د گلو هار کتی
او د کافر نوکر — کړی د اسلام پالنه
اے د کنو وطنه! — اے د رند و وطنه!
او گوره شرمښ ته — کوی د شپون آواز
نن چه بانګونه کوی — څه ئے کړ پرون آواز

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنفرت کړیکو کښې — دمیښې سوز اوساز
پرون عمل د یزید — اونن نامه د ایاز
لږ خو پدې سوچ وکړه — زما ساده پښتونه !

اصلي مومن کړه بیل
له سیاسي مؤمنه !

څوک د عیسی په شان ؟ — مستي د دار اخلي ؟
څوک د نمرود کاله کښې ؟ — د موسی لار اخلي ؟
څوک د رقیب په محل ؟ — نوم د دلدار اخلي ؟
څوک تول جهان غور ځوي ؟ — ستر کے دیار اخلي ؟
غماز لږ وپیژنه ! — ایاز لږ وپیژنه !

اے دکنو وطنه !
اے درند وطنه !

سیل

څه چه لږ سیل وکړو — بره آسمان ته ځو
د دے تیارے له کوره — د نور جهان ته ځو
څه چه مستئ له ورکړو — د بے خودئ وزرے
څه چه جنت ته ځو — څه چه رضوان ته ځو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داد خزان تیارے کړو په تیارو کښې ورکے
څه چه بهار له خو څه چه بوستان له خو
داد جهان خبرے داد ملنګ تکورے
تخت تاؤس ته خو ماه تابان له خو
او د رقیب د کوڅے د ربانی نه کوو
مونږ مستانه لیونی کور د جانان ته خو
مونږ د جانان د شونډو شراب څکلی دی
څکه مست مست مجنونان نن بیابان ته خو
مونږ یو، بخښے د نور لرے لیدلی دی
د کل په شان په خندا غیږ د خزان ته خو
راځه چه هیرے کړو د دنیا کې قصے
څه چه لږ سیل وکړو
بره آسمان ته خو

۹ جنوري ۱۹۴۶ع

کلے وړے

د محمود غمګینے ستر کے ځان له خپل ایاز لتئ (*)
که زما بیګانګی نن ستا د زړه نیاز لتئ
د لیلئ ستر کے ژړیږی د مجنون د ستر کو غم کښے

(*) لتئ : لتوي.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نرګس مړاوے مړاو کوي — د بلبل آواز لټئ
راغه وجد څه مستي ده! — چه الله ترے آدم جوړ کړ
که معشوق د مینے سازله — د عاشق آواز لټئ
نه دا غم د فلسفي دے — نه دا رنګ د لیونی دے
د کونګرو شرنګار روان دے
حقیقت د ساز لټئ

مسلمان

مسلمان هغه بنده دے — چه شونډے ئے تل موسکئ وی
سترګے ئے د رنا ئے — له خولے یو په پسل موسکئ وی
سپین ایمان ئے لکه تنګه — بے دځانه هر څه سیځئ
د جانان د دراير وته ئے — زلفے ول په ول موسکئ وی
چه ئے زړه ډک د ارام وی — لکه بیخ د سمندر وی
خوله ئے ډکه د ګلونو — لکه باغ د صنوبر
راسے مست دا سے سرشار — لکه مینه د کافر
اراده ګلکه بے کړ کے — لکه څوکه د خنجر
د وجود هر څاڅکی وینه — سره په مینه د دلبر
په سینه کښے ئے رنا وی — لکه ځرګیه د جوهر

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پہ ژړا کښې ئے تاثیر وی — پہ خندا کښې ئے اثر
مست ئے بر پہ هر څه بر وی — لکه مست د سکندر
د زړه نور ئے لکه شمع — پرے اوړونه بل موسکی وی

د بلبل د خولے آواز ته
داغوتئ د گل موسکی وی

رنا د شمع کښې د سحر نور راغی

تاو د غرمے لار ماسپښینی شو — لکه د منی یخ باد د سینی شو
سرور د ستر گو د یر خو د زړه کم شو — او د فراق استاځی مخ د صنم شو
ساز کښې سرونه نن د خاموشئ خبری — د هوش جنګے پہ گور د بیهوشئ خبری
بادشاه شرونکی شو د خپله گور ته — د شفق سره رنګونه شولړه تور ته
او: ستار کښې شرنګ هغه د ما بنام نشته — سرور پہ ستر گو کښې د خیام نشته
پښې د رقاصے سرے خوتال ئے هغه نه دے — بانګ د بلال هغه بلال ئے نه دے
پہ جام کښې گوت گوت شراب کمیږی — سپرلے خلا صیږی گلاب کمیږی
او: رنا د شمع کښې د سحر نور راغے — باغ د بلبلو ته نوم د باتور راغے
د غوتو ستر گو له خیال د خزان راغے — لږه مستی لاړه او لږ ارمان راغے

او د فراق سورے پہ وصال پریوت
ستوری راختل او هلال پریوت

۴ مارچ ۱۹۲۹ ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

زما بخت دشمع بخت دی یا به مړ یا به سوځم
یا به بیخ له دریاب ځم یا به یاسه په چپو خوځم

عجب زړه عجیبه لاره عجیبه کاروان روان دے
ما و مستی پر اوله بیائی که زړه ځمه او که نه ځم

اګست ۱۹۴۷ع

نن انسان شود انسان دوینو تږ دے
نن مجنون شود جانان دوینو تږ دے

دا سے روند په ستر کو روند شو دتند دے
چه تر پوره شو حیوان دوینو تږ دے

دا محل دچا باچا دشان او شوکت دے
که دا پروت دے بیابان دوینو تږ دے

دا قصه دیار دکور او استانے ده
که د ظلم یو داستان دوینو تږ دے

دا سے هر چه بنا مار و ته پسخیږ ی
دا سے تاو چه کړی جانان دوینو تږ دے

دا سے قهر چه لمبه کړی خپلے ستر کے
دا سے ځان چه وی دځان دوینو تږ دے

دا سے رند چه د آدم په وینو مست دی
دا سے شر چه کړی آسمان دوینو تږ دے

لیونیه! دمستۍ باغ ته تر تښته دے
نن دتند دے مړی جهان دوینو تږ دے

تول (۱)

جال نه دے دام نه دے تول! کجکے! تول!
یا به په دوخان شے یا زړه یا به شی پر دول

یا به قلمه یو سے یا تق به دلته (۲) واورے
جال نه دے دام نه دے تول! کجکے! تول!

---

(۱) دمنګ په شان مزل. (۲) هغه آلچه غټ پکنبے نیولے شی، ارکے هم ورته ویل کیږی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمان

ماد گلو باغ کړلے وخزان کښے — دجنت خوب مې لیدلے وجهان کښے
ماد محکے په مخ هغه لال کتلو — چه موندے شی په بر جو د آسمان کښے
اوزما په خوانئ مست په عشق خود زړه — فرق ونه کړ په تصویر او په جانان کښے
زه په خپل ارمان مین دم په تانه دم — حکه دے خپے تیر ومه په ارمان کښے
ته چه را غلے ستاد زلفو ارمان لاړ — ها مستی دمجنون پائی بیابان کښے
ماله سود دوصال زیان شو پکښے ورک شو — هغه یار چه مې موندلے و په زیان کښے
زه په غم مست په فراق باندے مدهوشه — مرم دتندے دگلونو په باران کښے
پتنگ روند شود لمر سپینے رنا روند کړ — لولکئ گل پسے ژاړی گلستان کښے
دخوانئ مستی مې شوله خوانیمرگه
دجنت خوب مې لیدلی وجهان کښے

بکواس

راحه زما زړگیه یو به ته شے یو به زړه — یوه وړه لولکه او یو گل د لالا
یو شرنگ دغور خنگ رنگارنگ دستئ — شو سور په ملخ په خندا خندا
روان شو جانان له پسه او سرور — په نیاز په خرام په مزا مزا (*)
یا خوب به لے په کټ دلولکئ کاوه — یا ته به داور اور کو په رنا
خو دوب په قطرے دشبنم کښے شو — او چت په ملخ په خندا خندا

(*) مزه.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

او دبنده مثال لکه خس دے — تودشی لوکی وکړی رنا کړی جوړه
لمبه شی وسوځی خاورے ایرے شی — بوره ابئ پرے ژړا کړی جوړه

دوه خبرے

نن م ماته جانان وکړے دوه خبرے د مستئ
دفقیر کچکول کښے کوره ملغلرے د مستئ
چه ئے زور ؤ که جمال ؤ ماسره پهٔ پښو کښے کینبود
چه به زه ترے کړ ځید مه لرے لرے د مستئ
دفراق سلو صدولر یوه لمحه د دیدن بس دے
دغم زر کاله ایرے کړے یو بخرے د مستئ

کړے وړے

څه که نه ئے وینمه سترگے خمارے — نه ئے پیژنم د سرو سترگو خمار
نه کعبه م ده لیدلے نه پرے پیژم(۱) — نه خو پیژنم لولئ او لاله زار
نه م حوره ده لیدلے نه ئے غواړم — زه لیدے شم سپوږمئ د رنا تار

---

(۱) پوهیږم.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریب خضر شوند لیواله د چینے کړ — ماله کوټ راکوی شرنګ دستار
لکه بیخ د سمندر دوب او خاموش دے — دا ے پروت د مستئ بیخ کښے قرار
اوپرته د قرار جړو کښے مستی ده — عجیبه مرګی ته ده عجیبه لار
په نصیب او په تقدیر مې برے وکړ — توکل یم شو قسمت مې د اختیار
په جنت او په دوزخ مې څه کار نشته — دے دواړو برده مالیدلے لار
له جزا او د سزا نه بے پروا یم — خو پوهیږم په فراق او په دیدار
که غمونه که فراق وی که دیدار وی — مستول کوی کنځل هم د دلدار

په خندا به شی غنی په لمبو سور
په دی شنو ستر کو که ستا پیر زو شو اور

دنیا ګئ

دنیا ګئ څه ده غم او غوغا څه ده — سوے داور سوز او سودا ده
لیونے وائی یار ته خره داده — چا جوړ کړے ځالیه، منه مشغولا ده

ډالئ

ستر کے دے رنګینے دی نیاز بینے دی مهینے
شونډے دے ترسکونے او خبرے دے حسینے
ستا سینه د ساز او دارام یو خزانه ده
ځی دمرچا شونډ وله ستا کوتے سپینے سپینے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے دحاتم لورے ! خزانه دعشق دے لوټ کړله

چاله لپېدے دکے چاله پېنے پېنے

دا خود جانان دستر کو رنګ دزړه مستی ده

دے نه جوړ جنت دے او دحور وخولے وړ پېنمېنے

تاچه باغ تالاکړ دمالیار کوړله به څه یوسے ؟

ته چه زړګی تش کړے نو دیار کوړله به څه یوسے ؟

۲۹ جولائی ۱۹۴۶ع

کلې وړے

پښتونه ! تګی جنه ! تاملا بابا دهوکه کړ — راضی شو په پیتی دکل کلونه خبر نه شو

او پیر غریب حیران دکله غپ کړی کله کاوڼ — به ئے لاړه لاړه دا دتلونه خبر نه شو

منمه دجناح کاکا چه لوخ بنانګله راغی — دوبه دکوتکه دګولونه خبر نه شو

کوړه لیونی ته په مړه خیټه بوډا شو

دخولے او دکولمو دسلسلونه خبر نه شو

قصه

توره توره شپه دجړئ — توده توده دغم قصه

سینه سینه نشه دخوانئ — سپینه ښېسته دسنبم قصه

ښکلے ښیسته دامید دنا — سپوږه زړه دستم قصه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږ او مهین دی نوم د یار — ښکلی پسته د صنم قصه
ماته قصه د پسرلی وکړه — ناوړم د دیر او کم قصه
ماته قصه د جانان وکړه — نا وړم د دیر او حرم قصه
ماته موسکے مخ را واړوه — پریږده د فضل او کرم قصه
وایه د رحم او نور خپل — مکړه د وران او سم قصه
زور او اور او شور دا — داده ستاد کرم قصه
شرنګ ستا غوږ زنګ د زړه — داده زما او صنم قصه
او را او حوري سوز او ساز — څه د مستۍ څه د غم قصه

ماله خندا خندا راځی
مه کړه د وران او سم قصه

کډے وے

دیرنږ زما لالاؤ خوچینی (۱) رانه خراب کړ
ملا پیتی ته ټینګ ؤ خو فیرنۍ رانه خراب کړ
صاحب هلړ کړ فتح خوئے خیته فتح نه کړه
دے ترشے مسالے هندوستانۍ رانه خراب کړ

---

(۱) صوبه سرحد کښے بوری ته چینی وائی. یو وخت چه بوره دیر صحته شوے وه دیو خو بوره یو پرمت لوی رشوت او لالچ ؤ چه دانګریز او دهغه دوا دارو له خوا به د قوی تحریک منګرو ته وراندے کیده. غنی دے خبرے ته اشاره کوی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او خان لالا مِ ورک ؤ په اسلام او په ملت
مرید ښه د جناح ؤ خو جینئ رانه خراب کړ
کوه لیونی به د پیرغښے او لوے قاضی ؤ
قصے د آدم خان او د رحمانئ رانه خراب کړ

خوانه

وران دے گلستان دے ابلیله: د پښتون د باغ
نوم د رقیب لیک دے په هر بوټی د مجنون د باغ
خوار و زار چے دے بے هنره بے کماله دے
غوږ ئے دی کانه لاسونه شل سترگے پر کاله دی
لال د وب دے ایرو کښے او مرچان پروت دے په خاورو کښے
زوے د شمبا زگرځی چمری خوری په سیل د واورو کښے
پاخه اخلیه: مستی توره او ایمان واخله
شرق شه او هشه تنده شه او نوشه خپل جانان واخله
خاورے د شنو بریتو شم غلام د غلام زوے ئے ته
پروت په دوسئ کښے ئے که زر خله خلمے ئے ته
توره دے را واخله ننگ پښتو او اسلام پورته کړه
له خپلو مستو سترگو دے نامه د غلام پورته کړه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاڅه ننګیالیه : نن دلبرا د جانان وګټه

نوم د پښتون وګټه ناموس د افغان وګټه

ټول جهان حیران کړه د خپل شان په تماشا

اے دا احمد (*) زویه اے بچیه د شیر شاه !

سلام

نه ساز شو نه سوز شو — بس هسے ژوند تمام شو

نه خوب شو نه شرنګ شو — نه یاد ګل اندام شو

دا تورې توره شپه راغله — نه ستوری نه سپوږمۍ لری

ځوانی وه لاړه لاړ له — یو کوټ او خالی جام شو

یو ستورے د سبلوٚ لاړ — سور ګل یو لاله ؤ لاړ

سور لمر زیړے زیړے شو لو — نړے نړے ما بنام شو

قصه د حسن هیره شوه — مزه د مینے تیره شوه

ملا بانګ د سباوے — آخر په سول خیام شو

مستی بے پروائے وکړه — په خود کښے بے خودی ډوبه

(او) : ګورې لیونے هم نن

بادشاه ته په سلام شو

(*) لوی احمد شاه بابا (۱۱۶۰-۱۱۹۶ هـ ق) چه له سپین سیږ سرپیره د پښتو صاحب دیوان شاعر

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دژمۍ ماښام

اونن دژمۍ ماښام — دجړۍ شپه ده
پوست شبنمي باران — بهرو ریږۍ
غاړه د اور اوخیام — شروع قصه ده
دشاعر سراوستار — مهین غږیږۍ
تنګ اوتکور دژوند — ناز اومستۍ دجانان
شرنګ دخوانۍ کښې پټ — شاتار دغم ومې
خندا مستۍ د ساقۍ — بت پرستۍ دساقۍ
ستینې دی (۱) دمرګ سره — دګونګرو شرنګ ومې
اونن دژمۍ ماښام — دجړۍ شپه ده
پوست شبنمي باران — بهر وریږۍ
یار شروع کړے ماته — دغم قصه ده
کله موسکے شي
کله ژړیږۍ

---

(۱) ستینې: ستاینې هغه ساندې چه دمړې په سرې ښځې وائي.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند

هر څه د رب او همه د رب — زه یو ما بنام له راغلے یم
باغ او انګور میخانه دیار — زه خو یو جام له راغلے یم
مینه مستئ او خمار د بل — رقص او خندا او سینګار د بل
ګل او نرګس او ګلزار د بل — زه ئے تش دیدار له راغلے یم
زه دلولګے ورے په شان — ګل او غوټئ او بهار ګورم
زه لکه شمع بلیږمه — ښیست او مستی د دلدار ګورم
لوے سمندر د مستئ له ما — څاڅکی د رنګ راوړے دے
زه پرے دلمر د نا لتوم — ما هم مثال بل کړی دے
هر څه د رب او همه د رب — زه یو ما بنام راغلے یم
باغ او انګور میخانه دیار
زه خو یو جام له راغلے یم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ربه

اے پہ بنیست مینہ جوړونکی دگلاب ربه؛
ستا بنکلے دنیا شوه دخاروی او دتصاب ربه:

آ چه دماشوم ستر کے دے جوړے کړے گل پہ شان
ودکی او خوږے خوږے خبرے دبلبل پہ شان

زړه ئے پاک دبلدو دهر خیال او دازاره پاک
پاک لکه شبنم ؤ دگناه او دازاره پاک

تا چه تا ته تهیت دفرشتو بنکلی سرونه کړل
جوړ چه دچا ستر گوله تا ستوری او گلونه کړل

تا چه دچا حسن لپه دخپلو ستر گو نور ورکړ
تا چه دخپل خانه چاله مینه او سرور ورکړ

هغه محبوبه ستا آدم نه دے آدم خوږ دے
آ بنیسته گلاب ستا گلاب نه دے او ږ دے اوږ دے

هغه ستا دلاس گل پروت پہ وینو کښے سمسور دے
ستا خلیفه ربه؛ آدم نه دے آدم خوږ دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا چه چاله جوړ کړه د حسن او ګلزار قصه
وکړه مشغولا له دے د مینے او دلدار قصه

تا چه چاله ستوري او سپوږمۍ او ماښام جوړ کړلو
تا چه چاله مینه او مستۍ او خرام جوړ کړلو

سترګے ئے دی پټے هغه نن د زهرو پینے څښې
ستا په نامه ربه! نن سرے د سرو وینے څښې

اول سترګے ستا دلیدو خورا!

زه خو ساز او سروز او خمار پیژنم
زه لیلۍ پیژنم یا ایاز

زه خو غم او غرور او ژړا پیژنم
زه نه جانان پیژنم او نه نیاز

دے نسکور شمکور ته د نور قصے؟
د جنت قصے د جلال قصے؟

منږ کوري ته د زهرو قصے؟
د ماښام قصے د ملال قصے؟

زه خو ګل او چمن او شراب پیژنم
زه بهار پیژنم او خزان

زه خو شرنګ او رنګ او کباب پیژنم
نه ګناه پیژنم نه شیطان

دے شمکور نه ستا دلید و طمع؟
دے نسکور نه تا ته د تلو طمع؟

اول سترګے ستا دلید و خورا
بیا کوه د مینیدو طمع

زه خو ساز او سروز او خمار پیژنم
هغه خوږم ربه! چه ئے څکلے شم

زه خو شرنګ او غور ځنګ او ستا پیژنم
او جانان هغه چه ئے لیدلی شم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خو ناز او مکیز مخه پیژنم — ښکلے خط پیژنم ښکلے خال
زه خو سترګے پستے او خوله سره پیژنم — او رنګینه خندا د وصال
دے نسکور شمکو ته د نور قصے! — د جنت قصے د جلال قصے!
دے کونګو توته د باتور قصے!
د پرواز د ښیست او کمال قصے!

زه ستر کے خوږے په ارمان پیژنم — او نری تروږمی د مابنام
د سره شونډو خندا د جانان پیژنم — د ساقی په سره کوټو کښے جام
زه خو یست او منت او خنډ پیژنم — نه ګناه پیژنم نه شیطان
زه خو غم او صنم او ژړا پیژنم
نه دعا پیژنم نه اذان

رباعی

که پتنګ دلمر نا نه شی لیدلے — ګنهګار شو که په شمع شو شیدا!
زره کښے چونګ لپه ایله د خاورو خاے شی — چرته ځاے کړم پکښے دا نور د یا
خنګه خنګه په یو کوټ کښے دا جهان او آسمان او چوم — د شبنم ځاے خلوب کښے خکه د سیند نعو د ن او چوم

بیا لا دادے د پاسه په حساب او کتاب کم دی — د رند ستر کو بادشاه به ښا او عذاب دی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ربه زما ربه د مستئ او د خزان ربه! اے د تګو د کور کړو د جانان ربه!

اے د بنکلو ستر کو د خمار او د ارمان ربه! اے د کشمالی او خیټو راو د ریحان ربه!

څنګه څنګی په یو کوټ کښے د جهان او آسمان واچاو؟

د شبنم څاڅکی کښے څنګه د سیند و نو د وران واچاو؟

۱۳ نومبر ۱۹۴۷ع

یاد دے دئ

اے د پستو ستر کو بنا پیرئ! چه ستا دی یاد که مې؟

هغه د وزخونه تیرا و هغه جنتونه تیر

یو بخړے نور چه به کړ کل جهان د نور ه ډک

یو رنګین نظر به غمګین زړه کړ د سرور ه ډک

ما ته به سپوږمئ کړلے د صبر تسلئ قصے

کل به راته کړلے ما نبا می کښے د لولئ قصے

حسن او ځوانی او پسرلی مینه، سپوږمئ، زړه او ته

وصل او مستئ جنت جهان او زړه او ته و ویو

او ر، ؤ جهنم ؤ خو سیځل پاسته د ساز هسے

لاس ئے د جلات و خو کاته نے د ایاز هسے

وے په هر نظر کښے د ساز د نو خزانے پرتے

هر اشاره کښے د عمر د نو ترانے پرتے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړونه پټ په نور نکه لیده وی په کاکو کښې پټ
مرګ ؤ په خندا بانګ د زړګو په نارو کښې پټ

ساز ؤ بیخودی وه سوځیده ؤ جهان وړګ ؤ وړګ
زه دومه اوته وے ځکه ستوری اسمان وړګ ؤ وړګ

وخت ؤ بے حسابه بے پایانه سمندر ؤ ژوند
پښو کښې جهان پروت ؤ بینیازه قلندر ؤ ژوند

خیال به د نسیم په شان کلونوله ما بنام له ته
عقل مرور د حورو سازله او خیام له ته

تن کښې م زړګے نه ؤ یو لا ل و د شغلونه ډک
ستر ګے د هر رنګه، هر اندام د ولولونه ډک

واړه دنیا وه ماته باغچه د دلرباد کور
هر ستوری به لا ر ماته ښو دله داشناد کور

اے د پستو ستر ګو ښا پیرئ: چه ستا دی یاد که میر
هغه دوزخونه تیر او هغه جنتونه هیر

۲۷ اکتوبر ۱۹۴۶ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنیا

مادونخے پښوکښې شهزاده په ژړا ولید
مادمرګی بت ته ژوندون وقیت په دعا ولید

دڅه بے نیازه ستر کے دمستۍ دبیخودۍ دکے
وچه تر مستۍ شوه شوه دسپی په پرلګ کی

لاس سکندرم غځولی په سوال ولید
پروت دمنات پښوکښې م په ذکر بلال ولید
مادونخے پښوکښې شهزاده په ژړا ولید
دامستانه زړه م د دنیا په سودا ولید

۲۵-اکتوبر-۱۹۴۶ع

ژوندون

دا ژوندون دے دوه ورځے
خلاص به شی او تیر به شی
دا غنی به خاورے شی
ورک به شی او هیر به شی
دا شونډے تودے خوږے دا دغم صنم قصے
دا کاروان روان روان
ځی به په مخ تیر به شی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنتی ته

ته چې جنت کښې مزې د دنیا لټې
د حور و ستر کو کښې د د مو خندا لټې

ته په اسمان کښې وږمې د ډیران لټې
ته په سپوږمۍ کښې تیاره له مکان لټې

ته د عاشقو عاشقۍ او مستۍ نه پیژنې
لیونې نه دلربا پرستۍ نه پیژنې

تا د دنیا د پاڑه، مینه د جانان ورکړه
مجنون حلوا کښې، بیخودۍ د بیابان ورکړه

لاس دې ګرا وږد، بادشاهۍ لاړه فقیرشو
یا زما خان، وې یاد کوند وزما وپیرشو

تول خیته خیته شو مستۍ او جانان نه پیژنې
تول بیړه بیړه شو، مرګۍ او میدان نه پیژنې

زما امیرو، تا ئې خپل تو کړې خورشو زما
زما سردار: ته مې وظیفه خورشوې زما

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسم په هغه رب، چه ته ئے د خلمت دعوه گیر
چه ئے د حور و غلمانو، د جنت دعوه گیر

توره راواخله، خیته هیره کړه میدان ته ځه،
ستی پیتی مشه، په مستئ، کوږ د جانان ته ځه

لنګے د وبیرے، په پیتی کښے په حلوا کښے یار
جنت دے بایلو، د تیپرو په سودا کښے یار

دوسی گرانه ده، دلوږے نه کا جنتی:
تپ زمرے ښه دے، له ځرے مرے زما جنتی:

دسامرئ له زړه ښه ده، ملنگی د موسئ
د زر پرست نه، یار پرست ښه دے زما جنتی:

قسم د حور و په مستئ، او په خنداد یار
قسم په شرنگ او په نسیم، او مشغولا د یار

قسم په ستر گو په بنایست، او په ځوانئ د دلبر
قسم په ساز او په سرود، او په ثنا د یار

ته سجدے زر و ته کړے، ما ته نوم د یار اخلے
شفق گنه کړے، په بدل کښے ګل خار اخلے

راځه چه زړه درته، جنون او مستی د ښیمه
راځه چه زړه درته، محبوب پرستی د ښیمه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرداری نه کیږی د توره د مستۍ نه بغیر
الله لیدے نه شی، د حسن پرستۍ نه بغیر

سکندری قلندری، دواړه سرور غواړی
دواړه مستی او خوانمردی، خنداغور غواړی

نه خو جنت کښے مزے د دنیا کوره
بربنا حوره، او تر سکونه حلوا کوره

د شاتو نهر او کنار ول د شرابو ډک
نمکین غلیمان او بنانک د کبابو ډک

یاره چه شونډے نیبی (*)، نو حورے به په څه بنکلوم؟
چه کولمے خاورے شی، کور کورے به په څه مغموم

واوره جنتی!

جنت یو حال دے، د عشق د مستۍ یو رنګ
جنت یو شرنګ دلنګرو، د خوانۍ غور ځنګ

جنت نازک دے، د ګل د ارمان سے
جنت ښیسته دے زما د جانان سے

جنت دریاب یو، د مینے اوشان دے
هر قطرے سپوږمۍ، هر څاڅکی جهان دے

(*) نیبی، نه وی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شان او شرنګ

فلسفی:

داسوز او ساز　　داشان او شرنګ
یوسوری دوخت　　داخیال او رنګ

داامبنس کاروان　　داسحر ما بنام
داکوتے او شونډے　　اومے او جام
امید او خندا　　او ژړا او خیام
داکل داساز　　داشان داشرنګ
یوسوری دوخت　　داخیال او رنګ

دازور دا زر　　دتورو پرق
دعا او ژړا　　او دحورو پرق
داپرق دسرو شونډو　　مغرورو پرق
داچال او جال　　داخیال او رنګ
ارنګ دورنګ　　سپاری تنګ

دابنکلی کاته　　په نیاز کاته
داورو نازک　　په انداز کاته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دالرو کښے تا دسپوږمۍ دمخ
نرګس کښے پټ پټ د ایاز کاته
دامینه رنګینه داشان اوشرنګ
یوسوری دوخت دخیال اورنګ

داناچ دلولکو بهار اوګل
مانبام اوخیام اوستار اوګل
ګلزار اوچغار اوخمار اوګل
داسر اوسرور اوشان اوشرنګ
یوسوری دوخت دخیال اورنګ

شاعر:

نامره: ته ستر کے دیارنه وینے
دستر کو سره وینے خمارنه وینے
ته تهنګ او تکور اوسرود وینے
مستی اوجنون د دلدارنه وینے
داسوز اوساز داشان اوشرنګ
یوتار د دلدار دخمار اورنګ
دانبکلی کاته په نیاز کاته
داورو نازک په انداز کاته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دالړو کښې ، تا ، د سپوږمۍ د مخ
نرګس کښې پټ پټ د ایاز کاته
دامینه رنګینه د اشان او شرنګ
یو تار د دلدار د خمار او رنګ

د اښکلی کاته په نیاز کاته
د اورو نازک په انداز کاته
د اناچ دلولکو د بهار او ګل
ګلزار او نسیم د اوستار او ګل

سرے شونډے دیار د سپرلی په شان
ژوندی کړی مستی او بهار او ګل
د اسرار او سرور د اشان او شرنګ
یو تار د دلدار د خمار او رنګ

سپر دل د ګلاب او خندا د یار
کاږه کاته په رضا د یار
انداز د مستۍ او تول د غم
سرے سترګے او شونډے زما د یار

د امست ما بنام کښې د ژوند غورځنګ
یو تار د دلدار او خمار او رنګ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا اوښ کاروان دا سحر ما بنام
دا کوټے او شونډے او مے او جام

دا تله په امید په ایمان او زور
دا تله په مستۍ پریوانه د خیام

دا کل او ساز او شان او شرنګ
یو تار د دلدار د خمار او رنګ

ترانه

نه ما سره زر نه مرجان شته دے
نه ما سره شته د لالونو ډیر (۱)
جانانه! جانان د ملنګ ئے ته
ملنګ سره وی د سوالونو ډیر

ما تاله ډالۍ (۲) راوړے ده
وطنه! مستۍ او ځوانۍ نها
سره وینه توده او زړګے نر
نر توب او پښتو او خانۍ زما

زه ځان او جهان په دلبر ورکړ دمه
زه پښتو کښے جانان ته خیګر ورکړ دمه

---

(۱) ډیرۍ . (۲) ډالۍ : تحفه، سوغات .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه مست داسے مست ننګیالی یمه
فقیرته کچکول کښے خپل سر ږدمه

زه مست او سرشار او مجنون یم — زه روے ننګیالی د پښتون یم
لوګے شه له تا دا خوانی زما — نرتوب او پښتو او خانی زما

زه سر او سړی صدقه ورکوم
دستر کو دنوی صدقه ورکوم
زه ژوند او خوانی تالا کومه ښن
مستی او غرور صدقه ورکوم

ما سر خپل جانان ته ښیلے دی — خمار م رحمان ته ښیلے دی
خندا په دلبر لوګے کومه زه — ما هوښ بیابان ته ښیلے دی
زه جوش او جنون لوګے کومه له یار — زه تنګ او تکور صدقه ورکوم
زه نیست او مستی ستا په پښو ږدمه — زه مینه او زور صدقه ورکوم

زه ورک لیونے د منصور په شان
لیلی له په تیک کښے قمر ږدم
زه مست داسے مست ننګیالے
فقیرته کچکول کښے خپل سر ږدم

خونه ما سره زرنه مه جانان شته دے — نه ما سره شته دلالونو ډیر
جانانه! جانان د ملنګ نے ته — ملنګ سره وی د سوالونو ډیر

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعر اولیلی

شاعر:

داژوندون او مستی او خندازما
داخوانی اوتاوده یو دوه ورځې
دام ستر گو کښې ستا دشونډو رنگ
زوور دتور پلو دے یو دوه ورځې

اخ تلونکے هغو تیاروته یم
چه دگومو تیارونه راغلے یم
اخ خم به بیا هغو کوتوله
گومو کوتو چه زه غځولے یم

داخوانی لکه دسپیلی ماښام
یو لمحه دساز یو قطره دنور
داخندا مستانه حیرانه ستا
یو جهان د رنگ یوه ذره دنور

ستا دستر گو جانان مسوور وخوند
ستا دشونډو خپو او مغرور وخوند
ستا دگوتو پستو او مخمور وخوند
کیپکیه دشا او حور وخوند

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دادستر کو بنایست او دشونلو خوند
او داسوز او ساز او ارمان زما
د نسیم چپه او د گل غوتئ
او مستانه حیرانه جانان زما

دا یو تلونکی تلونکی کاروان دے
یوه قصه ده چه وشوه او تیره شوه
دا یو بنکلے بنکلے تصویر د خیال
یوه تپه وه چه وشوه او هیره شوه

باقی یو هغه د تیارو جهان
باقی یو هغه د رنا وطن
باقی یو هغه د خوانی داشان
د خوبونو او د خند او طن

لیلیٰ :

یوه لپه تږینه واخله ډک د ریاب د مینی بیږی (۱)
دا ته ولے په ژړا وے ، چه پیاله یم د ریاب نه یم ؛
تول جهان د نورو ډک دی کله : خان د نورو ډک کړه
دا ته ولے په سلگو وے چه سپوږمئ او آفتاب نه یم

---

(۱) بمبیږی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے نایکہ!(۱)

اے مالیارہ ددے چمن! — اے نایکہ ددے جهان!
اے د نرگس او نسیم ربه! — اے سردارہ ددے مکان
دا خلیفه او مجنون ستا — ستا د شرابو او حور و خان
دا ستا د کوتو جوړ کلاب — ستا د چشمانو مخمور و شان
تا خو جوړ کړے د مینے له — کل دے کاته بیابان له
ته خود مینے لیواله وے — تا خو عاشق کاته خان له
تا خو بنبلو او رحم له — ستر کے بنیسته دلید و کتے
تا خو خمار او خوږ والی له — شونډے دپیژند و کتے
تا خو خپل شان او کمال له — ورکړه موقع د کمال او شان
ځکه دے ستر کو دیار لره — ورکړه رنا د هلال په شان
تا خو پیرلی دلرباکړه جوړ — ستوری سپوږمۍ او سباکړه جوړ
تا خو انی مستی ورکړه — تا خو شیرین او لیلی کړه جوړ
خوږ روند او کون شمکو ریمه — کل او بهار او جانان نه ګرځیم

---

(۱) یادار - ثبتن .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دغضب اوسره اوژړک — رنګ اومستی اوخمار نه وینم
تاکړ جهان دخندا نه ډک — ماکړ دشور او غوغا نه ډک
تاکړ سرور اومستئ له جور — ماکړ دغم اوژړا نه ډک
ماکړ دوینو په وینو رنګ — ماکړ دخوار د آزاره ډک
ماکړ دظلم اوزور وطن — ماکړ دمرګ دغاړه ډک
تاکړ ځوانئ او دلدار له جور — تاکړ خندا اوخمار له جور
تاکړ سپوږمئ اوستور وله — ماله پسرلی اویار له جور
خوماکړ دوینو اوچغو ډک — ماکړ دسوز اوارمانه ډک
تاکړ سرور اومستئ له جور — ماکړ دغم اوژړا نه ډک
اے مالیاره ددے چمن ! — اے نایکه ددے جهان !
دادنیا کئ دے سمباله کړه — دادنیا کئ دے په تلوه خان !
کوره ! علم اوزور ئے خوری — کوره ! هنر اوشعور ئے خوری
نړدے د آدم آدم خورشولو
وکوره ! وروره ته وروره ئے خوری

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند

چه خمار مستی ترے وځی شراب بنے ترخے او به وی
چه سرور غرور نے نه وی دا ژوندون ژوندون دځه وی

چه دمینے زړه شی پاتے لکه گل وی رژ ید لے
یا شغله یوه د نور وه یا یو موټے دخزلے

چه په ژوند کښے سخته نه وی لکه بے مالکی طعام
چه په خوله کښے خنداڼه وی لکه ډک دخاورو جام

چه خوانی کښے تکلیف نه وی لکه پټه میان کښے توره
نه نے پرق شی نه شرنگ شی په زنگو نوشی ښکوره

چه آرام وی او سمام وی او یاری په جایداد وی
خوبانوم شیرینئ وی هر تر و پر و فرهاد وی

چه نے سر په خنداڼه وی هله خوږ راز و نیاز شی
چه دسپینو تورو جنگ شی ښکاره هلته کښے ایاز شی

ژوند که تش نیرنی ختل وی دا خو سپے هم شی ختلے
که تش نسل زیاتول وی دا غوئی هم شی کولے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند نه خیته نه ماتمی دی نه ډیری دسرو لالو نو

نه یاران نه معشوقی دی نه باغونه نه ګلونه

ژوند خوتله دی په یو مخه

غور ځیدل او پاڅیدل دی

تکے سوز او تکے ساز دے

څه خندل دی څه ژړل دی

ژوند په ستر ګو د عاشق کښے

پلوشه ده دخمار

په صحرا کښے لټول دی

د آشنا د کوڅے لار

حیدرآباد جیل
۱۱/۸/۱۹۴۷ ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

مینه مینه م کوله خبر نه وم
چه دورخے ماز نگیر او ما بنام شته

لکه زرکه د سپرلی وم په چرچقو
خبر نه وم د ښکاری سره دام شته

دنیا زبینے بنا پیری په بستر پروت وم
خبر نه وم چه رقیب م په بام شته

د ساقی په سخاوت باندے مدهوش وم
خبر نه وم تشیدے د جام شته

سپینه شمع د محل په خندا وائی
د رنا سره د سولو سام شته

داویل لیونے دک د ریاب له لاره
آ ورو بل چرته یو ښکلے مقام شته

خو وخو چه د ملا دروغ معلوم کړو
دی وئی هلته مستئ انتظام شته

حیدرآباد جیل سند

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبادت

دملا عبادت کسب — پاڅیدل او کیناستل
دحلوا په ارمانونو — تل الله الله کول
دملا مینه عجیبه — په پیتی مینیدل
او دحورو لمغرو ته — دخرچو کومنیدل
دصوفی عبادت ویرد ے — سوځیدل او ژړیدل
دجهنم رحیم دنوم نه — رپیدل او ویریدل
دصوفی مینه عجیبه — دزړه کل مړاوے کول
بے کنار دریاب دحسن — په کوزه کښے بندول
دزاهد عبادت چرے — سوال منت ژړا کول
په جنت اودے دنیا کښے — دفایدے سودا کول
دزاهد مینه عجیبه — په خپل ځان مینیدل
دریاسپی جوته کړے — دلر باله ورکول
دغنی عبادت مینه — ځان جانان کښے ورکول
دمهینوستر کوشرنگ ته — ګډیدل او خندیدل
دغنی مینه عجیبه — تول بیلات (*) هیڅ نه کتل
داخپل ځان او جهان واړه — یو خمار کښے ډوبول

(*) بیلات : باهرل.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ایلم توتیان

چا بند کړی دی پنجرو کښے　　دا ایلم[1] د سر توتیان

چا عقاب په لاس کینولے　　د مرز هسے چغولے
چا منصور په سر او سپینو　　او خوږ و باندے غلولے
چا قسمت په زور تړلے　　د کوډئ هسے لوبولے
نن د کومے بادشاهان دی　　سکندر او شاه جهان
څوک ځیولے[2] شی کوډ کښے　　سمندر بے پایان
سیلاب چا دے منع کړے　　په بندونو د شنو شکو
د قسمت په کور کښے نشته　　شمیر د ډیرو او دلږو
بادشاهی لښکرے اړے　　تل د وږو او د تږو
فقیری چه فقیری وی　　بادشاهی ترشه قربان
چا بند کړے دے پنجرو کښے　　دا ایلم د سر توتیان
چا سرور په لاس کینولے　　څوک مستی شی سو ځولے ؟

---

(۱) ایلم: د سوات په سیمو کی یوه هسکه غر دی. (۲) ځیولے: ځایولی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بهار ولولے څوک شی — څوک د پښتو لاندے کولے ؟
که لکونه ژوندی مړه کړی — ژوند څوک نه شی مړ کولے
چاد بوئینه منع کړے — شنه گلونه د ریحان ؟
چا بند کړی دی بلبل وکښے — دایلم د سر توتیان
بلبل ناست بندی پنجړ کښے — د سپرلی خوبونه وینی
په شپه شم زیر میدانونه — د نرگس گلونه وینی
سره گلاب مست او خندان — د لولو پرونه وینی
ولی (۱) ریبارته راشه یو سره — دا پیغام د غنی خان
څوک اچولے شی کوز وکښے — سمندر بے پایان ؟

سزا او جزا

هیڅ په پته دے پوه نه شو — د سزا او د جزا
تا ته یو دے لویه خدایه ! — هم خندا او ژړا
څوک بنیسته ځوانی کړی خاورے — په یو خیال باندے مین شی
څوک خمونه وینے وځنبی — چه په مال باندے مین شی
څوک غوته په رنگ او تال کښے — په یو خال باندے مین شی
څوک مدهوش په حق او نور — په هلال باندے مین شی

---

(۱) والی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخو؛ ستاسپوږمۍ هرچاته خاندی که زهری وی که بلا
هیڅ په پته دے پوه نه شوو دسزا او دجزا
څوک په پټو سترګو وب شی سمندر کښے دغرور
څوک په تخت لکه فرعون ناست دی خاندی په سرور
څوک په مخکه پروت ملنګ وی یا دوی قیصے دلوی
څوک په وینه مور خندانه څوک په مینه کښے رنګوی
روند قسمت دی فرق نے نه کړی دفرعون او دموسیٰ
هیڅ په پته دی پوه نه شوو دسزا او دجزا
عجیبه ده فرق نشته دغرور او د نیاز
عجیبه ده بیلتون نشته دیزید او د ایاز
عجیبه ده انعام یودی دتپوس او دشهباز
تا ته واره چغے یودی که دویروی که دساز
تا ته یودی لویه خدایه ! هم خندا او هم ژړا
هیڅ په پته دے پوه نه شوو دسزا او دجزا
یو خواسره ستر کے شاهین په پنجره کښے پروت ژړیږی
بلخوا زیرستر کے شغال په ځنګلو کښے لوغړیږی
یو خوا ننګ مینه او توره دروږ سوخاورے کیږی
بلخوا چل دهوکه دروغ راخوریږی زرغونیږی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آستا غتیے لاپے څه شوے؟ دقسمت اود سزا
تاته یو دے لویه خدایه؟ هم خندا او هم ژړا

ماتم

ذلخونه وے غم له جوړے ستا داستر دغم دکے
چاته بڑبره اړے دافسوس او ماتم دکے
په ژړا باندے چا نه دی، سرے مانئ آباد کړے
په ښیرو باندے چا نه دی، مړے پیرئ آزاد کړے

داستا کوتے د پولاد و تش دعازارئ له نه دی
داستا مټے دمړانے جوړے دے خوارئ له نه دی
داستا زور پښتو او توره، ستا دسرے وینے غوړ ځنګ
چه ښکلی سرے دیتیپ شی خو آښکاره دیر بد رنګ
پاڅه پاڅه چچه وکړه ستا دسرے وینے غوړ ځنګ
ته آفت ئے ته غضب ئے دسوړ تندر یو کوزار دے
ستا دالاس دقسمت لاس دے، ورانو جوړ ول دی کا
ستا په ستر کو کښے اجل دے، وکړل سوګل دوی کا
دزعون دکور په شانے داحصار خاوره ایرے کړه
دامغړه سر تس نس کړه داغرور دزړه دے کړه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاخه وبنیه دنیاته دپښتون دبچو ننګ
پاخه واوره شغل ته . دویستلو تورو شرنګ

پلوشه

زوره شومه زوره شومه مسلمان نه شومه
ارمانی دیر شومه
خو پښیمان نه شومه

شاعری

دسکرتو بیخ م وښکه سرم خوږ که په کړ ولو
دیر سرونه م رایاد کړه یو هم نه دی د یاد ولو
نه تپه شوه نه چاربیته نه غزل نه نیمکئ شوه
نه قصه شوه نه بدله نه ساقی شو نه کوکئ شوه
شاعری هم یارانه ده نه په زور نه په زارئ شی
نه په چل نه په هنر شی نه په مال نه په خوارئ شی
شاعری لکه باران دے کله تندر کړ زهر شی
ناکهانه داسے شرق شی چه صحرا هم سمندر شی
کله نرم نرم پشم پوست نازک نازک پښمین

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نسیم په شان مستانه
د مخمل هسے مهین
کله ښه د زړه شیبه شی
په اوږده صحرا وریږی
کله تور باران د ژمی
نه کمیږی نه ودریږی
کله شر د پشکال شی
چرته لمر چرته باران
عجیبه لکه د ژوند
څه خفه او څه خندان
کله داسے سوکړه راشی
باغ چمن شی کربلا
لا د خاورو وتی نه وی
چه بیا خاورے شی لالا
کاش چه وی زما په لاس کښے
د وریځو فر ښتے
ما به هر وخت ښکلے ښکلے
سپینے لړے راوستے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرما بنام بہ م جو رولو — پہ قبلہ دبودیٔ تال
هرہ ورخ بہ م ستایلو — دا شنا دزنے خال
ولے خہ وکړم جانانہ — واک دبل اختیار دبل دے
دا پہ تا مینے ستر کے — ددوی نور خمار دبل دے
دا چہ تہ پرے راتہ خاندے — دے سرہ شونا ودے جارشم
ددوی بنیست مستی دبل دٔ — ددوی سر سینکار دبل دے
(اوبس:) دادومرہ وآم بس دے — چہ نرہ ویم درتہ غزلے
تہ بنیستہ پہ پتو ست ترکو — راتہ کورے غلے غلے
چہ سات کړی مشغول شو — بیا بہ خو زما بلبلے:

مونږ لہ تورہ اوبزدہ شپہ دٔ
دی د ،ما دادیوے بلے

حیدر آباد جیل
۴۔ستمبر ۱۹۴۸ع

تک

مالہ قصدٔ دروغو تاتہ وخورہ قسم
بے وفا ژبے م ھسے تاتہ وے صنم صنم
ستا معصوموستر کو وکړ پہ تکئ باندے اتبار
لکہ ونیسی ماشوم چہ پہ خندا خندا بنا ما

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماچه ستا په سرو لبانو قسم وخوره ما بنام
د شرابو په نامه مې درکړ دک دخاورو جام

ستا معصومو سترګو نه وې لباسي سترګې لیدلے
ځکه زړه پکښې روښانه شوے مینے دیو بلے

زه وم غل د دوو څاڅکو تا د حسن د ریاب راکړ
ما په چل چونګ د کولو تا د مینے سیلاب راکړ

تا د خپل ایمان په زور، زه کافر کړم مسلمان
زما زړه کښې دے کړل خاورے د تګې همه بوتان

ستا د شونډو غلا له لاره وم خپل خیګر م پکښې بایله
د خواری او تګې جمع تول دفتر م پکښې بایله

جام م وړے ګیو کوت له دوب د ریاب کښې د سرور شوم
د منصور پینبو له لاره م لیونے شوم زه منصور شوم

لیونے نه زړګی یوور، نا زینو، موسکو شونډو
غلا له ته په ډاکه واورید زړه نے وچاوړ په منډو

حیدرآباد جیل
۱۲ ستمبر ۱۹۳۸ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړے وړے

یادم باندے کړے دے — خیال پخوم پلاو
ځان له سیخکی وریتوم — د زړه داور په تاو
ناست لکه منږک یم — جیلخانه کښے په دے ساو
څوک به تړی خدایه! — د قسمت د پیشو میاو
خلاص کړے نه په چل شو — لیونے اونه په داو
کډے په کاڑار کړ — نصیب بے موسمه لاو (۱)
کوره کشمیری ته — په پښتو کوی دباو

کال چه شی کونی، بغ
هم مرغی ونی (۲)، د تلاو

پلوشه

کعبه جوړ ابراهیم کړه — زه جوړ کړے یم الله
وایه څوک لوے شوا وچتمشو؟ — وایه وایه اے ملا!

(۱) لو. (۲) وهی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانوس

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه واخلی چه ماشوم

لکه واخلی چه ماشوم — ډک شکرے دسرو کلونو
خاندی چغے وئی غزنی ئے — پسے پسے پہ موجونو
دے پہ غاړه ورته خاندی — خرسیلاب ئے کلاب یوسی
نه پہ زور د سیلاب پوئیږی — نه پہ قدر د کلونو
دا سے ماداخپل جمدون[1] — دمستے سیلاب کښ لاهو که
پہ خپل لاس م ځان بندی که — دخو قسمه دوزخونو
لکه واخلی چه ماشوم — ډک تالے دسرو اوسپینو
پہ خندا خندا ئے نولی[*] — پہ کوخو پہ بازارونو
غله وائی واه واه د نرزویه — څه سخی ارسلاخان ئے
دے نه زور د دولت وینی — نه درد دونه دغمونو
دا سے ماداخپل جمدون — ژک[2] که خاورے که ایرے که
ځان م وتره پہ خپله — دغضب پہ رنځیرونو

(۱) جمدون اژوندون . (۲) ژک ، ژبک . (*) نولی = لوئی = شیندی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادا ژوند بیللے جنگ دے
او یا زه پهلوان نه یم
ماخو هیڅوک هم اونه لیدے
چه زوره ورشو په غمونو

زه لاویس نه وم د خوبه — چه زیرے مازیکرے شو
چه ئے زه په قدر پوئے شوم — کلزار تش وو د کلونو
اوس نه رنگ شته نه مستی شته — نه سیلاب شته نه کلونه
دیو خوب لیده وو تیر شو — ژوند شو دک د ارمانونو
باغ د کلوم تالا شو — دلالونو شکورم تش شو
دالا واوره ملاجان — کئ تنک تنک د حسابونو
وخت او ژوند د غنه تقدیر دے
دیو اوبئے بل له بوتلم
د اجمدون وو که یو دام وو
د اورونو د غمونو

(٥) کئ: کوی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقسیم

څوک لیونی شی — څوک لیونتوب شی
څوک شی په خوب ویده — څوک رنګین خوب شی
څوک احرام وتړی — مخ په قبله شی
څوک جلال واغوندی — پاکه کعبه شی
څوک مست بوراشی — مسته لوئی شی
څوک رنګینه نیاز بینه — دَ کل غوټئ شی
څوک یو دَ درد تصویر — دغم قصه شی
څوک ے په مینه مینه — په ننداره شی
یو څو ساعته د رنګ — دَ خنداتیر شی

اخر تیاره راشی
اووارهٔ هیر شی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا

قسمت مِ روند جولا دے ناست کړے (۱)، ته په آرام
د منو بلدو عجبه تنسته بُده روانه
د وخت ملکو چلیږی زر سپهی (۲)، به شی تمام
خبر نه یم داخه له او داخه جوړیُ زمانه
زه کر خمه چاپیره تپوسونه کوم مدام
د کل نه، د ساقی نه، د کتاب نه د ملانه
داخه له دے جوړ شوے دومره اوږد انتظام
داخه وی چه ژوند راوړی او مرګ یوسی د دُنیانه
دا نکه هسے رفتار دے که لری چرته مقام
تیارونه دا راغلے لا تیارو ته ده روانه
اوه! هغه دِ ولاړ دے په کلونو کښې خیام
وئی (۳) ژوند خاورے ایرد کے بے دمینے اوجانانه

---

(۱) د جولا د اوبدلو دستګاه.

(۲) سپهی. (۳) وئی: وائی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَے دردلرلی ژوندکښ بےخودی کښ دَے آرام
دظلم په دے اورکښ یو ساقی دے مهربانه
دامست بےخوده سر، نشه خوانی او دِ لارام
راواخله په شکرونوئے قبول که غنی خانه
خوهغه دے جمات کښ اوچت بانک اووَے امام
وئ دا دنیا بلا ده تښته تښته دَ بلانه
ساقی درته ډک کړے دے دسورانکا ژه جام
داسرے شونډے مے اوردے دَ دوزخ په لارروانه
دا ژوند دد نیا څه دے، لوبے توقے مسخرے دی
جنت کښ شرابونه، سپین غلمان حورے مستانه
سقراط وکړ آواز وے دَ دے تولو دے سرسام
هیچ تر رنا نشته بے دعقل دَ جهانه
په پوهه او په فکر کښ دے حُسن هم آرام
دانور دے درب نُور دآدم خاوره کښ ویرانه
داخره دی نه پوهیږی وائی وهم ته الهام
منطق او فلسفه ده چه پے کرانه شی آسانه
راځه روح له دِهم ماپوره کړے انتظام
که بُت وی او که ربّ څه بره آمنه دَ ځانه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو چا رچا پیره شور هر خوا ولاړ ؤ یوا مام
هر یو وے زه په سمه یم دانوردی تول په وړانه
یو یو ته ورنزدے شوم سنه م ولټول تمام
یو هم نه کړم آزاد د نخیرو نو د سودانه
مستی م کته داسے چه نه مے غواړی نه جام
هغوئی دیرو ډک، کونکا مرے جوړ ؤ زمانه
جانان م کته داسے چه م هوش واخلی تمام
هر ساز م د مستئی نه همه سوزم د ژړانه
دلبر م کته داسے چه وی تل رو نبان په بام
یو کل د رنا جوړ، خبر د مینے او ارمانه
یوازے ترے روان شوم زړنگی کښ م ماښام
نصیب نه کیله مند، په هوش جمدون باندے ستومانه
ورغلے م په ولی باندے لاس کمینو د خیام (۱)
وے په دے کوڅو کښ ځه تلے راغلے یم د چخوانه
د خاورو ده آدم آخر د خاورے دے مقام
هیڅ داسے علم نشته چه ژوند خلاص کړی د خزانه
د وخت هر لمحه ده هم شروع او هم انجام
د ژوند راز و نه مرگ کښ دی پټ شوی د انسانه

(۱) عمر خیام (۴۴۰-۴۴۱ - ۵۱۵ یا ۵۳۰ ه ق)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ئے سرشته نه لکئ یو دایره ده خُله دجام
رنا دتیارے تاوده او تیاره تاوَ دَ سرنانه
په خود کښې درد دے، او درد، بے خودئ کښې دے آرام
دے درد لرلی ژوند کښې یو ساقی دے مهربانه
دا مست مستانه سر، نشته خُوانی او دِل آرام
دَ دے به زیات څه درکړی، او زیات څه غواړے دَ چانه
چا پیره خیشت او رنګ تش دکتلو په انعام
په هر مټی دخاورے کښې زرګونه ګلستانه
یو څاڅکی کښې دژوند، دَ عقل، پوهے، کل سمام
رګونه دنیئ . بئ او دَ بابانه
دَ تال او ساز او شرنګ او غورزنګ بے میوخار
دا ښکلے لیونتوب دبے وجوده شان هوانه
دداسے هنرمند هنرله نشته دے تمام
قسم دَ جهانونه شته بنایسته دَ دَ جهانه
دنیش نه راروان شو شودِ دا نه کښې مقام
چه هر چرته دِ بیائی زه، ورځه ورله خندانه
او پرین ده جولاګے خپلے کډے ته په آرام
جوړئ دے، چه کم شے وی که وی کرانه که ارزانه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او چه دا تونه پوره شی، دا پنهسی(*) ئے شی تمام
نوخه په خندا یا ره دکدے نه د جولانه
چه تش یو یاد او هوش شے لکه بوی باغ کښ ما بنام
آزاد شے دد تورو زنخیرونو د دنیا نه
بیا بل جهان، او نوے هوش، او نوے مست خمار
او بل قسمه سرود نورو پردو کښ د ستار

(*) پنسی: سپنسی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیلهٔ

دکاڑغه خوله کړه ژبه دمار کړه
دَچرګی عقل کړه زړه د سیار کړه
مړے دسپی کړه چه ښه غپاړ کړه
ضد دکچر کړه غرور پرے بار کړه
ختمه د کلی ویران د ښار کړه
بیا چرته روند کولال یو یار کړه

تاله به نوے
لیلهٔ تیار کړه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوکه

لرے لرے پہ وږغو کښې یو سپینه خوکه ښکاري
خو په لاړه کښې دې غږ نه اورې دې غمونو
غلے غلے م رګونو کښې یو ښکلے آواز ولي
پکښې تور سوی سازونه، زیړ پاسنے ګډ کلونو
دو دو پټ پټ م ځیګر کښې یو ګمین ستا غږ بیږي
عجب ساز دخاموشئ دے لیونے نے کړم سرونو
او ماته ډیره لویه لاړه، دا زغود تیاره پاتے
خو چه دغه خوکه وینم اور م بل شي په رګونو
ډک دکلو کور م کورشي، هر کلاب راته پیغور شي
همه خیشت (*) دژوندګړي پټے تورے لرے غمونو
زړه م ولي چه پاڅه پاڅه غني خان پسے ملنګ کړه
دغه خوکه کښې پټ پروت دے ستا مطلب د مطلبونو

(*) خیشت: بنایست.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت

تکنه غرمه دلیونو دکرزیدو دے وخت
لره، تر مکئ (۱) ذ یار دستر کو دلیدو دے وخت
زیر ما زیکرے دژوند غمکینه شان نشه لری
تور شپه ژمی د اورولو اوریدو دے وخت
هغه ده سپوږمئ دونو څوکو کښې مسکئ شوله
پاڅیږ لالیه! اوس دباغ دگرزیدو دے وخت
لاړ ساقی بوده ماشو، خیام هم د بزمه پریوتو
اے دمستئ جامه دغه ستا دماتیدو دے وخت
مه کوره آینه کښې لیلے هسے به دِ وژړی (۲)
لاړه چه خوانی شی بیا هم وخت دژړیدو دے وخت

(۱) هریکئ: تر وړی. (۲) وژړی: وژړوی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرګ په ما مېنې شو، اوس ئې هر وخت سلام راځي
وئې مخ که یاره ماته اوس نه مونږ دلیدو وخت

مګر صبر او کړه لږ شان اورم په وجود کښې شته
ډیرم دی سوزولی اوس نه ما دَ سوزیدو وخت

هغه سے م سازلیونی، مست نظر مستولے شی
وینه کښې م اوروهی دول دګدیدو وخت

سوز او ساز چه لاړ شی، تشخاوره شم نور اشیار!
دَ به شم سینے له دغه وخت دَ ګوکیدو وخت

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وائی مُلاجان

وائی ملاجان چه پجنت کښې خوږې پېلې دی
غټې غټې . سپېنې سپېنې . مستې اوبرېندې دی
کوره بمباتې چه ئې خاله دلاړو دکه شوه
ښانګو کښې دخوږوتې . الحمدلله هو . کېه شوه
کوره دآشنا په بېړه لاړې راروانې شوې
تول شهوت شهوت . سرو راسوې شیطانې شوې
داوجود دخاورې . دې نه پاتې جنتونو کښې
دادخاورې کل مست وی دخاورې په کاونو کښې
خاوره به شی خاوره یو احساس اویاد به پاتې شی
سازسوره به لاړ شی خوشې تشې باد به پاتې شی
زه به خوږې خه کړم چه ئې غېږ کښې کینوې نشم
غټو مستو سترګو ته ئې په سرو سترګو کتې نشم

(۱) ورنوکی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او داوجود که بیاشی جوړ شهوت حورے شراب وی
مست مست هلکان چه به هم بنکلی هم خراب وی
کوره ملاکے ته دے چه لس ئے درله کیره کړی
ته به ورله کورے او هغه به درله تیره کړی
اولو نه دے راونیسی. لامور دلهٔ په مخه کړی
تول خیلخانه به دلهٔ کرمه کړی اوبخه کړی
دغه که جنت وی ملا رب دِ ورله بوخه زر
دغه دله توب نه زما زرخله دے غوښه سقر
یا خو وجود نه لری یو مست او رنګین خوب دے
حورے او غلمان دمینے خیشت اولیونتوب دے
یا داته چه وے که دار بنتیا ستا په کتاب کښ وی
تول غلمان به مره وی پښتانه به په عذاب کښ وی
تالا ملاجانه رب دِ درکړی جنتونه دیر
اوس پوه شوم چه وے دا او بهٔ دکوے موخونه دیر
زه به سور دوزخ له خپل غیرت او غرور یوسمه
ځان سره به خپله حیا. خیشت او سرور یوسمه
او روی که عذاب وی تیروم به ئے لکه خان
ته همسایه لاس شره دَ ښځے نه غلمان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

ژوند او ساز واړه د باد دی
ژوند هغه بوټه چه ساز وی
ساز هغه چه سا پکښې وی
سا هغه چه د نیاز وی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نرس

د درد مند د خوار خلقت — خدمت نه دے عبادت دے
لکه مور، رحم او مینه — دحوا اصلی فطرت دے
دا د مرګ سره جګړے — دا نر توب او شجاعت دے
دا د درد په اوږکښې رحم — او تیاروکښې سپین مشال
هر ژوندے د ښځے نرګے دے — هم ئے خیشت او هم کمال
که دنیا وړته سپک ګوری — دنیا څوک دی پیژندلی
د شګورو خروکاله دے — هر پولال ئے خاورے کړے
لور د خیشت او مور د ژوند — دے له رب پیدا حوا کړه
دا خو مونږ ته شاعرانو — یا ساقی یا دلربا کړه
د مغرب قچر تهذیب دا — یو مسته شان بلا کړه
نه ئے مور کړه نه ئے خوږ کړه — نے د دین نے د دنیا کړه

د حوا اصلی مقام
رحم مینه او خدمت دے
دا د مرګ سره جګړے
خدمت نه دے عبادت دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپه وه دسپرلی

شپه وه دسپرلی ژوند رپیدلو په کلونوکښ
تول جهان روښانه وو. وه تیاره زما خیالونوکښ

او ښکلی دسپوږمۍ رنا دمینے د آواز په شان
روح ئے د ژوندون نیوه د حُسن په دامونوکښ

حُه دَ ولے ولے په دریاب کښ روک لاهو وَمه
دوب په بے حسابه لاجوابه تپوسونوکښ

ماوے ژوندن شه دے، یو جنجال چه معنیٰ نه لری
بے مطلبه دهلرلے اورکښ او غمونوکښ

کور نشومه چمن. ته دلښتی غاړے ته لاړمه
خاشکی له دَ جوندم کته کور چله سینه ونوکښ

حُسن باغ کښ او خندل دهر سوال ئے جواب وکا
ژوند شو لکه ناوے دامید په سرو کلونوکښ

هغه سړے غُټے چه قسمت کښ ئے سپر دل نه وُو
غُټ شوے د بادلاړے خوړ شوے په بادونوکښ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر ذرې چغه کړه چه ژوند د روان دیوه نه دے
نه د غم قصه بنادی د اور په زنځیر ونوکښ

حسن دے بس حسن چه هم خدای او هم جانان دے
د فانی مکان کښ بل مثال د لامکان دے

یو د کلاب غځ کښ چه ښکاره کوم جوابو نه دی
نشته یو هم نشته د منطق په کتابونو کښ

مینه چه تالاشی یو امید شی یو ارمان شی تول
حسن په خلاشی تو رو لړو د غمونو کښ

ژوند او درد او غم همه کړی شی د زنځیر د نور
مرګ او قسمت روب شی په د رباب د خمارونو کښ

وخت بابا د تال دے، بے پایانه سمندر نه دے
تال د ساز ژوند وان دے، چه کدیږی په سرونو کښ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیمیاگر

راته ښکاری جوړ ناست — په آسمان کښې کیمیاگر دے
کاسه زر کانډی خاوري — کاڅاوري زر کوي
دیر کلونه نے راغونډ کړل — د جانان شونډې کړے جوړے
چه د دګلاب وخاوري — په کوم کل بدل کوي
د تقوی زر شپې کړې جمع
د عشق یو ساعت ترے جوړ کړې
څه به ناز غنی ته خانډې
چه دلبر دلبر کوي

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبُودے تال

داکم جانان له بابۍ جوړ ښکلے تال کښ
رنا بندی کړے څنګه درنګ په جال کښ
داخه له جوړ که چا . دَخه تصویر دے دا
خوب دَ یو خوب دَ دا . که ئے تعبیر دے دا
که دجنت ورچا لمحے له لرے که
که دوصال ارمان دَچا د لکیر دے دا
که مخ زما دخوانئے ، ارمان او خیال کښ
که امید ونه خاندی ، مخ دَجمال کښ
ښکلے دهوکه دَنظر وه ، په آسمان کښ سراب
که دَکتاب دَجمد ون . دِیو رنګین غونډ باب
دریاب درنګ ، که ثبوت ، چه رب مُبین دِ په خشت
. بشپړ صحرا کښ روان ، یو دَنور و نور ، دریاب

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که رنګ دَ یار دَ سترګو، دوبے پہ خیال کښ
که دا جانان مسکے شو، خوب دَ وِصال کښ
چرته نے تلے بلے باغ ته ما بنام کښ
څکی خپلے اوښکے کلاب دَ غم پہ جام کښ
پہ مراد مراد سترګو، وائی نصیب ته ولے
ولے کړے خیشت پیدا، ولے تمام کښ
ناوے خزان، خزان، دَ سپرلی شال کښ
رنګ او رنا بندیوان دَ وخت پہ جال کښ
زړه یم دیر سترے بلے دیر دَ جهانه سترے
دَ خوشحالو سکین، او دَ خفګانه سترے
دا سے سفر خدایا. نه نے پرا او نه دمه
دا هوش پہ بیرته واخله یمه دَ خدا سترے
بس تش خزان او خزان دَ ګل پہ خیال کښ
یو سور عقاب ګیر پروت دَ غم پہ چال کښ
دمه یو څاڅکے دَ رنګ، شومه نه ګل نه تصویر
لمحه خماره ورک شو. نشو دَ سترګو اسیر
یو ساز چه دام کښ دَ سُر دچار باب او نه نیو
یو خوب چه خوب پاتے شو، ژوندے او نه که تعبیر

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو لال بندی پہ سینے دکوتی لال کښ
یو بے قراره ځاځکے . سیند دکمال کښ
ماهم لښ پرېښ ده بودے ، دے خپل جهان ته
ستا د رنګونو ، خندا ، روڼ ګلستان ته
نږه به یو ځاځکے د رنګ ستا د دریابونو کښ شم
اور د آدم به وښیم ، زور د آسمان ته
پټ م که ، پټ م که ، لښ ، د رنا شال کښ
یوه تالنے راکه . د بودے تال کښ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساز

زه یومست شان لیونتوب یم — دهوا په اَس سوریږم
که یو رنګ دیار دستر ګو — شل رنګونه شم ګډیږم
دا زه څه له ولے جوړ شوم — خبر نه یم نه پوهیږم
ولے سوز شم، ولے ساز شم — یو آواز یم چه غږیږم
دَ زړه پټو تارخانوته — یو شغله یم چه کوزیږم
یو سُرور یم چه شرنګیږم — یو خمار یم چه مستیږم
چه په رګ رګ کښې دِ اور شم — یو لمبه یم چه رپیږم
دا زه نور یم چه پرقیږم — که سُرور یم چه سوریږم
حقیقت مِ نشته بادیم — مستول کوم هم مستیږم
په خندا کښې مِ ژړاده — په خفه ستر ګو خندیږم
وایا وایا لیونیه ! — ولے ژاړے چه ژړیږم
او چه پرق دا تن ولچوم — ستا په وینه کښې ګډیږم
دا زه تش د خیال دهوکه یم — که یو خیشت یم چه خوریږم
که یو مست د باد نیلے یم — په فکرونو کښې ځغلیږم
که تال او شرنګ نه جوړه — یو دُعا یم چه قبلیږم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناوی

اُف دنیا کے پلیتے — کنده دکند وبوتے
تہ یولمبہ نے دَ اور — درکښ غیرت سوزیږی
سرپیوب ، علم ، پښتہ — دوب او نازک خیالونہ
دَدے نہ ښہ څو چنده — حرام حلال مالونہ
بال بچے او دین او ایمان — پہ مال او ښیار ورکوی
دَ سرو بدل کښ والله — جانان دِلدار ورکوی
لوړ خاندان ښہ خصلت — دا هیڅ قیمت نہ لری
خیشته صورت دَ کلاب — چہ حبیب نے تش ګرځی څه وی
دلوُر دخوښے تپوس — وئی دا سپک کار دے
یوسپی نہ نے ناوی ورکی — خو سپے مالدار دے
دمه غریبه سپے ده — چہ پہ ښکاره چلیږی
دلته زرګونه دے — پہ سرو دولوکښ پټے
پہ مزکه مال او دولت — ښه پہ عزت ورکیږی
که پہ یونوت لاره — دمه ده دمه ده
دزرجریبو خرڅه — ترے پہ څه کمه ده
دانته تیر باسے څوک — پہ دَ سرو بریتوخان ؟

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماله دهوکه راکوے — که دهوکه کنے دخان ؟
مُلا دغت پتکی — او دبیرے بزیرے
کئ معربے غُتے — دَغور تالوخبرے
خان او جهان دَپاره — څه تماشه جوړه کړی
جُمات مُلا سپین ږیری — قصه دړنه جوړه کړی
لکه غوا خرڅه لیلیٰ — په شرنکا شرنک ورکوی
دے دَله توب له بریتو — دپښتو رنک ورکوی
بیا لاړشی گُټ کښ دکور — نوتونه او شماری
که زر پر دو کښ پټ شی — دَله منګاړه ښکاری
او دکلاب هسے لور — که دَسپی کوږ له لاړه
خیرے دچه ته مور شوے — که هغه ځور له لاړه
اے مصوره دَخیشت — اے دخوانے الله
اورے سلګئ دَناوے — پټه بوستن کښ ژړا
که وی خنزیر سره مال — ګل او جانان به اخلی
ستا شهیان فقیران — تش بیابان به اخلی
دا دله کان شو مونږه — که ستا قانون دے دا
دا زه چه ویم پښتوده (*) — او که جنون دے دا

اے مصوره دَخیشت

اے دخوانے خدایا!

(*) ویم وایم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسپتال

ستا دجهان کښې خدایا!
یو سرور غضب دی خواری

هر یو په زړو دے خوخ — دَ دوی رسول سامری
که وی دچا موتر — دَ ته لږ لوئے او ښکلے
دَ هغه پلار نیکه هم — شی ستانه ښه کنپلے
پورته به پوزه کړے دے — دک دغرور شاخیلے
داغل لومړ به غاپی — زهرے به ناست وی غلے

زړونه زور شو جوړ
شو ستا دملک بادشاه
که ئے وی دغه رفتار
ورانه دِ واله (*) دنیا

یا ئے که سمه جوړه — او یا ئے ورانه که
یادِ داخپل عاشقان — ورک دَ دُنیا نه که
دَ دوی یوه سودا ده — زمونږه نور غمونه

(*) واله : واحله .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښۍ او ښیارۍ مال

دَ لیونو ګلونه

ستا جمال تو نو کښې نن — دَ زړو سخې (*) دی ولاړ
په ممبرو نو ورته — خرمن شوی سپی دی ولاړ
ستا په نامه مولا — بل ته سجدے کوی
تا ته ئے لاس نیولے — بل ته اسرے کوی
ستا عاشقان مولا — اور کښې ترلی دی تول
ستا غریبان بادشاه — په ژوندون مړی دی تول

دغه دُعا قبوله کړه جانانه که
یا ئے که سمه جوړه اویا ورانه که

(*) سخی : خوسی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهید ډاکټر صاحب

(*)

(د مرګ په اوم کال)

دبهرام بابا بچیه ستا په وینه کښې مرتوب و
په ځیګر کښې دقام وینه یوسوراو دیولیونتوب و
داچه پښتون دعزت خوب و
هم بابا وے هم اشنا وے عجیبه دسرپیوب و
زرخلمی به تقربان که هم دامست دِ بابا توب و
پاک زړګے دِ دماشوم وتالونه دبتله چلونه
ننګ. پښتو. توره. غیرت وکاکاستا دباغ کلونه
دهر چا بد به ښل تا. زړه دریاب دِ دهمت و
په سوراو رکښې به خندل تا. دومره مست دِ شجاعت و
بادشاهی او ملګرے کښې، هغه خوښ هغه خصلت و
تخت غره تا کښې رانه وست. او ایرے دته دولت و
زور. زورنه د. اوردے اوردے. سوزه وی زړونه ملکونه
تادازور دخان غلام که، پے کول دِ خدمتونه
چه به زه دمخامخ شوم، لیونے اوپریشانه
په خپل خود په خپل احساس او په خپل ژوند باندے ستومانه

(*) د ډاکټر خان صاحب د باچا خان د مشر زوی د نوم بی عبدالجبار د (۱۹۰۳-۱۹۵۶ع)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا شنے ستر کے بہ مسکے شوے وبے وے پہلوانہ
بچے میخ کښ قرار نشتہ، دخپل دہ دخپلہ خانہ
دیو اورہ بلتہ دا نکے، سمندتہ دطوفانہ
بچے ستا سر کښ جوهر دی، تہ هیر جوړے دَ ځانہ
که هزار به دِ ژړل زړه، پټوه به دِ زمانہ
ماتہ تل مسکے کا کاوے، مینہ ناک او مهربانہ
نشتہ نہ به راپیدا شی، پښتنو کښ دا سے ترونہ
کاش چه تہ دلتہ کښ ناست وے ما بنکولول دِ قدمونہ
خوتالوے دربارلہ یوړل دَ خپل سوی زړه غمونہ
دَ ولمن دننگ جنگونہ، دپښتون دشان خوبونہ
اوچه کلہ راپه یاد شے، ستر کے ناوینہ م ژاړی
خوبنۍ زوے دارمان دے، تل ړک شوے جانان غواړی
که زه ژاړم ستا بچے یم، تول خواران دپسے ژاړی
ستا انصاف اونگ به ستائی، پښتون چرته چه ولاړی
کا کا زه به دِ څه وایم، داخوونی به تاریخونہ
تا پخپله وینہ ډک کړل، دپښتون ننگ تہ جامونہ
ستا دَ پاکے وینے څاڅکی، سره کاونہ، سره اوروونہ
دَ هر نر پښتون په زړه کښ دے یو اوردوهی توپونہ
ماراوړی تالہ نہ دی درامبیلو امیلونہ
دجنت بلبلان څه کئ د دُنیا دَ باغ ګلونہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروت یمه یوازے

پروت یمه یوازے، تورغمونه رانه تاو دی
هسے خو ظاهره، سره کلونه رانه تاو دی
کورنه دے جنت دے پکښ زر قسمه کلونه
هر خواته چه کورے په رنګونو کښ رنګونه دی
هر رو کی قالین کښ دایران دتلی شان قصه
هغه شان تازه داد دارا د باغ کلونه
زه په دے کښ ژاړم، آزارونه رانه تاؤ دی
پروت یمه یوازے، تورغمونه رانه تاؤ دی
لورم خاندان، د محمد زوجدی خانان
پلار م شین زمرے، د پښتنو یاد په جهان
پاک ښکلے اولاد لکه کلونه د ایران
مورئے داسے نره، پښتانه ورته حیران
زه په دے کښ سوزمه، اورونه رانه تاؤ دی
پروت یمه یوازے، تورغمونه رانه تاؤ دی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکه لویه خدایا ، دا احسان دے که سزا ده
ژاړمه ګلونو کښې داغه برخه زما ده
عیش دِ راله زهر که آرام راله بلا ده
رُوَد تیښتے نشته ، تیښته لا تور بلا ده
داسے د قسمت سره زنځیرونه راته تاوُدی
پروت یمه یوا زے ، تور غمونه راته تاوُدی
ولے دِ زه جور لکه مشال کړم ، ولے ولے
هله شی رنا چه م په سر لمبے وی بلے
وژنم که دا اور ، ګلزار او حسن شی خزلے
اور کښې کړیدل دی ، خدایه کوستا دَ کور مزلے
چار چاپیره تور دَ تیرو غرونه راته تاوُدی
داسے په ښکاره خو سره ګلونه راته تاوُدی
زه دَ خپل زړه خان آدم یم خکه دِ پیدا کړمه
زه که سل کیلے کوم که سل خله ژړا کړمه
یو ځا خکی د حُسن له به تول ژوندون تالا کړمه
هره ساه که اور کړے زه به لا ډیره رنا کړمه
یا به یو لیدلے خوب دِ هوش کښې را رشتیا کړمه
یا به ستا په در ، دا وریت اِحساس تالا ژوندکیږمه
بل څوک پے ستی کړه ، زه ایره شوم نه بلیږمه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دانډت

چه نه خوندلری نه جوش ، نه سرور او نه خمار
تش خمونه اغشتل وی ، د جنون او د دلدار
تش بے خونده کړو بے دے ، ډیرانونه د تنظیم
که هر جام کښې دغه شے وی جم کرم ځان له افیم
چه هر تګ نے شمکو روی ځئ ګډے کړے هر تال
هر یو خیال وئی تیند کونه ، نه ډلکی نه تګه چال
څه ضرور وو کجے خردے ، د عربو په سیال پریښود
د شاعر د خیال لیلئ له ، ډیره ستوګه کښې خال کیښود
دے وینانه خو چپ ښه وے ، ښکاریدے ښه او ښیا
ولے پوئے دِ که جهان چه ، ستا خمار وو کاڼی خار
ښه تکړه شه غږ وه نے ، تا ته ښکاری چه شرنګار
خو کاشکے ګنه ماته ، او بے سره دے هر تار

او والله که زه پے پوئے شوم
چه دانډت دے که ستار

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرثیه

حُسین

دا قیامت دے که معراج دے اوکه وبخ دکربلا؛
دی داشکو کښې سرے وینے که گلونه د لاله؛
سو خمار نه هر وکښې کله دے تر نه وکه ده پیالا (*)
څه په جوش وهته روان دے د مینو سر بالا
وے خپل عاشق ته اچے د سکر و توکر مالا
چاته وئے گلاب بچے دِ د رنه غوارم حلاله
چاته اور صلیب او دار کښے هم خلد شے هم وصال
چانه سه چانه گلونه، ژوند حسن او کمال
نن بادشاه د عاشقانو، در روان دے اے جانانه
شان دمینے د رته بنائی، توان دے د خاورے بے توانه
تول جهان تیاره کښې رپی. یو خوشے خی روښانه
کوره ستر کے نے حلیږی. په څه نوی نو مستانه
ستا منصور ورته پسخیږی. ستا عیسیٰ ورته حیرانه
دا د ده د درد لمبے دی. که د نور ستوری روښانه

(*) پیالا: پیاله۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو کلاب ځان له روان دے . تک تور سوی بیابان کښې

یوه سپینه شمع خاندی ، دیو قهر په طوفان کښې

ولے کم خواته روان یے ؟ اے حسینه ولے

کربلا نه ده بلا ده ، په دے شکو کښې څه کوره

ولے غم دِ لاخیشته کړے ، پستے ښکاره سترګے تو هے

زور او زر ، اقبال او بخت دے هم هماره هم سوره

یزید خان دِ دجهان نن ، انسان وبے او کمزوره

دَ انسان دشان مثال ښئ دے خرڅ شوی ګرک غلام ته ؟

دَ سبا دستوری تور ښئ دِ دژمنی تور ما بنام ته ؟

بره مه کوره حسینه ، نن ستا خدائے ستا جانان

نه ما دکئ نه پره کئ ستا دے وخت دَ امتحان

ستا اختیار او تقدیر یو شو په دِ وخ په دے دمکان

ستا دَ مینے مستی کوری ، زور دِ کوری دَ ایمان

اے دسرو کلابو خانګے ، نن ما بنام دے دَ خزان

دا کافر شکے تږے ، ستا دَ وینو په ارمان

څه ورځه زما جانانه ، ساقی لرے میخانه کړه

دَ سور او ور او سور خمارنه ، تالئے دکه پیمانه کړه

اے زما غمګینه یاره ، غم دمینے دے حصه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوردَ ساز خیشت اوخمار دے، دَیقین مور تلو سه
چاچه مو نتے دِ جانان خپل په آرام په دلاسه
نوم نشان ئے مکی روک کړل، وخت ئے روکه کړه قصه
چه دَ سر سره پئے داؤ کړی مستی حُسن ارمانونه
سُرور زر قسمه مستی شی، خمار زر رنگه نشه
کوره کوره اے حُسینه، کوره دغه دے عیسیٰ
دغه مست ملنگ منصور، او ابراهیم دربّ اشنا
یو په دار، یو داور میخ کښ حُسن ولید دَ دِلبر
بے گناه یو په صلیب شو، دا زغو تاج ئے په سر
ستا دپاره اے حُسینه، دغه سپین تیغ دشمر
هم ایمان دے هم نرتوب دے، هم قسمت دے هم باور
آدَ مینے بل مشاله، رڼا راغله دَ سحر
داد قهر طوفان راغے، که یزید سره لښکر
کوره کوره پاکه ربّه، عجیبه میدان دجنگ دے
یو خواه زور تورے صفونه، بل خواه تش حسین ننگ دے
یو خواه زور، غرور او حرص، قت پته او ځنگ په ځنگ دے
بل خوا یو مین ایمان دے، مستانه او په غوږ ځنگ دے
ربّه او کوره فرعون نن بیا موسیٰ سره په جنگ دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجیبه شین زمرے دے . هم بادشاه دے هم ملنگ دے
یو خواه ستر دی دکانو ، هر ضمیر خوری زنگ دے
بل خواه ورو کے خوار تو دے ، مری دتنگ پہ سا تنگ دے
دهر یو نظر کښ کوره ، نو توب خه چه لیو نتوب دے
د آدم دشان قیصره ، کلک یقین د سه تیوب دے
تول جهان توره تیاره ده . دوئی دنور لیدے خوب دے
جنگ پہ تاج کی نه په تخت ، جنگ پہ حق د سه تیوب دے
دلمغزه فرعون ناست دے ، که یو مست بر حیوان
یخ بے رحمه چمچمار ، چه چه شو پہ دیران
مری دتنگ وهی لتے . روکی روکی ماشومان
چار چاپیره تے ولاړ دی قطار و نه لښکریان
یو یو کل دتنگ ژړی ، د رسول د گلستان
او یزید ولاړ دے اودی ، داسلکی او هاسوان
دا بلا دکربلا و نیم لیوه او نیم شیطان
په دنیا کښ دی تیر شوی ، دیر بے رحمه بلا کان
داسی ظلم نه دے شوے ، نه به اوشی پہ جهان
د چینے پہ غاړه مړه شو ، تول د تنگ ماشومان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخر چغه کړه حسین، نر بچے زه د حیدر یم
څه که نن یم اوږے تږے، زه په اصل شیر ببر یم
راشه او کوره فرعونه د حیدر د وینے اور
لږ راو د انګه میدان ته، چه ښکاره کړو سړے زړے
خو یزید تے مشاته پټ شو، چار چاپیره جنګ شروع شو
کربلا په وینو رنګ شوه، بیابان ډک د ناروشو
دا د لسو او د زرو، جنګ خونه وی قتل عام وی
په لکها په زرو خرڅ، د خپل حرص هر یو غلام وی
د حسین ملګری واړه، په نر توب کښې حیدری وو
خو سیلاب د تورو روب کړه که سل ځله زمری وو
سړے تږے خو یو اوح حسین او کتل آسمان ته
وو علی مسکے ولاړ، نے کتل ښکته میدان ته
وے اے حسینه زمونږ وینه تل ډک د خدائے له بهیدلے
ستانیکه او بابا دوارو خو خو ځله بیولے
او ربس اوردے اے بچیه، چه پاکیږی پے فولاد
د شهید وینه مستیږی، تل په توره د جلاد
تول جهان تیر وکښ کیرو، خپل غیرت ایمان تے هیرو
چه بنده د بل بنده شی، دیر نسلونه کړی برباد

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زورم زهرم شراب دی ، دسې نه خان خطا کړی
دغرور مانځ وی دنګه ، خوکچه ئے وی بنیاد
د آدم نو سانو سوکښ نه بادشاه شته نه غلام
خپله خیته سرے سپے کړی ، سرپتوب ئے شی برباد
بل په مکر په فریب ، په دهوکه په چل ولونو
نیم لومبړ نیم زمرے وی ، په چل علم کښ اُستاد
دحم روک شی ، ظلم ډیر شی ، سرپتوب دسو هیر شی
یو سُور او ترِ نه چا پیر شی ، هر څوک چل عذاب کښ کیر شی
قانون مړ شی ، زور نا دشی ، نر تالا ، کیدړ دلیر شی
بے غیرته غیرتمن شی ، سپے غرمبیږی ببر شیر شی
زر شی زور دَ هر چا خان شی ، خوار غریب پړوند ستومان شی
بد خنزیر د هر چا پالا شی ، که خنزیر سره مال ډیر شی
وزیر غل ، امیر دا کوشی ، ایماندار په سینه لا هوشی
روغ به مړی یا به غل کیږی ، چه تول غله ترِ نه چا پیر شی
تول وطن یو تور ځنګل شی ، یو دَ بل په غوښه پاتی
ځنا ور ترِ امان غواړی ، چه انسان په کمه تیر شی
علم چل شی ، مذهب دام شی ، رنګ حلا لو کښ حرام شی
هر سبا لکه ما بنام شی ، ژوند په تور آفت کښ کیر شی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه وخت کښې د خدائے رحم، او رحمت په جوش کښې راشی
چرته غلے دچا کور کښې، یو حسین پکښې پیدا شی
چه دے منه کلک پهلوان شی، ورته جوړه کربلا شی
مرګ له نوی معنیٰ ورکړی، ژوند کښې نوی رنا راشی
آخر چرته په سپرلۍ کښې، پے باران او برقا راشی
ناګهانه وچ صحرا تول، سره کلونه دلاله شی
څه ورځه ورځه حسینه، په چپل بخت شکر ګذار شه
ستا شمر سره نیته ده، سپیلنے دَ مخ دَ یار شه
که رښتیا پے ته مین ئے، په خندا ورته تیار شه
اے په غم سوی کلابه، ورشه خمله په قرار شه
حسین اووے مرحبا، دا ارزانه ده سودا
کاش چه وے م په تنا، قط سرونه په زړها
او یو یو ورکولے ما، په زړ قسمه کربلا
دادے درغلم بابا، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه !
اے بادشاه دیزیدانو، اے مالکه دَ جهان
ستا تقدیر هسے یو اوردے، خی په مخه دے روان
کله وسیزی بے وجے، سپین کلونه ماشومان
کله تاج دسر و په سرکړی، کیدے ستر کی شرمنبان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَیزید پہ لوئے محل کښ ، دشرابو رود روان
د رسول ﷺ بچی دِ مړه کړه ، اوچے شونډے پہ میدان
دَیزید پہ سوړ پالنګ کښ ، پہ ژوندون حورے غلمان
د حُسینؓ جانان مړے دے ، او پالنګ ئے ریګستان
ظُلم ظلم دومره ظلم ، وران دِ نه کړو پے جهان
د حسینؓ پہ زنګدان کښ ، دیو کوټ او بوارمان
امتحان دِ کو دَ مینے ، د حُسینؓ څه امتحان
ولے زوے دَ حیدرؓ نه و ، شیر ببر مرد میدان
مکوه مکوه اے اجله داسرنه دَ دَ وژلو
د آدم شان او سینګار دے . تاپے اور اولګولو
مُتے خاورے ، داسے مسته دزهرئ پہ شان حلیږی
سترګے ئے داسے اورګئ لښکرونه تے تښتیږی
یو مثال د حریت دے ، د خپل زړه پہ زور بلیږی
پټ دَ زړه پہ تار خانو کښ یو سرور دے چه غږیږی
حُسین او کتل چا پیره ، اور شو ژوندۍ اور شو اور
دے بے حسه تور ملحول کښ هر ساه شرم پیغور
پہ دَ ظلم پہ دِ اور کښ یو ساعت ژوندون حرام دے
داد د علم مرګیه ، زور او صبر مِ تمام دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کربلا ذره ذره ستا، وئی به چغے تر قیامته
چه انسان به زور آورته په هیڅ شان سر نه کړی ښکته
غلامئ نه هر څه منه دی، دا چه تیر شو او تیر یږی
ربه دا ستا زمانه ده ژوند د مرګ په بیعه کیږی
په خپل ژوند کښې په هر چا به کربلا یوه جوړیږی
چه څوک حئ د جانان کورته په دا لاره به تیریږی
دا یو ستر غمګین سړی، لوګے کومه نے له تا نه
دا روستے مړاوے سوړګل دے د حیدر د ګلستانه
سر دو که لکه نر، شیر بچے د شیر بیر
نه د خیشت د ځوک ثانی شته نه د ورته برابر
اے بادشاه د شهیدانو. نړ خانه د نرانو
ستا مرګ هغه یاد تازه که چه هیر کړے هر انسانو
ستا د ژوند او د مرګ ټول، ماته او ښو کربلا کښې
څه د نګین سر ورد دا چه لا اله الا الله کښې
خکه کله کله زه اوس هم د شپے ژاړم
ستا د خیشت او نور کمال بیا په دنیا غواړم
کوم درته منت دعا، اے حسینه راشه
هر قدم شو کربلا، اے حسینه راشه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړ ؤمه په اورکښې ماوے اور زما قسمت
لمبے دَ قسمت نه وے، ولے لمبے زمادَ نیّت
نه ګل نه دُلبر یا منم، نه حُسن نه بهار
یوستا دَ ستر کو خیال منم لوستا دَ شونډو ست
نه بخت او نه کمال منم، نه تورہ نه جلال
یوستا دَ خندا راج منم، بے تاج بے سلطنت
نه چل او نه تدبیر منم، نه عقل نه تقدیر
یوزیر دَ سپرلی کل منم، ضامن دَ یار دَ پت

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپوږمۍ

اے لیونیه ساقی دلیونو د شراب
ستا جادوګره رڼا د خمارونو دریاب
نن م په سترګو کښې ستا سوري د غم ولیږ
د ارمانونو لړې خاموش ماتم ولیږ
یاده که هیره دِ ده خما خوانی لیونی
چه تا به سړلمبه کړه زما نشه د خوانی
ستا پلوشو به رانه آرام او خوب پټ که
یو بے قراره ارمان کښې به م هوش ړک که
چه را بنکاره به شوې ته لکه مسکی محبوبه
خما هر رګ به دِ که یو د جنون لمبه
بس یو ارمان یو درد سوز او خمار به شومه
هر سُر کښې اور او ژړا داسے ستار به شومه
یا به دِ داسے مست کړم یو سور انګا به شومه
یا به دِ راور و اُمید یو سپین ګلزار به شومه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خونن خفه غونګے ئے — زیره حیرانه شانے
ستر کے دِ مړاوے مړاوے — او پریشانه شانے
پټول جهان دِ که خور — مړاوے غمګین ایمان
لکه بے وسه مالیار — په تور ماښام دخزان
نن دِ رنا کښې هغه — رنګ او سرور نشته
هغه مستی دخوانئے — دخیشت غرور نشته
ستر کے دِ مړاوے مړاوے — خفه روانه وے
لکه زما دَ زړه — ستړے ستومانه وے
هغه جادو د څه شو — هغه شراب څه شو
هغه د اور لمبے — او سره ګلاب څه شو
زمارنګینه خوانی — خو وخت په غلا یوړه
خمار خوانے سړلاړ — مستی سودا یوړه
ما ځان باچا ګڼلو — دَ بل غلام او ختم
مایو دریاب ګڼه ځان — دَ خاورو جام او ختم
خوستا جادوګره رنا — دخمارونو دریاب
څه شو ستا دِ ک خمونه — دلیونتوب دَ شراب
بس هیڅ جواب نه کے — کم خواه ته ځے زمانه
ستر کے مسکے مسکے — مړاوے خفه حیرانه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوے بلا

کله کله را پیدا — شی یو دا رنګے بلا
ژبه ښکلے او پسته — سرے ډک دی د رڼا
هر یو سوال کښې ئے معنی — هر جواب ئے فلسفه
هر دلیل ئے ښه پوړ — پوئے په هره مسئله
فکر تیز او ښه روښان — علم خور لکه آسمان
د روند په عقل هر بیان — د منطق په تول پوره
دا په شکل فرشته — ده بلا توره بلا
زړه کښې قهر او تیاره — باهر[1] سپینه تجلے
دده هر خیشت او نیت — یا ورانے کے یا علت
دا سکرو[2] ټکه د نفرت — سوز ولو له پیدا
دده هر زور د کمال — هر لطیف او مهین خیال
بس یو جال او یو جنجال — ستا د خود او هوش پرکه
دده دا ښکلے گفتار — دے یو دام د ښکلی تار
دلو مبر هسے مګر — راګیرئ دے په رضا

(۱) باهر: بهر۔ (۲) سکرو ټکه: سکرونه۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوئے غازی مست پہ اسلام — لیونے پہ ننگ دَ قام
تاجوری دخان غلام — یا پہ زور یا پہ دھوکہ
پہ ھر چل پہ ھر ہ لار — دکمبنکاری اوتہ بنکاری
دغہ ستر کے دبنلمار — ستا دد پہ دپکنس اسرہ
سپین کمبت کنبز دَ جات — دی پراتہ لا اومنات
دا پہ شکل آدم ذات — پہ ھاوینہ اژدھا
دده دا شیرین گفتار — کفر کفر او انکار
پروت نے زرہ تہ دے زنار — دده موش توره لمبہ
دغہ علم دَ جھان — ورتہ بنودے شیطان
دَ دہ دارنکین بیان — او وے بسم اللہ
دغہ بنکلے سپین صورت — مقبرہ دہ دَ نفرت
دغہ پند او نصیحت — دی د زھر و پتا سہ
دا دلال دے دتیارو — دسکروتکو دسکارو
دغہ سپینو منارو کنبز — او رونہ دی زرھا
دا پہ شکل فرشتہ — دہ بلا توره بلا

ھم آفت دے ھم وبا
غنی خدائے دتے ساتہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغتۍ تپوس

غوښتې ماشومه کوکۍ — دکه دخیشت سینګاره
الله ته پورته کړله — خفه او بے قراره
وے اے دګلونو خدایه — اورے که نا اورے
وے کړے ما کلاب — او کلاب خاورے
ما بنام دباغ مالکه — لیلۍ په سیل راغله
وے واه دازیره غوښتې — پریکه ویښتوله زما
ما بنام ؤ ساز او محفل — ټول دخوانتې غوبل
یوازے ناست ؤ غنی — غمګین غمګین ئے کتل
لیلۍ ئے خواه له لاره — وے ستر کے دخه کوری
وازے دی ماته اشنا — بل خواه ، بل خه کوری
غنی دغمه دکے — ستر کے ورواړولے
هم هغه سوال ئے اوکه — چه (+) سار غوښتې وکړے
ستر کے روښانه لیلۍ — غاړه مسکۍ غونډے شوه
وے ددے سوالونو جواب — چرته مُنتلے (*) دے چا

(+) سار: سحر، سهار. (*) مُنتلے: موندلے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانانه بس دے دا — چه شته دے خیشت پدنیا
دعقل تور خنکل کښ — نه شته کلاب نه رنا
ستاد زرها سوالونو — رنګین جواب زه یم
چه به تا مستے جوړکه — هغه کلاب زه یم
دوے وے جهان — دالا جواب سوالونه
بس د رب شکر کوه — او بنکلوه کلونه
شکر اوباسه چه چا — خیشت او خوانی کړه جوړه
زرها شکرونه په دے — چه ئے فانی کړه جوړه
د زرو کالو لیلی — او سل کلیز جانان
د خوانئ خیشت دے دغه — چه ئے خلاصیږی شان
چه مستی خیشت شی خلاص — شکر چه شته مرګونه
شکر چه خاورے خوانی — تو کوی زیړ کلونه
دوے وے تپوس — ئے دمالیار او که
زه دیو سات سیلانئے — پوتے مسکے شه یار
جانانه کی (۵) خوانے کښ — خوند د مستئ اورونه
دے فلسفوله دِ شته — داپاتے تول عمرونه
راشه دِ سره شوند وکښ — سوز او سازونه دی
عجب رنګین خماری — د جوند (۶) رازونه دی

(۵) کی ه کوی. (۶) جوند ه ژوند.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

حساب کتاب

پہ ژړا ژړا مِ عمر پہ سجدو مونځونو تیر کہ
نتیجہ ئے بس مرګی یو، تور لحد را نہ چا پیر کہ
دقسمت او دَ تقدیر دِ څہ قانون لاړہ کو در شتہ؟
دخوانئے او رتہ مِ وُلے، بیاوے او سوزیدے ولے؟
لاس او خپے مِ دی تړلے، او وے شاپہ کی شکلہ شہ
هر انسان دِ دَ اتن تہ، زنځیرونو کښ بللے
دَ مسکو ستر کو جانانہ لرد خپوم کہ دا پرے
بیا مستی دخاورے کوړہ، او تو پوہ نہ دَ آدم
کلہ شرنګ دخواخوا کښ، کلہ زیرو او کلہ بم
دتقدیر کړئ کہ سستہ، بیا زما کدا تہ کوړہ
ستا دعرش پہ منارہ کښ، لیونئے خنداتہ کوړہ
چہ زہ مست شم پہ هواشم، او رشم تندہ شم، رنا شم
چہ یو ساز مست او سرشار شم، نور شم پرق شم، پہ خلا شم
روښان تور دمرګی سوری، برند ستر کے تکے تورے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو نظر راته راوړئ . یو نظر کښې روک تالاشم

دنیا نور مستی لاهوشی . مُتې خاوره دَ صحراشم

اے زما دَ زړه دنور . دوینا او دَ خیال ربّه

دَ خوانئے دسرور نکونو . دمستئے او جلال ربّه

اے چه زه جوړتش دخاورے بس دخاورے ومه سیال

ولے تاراکړه سازونه . او چلونه . او جمال

دانصاف دے مُتې خاوره . دخپل تخت پایوله یوسے

بیلئے درزمکے له راولے . هر سینکار بنایست تے یوسے

دلیلئ نه بنایست والے خوان بوډاکړے بوډاخاورے

نور دیر بنه دِ راروان دی . دُملاهغه چه واورے

مستی خیشت کمال مِ والے . خپل یو تور پښته پرے نبردے

زه دِ لوټ تالاکړم دلته . ته به تله کښې دِ څه بردے

دکلاب په شان خوانی دِ . راله خاورے کړه تباه کړه

ترهغه به مِ نچوړے . چه مرګ مِ واویلا کړه

دالبرژوند پوټے احساس دے مرګی له غلے غلے

چه آخر به رانه جوړ کړے . یو تو پکے شان دَ خزلے

حساب ؟ ستا به څه حساب وی . جناب را وسپړه روکړدِ

لوټ تالا . برباد دِ زه کړم . خو کمزورے دله پرے دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَزنے خال

په سپینو کوتو ایرے کړے پورتہ
په ښکلو سترګو په کښې تلاش کړے
لالونه کوږے تہ په ویران کښې
لیلیٰ داتہ ئے داچه مجنون دے
چه دے مرباغ کښې ګلونه کوږے
داستا مستی ده، اوستا جنون دے
زه؛ زه یم څه، ستا تخیل یم
ستا خوبونه، ستا ارمان یم
بے خودی زه ستا دَهوش یم
ستا چشمے له زه طوفان یم
چه ستا زړه مُین په نورشو
زه شوم شمع زه مثال شوم
چه تا ځان سرور له ورکه
نو زه ستا دزنے خال شوم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه ستا خود دَ ساز لیوال شو

زه سرور شوم زه بلال شوم

ته چه طمع دَ سبا شوے

زه سبا شوم زه هلال شوم

ته خفه چه دا یرو شوے

زه یو مست او روک جلال شوم

چه تلخان په عشق کښ ډوب که

زه مستی شوم او وصال شوم

ته چه وبږے دَ کمال شوے

زه همه کمال کمال شوم

چه تا یرہ(+) دَ تیغ وکړه

زه قلا شوم زه ډهال(*) شوم

چه ته وُبږے دَ دولت شوے

زه الماس شومه زه لال شوم

چه ته وُبږے دَ مستی شوے

زه منصور شوم زه بلال شوم

چه تا نیت دَ کتے وکه

کله دام شوم کله جال شوم

(*) ډهال = ډال. (+) یره. ویره

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه تا واغیستم جانانه
زه بنائست شوم زه کمال شوم
چه تاؤلیدم دلبره
زه هلال شوم زه مثال شوم
چه ستا زنه په کم لوړه
بس زه ستا د زنه خال شوم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتیارو غلام

ولے ماله دِ نور که په خواد اُور — دشغلو په بستر ولے خوب راځی
ولے ماله په جنګ کښې خوانی مستی — په آرام کښې فنا بلا اتوب راځی
ولے ماته دلرو په سُوری کښې — دجبدن وتوان خانشت نمایان شولو
ولے ماته هر کل مستانه او مست — په ما بنام، په ما بنام دخزان شولو
ولے شور دوجود نه ماساز شولو — ولے ماته ارمان خپل ایاز شولو
ولے ماته دژوند همه نور او رنګ — یا شکرے یا شاهین یا شهباز شولو
ولے ماله دژوند کل سوب ضرور — نه نیاز شولو نه انداز شولو
ولے ماته خانشت دهر سُرا وتال — دغمونو درد دونو آواز شولو
ولے ماله دِ نور که په خوا د اُور — ولے ولے شو سپین مرے دتور
ولے ژوند بس پیغام او مطلب دګور — زما سور کلاب شو غلام دَ اور
ولے ماله همه خوشحالی دژوند — یو تک تور بے مطلبه تصویر شولو
تش په خان په جهان پسے ژاړه — زما ساز مِ هم مرګ هم مِ ویر شولو
کمزوری دَ وجود او خیسکر زما — زما خود شو قسمت شو تقدیر شولو
او زما دَ تیارو تاریکو غلام — زما خان شو، امام شو او پیر شولو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما مینه دعوه دَ دې غوشوه — زما حُسن لیدل د راندو شولو
زما زړه شو غلام دَ وجود نها — نظر ونه بچې د لیدلو شو
تورې لرې . او لرې اولګې خوب — نه اُمید شولو نه ئې راز شولو
زما ژوند . یو سلګۍ د شکست شو — چه نه سوز شولو او نه ساز شولو
خپل ویجاړ ژوندون پسې ژاړمه — زما ژوند هم مړګې هم ئې ویر شولو
چه دَ عقل رنګ یو برق وکړه — هغه هم د تیرو یو تصویر شولو
ځکه ماله هر تال او سرود پرې سانګ — د غمونو د دردونو یو راز شولو
ځکه ماله دِ نور که په خوا دَ اور — ځکه ورځ م دَ شپې د ژوندآواز شولو
دَ ژوند هر شغله . شو لمبه د اور — هر اُمید . ارمان . یو دهوکه دَ ځان
زه غلام د تیارې په پنجره کښې پروت — کړیکې وام (*) چه زه نوریم دَ کل جهان
زه چیغې په ویران کښې غنزیږمه — رنګ ستر کې م رنګ دَ بهار نه وینې
زما وینه کښې اور دَ خواور دَ ویران — دَ یار ستر کو کښې مړاو خمار نه وینې
زه لوئې شوې صحرا او تیاره کښې یم — د غه شکو کښې ستوری هلال کم دے ؟
زه یو تور او او بنیار شان کونګټ یمه — شمع چتره . سپین د مثال کم دے ؟
دا اُمید . دا خیشت . یو دهوکه دَ ځان — ژوند تیاره ده او مړ سمندر دِ تور
زما سر کښې سپوږمۍ او کلونه شته
خو هر رنګ دِ تور . لکه کور . کور

۱۹۶۵ع

(*) وام : وهم .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یورپ

دَمغرب دَسوی زړه نه یوه سوے کوبکه وځی
جنګ دے دا سے درد وے اوس هم رپی اوس هم سوی
ماشومان کلونه بنکلی
امیدونه نیاز ولی
دسباخوبونه خاورے
پرونی سازونه غلی
دَیوبم په سُورانګارکښې تول ذره ذره هیره شی
داتورتم چه په چاتیرشی ورته تول جهان تیاره شی
ژوندیوتوقه بے مطلبه
ړک دَ دردهٔ دَغضبه
څه ثنا به دَرب واوُرے
په سرو تیلوکښې دَکبه
دارانده په بقوکوری ،لمبوسوے ئے نظر دے
دوئی بیاوُته راندهوئی ،اوچغرے پیغمبر دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر ما بنام مغرب راوړے. شپه راځی دَ ده دکوره
دَ مشرق رنګینے خاورے، تانه تل ختلے نمردے
پاڅه پاڅه راپیدا که یا یو بدهه یا مسیحانن
کنی لاره تیار و یوره دا ورنده شله دُنیا نن
ورته او وایه چه مرګ بس د ژوندون دلیل تول دِ
د ژوند سره کلاب پے بچ دی، مرګ که تو دِ از غوښتو دِ
که مرګ نه وے ژوند به نه وو هر ما شوم پے دَ پوهیږی
بند خکه په وړج پوه شی، چه ما بنام کښ تیاره کیږی
انسان نه ده تشه خاوره چه پخاوره کښ شی خاورے
ده کښ ساز یو ابدی دے که لږ چپ شے نه به واورے
ده کښ سوز ده کښ مستی دے، ده کښ مینه او خمار دے
دا به کم الحاد کښ بدے نه، ده له کسم قبر تیار دے
آغلامه پنجرے دَ تیاره کښ پروت، خان که هیر لږ چا پیژخواو کوره
دجانان دخایشت او دمینے نور، پهر خو بوسیژ خواو کوره
هره بانه کښ ژوند لازواله ژوند، هر کلاب کښ دریاب سرور دے
بدلیدل دَ ژوندَ دوام ده لاس کوره هره غوټی کوه لمور دے

۱۹۶۵ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے زما وطنہ

اے زما وطنہ دَ لالونو خزانے زما ستا مړه ګڼس دی د تورے نښانے زما

ستا سر چه وی تیت نو زه به شان و شوکت څه کړمه

ته چه خوار و زار ګرځے زه به مال او دولت څه کړمه

ته چه روان ویجاړ ګرځے زه به خواب او راحت څه کړمه

مستنه به دِ خاوره کړم په وینه مستانے زما اے زما وطنہ دَ لالونو خزانے زما

عقل مِ ایرے شه ستا د پاره دَ فکرونو نونه

ستر ګے مِ قربان شه ستا د پاره د سوچونو نونه

زار شمه قربان شم ستا د خاورو دَ کورونو نونه

ستا زړه ګڼس پرے دی تورے تلے زما زما اے زما وطنہ دَ لالونو خزانے زما

یا به دِ زه سیال کړمه وطنہ دَ جهان

یا به ستا په خپو ګڼس تورے خاورے کړم خپل ځان

ځان به درے ورے کړم خو تا به کړم وران

نریمه پښتونیم تا ته یاد ے افسانے زما اے زما وطنہ دَ لالونو خزانے زما

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنّت او دُنیا

چه مستی وی او خوانی وی او جانان وی او ډک جام
ډیر کلونه، لږ یاران، او غمکین غونډ ما ښام
عشق څه او روی او څه نور وی زړه لیږی لکه تنور وی
په ډک ژوند به زه ورزار کړم جنتونه ستا تمام
خودا کته په ډک وکړے چه هیڅ رنګ له قرار نشته
هر ساعت. هر رنګ ژوند. ستا دوخت کس غلام
او جنت کښ مُلا وائی وخت به وے زما غلام
دے چه روک شی او زه شته شم، تول به وران م شی تمام
چه زه تول عُمر زلیږیم. زلمے توب به یو عذاب شی
ځکه اوس راباندے گران دے، چه ئے خیشت شی زر تمام
تل سپوږمۍ دخوار لسمے، تل جانان دَ شپاړسمے
تل خوانی، سیند دشرابو، دا دوزخ دے که انعام
دے دنیا پسے به ژاړم. دا تیاره هلال به غواړم
هره ورځ به یادَ ومه. نرے لږه د ما ښام

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تمنگ دحورو وفادارو . بے وفا جانان به غواړم
ستا آدم په ذات ښکاری دے . د ښکار خوند کوی هر کام
د مستئ دسیند په غاړه ، ثوابی روژے به نیسم
اسویلی به کوم یا دوم به د ساقی نیمګړے جام
هر یو شے چه ابدی شی ، یو آفت شی یو عذاب شی
بس یو تاسره مزه کا دا ازل ، ابد ، دوام
بنډ نوے رنګ محل کښ نوے نوے جانان غواړی
بیابان کښ سره ګلونه . تور شپه . چراغان غواړی
تل تیاره کښ دے روکیږی . تل رڼا کښ هم رندیږی
دے بچے د تغیر دے . یو حالت کښ نه ټینګیږی
که ده ستا جنت له یوړه . دا فطرت او دا وجود
یو څو ورځو کښ به سوزی . په سره ستر کو به ړیږی
اے دلوئے فضل مالکه ، ماله دا دنیا جنت که
فارمولے دے آسانه . د درے تو کونه جوړیږی
لکه ویلی م دے سر کښ ، بس جانان خوانی او جام
چه زمالیونے سر پے ګله ګله مشغولیږی
او هغه بل د مرګه پس م ملاجان پسے خیرات که
تش د حورو په خوبونو که د خوار ګذاره کیږی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماله دلته یوه راکه غونډه . مسته ، تکه سپینه
مینه ناکه . سپینه شمع ، چه لمبے وهی بلیږی
شل رنګونه ئے نظر کښې ، شل مزاج په ځیګر کښې
د سپرلۍ هسے خویونه ، کله نمر کله وریږی
یو څرمنه کښې د ننه ، یو حرم د جینکو وی
کله مسته او سرشاره ، کله غلے شی شرمیږی
او زما دے ستری زړه کښې شل رنګونه او لمبه کړی
چه د اور هسے سوزیږی ، دلبتو هسے کډیږی
چه په یو بے تاب نظر م دا مست دا نشه کړی
میخانے وته حیرانے او ساقی وته پسغیږی
دهغے زړه بدل کښې ماله دلته یوه راکه
د ابد تولہ خوانی م ، دخوکالو[1] متخلا که
که دانه کئے اے جانانه ، سر بے خورد سبال که
نه م هغلته پکاردی ، نه م دلته کښې یادیږی
غټے غټے ، سپینے سپینے ، چه نه سوال نه منت غواړی
اوتے بیرتے ، اوبے ستړکے ، په بخملو به لغړیږی
رته ! اے جانانه رته ! دغه یو سوال خو منظور که
کنی لاره غنی د مرشو ، ور پسے ئے جنے[2] کیږی

(۱) متخلا = مشغولا . (۲) جنے : زنی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه او حسن

ستوری ته آسمان کښې یوه وړځ ووے ملال
خدائے آدم له مینه ورکړه مونږ له تش جمال
زه به په خندا ورکړم داخپل بنائست د کمال
ماله که یو څاڅکے مینه راکړی څوک په سوال
مینه حقیقت حسن سایه د حقیقت ده
حسن له زوال شته مینه نه لری زوال

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریدی کل

یوه وړځے یو صحرا کښې په ښکارو تے ووم روان
یو کلاب مې ولا رولید، پر قید ده خیشته خندان
زه خفه ئے خواله لاړم، ماوے، اه! زما په شان
ته هم کل ئے بد نصیبه، روک د زلفو د جانان
نه د چا نیاز بینے کوتے، نوم مخ له به دِ یو سی
نه به ښکل دِ کړی سړے شونډے دیا ړه نازک لبان
هغه غلے شان مسکے شوے خان مه کوه خفکان
زه به دا صحرا وړ نکړم، د ایران په گلستان
دلته زه یو او یکتا یم، هلته زړه زما په شان
چار چاپیره سپیرے خاورے، زه یواز یم رو ښان
دلته د تورو ریکستان کښې زه د رنگ او نور لمبه یم
د خانشت چپه نغمه یم، گرشمه د لامکان
ستا په باغ کښې په زړگونو، دی کلاب زما په شان
یو بے نومه سوړ د ریاب کښې یو بے نوم ځاځکے روان
ته دِ هم په خپل صحرا کښې خفه مه شے زما وړوره
آخر را به شی دیدن له دِ خوک سوے غنی خان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دُنیا

دا په خپل خودکښې دے دنیا ته کتل
گرانه ده، گرانه، ډیره گرانه ده
دلته شل قسمه دهوسان (*) گرځي
رنگ د شهباز کښې تیوسان گرځي

کیدو بویت د ببر شیرو اینبی
غږ مباکوی لکه شیران گرځي
څوک د غریب خوار لکه رنگ کښې
آدم خواره او شرمنان گرځي

یو غټ پټکے، سپینه هسا پلاس کښې
په اوږه ډبره کښې شیطان گرځي
زړه خو سینه کښې دی پټ، پټ پروت دی
نقشه ئے ستر گو کښې رو ښانه ده

دا په خپل خودکښې دے دنیا ته کتل
گرانه ده، گرانه، ډیره گرانه ده

(*) دهوسان = دیوسان.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو خواته کند کښې د ملنګ سامري
د فقیر نوم ئے سپک بدنام کړلو
د ملک کښې داسے وخت تیر شوے
بادشاه به سوال د خپل غلام کړلو

فقیري هیڅ جامه لباس نه لري
بادشاهي توري او الماس نه لري
دا خو یو نور د زړه په زړه کښې بل وي
د روح مستي وه، نه لباس نه چل وي

دغه بوبل چه جونګه جاړه شو
ښکاري د خورئے تاته دام کړلو
دا چه هو هو لکه کیدړ کوي
دا ذکر نه دے تاته ځان یاد وي

یزید د ناست په چغو چغو تاته
په کربلا کښې شهید ان یاد وي
که یوکه لس و ما به ښوے و تول
دغه شمار خو ښه آسانه وه

دا قسمه، قسمه پیژندل منتریان
ګرانه وه ګرانه، ډیره ګرانه وه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوګوره دغه دے یو صیب راغے
بریت ئے جنګ الکه قیصر نیولے
سترګے ئے دی د شاهین غوندے
څومره مغروره ئے د سر نیولے

د دیر شو زرو په موټر کښې ناست
څومره دولے ئے رائیو رنیولے
سوټ ئے د زرو روپو لاندے نه دے
شمله ئے نیغه ده په سر نیولے

دالندے سپے دے دګیدر بچے
هر دله توب ته ئے تیت سر نیولے
نه دے په لوړ نه دے په ښکته حیران
لوړے ښکاره ئے ښه ارزانه ده

دا قیصر شکله دلالان پیژندل
ګرانه ده. ګرانه، دیره ګرانه ده
دغه دے یو چه شمله نیغه لری
ګرمے خبرے په لاسو نو کوی

دوه غلچکی ورپسے روستو روان
ښتے خبرے د خونو نو کوی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه معززه اوږد کوټ تک تور
د مولانا تور ره قبا ښکاری
سپین ږیرے پر توک تور رو بوټانو سره
خیشته سپین ستوری د سبا ښکاری

دادِ بنیا[1] اټے[2] ے او ښکے ده
د پلار نیکه نوم او عزت خرڅوی
تا خرڅی، ما خرڅی، آشنا خرڅی
چه څه تے غوارے په دولت خرڅوی

دغه روڼ مخ، دغه بت شوے شمله
په تش دوکان کښ شان شوکت خرڅوی
څه چه تے غوارے، ښه داده په ورځه
دده سودا تول ارزانه ده

دغه چه سپین لکه کلونه ناست دی
دا د رنا ورځے د اکوان[3] دی تول
ژبے ئے تیزے، چلولی ستر کے
نیم ازمری، نیم لومبران دی تول

څه ښکلے ښکلے ئے مخونه او ښیار
بل د خبرو سپین قارغان دی تول

(۱) بنیا: نیل، مالګه پورته کے . (۲) اټے: دوکان . (۳) اکوان: داړه مار، داړه اچوونکے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوئی پہ خوږه خوږه کښې ماره کوی
دا نسبی پاخه ښکاریان دی تول
پښتنے څه دولی قبا پرته ده
مسکولبانو کښې بلا پرته ده

کړخی دنیا کښې پہ لکهاؤ تکان
هر یو دِ ځان له یو ښه اوږد داستان
که زه تول عمر کښینم، خلاص به نه کړم
دا تعارف دَ دے قلم پہ بیان

خو پہ انجیل کښې دی عیسیٰ لیکلی
دے دَ بنده دلید و یو امکان
ستر کے کړ کنے دی، دَ روح رنګ ښائی
ستر کو ته ستر کے همیشه ښائی ځان

دُعا کوه، وے خدایا لاؤم (*) نه کړی
خور پہ دنیا دَ دَ هوسئے دے طوفان
چه سمه دمه ده نو کرانه ده
او چه آسانه ده نو ورانه ده

(*) لاؤ: لاهور.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه آدم خاورو کښې کښېنې

سرېتوب چه لوړ اوچت شې لیونتوب شې
چه خودې دخوده وځې نوخمار شې

چه فولاد دوینې موړ په مینه مست شې
نو حیران او پریشان تار دستار شې

چه ترې عشق او جانان دواړه وخت فنا کړې
هله پوې سړې په شان دخان او یار شې

چه آدم خاورو کښې کښېنې څه زرغون کړې
منجیله چه په دولت شې نو ښا مار شې

ماته حورې غلمان مه څنډوه بس دے
په والله که بے له نام په چاکار شې

دا چه نن پکښې زه مست او مغرور کړځم
سبا خدائے خبر د چا به دا کلزار شې

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د مرګه نه یریږم په پښتون یم
خوم تش جمدون او خوشے مرګ ته قارشی
زړه کښې ډوب ګوسو د دریاب بهیږی
جوړ به کله د اُمید رنګین آبشارشی
داچې زړه ستا بے پروا نظر ته ګوری
کله کله به ژړا خکه شاه تارشی
ساز ژړا ده که مستی ده نه پوهیږم
هر آواز کښې کله سوز کله چغارشی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسمت

ملاجان وائی ازل کښے تالیکلے هر یو کار دے
یوله ستر کو کښے شفق دے بل له هسے کلیخار دے
ستا تقدیر هره لمحه کښ دهر یو وینته واکدار دے
یوله کل یوله دِلدار دے یوله او ریوله انکار دے
یو به تول عمر نالان وی، او بے تره پریشان وی
یو نیاز بین به په مخملو بل به پروت په بیابان وی
یو به تریخ دسپی غپار کا، بل خوږل به لکه مارکه
یو به ښکلے ښاپیرے وی، بل به باوُوی تورا بان وی (*)
مُلاجان وائی اے تَبه! دهر خون ته ذمه وارنے
دا تول ظلم تالیکلے، ستا دَ کوتو دا آزار دے
دا بے رحمه آفتونه، دا بے خایه رحمتونه
دحسینؑ په مرګ تورے، او یزید د ملک سردار دے
ملاجان وائی تا اینبے په آسمان کښ یو کتاب دے
چه هغے کښ تالیکلے هر آدم له هر یو کار دے

(*) توراں ریږچه د شهزاده بهرام په فولکلوري قصه کی یادښوی دی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوچه دا سے انتظام دے اے زما منصفه خدایه
ما نه څه له کے تپوس، نه مِ واک نه مِ اختیار دے
ما کښې دومره طاقت کم دے چه ستا لیک د ابدوران کړم
ته د زړو زورو خان ئے زه بے وسه خوار غلام
که زه خاندم که زه ژاړم، ستا یو ټکے نه بدلیږی
دا بتان دی ستا د کوتو، دا کفرونه ستا الهام
دا حساب کتاب به څنګ وی، دا تپوس جواب څه شی
هر کلاس چه دِ ما څکلے ستا د کوتو وُو اکرام
مُلا جان وائی ساقی هم د تقدیر د کوتو جور دے
مُلا جان وائی دا خیشت هم تا جور کړے دے تمام
نوچه زه د ساقی ستر کو ستا د کوره ځان له بوتلم
تا کړه سپینه راوچته په آسمان ماه کلفام
چا نه ښکیل کړمه په دام کښې د سرور او د رنا
چا کړه جام کښې راته کړه په شرابو کښې خندا
او هغه راته روښانه سپینه شمع بلیدله
زه جلبل لکه پتنګ شوم، د دے شمع په لمبه
دا به ته په کوم قانون کښې راکوے ماله سزا
تا آسمان کښې بره لیک کړه، او ما اوکړه په دنیا

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه اختیار نه وی جانانه څه گناه د چا گناه
راته ښکاری ملاجان چرته تلے دے خطا
که قانون وی که رواج وی که منطق که فلسفه
دا گنا خواے تقدیره تو له ستا راوخته
که اختیار وی گنهگاریم، که اختیار نی گناه کم دی
دا خو لاس دبری کار دے ته په هر څه کښ تکره
وایا وایا ملاجانه که اختیار راځی قسمت ځی
د قسمت سره دِ واړه آرامونه او راحت ځی
د تندی لیکلے روک شی، بس سړے دځان مالک شی
که په باغ کښ دِ آرام ځی، که په لار د مصیبت ځی
بیا کیدے شی حسابونه د جزا د ثوابونو
چه سړے په ښه په بده په خپل وس په طبیعت ځی
خو قصه چه د قسمت شی، ملاجانه زه بری شوم
تل به ځم په هغه لاره چه په کمه م قسمت ځی
زه موټر، هغه ډرائیور دے ځم په کمه چه م بیائی
که جات که میخانه وی که په سمه په صحرائی
که موټر کنده کښ پریوزی، نو گناه د موټر نه ده
دا چه هر قسمه سزائی د ډرائیور سره ښه ښائی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که گناه ده که ثواب دے ، زه په دوارو کښې بے وسه
مُلاجانه دا کتاب دِ خوخه برغے ژبے وائی
زه بے وسه گناه اوکړم ، بل بے وسه ثواب اوکړی
په دِ دوارو کښې به کم یو قسمت سور دوزخ له بیائی
زما بوتله خو سروپ جفاده دغه بل کښې لاخاے شته دِ
دے جهان کښې خو به ئے عمر ښه تیر کړے په خندا ئی
ما دیو بے واکه اوره بیائے بل بے واکه اوره ته
بیا دا سا خو یو غضب دے ، که دا بیعه ددے سائی
ستا کتاب په دے کښې خه وی لږم پوئے که ملاجانه
یا خو راشه گو د شروع که قلار کښې نه د آسمانه
یا خو تله ملا نه ده ، دَجهات کړه دینگرے ده
یا خو تاخه اکو بکو ایجاد کړی دی دَحُلانه
وران اوسم د بل دَلاس دی که ده وراته که ودانه
اور او دود او مناماران به چا پیره وی زمانه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرګ

ماتم ؤ د خانانو د میاګانو ډک کمونه
پخې پخې خبرې وې او کلک ئې دلیلونه
دتولو په نظر کښې یوه لړه یوا ارمان ؤ
روک شوې ترې منطق کښې ؤ د حسن امیدونه
د مرګه یې دل داسې چه ژوند ؤ ورته اوږد
غمرې دپلاونو ښکاریدې ورته قبرونه
د تولو سترګې وازې، لکه اسپې تریدلې
نغه خفه خبرې او پاسته ئې آوازونه
چه زه شوم ورښکاره یو یارم بل یا ته لګیا
لاله دیرې مرشم چه د مرګ مخ را ښکاره شی
چه فکر مې ورسانشی زړه م ولویږی خوریږی
د ژوند هر یو امید م دهیرو ذره ذره شی
یو تور غوندې ښا ما دروازه خلنا ست خرې علمونه
هر چا ته چه شوې په هر چا دده حمله شی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه خوان کوری نه زوړ د قصر او ورد هر څه سیزی
که فکر ورته وکړے ژوند یو توقه مسخره شی
او توقه هم بے رحمه، توقه نه ده سړے لمبه ده
داخه مطلب د ژوند شو چه نے خاورے خاتمه شی

وے وایه لاله وایه څه په پته خوم پوے که
په کم هنر به جوړه د ژوند ورانه ماشوره شی
که تا پکښ څه خوند مطلب لیدلے وی نو وایه
زمونږ په خیال خو ژوند یو ګرد وړو کاروان
کوتم بو دار بنستیا وے.. چه پیدا شوے نو تباشوے
دا داسے جواری ده. هر یو داو ده تا وان
یا لس کاله یا شل سړے په اوراقت کښ تیر کړی
آخر نے چرته تور و تار خانو ته کړی روان
دهغه خاخبرے قیاسونه دی دعوے دی
په عقل چه نے کورے خرافات هر یو بیان
لږ عیش، لږ خوانی، مال محبوبه، بس دغه وایه
بس یو خیام خبرو نور راندے دی شاعران
زما په خواکښ ناست یو لیونے و په خنداشو
وے واوره دا خبرے د باچا د دسترخان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وے دا ژبه دپیریانو. دَ دَ خاے دَ بیابان
دانشته په کتاب کښې دَ منطق اودَ امکان
نو تول ترینه راتاوشو بنه خیشته اوښیار مخونه
په ستر گو کښې تیرے وے خوتندی وُو روښانه.

وگرایه لیونیه خلق وئی ته مرگ ته خاندے
داد کښې دَ خندلو خه خبره ده آشنا
لږ مونږه هم خبر که کنه. یار چه په آرام شو
که تا چرته کښې پته وی مونږ تلے ماملہ

هغه پاڅید په سپین دیوال ئے سپینه کرښه راښکه
وے خان دغه جواب دِ درشتے دَ مرگ اوسا
هغوی چشمے کړے پاوے "والله که مونږ خه وینو
په سپین دیوال سپین خط چرته لیدے شی بابا

هغه وگه مرگے نوژوند به هم دغسے روک وُو
چه عقل دانسان کئ بس دَ فرق اندازه
چه سوے اوتیاره نه وی رنا نشی لیدلے
دروند نظر کښې تل وی یا تیاره اویا رنا

چه دواره پکښې راشی رنگ خانشت حُسن ترجوړشی
که مرگ نه وُ. دُنیا کښې خوک به خه پوهیده په سا؟

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تول حُسن د جمال د مرګ د تورو ستر ګو نورے
د دہ پہ تور جهان کښې تول رنګونہ د دنیا
که مرګ نہ وُ، ژوند به نہ وُ، که بلا وُ ښه به څه وُ
که تورہ بلا شپه نہ وے چا څه کاوُ سبا
راځه زما کلابه، ژوند او مرګ دواړه ته خانده
په دواړو کښې یو هم نه دے لایق ستا د ژړا
که خواه مخواه ژړا دے څې انسان ته، خان ته ژاړه
چه دغه په رښتیا، او که ګډا کے دے د ژړا
یو حُسن رب ورکړے دے چه ژوند له معنی ورکړی
او دے غریب تے خان ته جوړه کړے ده بلا
خزان که نه وُ، نو یو کلاب، یو ه میوه نه وه
که مرګ نه وُ جمال به یو رګ خوب وُ په دُنیا
که نه وے سمندر نه به جهاز نه به بیړۍ وه
که نه وے بلا توب خوانی به څه کوله چا
یو زهر دی خوانے له او مستے له اور نا له
د ژوند چینه د خضر چه یا دیږی په دنیا
انسان د ریدی کل دے، د ده کور د بیابان
بهار د ده خوانی ده، خو جمال دے د خزان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که یو منے خطا شو . شی به روک مرګلستان
او ډک شی هغه سات ګرده دهوګه د احساسه
کم شے چه ورته شی قایم . دانسم . او جاویدان
داژوند کښې چه څه خوند دے مرګ جوړ که پیدے په ځان
که مرګ نه وجود ون به ؤ . د روکو روک جهان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوآن

قسمته کښینه په آرام کښینه — سباله ولیکه چه څه دِ خوښ وی
دسپین سبا په مخ خالونه کیږدۍ — چرته اوچرته تورلالونه کیږ ده
تراخه برخورمه که تراخه دِ خوښ وی

خواوس م یارلږ مسکے شویدے — قسمته چپ شه ژوندۍ شه پرقرار
وخته دَ خدای دپاره ساواخله — دغه لمحه م که دَ کال مقدار
سباشوستاخونن که یار واکدار

تول ژوند دِستادایوبخرے زمونږ — تول ژوندم واخله خوداسات پریږ ده
نن دِ دفتر که بند اوستر کے پتے — قلم دِ ماته که داسے ماته پریږ ده
واوره . اوه . واوره . دوه خبرے زمونږ

په توره شپه کښ دغم خاخکی درنګ — پریږ ده چه رنګ پے تول جهان که مه زه
دَ خزان ستر کو کښ تصویر دَ کلاب — دمقبرے په مینځ کښ شرنګ درباب
جدن دَ خوانی قسمت م ستادی واخله
قسمته ماته دایوآن پریږ ده

سباله توره که تول جهان په تیرو — خودالمحه ماواوجانان پریږ ده
بس چه زه ولیکم دَ زړه په کتاب — دَ خزان ستر کو کښ تصویر دَ کلاب

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنګ

ښه دے په رنګونو کښې زړګیه دځوانے رنګ
مرګ او غم له ورکی دَ جمدن وجاودانے رنګ
هن هن په ممبر او محراب کښې بقبور کوی
یاد شو ملاجان ته دَ کوکے جمدانے رنګ
زیره شوه دَ شرمه دَ یبرس مسته بیبانه
وے لید چه دستر کو دخرے پاکستانے رنګ
سُرلنګے تے جوړ کړی چنچرک او قولنګی تے کم
توپ چه کله وُوئی په بُدا کښې دځوانے رنګ
وړے شونګے وخاندی په تش لاس شمله نیغه کی
کله چه شی پوره تهغنی خان کښې دَ خانے رنګ



داخوستا په دربار کښې قبلولوله
کله شین، کله سپین، کله تور شمه
داخوستا قدم په ارمان کښې زه
په ازغو دقالین په شان خور شمه
داخوتا ته خپل خان بنکاره کولوله
کله ساز کله رنګ کله او ر شمه
داخوزه دَ جمدن یو آواز یمه
خکه خکه یا شرنګ شم یا شور شمه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کډے وړے

جنګ ُو دسند کانو. چیند خوبی بی ئے یوره
ورانه په وروشی چه دَغمو شی جګړه
سرله دَغوندے ئے چه دَسیلاب چپه روانه شی
کندو . دنده وکوکښ په نیزو خوره کړی خړه
غم دسباکو ُ به سبا . نن دنن مزه واخله
خانده خوشحالیږه . وارا کاره غوره زیره

داخوبس دو عشق دے چه بخښل کړی بے غرضه
هسے څوک ناری کښ چاله نه ورکوی ګُره
هله به خبر شے چه دکندے مینځ له ورشے
ژاړے به محل کښ یادَوے به دِ جونګړه
بے سره سَردَغنَی نه دے دَخر شولو سر
خکه مدام سپوره خوری نصیب کښ نشته غوره

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصوّر

زړه یم ناست ځان له جانان یو تصور کښې جوړ ومه
کله ئې ستر کې تور ومه. کله ئې شونډې ښکلې ومه
زړه یم ناست د غم په هار کښې د ر نا بحرې پیمه
خُم د رنګ کښې لا خمار شته، زړه تې لپې ډکه ومه
د سخې کوتو د ځار شم، څنګه ښکلې ویش ډوکه
زړه یو ځاځکې خو ځیګر کښې د ریا بونه ګرزومه
زړا و زور او تخت د ډاغشت. خیشت. نظر او خیال د راکه
د سرور په سُور طوفان کښې د کړه ډوبه لوړې طمعه
دا یو غم د ویشه پاتې چرته پټ تیاره کښې ناست وُو
رو رو پټ م زړه له راغې لکه مار د ښکار په سمه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دکھرخه دِ رضایم دَ لالونو زرو خانه
غم خه، مرگ م هم قبول دِ په خندا ئے قبلوُمه
داخوتا اور اور کے یو دسرور ماته بښلے
ځکه زه دِ تور محل کښې خپل خوبونه بلوُمه
خلق وائی لا رُبدا شو، غنی خپلے مستئے وخوره
زه یم ناست دیارو یښتو کښې د نرگس گلونه بدمه
مرگه زه چرته ګرځیږه زه لا نه یمه اوزگار
خُم درنگ کښې لا خمار شته زه تے پیے دکه ومه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَسامری محل

شمع نشته دِ رڼا نشته — وجود شته خو سرور نشته
روتیدل او ترقیدل دی — لمبه نشته دِ اور نشته
عجیبه د رند و ښار دے — ستر کے شته خو لیدل نشته
دے کوڅه کښې دَ ملیانو — ښلنکونه دی جام نشته
دا مکه دَ سامری ده — خانان ډیر دی خیام نشته
یاد اکور وُو دَ منصور — دلته خاورو کښې مستی وه
دلته هوش یو مست جنون وُ — دلته مرګ څه وُ هستی وه
دلته حُسن دو حدت یو — دعاشق بت پرستی وه
عبادت دَ ستار سُرو — بندګی څه ده دوستی وه
یا خو دا تا تمام ژوند — هم آخر و هم تمام
دلته دا زما خو بونه — هم اَبد وُ هم دوام
اوس دا ښار په ورانید و دِ — جمات شته دِ امام نشته
هسے نوم شته دَ ګلونو — د باغونو سمام نشته
هاے افسوس چه جمدن وشتدِ — سُرسُرور د جمدون نشته
محل جور دے لیلیٰ ناسته — مجنون نشته مجنون نشته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے عجب دَ رنگ جهان کښ — سپین غاښ دی او تور نشته
روتیدل او ترقیدل دی — لمبه نشته دِ او رنشته
عجیبه لارمِ نیولی — نه پرانوشته نه مقام
نه جنون نه بے خودی ده — عجیبه زما مابنام
نه بنانست شته نه رناشته — عجیبه ساقی او جام
نه خندول نه مستول کړی — دا زما ماهِ گلفام
اوه زما په دِ جهان کښ — دَ رنا خوریدل نشته
ستر کے شته وازے لوتشے — دَ خوبونو لیدل نشته
دلته او گوره جانانه — ستا په غم مستیدل نشته
دلته او گوره دلبره — ستا د نور بلیدل نشته
دلته رنگ نه رنگینی شته — نه شراب شته نه خیام
دلته شهنگ او غوره رنگ نشته — تور او سپور او نسکور جام
دلته چغے دی دَ نن — نه سبا شته نه پرون
دا محل د سامری دے — نه منصور شته نه مجنون
دا جدون د تیرو دک دے — دلته رنگ د خیام نشته
دلته تول تشویش تشویش دے — اُمید مرد دے آرام نشته
دے تک تور دغم وطن کښ — او ربلیږی او ربل نشته

عجیبه دَ رندو بنار دے
ستر کے شته خو لیدل نشته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کډورے ځی په شا

چه زور په مخه وکړی سخته اوږدی ډګره
مازغه ولړ کډو د کړی خپل رقیب کاندی اوتړه
دلرے راشغله شی، توپ وچت وکړی په بره
یوتنده دځوانئ په زور دخپل طاقت نشته
کډورے ځی په شا

کډورے ځی په شا چه بل له اولکوی شا
کډورے ځی په شا

وی مرو خت هر شی ته په غصه دا سے پټار
په هر چا دده دق دے که وی مور او که وی خوار
بل رور خپل ورته ښکاری خاص د خپلے ښځے یار
خپل رور ته اور آفت پردی ته نه لری نشه
کډورے ځی په شا

یوتنده په خلوری، اور د زور، آفت د جنګ
په ځان دے نه په بل، لیونے کړے دے خپل ننګ
که ځاوی که بے ځاوی دے بس جنګ او جنګ او جنګ
غیرت یولا مثاله چه خپل جهل کښې نشته
کډورے ځی په شا

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلال

چه زه غواړم د هیرونه مستی سره کلونه جوړ کړم
د سرو اوښکونه تر شونډې ، د ژړا سرونه جوړ کړم
د خزان تیاره کړم روښه ، د امید په سمندر کښې
د کنجکونه لالونه د غلو پلونه جوړ کړم
چه دا روح م په ښکارا وځي ، د رنګونو د خوبونو
که نور نه وي د تیروزه رنګینې نورونه جوړ کړم
چه د خیشت شم زه لیوالې ، د صحرا هره ذره کښې
په زړهاو بوستانونه ، په لکهاګلونه جوړ کړم
چه زه وږې د ارمان شم د سپرلۍ په سپین سبا کښې
بې حسابه ماښامونه ، بې پایان غمونه جوړ کړم
تورا او سپین زما د سترګو ، کله تول کله تلل دی
شپه او ورځ زما نظر دی ، ورکول دی او مونډل دی
که خندا ده که ژړا ده ، دا ځګر مشغولول دی
که وصال دی که فراق دی ، خپل سر و تر کړ یدل دی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه زه مست شم د دیران سره خیشته کلونه جوړ کړم
د سرو اوښکو نه سرې شونډې د جرا سرونه جوړ کړم
چه زه نیت د کټې او کړم د پریوتې د شکست نه
د فاتح د ستر کو کبر او د شونډو غرور جوړ کړم
دا چه زه ځان له یو تخت د رنګین بادنه ودان کړم
د غلام خواری بدله د پادشاه په رنګ سرور کړم

دا چه ته ئې اے جانانه، دا چه ستا مستی رنګا ده
دا زما مینه ارمان دے، دا زما ژړا خندا ده
د ملا خبرے خوشے، ما ملا ستا او زما ده
دا داستان دلوکے نه دے، دا قصه د عشق او ساده
دے زما سرور کښې پټ راز ستا د حسن او کمال دے
دا زما کمزورے ستر کے ستا د خیشت جاه و جلال دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا زمونږ غونډې
د ګوکمه لار؟

خوش نصیبه خوش قسمته وے منصوره
خلقو جوړ که د ړله دا رخه مزیدار
ما راوړے دے زړګی کښې له ازله
هم منصور هم سرور او هم دار
وایا وایا د رندانو بابا وایا
دا زمونږ غونډې د ګوکمه لار؟

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما محترم رور سردار علی خان

(امیر جماعت اسلامی) ته

داچه ته په سجدهٔ پریوزے اوزه ډک دَمیو جام کړم
دام زه غواړم فرار. داهسم ته غواړے فرار
ته لټے هغه جهان کښې حورے سپینے ګل اندامے
زه جنّت دلته لټومه. نشم کولے انتظار
تا په قرض جهان ورکه. زه ترے نغدهٔ سودا غواړم
داته ښه شوے په بیو پار کښې. که ما ښه اوکه بیو پار
شیخه راشه میخانے ته. چه مقصد زمونږ ډیودے
ستا د مرګه پس قرار. زما دلته کښې قرار
نور دسوال مقام مویوړے. دژړا خاموشه یک دے
یوارمان ددوارو زړه کښې کی جدا جدا اظهار
پتنګان دَیوے شمعے. که بینا دے که شمکور دے
داخو ځکه ده حاجی صیب. لیونے دے دَ زړه یار

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بینوا ته خط

بینوا په هشنغر کښې ستا یو رور دلته اوسیږی (*)
بېرسرے، پټے سترگے، پټ پټ شونډو کښې مسیږی
ستا قلم چه نولی او ښکے دهغه سترگے ډکیږی
تا چه خپل درد په ژړا کړی، هغه دلته کښې ژړیږی
دلته ناست په هشنغر کښې ستا یو یار دے په رښتیا
په خانانو کښې یو خان خو، ستا په شان دے بینوا
خلق وائی لیونے دے عجیبه کوی کارونه
سره او سپین دځان ولی چرته کوری زیړ کلونه
دشرابو جام په لاس کښې اوږده وائی حدیثونه
کله غواړی په مسجد وکښې دَ الله نه شرابونه
تول بے توله شان تلل کړی دمرگی او دَ دُنیا
وائی که سترگے دمرگ نه وے ژوند به نه لید لوچا
چه ښه روغ وی چرته جمع دے به ناست پکښې حیران وی
خپل غمونونه بے غمه، او پر دوته پریشان وی

(*) دهشنغر یو کلی اتمانزی دی، چه دخان عبدالغنی خان تاهنوبه دی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غرمه کښې به یواز ے چرته شرو کښې روان وی
د ملا د ذات دښمن د ے، د پیر خواره وتړه د مان وی
مات تو پک د منطق واخلی نښه ولی پرے د سا
عجیبه ورانے خبرے، مرچکی سره حلوا
ستا په شان د ده زړګے هم د هر خوار سره خوږ یږی
په وجود ے ځرمن نشته په بخرې اور سوزیږی
زړه ے ډک د میوجام د ے که لږ رقی نو تو ییږی
تنبه ے وینه ے اوږ ے په لږ تاؤ سره لمبه کیږی
ستا د هر تنګ سره هنګ کی یو ستار د ے بے بها
ته د نوی قندهار د ے د زور (۱) د ے باشنده
ستا د هر سر سره رپی، یو شاتار ستا د رباب د ے
نیم اوښیار نیم لیونے د ے، مراد شو شان کلاب د ے
ازغی د پیر شو خائشت کم شو، وائے د اسے انقلاب د ے
زه طوفان یم سمندر یم، په د ځه که ژوند حباب د ے
زما خاوره کښې د پیر نور شته، تشه نه لری د اسا
زه غرور، ننګ او سرور یم، سره رنګینه م ژړا
ته چه کم رنګ کښې غوبه شے د ے هم هغه رنګ کښې رنګ شی
ته چه مست یا تن ورشے، د ے کنګروشی په شرنګ شرنګ شی

(۱) د وادی پیښور زوړ نوم قندهار و ګڼلے یا د وفی بانډ د خان مطلب قندهار نه، بلکه قندهار ولی۔ (مدون)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تہ چہ غم فریاد شروع کړے ، دے بے خوږ اکه ځنګ شی
تہ چہ توره کړے راپورته ، دے یو سر نر توب په جنګ شی
بل دده په شان به کم خاځان له رورکړے راپیدا
یارانے له داسے یار ، داسے بل دَ زړه آشنا
ستا په زړه کښې چه کوم نور دے ، ما کښې هم هغه ځلیږی
ستا دَ زړه چینه درحم ، دلته رود دے چه بهیږی
تہ چه وینے کم خوبونه ، زما ستر کو کښې غړیږی
تہ چه زانګے په کم تال ، په هغے غنی زنګیږی

بینوا په هنګر کښې ستا یو رورد لته اوسیږی
بیرسے پتے ستر کے ، خان ته خاندی اوژړیږی
کله تنګ کله تکور شی ، کله ساز کله ژړا
کله وو دو کښې لړلی ، غیر تو نه فلسفه
دیر خیزونه رَب ورکړی چه بنا دیږی پے دنیا
چه څه غواړی هغه نشته ستا په شان دے بینوا (*)

(*) مراد د پښتو ژبے لوی لیکوال او شاعر مرحوم استاد عبدالرؤف بینوا (۱۳۶۳ هـ ش) دے چه پښتو ژبے ته یے پنځه اوږدے کی د برخښنی دی ، او هغه ګټاوری هم ښه نوره دے په علمی کیدو او علمی کیدو کی یے پیله شوی ، استاد عبدالرؤف بینوا (خدائے یے وبخښی) تر څو سو ریات مستقل آثار او لیکنے نریدلے مونږ ته پریښی دی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

هوش دِ د علمونو نه جدا جدا روان شو
خدایه ولیونیه جوړے سم لیونے کیږے
مرګ کښې د ښکارې راته جمدون یو جاودان شو
زه ورپورے خاندم دنیا، ته ورته ژړیږے

پلوشه

نن رباپی د خیال دنیا جوړے بدله ده
نوے دِ مضراب دِ نوے لاره کښې غږیږے
هغه دِ رباب هغه پردے خو نن ئے شان دبل
دا دګډ تال دِ، یاره پاخه که ګډیږے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نقاب

داچه زه ځان لیونے کړم، دا زه تنګ شمه د ځانه
شیخ بابا ته لګیا دے. مسئلے کئ د عذاب
زه خو دلته په عذاب یم. ددے خپل خوداواحساس
ځکه کله په سجده شم، کله او ځکمه (*) شراب
چه بے حسه شم روکیږم، چه احساس لرم سوزیږم
نه طاقت شته د سکون او نه همت د اضطراب
چه چاپیره نظر اوکړم، همه پت او سنګار زه یم
دا شراب دے ماجور کړے، ماجور کړے دا حراب
مذهب خه دے خو رسمونه، مسئلے او منطقونه
او د هغے سوال جواب دے چه ئے نشته دے جواب

(*) د ځکم، د چښم.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانان تش د عاشق مینه ، د خپل زړه وینه ختمل دی
چه د یرو بڼ شو مجنون ، ځان ئې که ځان له کباب
رباب خه دے مرګ ورے او د توت او چه تنه ده
خو چه سوز د آدم راشی هله هنګ وکړی رباب
کله نو کله رنا شی ، کله غم شی او ژړا شی
دا ځیګر د رباب دے ، چه هم جام شی هم شراب
خو دا زړه م راته وائی ، دا هلوکی م کو نیږی
چه آخر به څوک او چت کړی د جانان د مخ نقاب

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختر

غنی او خوږ دا سے غم — نه دار ولری نه دم
کل جمان دِ ستر کے ستر کے — نشته ستر کے د صنم
خلق وئی اختر اختر دے — ماته ښکاری محرّم
چار چاپیره ساز او شرنګ دے — ماله سوز ژړا او غم
چه جمدون په کمید وشو — شو هر څیز و رسره کم
د شهوت نه وحشت لاړ — د نیکئے سرور شو کم
د ګناه نه مزه لاړه — پیکه خوله شوه د صنم
نه په بام دلیلی مست شوم — نه سایه کښ د حرم
خلق وائی اختر اختر دے
ماته ښکاری محرم

اختر خوستر کے د ودّ دِ دلبر وی — مسکے مسکے شان پکښ نظر وی
ایمان چه زړه یو ړک د رنا وی — مرحبا کعبه وی مرحبا کوثر وی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواږه د شعر همه احساس دی — چه خیګر تش دی تش د اثر دی
حُسن خو مستر کو کښې د عاشق دی — رنا د ځوی روښان د لبر دی
رنګین کلونه، مشکې صحرا شی — تش د رنګو نو چه د چا سر دی
جمدون یو اور شی تو ره بلا شی — چه بې سره ږغ مانګر دی
جانان په څنګ کښې خمار په ستر کو — د وصال هر وخت اختر اختر دی
خو نه د لدار هسته او نه خما هسته — د دا ژوند به ښه سفر دی
لاړ بدا شو جور غنی خانه — د خوا ئې تاو د آخر قرار شو

د رنګینئ وار د لا ړ لو تیر شو
تره سامان د اوس به سفر دی
زه نه یر یږم د سفر و نو
د جمدون هره لمحه سفر دی
خوږ روی م د اشوم قسمت خپل
چه یا سبا وی یا مانګر دی
ځوانی مستی م چه کم خوا لا ړه
ور پسې خدا یږ د هم هاتحمه
لاړ د عدم وی که د تور تم وی
که تور غمونه که سور سفر دی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تپوس کہ جواب

وایا وایا ملاجانہ ژوند تپوس دِ کہ جواب
ژوند وصال دے کہ جنون دے کہ آرام کہ اضطراب
ژوند امام دے کہ کلفام دے کہ ممبر دے کہ محراب
کہ یو مست غوندے جھان کښ رنگین خوب دے دَ سراب
کہ لمحہ دنور کتل دی
دَ دے تور تاریک جھانہ
ژوند تپوس دے کہ جواب دے
وایا وایا ملاجانہ

ژوند فرعون دے او غرور دے کہ جنون دے او سرور دے
دَ نمرود دَ زرو تخت دے کہ رنگین مرگ دَ منصور دے
دا حسینؓ مُسکے مُسکے دے کہ یزید مست پہ غرور دے
دا بھار دے، کہ گلاب دے، لږ پټ شو دخزانہ
ژوند تپوس دے کہ جواب دے، وایا وایا ملاجانہ
ژوند یو مست دَ میو جام دے کہ یو مات دَ غم کچکول

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونے مخ د خیام دے — که اوبنیار مخ د بهلول
یو رنګین باغ د ګلونو — که د اورد د ازغو شپول

که یو تینبته او فرار دے
تبتیدل دی له خپل ځانه
ژوند تپوس دے که جواب دے
وایا وایا ملاجانه

ژوند یو خیشت دے چه خوریږی — که جمال چه خاورے کیږی
داساز خپل مرګ ته کړی ساندے (*) — که یو اورد چه بلیږی
د دے تلو، مقام، دمه شته — که دمسا نه سا تبتیږی
منکوتی که د ارت دی — څه دکیږی څه تشیږی

که یو نورد چه خوریږی
ناخبره د خپل شانه
ژوند تپوس دے که جواب دے
وایا وایا ملاجانه

(*) ساندے: دمرګی ستاینے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تلے مرگ

پہ لکھا کالہ اوده وی — یو ساعت له را بیدار شی
څو لکھا به نور او ده وی — چه روان د مرگ په لار شی
شاته تور یو سمندر دے — مخکښ لا تور بلا ده
مینځ کښ یو د شبنم څاڅکے — په غور ځنګ لکه آبشار شی
دَ آدم زړه د کتو دے — د ده تور د دریابی ده
دَ آسے تلو دا سے راتلو کښ — دے لے خوږ شی خمار شی
وُو پکار چه ساعت ګرځوندے — په ژړا ژړا تیر ولے
که دے ډیر په لیلیٰ مست شی — خو آخر به دَ مرگ یار شی
نه په تلی مرگ ستومان یم — نه راتلو نکی نه یرېږم
زه به تل د غسے خاندم — که په اور شی که په دار شی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتے پاتے دقصے شوے — دَدوزخ دَ حسا بو نو
دغه شے دَ ملاجان دے — زه خوستا دَ مینے یار
اوکه وے چه سوزه، سوزم — عشق کښې نشته انکار ونه
زه څه شیخ مُلا خو نه یم — چه نه کار کوم نه انکار
خودَ سولو دره نه یم — ساهو څانګه دشاتوت یم
رانه جوړکه یو دنګین — او اونګین غونډ ستار
که یو تنګ وی که زر تنګه — منبه په سُر کښې به غږیږم
یو قطره ستا دَ دریاب — یو ښکا او ستا دَ خمار
اے زما دستر کو توره — دایوه خو پکښې واوره
دلته سوے یمه دیر — نور مِ پریږده په قلار

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لټون

غرمه دَ اوړی
لکه شپه دَ ژمی
یو خاموشی
او قلاره ے خوږ دے
دکور کور کوکو کو
او چپ چاپ عالم هو
وخت خپه نیولے
په رکاب سور دے
دُنیا دِ خپل زړګی ته غوږ نیولے
دَ مرګ او ژوند حساب کتاب اوری
فضا کښې کدیو مسکے توب شان دِ
لکه په خوب کښې څوک رباب اوری
او زه یواځے
په خیالونو کښې ډوب

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَخپل ارمان
تلاش کښې کړځمه
یو روک

مجبوره
مسافر

یم روان
په مزکه پروت
په آسمان کړځمه
مادِهم خپل زړګی ته غوږ نیولے
دژوند څه وجه څه ناب لټوم
دردله او مرګ له څه سوب* کوم
ابد کښې خپل دهوش حباب لټوم
دَ ولے ولے
په دریاب کښې روک
جام کښې شراب
او په شرابو کښې
په سُور کتاب کښې
دجمات دتاخ

(*) سوب: سبب.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه مرگ اوژوندله
یوتروں گورم
چپه چپیا
او خاموشئے
کښې زه
شرنگ دستار
دتال مضمون گورم
چاپیره رنگ کښې
شنو کمتر وکښې
ځان له جواب دخپل جمدون گورم
زه لیونے یم، لیونے یم، ربښتیا
په میخانه کښې افلاطون گورم
ځان ته چه ستر کے مِ را وار ولے
بس
مرگ
او نیش
وَوَینمه
زه لیونے یم، لیونے یم ربښتیا

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرگ پہ ستر گو کښې جمدون گورم
غرمہ دَ اوری
لکہ شپہ دَ ژمی
یو خاموشی
یو قلا رے خوردے
چرتہ کښې لرے
یو بخرے
دَ نور
ستورے ؟
کہ لرے د صحرا اوردے
ماتہ ورو کو
پلوشو
کښې وائی
کہ غردِ لوئے
پہ سرئے لار خوشتہ
شہ ؟
کہ جمدون
یو روک

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساعت دِ

دهوش

یو

ابدی

دَ دہ ، دلدار خوشته

زړګیه ، ځان ټکے که ماتکے

څنګه ځان خلاص دهر جنجاله کړے

زړګیه ، اے ټکه زړګیه زما

ځان کښ مشغول اوما خوشحاله کړے

خوستانه منم

غرقین مه

سم ، په رښتیا

لیونے کین مه

دا اضطراب په تور دریاب کښ زه

اوس سرسری یم بیا دوبین مه

په تورو ویرو کښ ګرکین مه

دلته په خپل اورکښ سوزین مه

په جمدون تورے خاورے کین مه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپلو وینو کښې دو بیږ مه
غـرمه دَ اوړی
لکه شـپه دَ ژمی
یو خاموشی یو تلاړے خوردے
چرته کښې لرے
یو بخـرے دَ نور
ستورے، که لرے دصحرا اوردے

ماته ورو کو پلوشو کښې وائی
که غرِ دِ لوئے په سرے لاړ خوشته
څه کجمدو یوړ ساد دِ دَ هوش
یو ابدی دَ ده دلدار خوشته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاروان

یو نیم ژوند دک دستے وی، یو سرور وی چه شرنگیږ ی
پردے تولے په خپل خاے وی، پاکے شے په سرغږ یږ ی
هر یو تارے مست بورا وی، چه کلونو کښ بونګیږ ی
هر یو تال ئے جنت په تول کښ، زیر و بم پکښ کډیږ ی
خوشحالے په چور لکونو، په شاد(*) ولو پکښ دانګی
یو هوش مست پخپل سرور کښ، خمار په تالے خانګی
یو نیم ژوند خوږ او بے نوره، ګډ په شلو خپو(**) روان وی
هر قدم ئے یو تیندک وی، تور په غمے کل جهان وی
هر آواز ئے د درد چغه، پخپل اور کښ بند یوان وی
د آرام په ارمان سوے. لکه غرونه میدان وی
د غمونو سیلا بونو کښ روان یو کنګهر وی
په جمدون دوزخ کښ پروت، نیم روندے وی او نیم مړ وی
یو بل ژوند د شمع ژوندی وی، لابه مړی لابه سوزیږ ی
هله نور او رنا راشی، چه په سرے اور بلیږ ی

(*) شاد ولو: یو ډول ملی ګډاتن (**) خپو: پښو.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ے یو اور وی سوز ول کړی ، لاس د رحم پے سوزیږی
پل د بنمن د بل غلام وی ، ځان سوزی بل ته ځلیږی
نه نور د ده انعام دے ، د قسمت کوتو ورکړے
نه اور د ده جمدون دے ، چه جمدون دے لکولے
ومره قسمه د ژوندون دی ، خو بچی چه د آدم دے
وک په یو ځای کښ لږ لوئے دی ، خوک په بل ځای کښ لږ کم دے
د کاروان کښ قول روان دے ، که پاتنده دی او که سم دی
وک په چغو خوک مسکی دی ، خوک خار کښ خوک په غم دی
فله یوه روانه ، یوه لاړ ، یوے منزل دے
تر مخکښ خوک روان دے ، سپین مشال دے او پر بل دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه کیږی

چه په ځاځکی کښې مستی د دریاب راشی
لکه ویر کښې سُر او رنګ د رباب راشی
صحرا لاړه شی سمندر کړه خنداله
او چینې سره یارے له سراب راشی

لکه غم د خوشحالئے کړه میلمه شی
یا په مرګ قربانید وله شباب راشی
لکه خوند له د امام د اوږو ستر کو
په جمات کښې بکل، ساقی، او شراب راشی

لکه اوره. اور ګرکے په نمر مُښین شی
او دغر زور او پشتے له حباب راشی
دا زما او ستا یاری ګډے عجبه
په شبنم کښې چه طوفان او سیلاب راشی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

راکه ساقی راکه

راکه ساقی راکه، شراب نا اورم پکاردے (+)
زړه م تورے خاورے باهر تاورانه انکاردے (+)
پریږده چه ئے وچوم، دا زړه نه دیو سزا ده
ساز سرور ئے رک شو، بس یو تهر بے قراردے
ده به زه کړ خولم، مئینو لمه، مستو لمه
اوس م وینه خکی، بس تش یو درد دے یو آزاردے
هیڅ ترے کدا شوه، اوس نه تال دے نه شرنکاردے
راکه ساقی، راکه، شراب نا اورم پکاردے
نشته هغه زور سرور ساقی ستا په شرابو کښې
باغ نه حسن لار، رنګونه کم شوو په کلابو کښې
واچوه سور اور دے جام کښې راکه چه ستی شمه
مست لیونے نه شوم هسے شمار شوم په خرابو کښې
داد خه جهدون دے چه م هوش پکښې په داردے
راکه ساقی راکه شراب نا اورم پکاردے
بهار راغے، بهار لاړه، زماژ ونه سوے کلزار وو
یو تباه تالا کلشن وو، په خپل اور کښې گرفتار وو

(+) نا. نه (+) باهر، بهر، دباندے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو بے کوره، بے آرامه، سرگردانه مسافروم
نه زه یارجانان ده چاوم، نه زملچرته دلدارو
جمدون تش د جمدون دردوو، هغه ښکلے جانان نه وو
هر نظر چه ے دستر کو، نوے رنگ نوے خمارو
زه م تورو ادیره ده، د تیارو تاریکو بنار دے
راکه راکه ساقی راکه، شراب نا، اورم پکار دے
یو بے حسه، دوب قرار دے د مرگی ښکلے مکان
که ساوژنی، اورهم وژنی. د تیارو دغه جهان
تورو ستر گو کښ ے نشته چرته یو د اور بخر ے
یو بے خوده چپ قرار دے، د ده گور د لا مکان
نه دا سوز، نه دا تالاش شته، بے جانانه فراقونه
ابدی وصال، وصال دے. مرگ دے دا سے ښه جانان
د ده گور ے تورے لرے د بخملونه پستے دی
تورو لاسو کښ ے د جسم په غریب سوی انسان
د ده ملک کښ دوب آرام دے، یو بے خوبه د خوب دے
روک جمدون، روک ے احساس شه، یا صلیب لیونتوب دے
راوره، راوره چه فناشم، زه د ژوندم بے زار دے
راکه، راکه ساقی راکه، شراب نا، اورم پکار دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیو داسی

په کوکو وے کوکو شتکے، تو رانئے په تنانه
په چپو چپو مستی به د نسیم چپو راوره
سحر راغے لکه زیرے، د خندا او د رنا
غُټے تولو وے مسکا کښ، ن نسیم کښ ده نشه
وخت یو بل پراو پوره که، یو بله شپه په تلو شوه
چاکره تیره د چا غیږ کښ، په چا تیره په سلگو شوه
ماهم تیر کړه په ناستے، د رنگونو په جهان کښ
هوش او رنگ به م یو ځا کړل، جو رول م تصویرونه
د زړه غم به م وخوړ که، د چا ښکلے په احساس کښ
مړاو مړاو ے پئے نظر شو، سوی سوی شان رنگونه
که تصویر د لیلی جوړ کړم، د شیرین که د منصور
د هر یو ستر کو کښ زړه یم، زما درد، زما خو یونه
تو راو سور د وه رنگه واخلم، د چنگیز (1) یا تیمور (2) جوړ کړم
د دوی ستر کو کښ د اقصر، زما او ړمی تو پونه

(1) چنگیز خان (۱۱۶۲-۱۲۲۷ ز مې. (2) تیمور (۱۳۳۵-۱۴۰۴ ع)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ دے رنګ لیونتوب لورته، یو پری راغله غمګینه
نه لیلی وه، نه شیرینه وه، نه هیر او نه شیرینه (*)

خیشت نے نه وُو یوا ارمان وُو چا شاعر خوب کښ لیدلے
مراوُستر کوکښ نے غم وُو، خماری دَ چا په مینه
هر نظر هر حرکت کښ، لیونے دَ خوانے تال وو
تول وجود دے یو سرور وو، یو رنګینه خوانه مینه

ماته وَے اے مصوره، ماته او کړه زه څه یم
یو خواره، دُبت ویستره، دَ کمینو نه کمینه
ما وَ ته دَ حُسن لورے، ته رنګینه شهزاد ګئے نے
ستا په یو سوی نظر به، زر تختو نه شی قربان
ما وَ اے دَ غم میرمنے، ته دَ ګلو بنا پیرے نے
دَ خوانے په مست بهار کښ، دا رنګونه دَ خزان
ستا دا سوندے، سوندے نه دی، ارمانو نه دی مستے دی
یو پته میخانه نے، ستا هر څاڅکی کښ طوفان
دَ نازک نیاز بین جهان کښ دومره تو راو درانه غرونه
اے دسره ګلابو څانګے، ستا خولرے دے خزان
نور دَ شل پرے دِ پرین ده، دا پرُ دَ غم کړه لرے
چه خندا راشی ګلشن ته، چه رو بنا نه شی جهان

(*) د پیلا مجنوں، د لیلی شیرین، هیر او رانجا او فرهاد د شیرین د قصو مینے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بت تہ نہ ئے دَ بت وینزہ، ستا پہ ستر کو کښې رنا دہ
تہ ساقی ئے تہ شراب ئے، تہ خمار ئے تہ جانان

دومرہ خیشت او ئے دیدنہ، دومرہ مینہ بے جانانہ
ستا لخانشت چہ لیدے نشی، نور وند شو دے جہان

وفا، مینہ او ارمان، لکہ نور تا کښې خلیږی
یو غمگین ارمان پټ کړے، ستا د ژړندو رنگین ارمان

راحہ خو اکښې زما کښینہ، زہ ھم ستا د ارمان رودیم
تہ ھم کل د بیابان ئے، زہ ھم کل دَ بیابان

زہ ھم ژوندیمہ خو بے کړے، درد ولے، ژړولے
وینہ مینہ دواړہ ژاړی، غواړی مینے لہ جانان

ما تہ ئے او کل مسکے شوہ. ستر گے ئے پکے شوے لہ او ښکو
تو رہ ثا د رے خپل راغونډ کہ، ځان لہ غلے شوہ روانہ

خپل امید او خپل ارمان ئے ورتہ ستورے د کاروان شو
د سرو کلو پہ تلاش کښې، پہ صحرا کښې سرگردانہ

د رقاصے پہ قدم کښې، د کل ثا نگے پہ انداز کښې
یو د نیا د سوز او حسن، ھوش کښې ژکہ شو زمانہ

راتہ ئے زړہ کښې یو بل درد، یو رنگین شان ارمان پیدا شو
یو زړین د نور بڅرے د نورو نو د جھانہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

منم

ولاړ وم په اورکښې ملوے اور زما قسمت
لمبے دے قسمت نه وے ولمبے زما دمیّت

نه بخت او نه کمال منم نه توره نه جلال
یوستا دستر کو خیال منم اوستا دشونډو وست

نه کل نه دلربا منم نه حُسن نه بهار
یوستا دَ خندا راج منم بے تاج بے سلطنت

نه چل او نه تدبیر منم نه عقل نه تقدیر
یوزیرد سپرلی کل منم ضامن دَ یارد پت

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلونه دَ ورخاړی

کلونه دَ ورخاړی درنگ شاخکی ولاړی
سحر پخند اتیرکړی ما بنام تول وی خفه مراوی
کلونه دَ ورخاړی
اغشتی (ه) ئے سل رنگه خندیږی ځنگ په ځنگه
سحر خوانی مشر نگه او ما بنام ولاړ وی ژاړی
کلونه دَ ورخاړی
خوانی دَ یو سحر دہ جمدون دیوے وہ ئے
بیا هم مانه نران دی چه هر سحر خندان دی
او زه یو پوستے غم تہ دلبر ساعت تور تم تہ
آدم دا وینکو نوم دے په کلونو پسے ژاړی
کلونه دَ ورخاړی
څه ښکلے ښکلے خاندی رنگینه دی تابان دی
بنائست دَ گلستان دی
غنی ورته همیش حیران حیران ولاړی
کلونه دَ ورخاړی

(ه) اغشتی ...

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمه، ځمه، ځمه

په رڼا باندے مُین یم خو، تیارونه نه یریږم
که پښیمان په ګناه نه یم، پےغونه غاوړه کیږم
پرون تخم وم، نن ګل یم، سبا بیا به خاوړه کیږم
زه دَ بادیوه چپه یم، په صحرا په باغ تیریږم
کله باد کله باران شی، کله اورکښې او سوزیږم
خوزه ځم به مغه ځمه
که او دریږ مه روکیږم
چه ورپیښ شم په کلونو، کړم خولئے دعطر دکه
خو رومه ئے چاپیره، ورته خاندم خوشحالیږم
چه دَ رنګ پچمان ورشم، یو رنګین دبوډئے تال شم
رنګارنګ رنګین جال کښې، سپینه شمع شم کډیږم
چه دمستو په محفل کښې، په ساقی او په جام ورشم
لیونے شانے خمار شم، په خوبونو کښې خوریږم
چه جهان تیاره تیاره شی، او رشی تندر شی عذاب شی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه پښتون د پښتو غړشم ، نه یې ږیږم نه نړیږم
چه د علم په جهان کښې ، د اوښیار و خواکښې کښېنم
هم مغوی پورې خند اکړم
هم په خان پورې خندیږم
په فکرو نولیونې شوم ، په لټون ، لټون شوم ستړے
خو آخر دغې له راغلم ، نه پوهیږم نه پوهیږم
خو زه ځمه ځمه ځمه ، تل روان یمه په مخه
یو مقام ته ور روان یم ، یو مقام ته به رسیږم
او په لاره چه څه راغله ، که تیاره وی که رڼا
زه رڼا کښې یم خوشحاله
خو تیاره نه نه یږیږم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ټکے

دالکما زړه کتاب، مونږ دا یو ټکے زړه کړے
که تک تورو ی هم خپله شی، بارچه ستا د زخال شی

خپله خپله ژکه خپله، بے درکه بے زبان
د کلال کونے چه وشی، د کلال د ستر کو خیال شی

یا د چاوړه دیوکه، یا گلاب کو توکبس جام شی
د خیام لونگین خیال شی، د ساقی رنگین جمال شی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بامیان

یوخوا د قدرت جمال ، بل خواد انسان کمال
زه ئے لیونے کړمه ، چارچاپیره نور دے
نه دِ بامیان(*) نه دے دا ، داخو کوه طور دے
دلته د فطرت کمال ، دلته د آدم جنون
دواړه په ضد شوی و ، جوړے که ترخه افسون
هرخواچه دِ لار نظر ، غرونه ، نا ، کلونه دی
هرغرد دِ دریاب د رنگ ، یونا په زرکونه دی
بل خوا د آدم د ژوند ، مینے او ایمان قصه
هرغار کښې نغمے د عشق ، هرخوا د جانان قصه
هرپوغار کښې پروت خاموش ، سازیو د نورو نو دے
داروک او ویجاړ جهان ، کورم د نیکونو دے
دے تالاجهان پسے ، دے د پښتونشان پسے
دے تباه دوران پسے ، دے شهید جانان پسے
دے سوی گلشن پسے ، دے روک گلستان پسے

زه د زړه په سرو وینو ، ژاړمه ژړیمه
زه چه د تره کوره ، سترګه سوځیږمه

(*) بامیان د افغانستان په ایاله ورکه برایالت کښې پخوانی نامی ایالت دے . د بودا د دے سترے مجسمے لمطه لرغونی چلی یا کا رونه لګیدی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپرلے

اوکوره جانانه دتیارے نه رنا جوړه شوه
نوے سپرلے راغے دګلونو دنیا جوړه شوه
زمکه لکه شاره آبے بوره، ورکه سپوره وه
چرته مرور مستی تلی دخپل ګوره وه
پا نهی غنچه نه وے په هر بوټی دمګ سوری و
شرنګ دژوندون غلے، میخانه نے تشه توره وه
یا ساندے او اوښکے، یا تے سپینه خنده جوړه شوه
اوکوره جانانه دتیارے نه رنا جوړه شوه
یا جهدون ارمان و، یا رنګین نشه رنګونه شو
مینه ره مسکے شوه، په خنده ورته کلونه شو
مست شو ساقی دا سے، کل جهان مست بے هوشه که
هر سا امید شو، هر نظر کښ خمارونه شو
هر قدم کښ تال په هر خلیه کښ مسکا جوړه شوه
اوکوره جانانه دتیارے نه رنا جوړه شوه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا سپوږمۍ کاسیره شوه ، په ستر گو اشارے کوی
ښکلے ، نوے مسته ، شرم شرم کښې نخرے کوی

هر خوا مینه مینه ده ، شرینه ده ، رنگینه ده
رنگ ادحسن یوشو ، مست شو خاندی مسخرے کوی

خوب نه جوړ خمار شو ، دَفراق نه لیلیٰ جوړه شوه
خاندی غنی خانه بیا دِ ورانه دنیا جوړه شوه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماښام

اوږیږه راغله په ماښام کښې — څومره غمګین خدایه دا تور ماښام شو

اوګورې ساز بیا. مهین مهین شو — رنګین رنګین شو. را ښکلے دام شو

هوس زړلے شو. شوده زړګے بیا — خان کښې رنګونه دَ مستۍ ګوری

زه په ژړاشم. چه ورته ګورم — داژوند خوهسے لاړو تمام شو

دخوانۍ شرق اودَ آسمان تندر — زورے مزه کا. اورے مزه کا

زه سم راوینې لا. نه وم دَ خوبه — چه نمر زیړے شو اور ورماښام شو

نظر کښې لړے زړه کښې ارمان — خود کښې خوبونه دَ بل جهان

دغه یو چونګ ازغی م لاس کښې — نیم د ساقی دی نیم دَ امام

خوږ دَ خودے ته کی[1] مستونه — سوزې وریتې م داخپل اورونه

ماحویږ خاشکی خمار کښې ډوب که — خانه جانانه. اوچت کړه جام

خوږه بے خوده هغه سرورې — چه ستا علاج دے. نشه په جام کښې

ناپیمانه[2] کښې دَ ساقی شته دے — نه په خندا کښې دَ دِلا رام

خو راغله اوږیږه اوساز مهین شو — امید روښان روښان په تور ماښام شو

راکه چه وخکم اولیونے شم — دَ نن ثواب دے تول دَ خیام شو

(۱) کی: کوی. (۲) خان ځای ځای - نه ه د - نا - په بنه راوړی دی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپوږمۍ مسکۍ شوه

سپوږمۍ مسکۍ شوه وے دا، تول دَ څه کے،
مینه کښې مړه، څوک تلل نه کوی
په سوبهار کښې دګلونو حساب
خانده مستیږه او چړچے کوه
دَ دے لکها سوالونو یو دے جواب
څه کښینه کوږ دَ دَ غاړے کوه
دَ زړه وطن کښې دَ سړلۍ زړه نشته
دفکر تول، لکه بالول به څه کے
دَ یار حساب دَ خپله یار نشته
سپوږمۍ مسکۍ شوه وے دا تول دَ څه کے
خانده سپرلۍ کښې خوند ژړل نه کوی
مینه کښې مړه څوک تلل نه کوی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چینجی

پیسے مِ دبابا کړے امید ونه دخپل ځان
کړه جورم خان له کور
یو باغ تے نه چا پیر په کښ میوے دکل جهان
کلونه دهر لور
په هر قسمه میوه کښ نوے نوے قسمونه
انګرو که املوک و، که انارو که بادام
عجب عجب نومونه، لا عجب پکښ خوندونه
خرما هم ثوابونه، جنتونه په آرام
څو کاله مِ خدمت ولړ دکور دسرے وکه
ماوے دے بدل کښ به میوے خورمه مدام
ماوه یو آشنا ته به دک دشکو رونه بر دمه
سه شوی په غور وکښ کرپندی کچه بادام
یو کال نے څه خرے او اشارے غوندے شروع کړے
چا دوه دانے چا شل او چا په مخه انبارونه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل کال نے نقشے جوړے دَجنت دنظارو کړے
هرخواته بس گلونه او گلونه او گلونه
سپرلے نه وجنّت ؤ یار وعدے دَ وفا کولے
هرگل یوه وعده هره غُنچے دعا سلام

باغچه دبوټونه وه ، منارو وه دَ امید
هر شاخ دمیوه ګک دیار دَ مینے وؤ پیغام
چینه وه ، که چړه وه ، بابا سیندؤ ، که لښتے ؤ
هر ځاځکی دَ اوبوکښ راز دحُسن و دوام

هر ځاځکی دَ اوبوکښ رنګ دَحُسن دجمدون ؤ
ارمان دِ هشنغر ، درخار چین ماچین او شام
او دا فصل نے کوړه ، دګلونونه میوے شوے
اول نے دَخمار بیا دَ طاقت جوړ که نظام

چه ستر کوته رنګونه ؤ ، نوژبے نه مزے شوے
هر څوک پوړه ساتی که وی خیام او که امام
او وائی ملاجان ، شابه که او باسه شکرونه
دا شکر خونه ما نیکه هم نشی پوړه کولے

رنګونه او ګلونه ، ته نجنبے خوجها نونه
خوزړه م خوتکنی ؤ ده ، او مضبوط دپے بڑ غولے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اواے دڅاڅکو ربه ستاهر څاڅکے دریابو نه
سینه دو نه ستا بیشمارۀ ، زه بس لپه شم د کولے
او ستا په سخی د رکښ خو وریږی امبارونه
د تشو په کچکول د سړو مهرونه د ډلکولے

راواوره غنی باغ ته دا په کمه باندے لاړے
میوے چه د بخښے شوے نو په چاد او خوړے
او دا څنګه میوے وے چه کرپوری دنزی شو
په څټ د لګیدلے دے نو نوے زیړے

هغه وے یاره واوره چه میوے په پخیدو شوے
او ښکلے دا سے ښکلے وړ ته صبر کول ګران
په دو نو کښ پیغلو کو د وصال ستر کے وهلے
په مرګ پورے خنداوه ، کډیده وړ ته خزان

نور اغله پرے چنجی ، یاره په هر څه کښ دین شو
په رحم کښ دا کوان ، د غلا او چل پروفیسران
په ناکو په پټنکو ، په هر څیز وړ حواله شو
د دوی په کور اختر شو ، او زما په کور تالان
انځر ، که شلتالو وو ، که صه وه که املوک وو
دده د آبے باج

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ؤ پوست لکه ریښم خو د څیرلو تیره ډوک ؤ

او ډیر نازک مزاج

دا زکښ چه دانه وی دده مور پکښ لنګیږی

نیاز بینه د جهان

دا بل . د آفت خم ئے میوو باندے غټیږی

د سیلے نوابان

سړی م ورخواره کړه ماوے غوارم داساعت

بابو صیب د دارو

که اس، که موټر غواړی . پکښ زرګی دا رخصت

سره د پچکارو

سړی به تله راتله د بابو کرم وو د کا ن

منت . زاری . سوالونه

دے مینځ کښ لکه ناوی ترے چا پیره با غوښتان

کول ئے منتونه

بائیسکل به تانګه کښ، کله بس کله موټر کښ

سړی به م روان ؤ

منت ے منه چرته، صبب دو لے نواب زاده ؤ

مونږ تو ے فقیر ان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخرم وے سوتہ د روپو نوتونہ بوزے

د افضل ربّانی دے

ایمان نے بس پہ دغہ شین تصویر د خپل بابا د

سوچہ پاکستانی دے

چہ راغے بابو کل، پہ رنگ او فکر بنا پیرے وو

پورہ پہ کمالو نو

پہ عقل لږ میخین وو او کر بور وکښ نرے وو

خو بنکلے نے پتلون وو

چہ دار مدار وشو، وے بنہ وایہ کنہ خان

چہ تاتہ شہ تکلیف دے

قسم دے پہ کار مرہ شو، کرم کرخی افسران

خو زمونږ سرے شریف دے

سرے خاندانی دے دیرے خوښ وی شلتالان

پہ واورہ کښ آمونہ

پہ گلہ کښ نے لم لکی او پہ چر کو کښ پستان

پاستہ پاستہ ورنونہ

ماوے اے بابو کلہ، شلتالان خو دادی دیرے

خو دک دی د چینجونہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دے خورے آوازونه به دِنوی پورته کیږی
بیګاله دَ بینجونه

ماوے دبورے زویه کوره ګوره چه غونځیږی
ځاربه لکه سیتهان

په خیته ښه ماره دی غورځیتے نے ځلیږی
تازه پاخه توتان

میوے یئے شوے دَ دوی زمانے تش کړاو تاوان
لنګیږی اوډیریږی

چه رزق ترے دوی اوخوری زه به څه کړم بیابان
سرے پکښ پریږی

ماوسه په زرورله څه راو باسه علاج
فوځونه نے ډیریږی

دَباغ نه مِ شوه جوړه مقبره دَ سکه دَراج
قبرونه دی زیاتیږی

هغه دے داچینجی نه دی محچان دی دَمیوے
دی عام په کل جهان

دَ ډیرو باغیچونه دوی کړے جوړے ادیرے
کړی ښخ پکښ باغوان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه پوخ شی وزر او کړی په هوا کښې الوزیږی
ماوے دَ بوږے زوبه کوره کوره چه غوغځیږی
دَ دے د پاره ژمی کښې مونږ والے پچکار ئے وے

دا رونه وو اجل وو

لمبولے په سبه شان موخانګے غټے او نرے وے

هم علم هم اَنګل وو

چه دا تے خنګه پاتے شو په دے باندے حیران یم
خوږے دَ دله شی کښې جوړ په ژمی کښې سا نه وه
ماوے چه څه کښې سا وه آخر لاړل مال دَ رب شو
او سبه ده چه دِ خلاص کړل په نصیب به دنیا نه وه
اول خل چه ئے راغلے نو دَ چه کوینه دے خلاص کړم
چه ګرځے م خمګے دے، پوار او نقصانی دے
ایلے کمزے سپی او پیشوګان دِ واړه یو ړل
بنګله کښې بس یو زه یم او یو فضل ربانی دے
او یا دِ دِ شی چه راوستل جیا نه دِ امداد له
ګنی دِ نه خطا شول خو دِ موت راله خروب کړل
دَ میښود کتا کتو دَ غمه دِ کړم خلاص
غوایان دِ نه دُعا کی تا دمه دِ مګ په خوب کړل

(۵) والے ۵ وهلے .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَسوتونه اوزکاره پاکے ښکلے مودیرے شوے
پخپله کاو دیران
خاموشے پہ غوجلوکښ دَغوامینبونارے شوے
څه خوند وکه جهان
. څه دَمزے کارشوچه دَدولسونه درے شوے
اے پلار دلقمان
. دالمال دِکوره چه، چه دَنوونه زړے شوے
کامل دِاُستاذان
پہ بل ځل چه پے راغلے، نولنډے بوچے دِیورل
څوکئے کوم پخپله
پخوابه غله زماله کوره لرے تنبستیدل
اوس نره تنبستم له غله
بوچے پہ انډرینو او لنډے پہ مالتان
دمزو دارو خلاص کړل پہ میره کښ پیشوکان
خانی شوه دَمنکو(*) تو بریتو شوپکښ خان
څه ښکلے بنیادی جمهوریت ئے که روان
خبے ئے پتے یوړے، بهر بنے دی امانی
اوس قبض دی دَلوکے نه دَفضل ربّانی

(*) موږکو.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابو عالی مقامه یو خوپشه وکړه نور
دَ خپلے پچکارے
چه نه کئ راته څوک دا دنیه که دَ مال پیغور
او خلاص شوم دَ خوارے
دا څوک دی پاتے، صیب دَ دَ غمه م خلاص که
او زکارم لکه خان
چرکان دی بیا کن شوی سرے بنکته خپے پاس که
خیشته لکه دَ ځان
بابو صیب وَ چه دانوی دارو امریکنی دی
په نوم جمان صفاء
دَ مال خیراتی دیر څه انگریزی څه جرمنی دی
خوداپکښ اعلیٰ
دارونه دی دا خان، بنده بوتلو کښ وباده
یو اوردے یو انکار
یو ماشے به کئ بل ته دا قصے ترسکل آباد
او تول به شی فرار
وروکی صاحب وَ بنے بنے پچکار دی مونږ ورکړی
یو ځل ناخوخو واره

دا دَ ایوب خان دَ ورځو شعر دے او هغه ورځو کښ نواب کالا باغ زمونږ کورنۍ وُ .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خونه راځی قابو کښې، داخه شے دے بنځه مړے
خواری پے دہ بیکاره
بابو صیب وے بس یا خو علاج ئے تبر کے دے
خشاک خرخیږی کښې
میوه دِ او خوږی سرداد لکما روپو لرکے دے
قبلئی ئے افسران
او خان تہ میوے خه کئے تیپر دیر قبض کشا دی
مزاج به دِ تازه وی
سړے وی ښه خوشحاله چه نه تش وی او نه ډک
او باد په اندازه وی
ورځه خان په تیپرو، رنګ شه روک ډالو چے
تراوه مردار انار
څوکئے به کئے په خپله نه لګے شته نه بوچے
بیکاله دِ دے وار
چه ګډ کړی په تیپرو کښې مرچکی شی لونګین
څه ډیرئے مزے شی
ډلوئے نه تو په جوړه کړی، ډروکی نه غربین
او بڑغئے نشے شی
واوا، کر کمانئے قینګے لیتئے ډک چالو
قربان تے چرګوتے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاهو کښې پوست مهین کړې په تکور دله تالو
اوکوتے به خستے
بے کاره دی منځ . خرمانے اوناشپاتے
امرود زوئے دنمرود
مسور کښې مستۍ دهاے قربان ئے د پیتے
کلکیږی بے وجود
غلے په تونم کښې کچالو ته نه رسیږی
شته دال کښې تنګ تکور خولږ اوچت سرکښې غږیږی
وچه په کچالانو ګنګ شه روک د آلو چے
بیکاله دے خوکئے ده . نه لنګے شته نه بوچے
چه خورشو په باغچه کښې د بابو صاحب بیان
چینجی شورا برسیږ
دولکی سرناتے مخکښې بنه جلوس عظیم الشان
زمونږ نه شو چا پیره
یوغت پکښې راځکښې شو په شکل معتبر رود
سپین روے درنګ مزاج
وے ارمان چه ستانه مخکښې ستارا غلے خو خبرود
لیده به د خراج
خراج که خراجونه د تحسین او آفرین
چینجے که حلاوی ده تا پخوکښې به سرې دی

(۱) عدس په شرقی افغانستان کښې یو ډول کلکه ډاډه بولی، په خوست کښې د ربه منسور ډاډ په هندی کښې بولی.
منسور بولی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاباش ستا پچکاری او آفرین ستا سکنجبین

زمونږ ه روک نسلونه ستا په علم شو ژوندی

که ماشے که میږے و که ملخ وُ که دمبر وُ

دښمن زمونږ ذات

یو هم درنه بچ نشو که په سمه که په غړوُ

په پچ (*) وُ که په سوات

هیله مو په آرام باندے سر او خوږے میوے

ماره خوښه ماره شو

هیله مو قام شو خور او ښ دے او ښ دے موسلسلے

نسلونه مو زاره شو

نور هر څه لره مرګ ئے مونږ له ژوندے او رحمت

دَ فکره دِ قربان

په کمه ژبه کم قلم زه و کرم ستا صفت

ای پلار ه دَ لقمان

مونږ تول ستا سو زیارت او عبادت له یو را غلے

حکیمه بے مثاله

دا خان د میوو غل دِ دادے کرخی ژوندے ولے

بے علمه بے کماله

(*) مطلب د چچ هزاری سیمه ده.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابونه ئے بابائے محافظه مدد گاره

سخی مشکل کشائے د نامے نه قربان

بس د هغلو باباچه شو قربان ستاد پیزاره

راځئے چه تبرک له بنگل کړو خپل مرنے خوان

یو غړ شو، او د غرسره بابو صیب بوساره شو

بابا د سکنجبین

د خپلو مریدانو سره پیر غریب کانه شو

او بندے شو مشین

ماوے اے بابو گیه، خوار شے لاس که پچکار ئے ته

چینجو ئے د جناب گیر که، که تا دی نه کے نو مر دے

او اے د بورے زویه گوره گوره فکر او کړه

یو اخے چینجی زیر نه دی چا پیره وطن زیږدے

ورو کی بابو گی یو سیلے د او ګړه جوړه

په خپر کښ خوره شو

چینجی مینجی خوخه کئے مونږ نے تول کړلو بے جوړه

په ستر گو موتیار شو

د تورو تیارو مونږه چه واپس راغلو په هوش کښ

و خپرتش میدان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چینجی وباغ ته تلے بابو کے ولاړ وجوش کښې

خپل علم ته حیران

زمونږه بابو کل قلار، بے غمه او خوشحاله

په مزکه پروت ؤ خوار

دا روپه مخه بوته ؤ جنت تو دے حلوا له

په یونانی بین گزار

مثال د علم مرشو، شو یتیم زمونږه قام

اوس څوک به کی خدمت

دیرو کښې ؤ میرے خپلوانو بنسخ کړلو ما بنام

په شان اوشوکت

ؤ علم برکت و لوئے بابو شو بابو کے

افسر شو د پښتون

یولاس کښې پچکاری گرځی او بل کښې تبر کے

او ښکلے ئے پتلون

شو مور اوس په بینجو کښې ئے مست زیرا وم غږیږی

پش پش ؤ پچکاری دے په آسمان زما چلیږی

چه زه ویم بابو خانه گوره گوره چه غوښیږی

بابو صاحب په ناز په انگریزے کښې او خنایږی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی خلا مرکه شو چینجی نو محکمه زمونږ خلاصیږی

ابنے م دَ بخملونه بیا چیت الوان ته کیږی

او زمونږ ده داسے بنکلے بنکله کلی کښ جوړیږی

بی بی م ده خوشحاله په جاموکښ نه خائیږی

او پریږ ده چه دِ خوری، خان ته یو شے ئے دَ خوراک

چه څوک دِ خوری غمیږی

او ته که رُک شو څه پے، بس خس کم او جهان پاک

پیسے دِ نه زړه کیږی

مچان که افسران دی، څه خوغواړی دَ ژوند ژواک

په اَس هر څوک سوریږی

او جوړکه دکیکر نه یو مضبوط غوندے مسواک

چه خوله دِ نه خوږیږی

قیزه دَ قانون خُله کښ او بارونه لس منی

غوږونه دِ که مړاوی او دُلکی بدخشانی

او ګاډ تاسو کښ نشته پوټے مینه وطنی

وطن شو تول آباد سپینے بنکلے شین چمنی

خوند چائے، اصفهانئے، کښ کئ تری امریکنی

دا ملک چه مونږ کړو جوړ لکه جاپان یا جرمنی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او باسے به شکرونه اوور کنے به شیرینی

خانان دی تول شومان قلنگ زمونږ ه نه منی

هیڅ مینه دقام نشته، بس کنی، کنی، کنی

په خان باندے پوئے نشوم. صیب م نه کښ وخوندی که

تو کړے م ترے کړه جوړه په اوبو کښ م نسکور که

پوره په فلسفه م پوئے دمړی اوژوندی که

اوده به وے - بوږ بوږ - چه ما به لږ غوندے پے زور که

خو خاموشانه خلاص که وے پهانسی او دوزخ دواړه

دے بابو صاحب په نړی خښت پوره ے تړلے

بابو په ګلکے لاړ ښه کړندے ګنهر په غاړه

نور برش ئے افسرې وو خوښتک ئے ولړلے

شو باغ زمونږ ویران تاکی م ګرک کړله کنی

جوار غنم م لاړل مالیه کښ امانی

ګرک ګرک ګغلے راغلل انګوتان امریکنی

ځار به شو افسران خو چرته نه ښکاری غنی

هغه چینجو که مړ، که څوک منی که نه منی

یوازے اوس ښکله کښ کړی فضل ربانی

---

(۵) نیره ه نهر.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلندن معشوقے

دلته خواته ازغی دی — بل خواخانګے دَ نرګس
دَ هنر علم سایه کښې — که څې ګل لبانه مس
هره نوی نوی چال کړې — خو همه زړه کښې دا خیال کړې
چه له ګلو بوړا وارئ — په ازغو ګړی زړه غمس (۹)
دیرے ورک کړل دیر به ورک کړی — دیرے سپک کړه دیر به سپک کړی
دَ دنیا لشے دی پټے — دی لګوکښې دتاوس
غنی خان ملا بادار کړه — عقیدے دے برابر کړه

بلا کانو کښې دیر وئے
چرته مات نه کړے اوږس

(۹) غمس : غوغ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجبه فلسفه

فلسفی د ملک ولاړو . و چا پیره ته علم
د خود سپین مثال په لاس . جدا کولو ته زیات کم
فکر تیز . نظر باریک . دلیلونه کلک میخونه
د منطق په پاتکو . پاتکو وو روان به بوه سم
ماوے آ د هوش او عقل د رڼا بله مشاله
یو بے خوده لیونے دے . هر یو سازے د ماتم
ستاد پوهے د دریاب نه یو قطره د رڼا غواړی
خو سوب د خنداغواړی . خه مطلب غواړی د غم
فلسفی کوے ستر کے پوته . خله مسکے ستر کے روښانه
خوے خوے د غم لوے پکښے را غلے ناکهانه
وے آ : زما غمگینه زوبه . خیشت وجود ای نه
د ده نور به هله وینے . چه په پتو ستر کو کوره
علم سپین روښان مثال د خوب نشی لیدے ستر کے
د نور ستر کے دئے په زړه کے . د نور نو د نیا کوره
سمنده د خیشت خوک کیږ کوی د منطق ورکوی
د غم باد د چا نیولے . تول د ستے او د پے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وے دخود پہ میخانہ کښې ستا دَ څښلو شراب نشته
چہ دَ مینې ساز پرے اَوړی ، دلته هغه رباب نشته
ستا نظر جدا نظر دے ، ستا جهان جدا جهان
تا کښې وینه دَ مجنون ده ، ستا نصیب کښې بیابان
ستا مستی وهمی تالونه ، په سندا دبوري تال کښې
دَ هلال په نري خط کښې وینے شوندے دَ جانان
لیونیه ، لیونیه ، داتول عقل زما واخله
خو بدل کښې راله راکړه ، یو قطره دَ خپل ارمان
ستا د اوښکو نه قربان شم ، ستا د درد و نوته پسخیږم
چه په دواړو کښې خمار دے دَ خوبونو دَ جانان
تا چه مخ دَ دنیا واړوو ، دنیا چغے کړے پاکل دے
خو تا تاوان کښې کته وکړه ، مونږ په کته کښې تاوان
چه جهدوان دخیشت تالاشی ، غم تش غم شی دَ دلبر
څومره مستے هر قدم شی ، هر نظر څومره روښان
راوړه ، راوړه زړه دِ راوړه ، چه زه په زړه کی ښکل کړم
هر ارمان خماری دے ، مستے هره وسوسه ده
راکه راکه چه ژوندے شم ، وی (۵) دَ مرګه یوه مرګ دے
ژوند ارمان دِ او جانان دے ، که امید که تلوسه ده
وایه وایه څومره مسته ، دَ دلبر دَ شان قیصه ده
دَ جنون او دَ جانان دا ، څه عجیبه فلسفه ده

(۵) وی : وایی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوکوشتو

همه بحث ئے فالتو نه بس کئی اشناقر تو
پخپل خان ئے پوخ کمان دا استاذ د ارسطو (۵)

بنده کړی ذرے ذرے
دا بے واره تر تره
پیرے خان کړی بنا پیرے
دا د دوزو از مرے

کئی مزه دیره مزه صفت خلکه کښې د بل چا
لاچه وشی پشی شا شی مزه ے لاسوا

خوند خبرے کئی د دوار
غلے غلے په قرار
خورب خرد قند هار
چپه خلکه ښکاری او ښیار

پوشه دے پوره تر تو دا اوچت آواز قر تو
خان کنهی پوخ جر کتو دا د خپو کوکوشتو

(۵) ارسطاطالیس د افلاطون شاگرد مشهور نړیوالی حکیم اوبیلنه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه د اقبال

زم[1] په زړو پر دوکښ پټ یم
تړم[2] په زړو کښ ډنډه
بس یو زړه دے چې غشے
نیغ ګډ سلوارو وځی

په هر وخت په هر مقام
ګډ هسې شکل جدا وی
هر ساعت جهان ورانیږی
هر ساعت جهان جوړیږی

ګډ ژوندون راز بس سفر دے
دابد راز ورانیدل دی
راپخوا اقبال[3] زمانه
ډیر خیشته رنګ کښ وئیلی

---

(۱) زم (۲) تړم (۳) اقبال. ته اقبال لاهوری (۱۸۷۳-۱۹۳۸ع)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دُعا

ستا د مینے په صحرا کښې زړه سوړ پړق د لالې نه شم
ستا د باغ کشمالے نه شم، خو رلو کے په هوا نه شم
ستا د ستر کو مشغاولې، ما کچکول کنګرو وانغښت
سودائی خپلے سودا کړم، مجنون ستا په سودا نه شم
یو کوټ مخے اوبه نه شم، چه غرمه اوکړ بلا ده
هر خار جانان جانان شو هر خار بلا بلا ده
زه د سرو کلو غرور شوم، د کرلو بوستان نه شم
ستا د کوتو په پړدو کښې، لکه سُر بند یوان نه شم
راشه اوکړه دلبره، دا ما څه په څه بدل کړه
څه دې راکړه اے جانانه، څه دې راکړه خپل دیدار کړه؟

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه د اقبال

میلادِ آدم

عشق کړه چغه چه پیدا شو لیونے ځیګر پیدا شو
حسن ورپیدا ګډیږے، چه ګټول نظر پیدا شو

یو چغه له دے خاورے، ګډ ازل تیار وته لا پرے
اے پردو کښې پټو واورے، پرده سوزه شه پیدا شو

او فطرت حیران خفه شو، چه دګډ خاورے مجبورے
ځان جوړونکے ورانه ونکے، ځان لیدونکے سړ پیدا شو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو بے مهاره اوبند ته

ته اول هم زملو ورو وے مره راشه بیا م ورور شه
یا م سُورَ دَ پټکی کل شه یا م نرد دَ وینے اور شه
دَ پښتون دَ ځګر رحم دَ پښتون دَ ورو ځوتور شه

چه دَ دده په سَرغو یمے وی
ته دَ دده دَ متو زور شه
کنی لاړے او ورکیږے
سر په کندو دِ کاروان شه
ته خو دے بنګلو ته رپے
بنیریه : کور دِ وران شه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سینده څه سینده بهیږه

دا قسمت دے دَ دریاب — چه بهیږه او بهیږه
چه په کټور شے او رشه — په آواره کښې روکیږه
چه یو ځاے کښې آغا نشے — او بل ځاے غلام نشے
ته خوراک د کل مخلوق شه — پلار دَ ویل مور دکیوړی
زه دائی شه مور او پلار شه — دبنا مار او ده چرګوړی
زه چرے چرے شه خور شه — چه دِ غاړے شنه پټ شی

او باغچے او چمنونه او کلونه او کلونه
چه ما بنام دِ راځی خواله — عاشقان غمګینے ستر کے
چینګے دِ ته ګډیږی بلے ستر کے سره لاسونه

کله روب لکه دَ غم زه — کله مست زلمے ګډیږمه
سینده څه، سینده بهیږه — سینده څه، سینده بهیږه
بس هم دادی چه شه پک دی — دیو سین او دَ بل سین

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

واړه غر سمے جدا دی آمو او اباسین

دَجیندی او اباسین

چه خیالے زه په کم خیال کښ

په قلاره جیندی کښ کم دے

چه راوی (۵) په کم خمار ځی دنوبنار لنډی کښ کم دے

سینڈ ځه، سینڈ بهیږ سینڈ ځه، سینڈ بهیږ

دَمه سیندوی خپلے لاړے

هر یو خپل کوټه روان دے

دمه یو خپلے دشوارے زه چرے چرے شه اور

چه دِ غاړے شنه پټی شی او باغچے او چمنونه

---

(۵) راوی : د پنجاب له پخوا مشهور د سیند دوه نومه یو سیند ۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بادیوه

څښې دِ پرېږدی څه مستانه دِ رفتار دے
کوږه دَ کاغذ نه چا جوړ کړے خپل خمار دے
باد ته دَ عاشق په شانِ خاندے خوشحالیږے ته
مستې سولئ ماره دَ طاوس مسے کړیږے ته
بے جړو کلاپه په آسمان کښې زرغونیږے ته
زړه دے دَ قسمت په تار تړلے کړ فتار دے
تول رنګین خمار ے خو مجبور ه هر خمار دے
دومره ویرِ آسمان کښې دَ خپل رنګ څاڅکی ښکاره کړے ته
باد باندے وسپور دَ لاندے خاورو ننداره کړے ته
چونګ خاوره وجود یو لیونتوب یو تراره کړے ته
ته د بنیادم دَ بخت او تیښتے یو تصویر یئے
یو رنګین خمار په تار تړلے دَ تقدیر یئے
زه هم ستا په شانِ کله کله په هوا شمه
پرېږدم خاکی ځان پس یو ارمان یوه دعا شمه
خوب شم دامید، دَ ژوند رنګینه مشغولا شمه
چغه قسمت وُوئی (۵) راشه سَرم ستا پکار دے
اے دَ آدم زویه ستا د خاورو سره کار دے

(۵) وُوئی : وروکی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تالئے

ژوندم تال دے زړه پرے زانکم — زړه د خیال په نیلی سوړے
د قسمت پړی اګوه دی — خیژومه پرے تالئے
څه دی څه دی بدکه ښه دی — د دیواله اخواخه دی
چه محراب د ملاجان دے — که خمار د ملا لئے

زړه د مټو په زور پریم — زړه په وږی نظر پریم
زه د ځان سره سیالی کوم — زه پرنه یم په سیالئے
زه د خیشت مقام لټومه — ګرنګ، آواز، خیال او نظر کښ
لکه ځاځکے تله واخلی — تلی زړه په سمندر کښ
که د فکر نظر تیز دے — د قسمت دیوال محکم دے
دیخوا، دیخوا خو به سم کم — خو دا غم دا خواغم دے
زه پوټے در نها ځاځکے — په یوتور او روک جهان کښ
د خپل خود په رنها کرځم — د قسمت کوڅے لټومه
د تال پړی که پاخه وی — که نری وی که رواسته وی (۴)
زه تالئے خو به خیژومه — زه تالئے خو به خیژومه

(۴) رواسته = وړهسته .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیام

اے خیامه ته تش غم یئے ، تشه تیښته تل فرار
ته دَجام او ساقی یار یئے ، یو خیشته ښکین انکار
عجیبه غونډ جنون یئے ، نا امید او بے قرار
ستا احساس دَ نن بنډ دے ، په یو ښکلی رنځ بیمار
ته لبه یئے دَ تالاش ، دَ لټون او دَ ارمان
زړه او فکر دَ خزان ، ښکلے ژبه دَ بهار
سَر دَ بحر سرے چپے وی ، دوب یئے ویخ کښ دَ قرار
ته کشتے دَ کلو دکه ، سرسری دَ کشتے لار
آسمان پلار دے دَ سبا ، هم بچے دے دَ پرون
دا هم جام دَ هم ساقی دَ ، چه وصال او څه بیلتون
دا یو ساز دَ چه روان دَ ، دَ آواز دَ سرو کمال ته
یو دَ رنګ څاڅکے چه خفلی ، خان ښیی (*) دَ ګلو تال ته

(*) رسی : رسوی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داستا غم خو څه غم نه دے، چه دوبیږی په یو جام کښې
د امید سپوږمۍ د پټه، تور ولړو د ما بنام کښې
په دے مست ښکلی دماغ دے، تو خو شے د مرګ جال
د ساقی جمال پټ کړے، ستا د زړه نه بل جمال دے
یوه مسته او شیرینه، عجیبه د غم نغمه یئے
د سرو زیړو ګلو دکه، یو رنګینه مقبرئے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

روره قلندره

روره قلندره (۱)

څه په پته پوے شوے چه دا ښکته ځے که بره
دے کښې څه واره شته چه سړے وکړی خبره
لسو بلا ګانو کښې ده ، کمه بلا غوره

او روره قلندره

ما نه خفه شوے ، که خفه ښے داشغره
کله کله مونږ له هم راځه د پیښوره
ښه وی چه یاراني وی د سړی تکړه غاړه
نوم ، ناموس ، او خوی او همه خونه معتبره
خو یو په کښې پکار دے دا زما غوندے بے سره
دا په کښې کنجکه چه ساقی مود نظره

او روره قلندره

دا نا تار خبره

---

(۱) زما محترم دوست قلندر مهمند چه په ۱۹۷۰ع کښې د شمالي اخبار ایډیټر وو.
دے شعر کښې هم د دے کال الیکشن ته اشاره دی. (غني)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ کتے د زندان او قلا دواړه د یوغړه

او روره قلندر:

دا خو څوک دمته غواړی څوک یئے د ځکړه

زه کمزوری نه یم وی کمزوری بے ضرره

مونږ نه بل وژلے شونه ځان له لرو زغره

او روره قلندر:

ډیرو کښې ضرور چرته کښې ورانه شی خبره

بس دے نور به چپ کړم خو بس دا پکښې دسره

دا ځنګه سیندونه دی هم ښکته ځی هم بره

هغه صاحبزاده (۱) ته وایه یا پیره کافره

خلاص د مور بیدان شه د تاتار د بریره

ستا قیمت به ډیروی هم یاران د بے لمبره

سر د آشنا نه ځاری یار، څوک د ځان د سره

او روره قلندر: (۲)

نوره که څه ورانه وی نوته نے کړه برابره

(۱) صاحبزاده فاروق د گوتې. (۲) استاد قلندر مومند (نوم یے حبیب الرحمن دے) چه ۱۳۹۳ کال پیدا شوے دے استاد قلندر مومند مشهور پښتو شاعر دے دا غزل او شاعرۍ به گلاب، د کلام مجموعه به ساوڼ، او نظمونه او رباعیات به ګلاب صاحبزاده به ګډیږی. د دهغه ماما غلام سرور زما او د هغه ماما ګان وو. البته د دهغه ماما ګان د دهغه استاد کامل مومند په مشهور کړے دے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوے سیاست

دَ اوښیارو لارے مِ ډیرے زده
خونهادَ شان دغه لاره نه ده

زه د زړو صحرا وو ارمانی یمه
زما بخت کښې کوڅه دَ ګلزار نه ده

زه یم خاورهٔ خوړیږه بے تابه یم
ما مونتلے لمحه دَ قرار نه ده

دا دَ درغومنډۍ ده دَ سود او زیان
دے زمونږه دَ ګرځیو بل جهان

دلته ښځے به یو او خرڅے به بل
دا بازار ټک او کوته سامان

دلته مینه وفا او غیرت او ښځیا
چه بے سوده ئے کړے نو خر توب دے

دا قصه بس دَ چرګ او ډیران ده
خو پرے نوم دَ اوچت سه ټیوب دے

(۵) ښځے .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما لال

(د مور قبر ته)

زه د هغے لال زه د هغے د ستر کو تور ومه
زه به د هغے په سینه تل اوده نسکور ومه
اوس ئے ښکته ښکته د مزار کانو ته کوږمه
خاورو کښې پرته ده چه ئے زه د زړه هلال ومه

هغه لال ستو خاورے چه ے زه ورو کے لاس ومه
لاړمه آسمان ته ماوے اے د جهان مور سپوږمئے
زور د مرګی زیات دے که دې یاد مینے زور سپوږمئے
آوری په لحد کښې څوک د سوی زړګی شور سپوږمئے

موتے خاورے څنګه پټ د حسن یو جهان کړے
یو پوکے آباد دا چمن څنګه بیابان کړے
ځلمے نه جوړیږی چه ظالم اوویم رحمن ته
مرګ چه د جهان بادشاه کړم څه وایم ځان ته

ولے دروازه د علم لرنه شوه انسان ته
سیال نے د ځان ولے کړم چه زه د خاورو سیال ومه
هغه لال مے څه شو چه ئے زه ورو کے لال ومه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنی دنیا ښه ده

دَ بغیمے لږ خوب — لکه دُنیا ښه ده
نیته ئے لږه ده — کنی دُنیا ښه ده
خوک وائی هغه ښه ده — خوک وائی دا ښه ده
ماله زما ښه ده — او تاله ستا ښه ده
چاله ژړا ښه ده — چاله خندا ښه ده
زړه دَ مجنون له — خپله لیلی ښه ده
زړه دَ مُلا له — توده حلوا ښه ده
چاله مستی ښه ده — چاله سودا ښه ده
چاله محل ښه دے — چاله بیدیا ښه ده
دنیا هغه ښه ده — که دنیا دا ښه ده
چاله هغه ښه ده — او چاله دا ښه ده
ژوندی ته ساز ښه دے — مَړته دُعا ښه ده

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنیا له سوره سنه دے — ماله سوره ا سنه ده
د ملا عقل له — خله ده ملا سنه ده
زما کوتک نه — ملا د لاله سنه ده
مزدور وے خانته — خبره دا سنه ده
ماله تیر بد دی — تاله حلوا سنه ده
د جرمن توپه سنه دے — د صیب قلا سنه ده
زمونږ تمتوسنه دے — د پنډت غوا سنه ده
حبڑ سنه د کاندهی* — خله د جنا سنه ده
چاله هغه سنه ده — او چاله دا سنه ده
ماله زما سنه ده — او تاله ستا سنه ده
نیته ـــ ئے لنډه ده
کنی دنیا سنه ده

(*) کاندهی. کرم چند کاندهی (۱۸۶۹ - ۱۹۴۸ ع) کاندهی د هند مشهور قومپرست او سیاسی رهبر.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

په غمونو کښې خندا کړه په خندا کښې غم هیر نه کړے
او د ډیرو په سودا کښې چه قیمت د کم هیر نه کړے
د وصال په لمغړو کښې د فراق ستم هیر نه کړے
دا چه ته ئے ستر کو تښخاندے
د دے ستر کو غم هیر نه کړے
د الله الله په شور کښې
چه صنم صنم هیر نه کړے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعا

اے خدایہ عقل راکہ — اے خدایہ پوہ یہ را
زړګے مضبوط راکہ — او سینہ لوبہ را
ستړګے دنور راکہ — رحم دَ ځان را
بیاتول غمونہ دے — دَ دے جهان را
ماتئے پہ سرکہ — زار درنہ شمہ
زہ بہ ئے اوړمہ — زہ بہ ئے اوړمہ
یار بهادر راکہ — کہ همت نه راکے(*)
غیرتی زړه راکہ — کہ غیرت نه راکے
دَ سکندر بخت را — دَ دارا خیال را
مت دَ خالد کښې — توره هلال را
اِسلام دِ پریږده — زار درنہ شمہ
زہ بہ ئے کتمہ — زہ بہ ئے کتمہ
دَ شپے خیمہ کښې — دَ عشق شراب را
پاک مل دَ لارے — لکہ ګلاب را
دَ سپوږمۍ نور راکہ — لوبو کولو لہ
دَ بوډۍ تال راکہ — جوتو وهلو لہ
جهان دِ پریږده — زار درنہ شمہ
جنّت بہ ئے کړمہ — جنّت بہ ئے کړمہ

(*) نه راکے = نه راکوے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو برکیه هو

پښتن په لیونی باندے شو پښتن لیونے یو
وے روره په یورپ کښې سړی کې د سر ولو
بانګ کښې د سبلم پرون نوے تپه واوریده
تلے وم خالصے ته راته ئے اوده ے نهکے ناوه
پرېږده باچا خانه دا د جیل قصے د خوشی دی
دال م نه هضمیږی نه عادت یم په پولاو
واوره د یورپ نه د انصاف خوږ ے خبرے
واوره مړے واوره د پیشو بی بی میاؤ میاؤ
یو نهنګ غټ شوے وو کبان ئے ډیر خوړلی وو
بل نهنګ پرے راغے او به سړے شوے د تلاؤ
ځنے د قسمت کوتے مړوند کله مړئ نیسی
خپے که ځان له ماتے ګډا کی کړی په داؤ داؤ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

محبت بے وفایار دے دیو غیږ کښې بانه خاندی تل

وُپرون غږ سوسـزنن دَ صیب سـره وُ

خاپه خبر تسبابه چاته خاندی خندی وبه څوک

موږ نه خوخفه بوته مُلا علی داو داو

دلته چـرګوتې دَ ګرکه جنګ ے په آګو (*) اوشو

ورکړو دَ چاپـے (+) موتر له بیاف برنګی تاو

کوږکښې دَ قصاب غویان په اوچوتانتو نښتی دی

هولنډیه ، هَوبرګیه ، هـرچرګیه هَو

جنګ عظیم ۱۹۴۳ء

(*) آګو: هګره هګیو. (+) چاپـے: کلی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

مخ مے ؤ قبلے ته لیونے ترے خبر نه و
ستر کے وے وازے د انسان په تماشه

عکس د سپوږمۍ مے د شبنم خاخکی کښې اولیدو
ځکه په سجدې شو او مسکے شو د جانان په تماشه

نشته د ژوند د خوب تعبیر کتاب کښې نشته
ستر کے وکه پورته د آسمان په تماشه

خدائے مکه کښې نشته د منصور د خلے م واورید
ولرشه لیونیه، شه د ځان په تماشه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقیقت او مجاز

دا دوه حورے د جنت دِی وئ شرابو کښ لامبو
که م ستر کے د جانان بیا شولے دِ کے د اوبو

چه د مینے په مذهب کښ شک کول کافر کیدل دِی
که منم دِ کافر کیږم خلاص به نه شم په توبو

د نرګس بوی کښ پیلے د سپوږ مئے د شغلو جال دے
په کښ پروت یو لیونے دِ چه مجنون دے که بلال دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه، چه تول عمر ماشوم وے

بے پروا لکه لولو وے پہ ګلونو کر زیدلے
او چه تول عمر ماشوم وے، پہ بلا نه اوریدلے
دَ دنیا دَ اوږ ستر کو، بے خبره کر زیدلے
چه پہ ځله دَ جانان نه وے، دَ فراق وِ ته غزلے
بې پروا لکه لوئے وے، پہ ګلونو کر زیدلے
بے خبره چه آدم وے، دَ رازونو د هوا نه
نه آشنا مجنون اوده وے، دَ غمونو د لیلیٰ نه
او چه حُسن خبر نه وے، د خپل حُسن دَ غور ځنګه
دا زما زړه نا آشنا وے، د دے بنوبد وَ د جنګه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

اوږدبنده مثال لکه دخس دے
تودشی لوکے وګړی رنا کړی جوړه
لمبه شی وسوځی خاورے ایرے شی
بوده ابئی پرے ژړا کړی جوړه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تهاوزه

مجنون وے لیلیٰ پوئے نه شم — چه ته ښه ئے اوکه زه
بلبل گل ته په خنداشو — وے داخه وائی داخه
گلاب روپه نیاز مسکے شو — وے که زه یم اوکه ته
ته ئے زه اوزه یم ته — فرق زما او ستا دخه
هغه چه فرق لری زه ونه — نه پرے پوئیږو ته اوزه
لیونی که سر راپورته — وے جواب ولے دَخه
صوفی خان که دیر کړے ستړے — که د ښو نه ښه شے ته
خو دَ عرش پایوله نه حُی — دهاؤں هاؤں چغے دَ خزه
لیونی ستړے کړے ښکته — وے لید شین روکے واښه
وے اے زما دَ روح خاوند — چه دَ ښه دے اوکه زه
دنسیم یو چپه راغله — خُله زما خُله دَ واښه
تے په خپلو شونډو ښکل کړے — دواړه خُلے په یوه خُله
لیونے لا لیونے شو — دائے وے برے کاته
هیڅ په پته دِ پوئے نه کړم — چه ته خه ئے اوزه خه

(*) پوئیږو = پوهیږو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړینے پہ کیدو

اوه یو ذره د نور وه — شوه دریاب کښې د خشت ډوبه
پہ خوبونو د خوانئے کښې — یو شعله د نور پیلے
دا نړئے د هلال شونډے — دا د دوو ستورو رنا ده
داد هغے خوب تعبیر دے — چه وُو ما اوتالید لے
دا هم کل دے هم بوراد دے — هم سازونه د بلبلے
دا چه ستانیانه بینو کوتو — د ازل خانګے ته لاس کښې
دا کلاب ئے ترے راواغشت — پہ نورونو لمبید لے
دا چه ما غمګینے ستر کے — پہ ژړا کړے بره پورته
دا زما د غم جواب کښې — مپوږمئے کل د رالیږلے
دا اوبه د واوجینو دی — د دریاب پہ طمع درځی
دا هم زه یمه هم ته ئے — هم زما او ستا خوبونه
د تبه جوړ ترے اباسیدکړے
پہ کلونو کښې بهید لے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کډې وډې

وږې م ورکړه نه مکے له اوشپه م وکړه ستوړوله
ځان له چه کم عقل شوم، شوم هله اوښیاړ نوړوله
ستړګو دجانان کښې کله کله ډکل پا نوکښې
زه نے هرځائے وینم شیخه جوګه جمات نوروله
لوے جنجال ئے جوګه چه نے ویش دنصیب ؤکه
دومره رحم سپینوله او دومره عقل توروله
واچوله نیک تالی ملابابا په خیته موپشو
زړه دغریب ستړوؤ په تلو جنازه سپوروله
دا عجب انصاف دِ ساقی ستا په میخانه کښې
غوړ ودغوړو دریاب اوخاشکے نه ځی نوروله

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خندا او ژړا

د ساقی لاس کښې شرابې
یو د غم یو د خندا
ما پیاله تشه نیولے
ستا د فضل په سودا

اے ساقی چه کم د خوښۍ وی — په خندا خندا نے را
لیونے یم کار م نشته — په خندا او په ژړا
زه یم ستا د ستر کو بڑے — بڑے نه یم د خندا

دا پیاله م که لبریزه
که خندا وی که ژړا
خو چه بڑے م پرے نه وے
ستا د حسن میخانه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه دَ مستئ نه
هستی جوړیږی

پوره سپوږمۍ چه رو رو کمیږی
ژوند ئے پخیږی غم ے زیاتیږی
ډیر ارمانونه پوره اولږ نیم کړے
چرته محل یو نیم ډیرے جونګړے

ستارګې شرنګ هغه دَ ماښام نشته دے
سرور په ستر ګو کښې دخیام نشته دے
دَ نور شغلو کښې شفق غرقیږی
چه دَ مستئ نه هستی جوړیږی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وږه ملا

ماته یاد چیلے گناه که تا نه هیر چیلے نیلے که
ماجانان که دلربا که تا تکے او نا تکے که
ماد چیلے مستے تاج که تا د چیل جهل لیکے که
ما او بنیاد جهان پلار که تا جولاد ویتکے که
ما تر بے مینه مستی جوړ کړل تا کا نه په دوه چکے که
ما د حسن سمندر که تا شوقی د ملکے که

نو اوس وایه ملا ته
چه نے تنخوبنے که نه؟

نه په لیونتوب ترفلسفی کړل خه جوړه نه فلسفه ترخه کړه جوړه لیونی
دا کړه وړه دنیا کړه وړه وانه د بوږه دوه پیه بوږه بخت د خوار غنی

دا دستور روشمار دوخت تلل د سازلید
نه خونتولا دے چه نے ویر او شوکنی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند

ژوندم دوب دریاب دے روروخورشو سمندر کښې
خاخکے روک دریاب کښې شو په طمعو دساحل
بخت کښې دسیلاب دی په مستئ په چپو تلل
نه وړځی دریاب له غونډیدل او اودریدل
دے لهرد سازله تله ژوندون او دریدګ دے
زیرے د ماښام وی د سحر راخلیدل
کډے دے چپے کړه د ابد مستانه تال ته
اوګرځنګوه سازے تارخانو کښې د ازل
لاس لیونے لاړچې ته د نور شغله کښې دوب شو
خاخکے روک دریاب کښې شو په طمع دساحل

اے دانګو رنګوړے اول چه را غلے به ته
پټول محفل کښې به دِ خندا بر سیره کړله

او اوس چه را شے ته درد او تیاره راولے
دنیا دِ کمه کړله ژړا دِ دیره کړله

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عشق

سوزنه دے عشق سازنه دِ عشق ، آه اوګریان نه دِ عشق
مستهٔ رنګینی دانه ده . غم دَ جانان نه دِ عشق
خوب دَ خوانے نه دِ ، دَ خوبونو ارمان نه دِ عشق
مینه د ملیار دَ سترګو ، وخت دَ خزان نه دِ عشق
تورتش دتیارے ګک ، دَ تیرو بیابان نه دِ عشق
مست د امید ونو ، یو دریاب روان نه دِ عشق
سترګو کښې که راشی دَ شفق سره دَ خمار
عقل له که راشی دَ سپوږمۍ دَ رڼا تار
دے مستانه زړه له یوه حوره دَ تاتار
دا دَ مستۍ حد دے او دَ حد بندیوان نه دِ عشق
مستهٔ رنګینی دانه ده غم دَ جانان نه دِ عشق
عشق یو وجد دَ رَب دے په وجدونو دانسان کښې
یو دَ مینے ساز دَ زړه په سوی قبرستان کښې
روح دَ روکی ګل دَ سپرلی سترګو دَ خزان کښې
مرګ عشق ته حیران دِ خو مرګی ته حیران نه دِ عشق
خوب دَ خوانے نه دِ دخوبونو ارمان نه دِ عشق

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مردان مارچ د باچاخان

راشه اے خوشحال بابا — اے خالده او جګوره
پا څه غلی مه تغنی — دا تمامنه او وینه

جنګ له دے منصور پښتون
توپ او نه توفنګ لری
نه د توره و پرق لری
نه د زغرو شرنګ لری

زور د دښمن نه وینی — دا سے لیونے روان
دار او رسن نه وینی — داد مستانو خان
دا د پښتنو ملنګ — څه بادشاهی ننګ لری

جنګ له دے منصور روان
توپ او نه توفنګ لری

سپین مخ د لیلی وینی — دشت بیابان نه وینی
زړونے د دیوانه مانه ډک — غم او ارمان نه وینی
سرے د باتورستر کے نے — مینه ر نګار نګ لری

جنګ له دے منصور پښتون
توپ او نه توفنګ لری

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاج ئے دا زغو په سر — مست لکه مجنون روان
نوم د پښتنو کښې — زوئے دِ د پښتون روان
نز، داد نرانو خان — څه غیرت او ننګ لري

جنګ له دے منصور روان
توپ او نه توفنګ لري

هرے کینبود خاور وکښې — مرګ له ئے سینه ور کړله
د پښتون د سر صدقه — خپله وینه ور کړله
وے هر څه م دتام دِی — والله، هر څه چه ملنګ لري

جنګ له دے منصور روان
توپ او نه توفنګ لري

اے د پښتنو بچو — دا میدان م هیرنشی
سپین سهے د وینو ډک — هغه خان م هیرنشی
پروت دے دلته خاور وکښې — دا مکان م هیرنشی
پاڅئ ننګ پرے اوکړئ — خدایرو دیرپه تاسو ننګ لري

جنګ له دے منصور روان
توپ او نه توفنګ لري
نه د تورو پرق لري
نه د زغرو شرنګ لري

(۵) مبدام. مبدد مو، مام حال مو، مکام. مکان مو.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوبخرے

دَسپرلی شپه وه مسته مستانه ستوری کیدل پیر روبنان روبنانه
سپوږمۍ ولاړه وه بنکلے حیرانه لیونی سوال اوکه دَخپل جانانه

رنا م پوهے له دَ لا مکانه را
مستی م ستر کوله دَخپله خانه را
دَخپله خانه یارا دَ خپله خانه
لیونی سوال اوکه دَ خپل جانانه

ناکاه برق شو دریاب دنور راغے خه په مستی راغے خه په سرور راغے
هستی شو کونکه مستی کو یانه لیونی سوال اوکه دخپل جانانه

او لیونی وریته ذړه کے که لرے
دیر په خوار په کښ خاشو یوبخرے
نور ډک دَ خانه وَ ډک دَ جهانه
لیونی سوال اوکه دَ خپل جانانه

دریاب دَ نور لاړه خیشت او نالاړه او دَ جانان مستی جانانه بیا لاړه
لیونی پاتے شو خیرے کو یوانه دَسپرلی شپه وُ مسته مستانه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال وجواب

لیونیه مکه څه ده — مُلا کور دیو عاشق دے
کوتهنئ دی کښے ډیرے — دهمو رَبّ خالق دے
لیونیه ایمان څه دے — مُلا دادے پوخ گمان
دَ یو خوب په زړه لیدل دی — دَ وصلونو دَ جانان
لیونیه جنّت څه دے — مُلا ستا جنّت پیتی ده
او زما جنّت وصال دے — یو خمار یوه مستی ده
لیونیه حوره څه ده — مُلا سپینه لوګئ ده
یوه کرښه دَ شفق ده — دَ خندا بُرُبُره کئے ده
لیونیه نشه څه ده — مُلا دا په سیل واته دی
دَ مستئ رنګین محل کښ — دا واته ننواته دی
لیونیه چه نموخ څه دے — مُلا خاورے بنکلول دی
دَ جانان کوڅے ته تللی دی — دَ اُمید ارمان کیدل دی
لیونیه سجده څه ده — مُلا جان خاورے کول دی
دَ مستئ دګلو هار — دیار رخپو کښ اچول دی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونیه ژوندون وخته دے — مُلا نره یمه ژوندون
دازما دَخوب لیدۀ دی — دَ سبا او دَ پرون
لیونیه وصال خته دے — مُلا خیشت کښې دوبیده دی
دا په ستورو کښې ګډیدی — په سپوږمۍ کښې خوریدی
لیونیه حُسن خته دے — مُلا لرې خمار دے
بو مُسکے مُسکے شان خیال دے — یونزے دَ رڼا تار دے
لیونیه جانان خته دے — مُلا روغ ورته نه کوری
لیونی سے هیله (*) وینی — دَ تاو کړو با نو سوری
لیونیه ته سے خوک — مُلا نره دَ چا ارمان

نره یو کل دَ چا دَ کوتو
په قدمونو دَ جانان

چه سے خودی ډیره شی دَ خودے رنګ ورکی
یاد بوږا توب له هم دَ خوانئ رنګ ورکی
غم چه ډیر زور او کړی دَ خوشحالئ په شان
دَ ژوندون تار که رقصانه شرنګ ورکوی
ستر کے چه تشے شی خوبونه ډک وینی
په تش کاغذ مصور مستانه رنګ ورکوی
سحر له شپه ورکوی شپے له سبا ورکی
دَ فلسفیانو سر له ورنګ ورنګ ورکی

(*) هیله = ایله.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے دَلیونیانو نیکه

اے دَلیونیانو نیکه حسن که وفا نښه ده
برخه دَ مجنون نښه ده ، که برخه دَ لیلیٰ نښه ده
وے اے زما بچیه ، دَ دلبر دَ خُلے هوا نښه دَ
یخه نرمه لا نښه ده ، تیزه ګرمه لا نښه ده
تاو دمخ دَ پاره لوپټه ، سره رنګینه لا نښه ده
زیره نښه ده توره نښه ده ، تکه سپینه لا نښه ده
نوائے زما بچیه حُسن نښه دے هم وفا نښه ده
برخه دَ مجنون نښه ده ، هم برخه دَ لیلیٰ نښه دَ
نښه ده فقیری نیکه ، که نښه ډیره دنیا نښه ده
کل صنوبر نښه نښه دے ، که خُله دَ محبوبا نښه ده
وے اے زما بچیه سور عقاب له دَ غرسر نښه دے
کل دِ صنوبر له نښه ، او ګل له صنوبر نښه دے
جام له قلاره ، او سمندر له طوفان خوندکه
مستر کوله مستی خوندکه ، او زړه له ارمان خوندکه
نوائے زما بچیه فقیری نښه ده دنیا نښه ده
تخت دسلیمان نښه دے جونګړه دعیسیٰ نښه ده

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخری

شهید

اے شهیدؒ! اے عاشقه اے بچیه د مصر
په خندا جاناں له لاړه، ډوب دریاب کښې شو د نور
نادانان در پسے ژاړی ماشومان درته مجنون وئی
لیونے درته پسخیږی اے ایرے د کوه طور
ننګیا لیه سرد ورکه د یار خپو کښې دلوګے که
اوس یے کوه مسکے سترګے ښکلے د کے د غرور
ماراوړے تاله نه دی دسرو کلو امیلونه
د جنت بلبلان څه کئ د دنیا د باغ ګلونه
تاکړے خپلے سترګے خاورے چه زما پرے شی روښانه
تا قصه زما د درد بره یوړه تر آسمانه
ستا د وینے څاڅکے څاڅکے چه تا توے که د آرمانه
ماته سړے دیوے بلیږی په کوڅه کښې د جانان
د دنیا تاجونه خاورشه ستا د بخته ستا د شانه
دلیلی په نګون پروت ئے د مجنون شیدے کړیوانه
ماراوړی تاله نه دی د رامبیلو امیلونه
د جنت بلبلان څه کئ د دنیا د باغ ګلونه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

منصور

منصور یو لیونے ؤ د معشوق اداب ئے ګیر کړه
منصور یو لیونے ؤ د مستئ شراب ئے ډیر کړه
وے مستی دا زمانه ده د جانان دستر کو نور دے
زما د ځلے خبرے هم تورات او هم زبور دے
دا رنګ زما دستر کو نه دے رنګ دے د جانان
دا شرنګ زما سینه کښې د خپو شرنګ دے د جانان
منصور چرته لیدلے د مخ نور و د جانان
دا مست چه پرے منصور شو دا سرور ؤ د جانان
وے د حسن ارمانی نه یم زه د حسن سمندر یم
زه مست لیونے نه یم ، زه مستی د بحر و بر یم
دا رنګ زما د ستر کو نه دے رنګ دے د جانان
دا شرنګ زما سینه کښې د خپو شرنګ دے د جانان
عالمه را شئے واورئ چه زه نور او زه رنا یم
زه کل یم زه بلبل یم ، زه وصال زه محبوبا یم
منصور خو خوا ډوب شو دا تش نور دے د جانان
دا نه دے منصور نه دے دا سرور دے د جانان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرپرے ملیان(*) شووے منصور خان ته الله وائی
دا کفر دا غرور چه ئے هر چا ته برملا وائی
وے کافرے شی سنگسار دچه پلیت نه شی جهان
بادشاه د لیونوئے زولنو کښې که روان

منصورے خلقه واوری چه زه نور اوزه رنا یم
زه گل یم زه بلبل یم، زه وصال زه محبوبا یم
منصور خو پخوا ډوب شو د آتش نورے د جانان
دا نه دے منصور نه دے دا سرورے د جانان

(*) ملیان: ملایان.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه ؤ

دا په ستر ګو د مریم کښې چه ژړاوه که خندا وه
چه ئے سوری په صلیب اولید د عیسیٰ د زلفوول
ذاخه او وایمه تاته ، چه رحیم ئے که رحمن ئے
چه په خاورو کښې کړے خاورے د ګلاب شکلے اوږل
دا مستی وه که معراج وؤ دا جهان ئے چه روښان که
که د نور دیار د ستر ګو د ریا بوته بهیدل
چه دا کفر که ایمان ؤ ، چه دا زړه ئے لیونے کړم
چه دا غم م په خندا شو که مستے م اوژړل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیدایش

او ماځان له سازکه پخپله جوړ
دَ خپل خوب نه دَ خپل خیال نه
دَ خپل غم نه دَ مستۍ نه
دَ خپل تول نه دَ خپل تال نه
او ماځان له یارکه پخپله جوړ
دَ خپل سوز نه دَ ارمان نه
دَ خوبونو نه دَ رنګونو نه
دَ ګلونو نه دَ خزان نه
او ماځان له غم که پخپله جوړ
دَ خندانه خوشحالۍ نه
دَ وصال نه دَ خمار نه
دَ بهار نه دَ لوړۍ نه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوماځان له ژوند که پخپله جوړ

دامیدنه دَ رنا نه

د تیرونه د ښیرونه

دغمونونه دسودانه

اوماځان له مرګ که پخپله جوړ

دَ ژوندون نه دَ مستۍ نه

دَ سپرلۍ دَ زیړو کلونونه

دَ لالونونه دَ ځوانۍ نه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کډې وډې

داخوک دی؟

دَچانه خفه دے او چاته پقار دے — په ژمی واوره شی په اوړی انکار دے
پلار نے ژوند دے خوږ ګڼلے پلار دے — پکړی وی سقر په زړه آباد کل او ګلزار دے
په بڼ نے پیاز دے خو په سر نے دستار دے — پلاس کښ نے تیغ دے، په ځل کښ بنا مار دے
د شیطان مرید دے خو د خدای تابعدار دے — خبر نے یو نه منی، خو نے یار دے

په جرمست لکه خر، په سر کلک لکه غر
په زړه سپے لکه سپے، مریږا قریږا
په خوئی خوږ لکه ګوک، تش ایمانے دپوک
یارانه نے لیقرے لکه سخا ایریږه

کله ماول د پیشو، کله غپ دخړو — کله غم د زړه وی، کله بر بر برو
کله شنګ د لیلی، کله رنګ د مُلا — کله شپول کله زور کله کل د لالہ
کله پرس د سوندر، کله سویت د دهوس — د دوه شان د حاتم او ایمان د چروس
د دوه ست د کونګټ مریږا قریږا
یارانه نے لیقرے لکه سخا ایریږه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډے

تو تو توخړ او تته تته

ارمان زمالنډی له فیرنګ شنه جوړ کړه کته

خبرے اوس پښتے کئ شمله ئے ده بے بته

یونوے اسلام راغے د خانانو د مالته

چه خوښ ئے دے موتر که هجرت د جماعته

تیز کړئ په پټرولو کله بره کله ښکته

په بلاه تماچه کړئ یرین ی د پنډ ته

او ه تته تته خړو او ه تته تته

ارمان زمالنډی نن په اسلام کړے د ننګ

ارمان زمالنډی سخکال(*) کولی دی باد ننګ

ارمان زمالنډی کښ دی چالونه رنګ رنګ

ارمان زمالنډ یه کله پلن شے کله تنګ

ارمان زمالنډ ے وی کله بره کله ښکته

او ه تته تته خړو او ه تته تته

ارمان زمالنډ یه لرے خیته دهاتی

په نسل فتح خان او په خویونو جلاتی

(*) سخکال: سبز کال.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمان زمالنګے زړه کښې زړه کینه ساتی
ارمان زمالنګے نن کې کار و نه خیراتی
زمالنګے حاجی شو نه څپیړه وې نه لته

اوه تته تته خړو او تته تته

زمالنګے ښه شوے دے غیرت د مسلمان کتی
مرګه جنت کتی ژوندلے د اجهان کتی
زوی له نوکری کتی او ځان له پاکستان کتی
د استاد رقیب دلال به نن تاله جانان کتی
په بلې تماچه کرځی یریږی د پنډته

اوه تته تته خړو اوه تته تته

ارمان زمالنګے چه پنجوړ لکه زمرے دے
په لنډه کښې ښه د ړوند دے خوکر بوړو کښې نرے دے
په فکر افلاطون دے په اخلاقو ښا پیرے دے
په عقل لږ میخین دے خو په ژبه چرچرے دے
ارمان زمالنګے دے ډک د چل او د حکمته

اوه تته تته خړو اوه تته تته

الله زمالنګے نن د فیرنګ نه کتی ځان
الله زمالنګے کتی هم مصر ایران
وې نیت م د کعبے دے خولندن ته د روان
هند د فیرنګو ته خوښے نه لکی هندوان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمان زمالنې ے نه باکوکړ دے او نه بتنه

اوه تته تته خړو اوه تته تته

پرون زمالنې ے چرته ولاړو په دیران

پرون زمالنې ے چرته خوړل پرې توتان

پرون چه جهان روان (٥) وو، ؤ زمالنې ے ودان

پرون دَ چا په دین وؤ چه دانن شو مسلمان

زما دَ بنا دئ مشره ستاوی غم کښ کمه پته

اوه تته تته خړو او تته تته

زمالنې په واوره دَ بونډ ئ لګے دِ خار شم

دښمن م دَ دښمن شه نو زه یار به ستا دیار شم

که ځے دَ جانان کورته زه به ستا دخپو غبار شم

ته زار شه په وطن نو زه به ستا دَ ستر کو زار شم

تش منه خوره قسمونه ستا شه توره ژبه تته

اوه تته تته خړو اوه تته تته

ته نوم دَ اسلام اخلے په اسلام پورے خندا کړے

مستی هم دومره بویه چه دے قام پورے خندا کړے

دعوه دِ دَ عاشق ده دیار بام پورے خندا کړے

که سم نه شوے روان چوکه به دے وُرمه بنسکته

اوه تته تته خړو اوه تته تته

ایکشن ١٩٣٥ء

(٥) روان = وران ۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمان

مسلمان هغه بنده دے ، چه نے شُنے تل مسکے وی
ستر کے ډکے درنا نے ، د خُلے یو په سل مسکے وی
سپین ایمان نے لکه تندر ، بے دغا نه هرڅه سیزے
د جانان د دیدار وتے نه لغے ول په ول مسکے وی
چه نے زړه ډک د آرام لکه ونج د سمندر وی
خُله نے ډکه د ګلونو لکه باغ د صنوبر
د اسے مست د اسے سرشاره لکه مینه د کافر
اراده کلکه بے کرکے لکه څوکه د خنجر
د وجود هر ځا څکے وینه سره په مینه د دلبر
په سینه کښ نے درنا وی لکه څرپکه د جوهر
په ژړا کښ نے تاثیر وی په خندا کښ نے اثر
مت نے بر په هر څه بر وی لکه مت د سکندر
د زړه نور نے لکه شمع په اوږده بل مسکے وی
د بلبل د خُلے آواز ته د غُټے د ګل مسکے وی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساقی

دَ ساقی لاس کښې شراب دی، دَ خندا دی که دَ غم دی
چه دَ سوز او که دَ ساز دی، دَ مستۍ که د ماتم دی
ساقی ستَرګې مهربانی، خوږې کړې په ستم دی
دَ ساقی شونډې و مدهوشو کښې خیالونه دَ کرم دی
دا تپوس زمانه مکوه، چه دا ډیر دی او که کم دی
دا نشه هم دَ صنم ده، دا شراب هم دَ صنم دی
میخانه هم دَ صنم ده، مستانه هم دَ صنم دی
زه ئې ځکه ستا په نوم، دَ جمدو ن که دَ عدم دی
جام په سر سر په سجدې یم، یو قطره دَ خمار غواړم
دَ دلدار وصال به کیږی زه تش خیال دَ دلدار غواړم

نه خوشحاله دِ وفا کړم، نه خفا دِ (*) کړم ستم
ژوندیو تال دِ چه غږیږی، کله زیړ او کله بسم
دا یو دوه کړې ژوندون، په خندا خندا تیر که
دا جهان خدائی جنجال دے، کله وران او کله سم

(*) خفا ، خصه.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوے کال

خاوندہ بیا سپرلے شو دنیا یو کال واړو
چا پہ ژړا واړو ، چا پہ وصال واړو
چا د نتو پہ شان پہ ساک او دال واړو
چا د صاحب پہ شان ډبل پہ مال واړو
څوک پہ سفر لاړل بلخوا لے مال واړو
چا د جانان پہ سر د خاورو شال واړو
چا د ګنګرو پہ شان پہ شرنګا شرنګ تیرکہ
چا د سپوږمۍ پہ شان پہ رڼا رڼک تیرکہ
او غنی داهم رہہ لکہ پخوا واړو
څہ لے پہ خندا واړو څہ لے پہ ژړا واړو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه

زما بخت د شمع بخت دِ یا به مرمه یا به سوځم
یا به وږغ له دَ دریاب ځم یا به پاس په چپو خوځم

عجب زه عجبه لاره عجیبه کاروان روان دے
مارسوتی پړاؤ له بیائی که زه ځمه او که نه ځم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپرلے خلاصیږی

تاؤ دغرمے لاړه ماسپښینے شو　　لکه دمنی یخ باد د سینے شو
سوړ د ستر گو ډیر خوږ د زړه کم شو　　او د فراق اسانے مخ د ضم شو
ساز کښې سړونه نن د خاموشئے خیژی
د هوش جنګے په کور د بیهوشئے خیژی

د شفق سره رنګونه شو لړه توره　　بادشاه شهرونکے شو د خپله کوره
او ستا کښې شرنګ هغه د ما بنام نشته دے　　سوړ په ستر گو کښې د خیام نشته دے
خپے د رقاصے سرے خو تال ئے هغه نه دے
بانګ د بلال هغه بلال ئے هغه نه دے

په جام کښې گوټ گوټ شراب کمیږی　　سپرلے خلاصیږی گلاب کمیږی
او رنا د شمع کښې د سحر نور راغے　　باغ د بلبلونه نوم د باتور راغے
د غمو ستر گو له خیال د خزان راغے
لږ مستی لاړه او لږ ارمان راغے
او د فراق سوړے په وصال پریوته
ستوری راوختل او هلال پریوته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دجیلخانے خوب

(۱)

خوب وینم عالمه که ئے څوک راکړی معنیٰ
پروت یم سرم اینبی دخپل یار په زنګانه
خوب وینم چه پورته په هوا لکه دباز شومه
کینا ستم په بام دَ محمود ستر کے دَ ایاز شومه
پورته دَ خاموش زړګی نه خوږ دَ مینے ساز شومه
خرڅه م په حورو کړه د دموزمانه

(۲)

خوب وینم چه ناست یم دَ جیندی (۱) پخپله غاړه
شاه م سویلو کښې لکه سره شمع ولاړه
سړے شونډې مسکے شومانه ئے وچه ژاړه ژاړه
څکه دِ دَ زړه وینے داشراب دی مستانه
خوب وینم عالمه که ئے څوک راکړی معنیٰ

---

(۱) "جیندے" دهشنګر دمینځ هغه سیند دے چه نهونو
الله واړه کلی ئے په غاړه پراته دی. (غنی)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳)

خوب وینم چه باغ دے دګلونو او مانبام دے
سرے ستړګے ساقی دساقی سړو ګو توکښ جام دے
لاس په ستار پروت لیونے مست لکه خیام دے
اړئ پرِ نړئ نړئ د مینے افسانه
خوب وینم عالمه که نے څوک راکړی معنیٰ

(۴)

خوب وینم چه سپینه سپوږمئ پاس په خندا راغلله
ماله محبوبا په شرم شرم تر خوا راغلله
شونډو کښ شراب او په کوکئ کښ قضا راغلله
سُرخمارے راکه پیمانه په پیمانه
خوب وینم عالمه که نے څوک راکړی معنیٰ

(۵)

خوب وینم چه پټ شوم په نسیم کښ بمرلاړمه
خواله دَ جانان لکه دَ مینے نظر لاړمه
ستړګو دَ دلدارله لکه خوب دَ صحرا لاړمه
یو شرنګ کښ مِ لوټ کړه دَ عمرونو خزانه
خوب وینم عالمه که نے څوک راکړی معنیٰ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

(٦)

خوب وینم چه زه لکه لولکه به سیل اووتم
پورته د نرګس نه شوم په خوا د رامیل اووتم
ناوړه سیبه عارے د لیلیٰ په امیل اووتم
پټ م ورته ووے سلامونه جانانه
خوب وینم عالمه که ئے څوک راکړی معنیٰ

(٧)

خوب وینم چه پورته لکه چغه د منصور شومه
یا یو مټے خاوره وم یا لوئے دریاب د نور شومه
خو بانګ د سحر اوشو زه راوینښ شوم کرو کور شومه
خوب یوره خوبونه راجمد (*) ئے شوه زمانه
وی پریوزه لیونیه تیره وه د جیلخانه

غنی

حیدرآباد جیل - ١٩٤٨ع

(*) جمد ئے ، ژوندی ۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړے وړے

واوره فلسفه دَ لیونتوب دَ لیونی نه
دا آیات خونه دے خو قرآن کښې ماویلے

مرګ او ژوندګی یوه ده . غم او خوشحالی یوه
ژوند چه چیرته نه وی مرګ چا هلته لیدلے دے

زړه لکه دجام دے خوشحالی غم ئے شراب دی
تږے به خښت شے تا خو غم ته نسکور کړے دے

خوند که ئے جدا دے . ده نشه یوه دَ دواړو
دواړو کښې خمار لږ دَ ساقی دستر کو تلے دے

مرګ کښې پټ دِ راز دَ مرګ ژوندی پے نه پوهیږی
دا آیات خونه دے خو قرآن کښې ماویلے دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قید

دسحر تیل اودال — دماښام دان اوتیل
نه کوتګۍ په ګټ کښې — قلپۍ (۱) دعطر او فلیل
دسحر دوه چپاتی — لکه زړه چیرې
داسې خواږه اوپاسته — لکه دَخرو تغرې
چائے لکه یخه ښوروا — په تروے ګړے توږه
پیاله دَ زیړو دولچه — اوس راشه خوندے کوږه

بستر دبرګ تړپړی
سوزنئے توږه کمبل
اویارانے لهدَ شپے
څار به څار به کټمل

محفل دښکلو خلقو — قول بزرګان شریفان
یا متهیزک ګڼ کپان — یا اجرتی قاتلان
چه نور زیړے شی هیله — ما په پنجره کښې کړې بند

---

(۱) دجیل چکئے کښې دبولو لوښه هم پروت وی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه مرز په قطار

په بلا ره کښې کړې بند

تمامه شپه ګرزی

دم په دم کې تفتیش

ته به وے چرګ یمه زه — یو به مِ سی پناپیش

د بندیدو سره — همه دنیا دَ بهر

یو تو ره لره شی — کښینی مِ ان په ځکر

دَ جهان قول ځمونه — لکه سیلئ راشی

دَ زړګی سرله بدِ — لکه کولئ راشی

اوچه ارمانونه پکښې — لا د لولئ راشی

لکه د مړی په کور — چه سره ډولئ راشی

اوچه دے باغ دکلو — ماښام رایادشی

لاچه دِ ډک دَ مستئ — سورجام رایادشی

که دا خدمت وی دقام — زمونږ توبه ده

دا دال اوتیل مضمول

ګرانه قصه ده

اولا په دے کښې هم

غنی غزلے وئ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعشق اوبه دے مزلے

په بلے بلے وئ

ولے په تشو اوبو

شاعری کړانه ده

چه تاؤ دَ اورنه وی — زرگری کړانه ده

قاضی (۱)، صاحب وئ قرآن — سحر، مابنام ماز کړ

ځان له ئے کینو آواز — اومالہ ئے خوبه که سر

که صیله غږ کوو — اوس راته وائی آیات

قهر په مست اوشار — رحم په صوم اوصلوٰت

څه اوکړو صبر به شو

داد الله نه ده

ولے په تشو اوبو

شاعری کړانه ده

غنی

حیدرآباد جیل ۱۹۴۸ع

---

(۱) قاضی عطاء الله وزیر تعلیم زمادحیدرآباد سنده دَ جیل مرگوے دے. قاضی صاحب ته ئے دپشتو منظومه پیامی حصیت اولیکوال (۱۹۵۳ع مر) قاضی دپشتو تاریخ م لیکلی چه به خلورو توکو نو چاپ شوے دے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاورے

نه منم نه منم یاره مرگ انجام دهستے نه دے
خلا میدل شراب په جام کښې اختتام دَمستے نه دے
چه ما بنام دکمے شپے وی نو دهغے سبا هم وی
چه رنا وی تیاره وی، چه تیاره وی رنا هم وی
که یو نه وی بل هم نه وی، او چه وی نو وی به دواړه
دے دریاب له چرته شته دے لرے بله یوه غاړه
زر سحره دبهار دی یو ما بنام کښې دَخزان
شل خمونه دگل وعطر و یو دانه کښې دَ رخیان
چه یوه غُنچه شی خاورے تخم وکړی روغ گلزار له
دخپل رنگ او بوئی پناه ونه شکوانه یوسی بهار له
دا جهان دنور او سوز، ولے روک شی چه ساز چپ شی؟
چه جانان په مستو ستر گو گوتے ورو دی ستار له
په قبرونو کښې پرتے دی لاس او خپے شونډے او گوتے
څوک شی قبر جوړولے دے سرو ستر گو خمار له

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جام ئے مات شو میخانه کښې لیونے تے غلے پاځید
زړه مے ډک د رنګه یوړه دے روان کوڅے د یار له
ساقی نوے جام راواغشت په سر و شو نګه کښې مسکے شو
بل عاشق وتړه لاس ونیو شکرانه تولئ دلدار له
ملا بے سره سرورہ تش کنډول دمرګی یوړه
خاورے خاورو له لاړه کنده او کنوئ خوار له

غنی

حیدرآباد جیل ۱۹۴۸ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخوبونو جهان

زما په وینه دخوبونو لوی جهانه
په شپه کښې راشی په وخ بیالا رشی له مانه
دَ ستورو باغ پیدا دخاورو د انسانه
ښیسته دګلستانه راځه ماله راځه

دا ینے عکسه ولے بل خواته ورکیږے ؟
سوره لوګیه آسمانونو کښې پټیږے
دصحرا سینه ځیرته ځے کوم خواغیبیږے ؟
وچیږے وچیږے راځه ماله راځه

دسیلئ اَسه دآسمانه غورځول کوے
اول دا روشے بیا دَ زړونو ماتول کوے
دَ یو کار نه ئے او په ما کار ونه سل کوے
وژل کړے وژل کړے راځه ماله راځه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اَے بادسبا

تہ څہ خبرے اَے باد سبا — څہ دنیا کانے تالا کړے مونږ
هیریم کړے زلفِ خورے ورے — زلفے جانانے تالا کړے مونږ
هیرم که هغه دَ نور سبا — هیرستا نه لیونے ما بنام
هیریم کوکئے مینه ناکے کړے — پروت دے اړولے دَ میو جام
کے دکے زولئے دَ نور — څه پہ خندا مونږ نوستلے دی
سرے صراحیٔ د رپا او ساز — مونږ پہ صحرا اړولے دی
سترگے چہ وے دخمار دکے — مستے دژوند دشہ نکار دکے
پور دشرابو پیالے دَ ناز — ښکلے دسُرا او سینگار دکے
دکے شے ے شے، خاورے شوے — یاد او ارمانے هم خاورے شوے
پا نے کلاب او غُنچے څه کړے — غم دخزانے هم خاورے شوے
تہ څہ خبرے اَے بادِ سبا — څه دنیا کانے تالا کړے مونږ؟
هیرم(*) کړے زلفے خورے ورے — شونډ جانانے تالا کړے مونږ

غنی
حیدرآباد جیل

(*) هیرم : هیڅ مو .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهذب

چه خراب م په سکر تو کړو پر پوس
او په مس م خرڅ کړو دین ایمان ناموس
چه م هیرے د پښتو د ملک قصے کړے
چه په سلک م کړه بدل د وطن بوس
چه په نوم د پلار نیکه به شرمیدلم
شوم فدا د مس دخولے مرید د بروس
سوت م واغوست جهالت ته په غضب شوم
ماورا د ورو بابا اوس زه مهذب شوم

۱۹۳۲ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوداګر

عجیبه دا سوداګر دے — په لاس تیغ په سر قرآن
شنه قبائے دا امام ده — کلکے ستر کے د شیطان
په خګر لکه چنګیز دے — چلولی لکه ماهان
په خُله خوږ د ګلو باغ دے — په زړه سخا لکه ډیران
غرمبیده لکه زمرے کړی — غریده لکه حیوان
پنجے ډوبے په سر د وینو — سرے بره په آسمان

ماته وَی چه خُوانه راکه — ستا پښتو توره اوننګ
راته وَی غیرت دِ پریږده — شه زما دَ در ملنګ
وَی سرتیت کړه کنی کړم به — په تا ملک دَ الله تنګ
وَئی زه او بنیار لکه ابلیس یم — زه خوخوار لکه پلنګ
ته راکوز شه ښکته کینه — ماله دَ یار پالنګ
یا ما خدائے که سجده اوکه — یا زما او ستا دے جنګ

وی دا توره زما لاس کښ — ستا د ژوند اختیار زما دے
ستا خمار غیرت او مینه — د دے کوتو ښکار زما دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داشمله دننگ کړه تیته — دیر تیره غوزار زمادے
دفرعون چنګیز وار تیرشو — اوس را غلے وار زمادے
شه غلام دَ دے غلام — په ده دیر اتبار زمادے
خاورو ختو کښې پراته دی — چه خوړلے وار زمادے

که زما شوے زما خوانه — کوه دا دزرو تخت
پاس په دِ دَ پاسه کینه — خوشحالیږه په چپل بخت
داجامونه دَ شرابو — مسندونه دَ زر بفت
داسپړلے دا پیغلے مستے — ستاد سپینے خوانئ وخت
داجنّت دعیش اوزور — بل خوا اور داوره سخت
خوانه زه ساقی له ورشه — کړه داسره سینه بالبت

رَبّه څنګه سودا کړدے — څنګ ژوندو کړم جهان واخلم
څنګ نظر دستر کو ورکړم — او چشمے دمرجان واخلم
څنګ بهار اوسپوږمئ ورکړم — دلالونو دیران واخلم
دَدے سره دطوق بدل کښې — څنګه دین اوایمان ورکړم
دَ ریبار دَیرے څنګه — بے خودی اوجانان ورکړم

دا دنور اومستئ دک سر — په سجدهٔ کیږدم غلام ته
دَقصاب دَچیچرو مینه — څنګه اوبنایم خیام ته
څنګ دبل دتالی پاتے — کړم چوکه دمستئ جام ته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګ دلدار په دنیا ورکړم — رقیب او خیژوم بام ته
د جانان خیشته سر ځنګه — د فرعون په پښو کیږدم؛
نه دلید ے سوداګره — تا د سرے وینے غوږ ناک
په تیت سر باندِ نه ښائی — دا زما شمله د ننګ
د سرو زرو تخت قربان شه — په آزاد کند د ملنګ
تیتو ستر کو کښ او چیږی — د سرو او مستے رنګ
ستا شراب زهرو کوټ دے — خلا صول کړی د ایمانه
ستا ساقی د چکلے دمه — په دوه نیمو پیسو ګرانه

زه روکیږه سوداګره — لیونی مونږ د دلدار یو
ته ئے اوږ ے دلا لو نو — مونږه اوږ ی ځمار یو
نه ئے دم نه ئے دارو شته — مونږ په دا سے ښځ بیمار یو
ته مغرور ه په خپل زور ئے — مونږ په مینه کښ سرشار یو
راشه او ګوره فرعونه — دا دوهه د ملنګانو

په دے خاورو کښ خوږ دی
کپړی د بادشاهانو

غنی
هرک پور جیل
۱۹۴۷ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوکل

دے کوکل کښې م دننه — هم دوزخ دے هم جنت
دے کښې قهر او غضب دے — دے کښې رحم او راحت
دے کښې پروت یو سمندر دے — د نشے او د خمار
دے کښې پروت یو تهه ترین دے — د لمبو او د آزار
دے کښې پروت دے دومره رنګ — د سپرلی او د خندا
چه یو پرق نے پورجهان کړی — د مستئ او د رنا
دے کښې پروت دے دومره رنګ — د تیارے او د ژړا
چه یو اف نے تور لحد کړی — د خندا د کهه دنیا
دے کښې دومره شجاعت دے — چه د کل جهان مرګونه
یو نظر کښې تار په تار کړی — لکه باد د وړی بوسونه
چه په یوه باندې راشی — زړه تے(۵) غټ دے د منګ
دا سے رپی دا سے تښتی — دا د بوخا شکے تے کلک
او چه کلک شی دا سے کلک دے — لکه کاڼے د فولاد
نه پے زړه ترے اثر که — نه پے زړه کاله فریاد
دے کوکل کښې م دننه — هم دنیا ده هم قیامت
دا هم لاره هم کاروان دے — هم تدبیر دے هم قسمت

(۵) تے : سرې

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرت پہ دے کښ قول داستان دے — دَ جزا او دسزا

خور پہ دے کښ لوئے جهان دے — دَ وصال او دَ وفا

دا هم باغ دے هم خزان دے — هم بلبل دے هم بهار

دے کښ سره نیاز هین کاونه — او دشنو او بوشرار

دا هم زهر هم زقوم دے — هم کبین دے هم نبات

دا هم تور دمرگ ځادرے دے — هم چینه ده دَحیات

ده کښ پرت دا سے شراب دے — چه یو څاڅکے دهغے

په بد مسته او سرشاره — کړی دا واره فرشتے

دے چه ځی په بره درومی — شی جبرئیل ورته حیران

چه په بد و باندِ راشی — امان او غواړی شیطان

عجیبه دِیم جوړ کړے — اے زما خدایه عجیبه

بے دتانه نور دَهر څه — دَهمه یم مرکبه

دا داور او نور دریاب — دومره لوئے لکه آسمان

دومره روکے لکه څاڅکے — دومره لنډ لکه یو آن

دا قصه دَ سوز او ساز — ولے ولے څه له څه له ؟

خیشت او غم راز و نیاز — ولے ولے څه له څه له ؟

غنی

حیدرآباد جیلخانه

۲۳/۹/۲۸

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جناب شیخ

زړه دِ ډک دے دَخپل ځانه — په کښې ځاے نشته دَ یار
دا سے ډک ئے د نیکونه — لکه ډک دَ مړو ښار
دوارې ستر کے دِ رندے دی — دَ بل بد دَ ځان ښه وینی
تل آئینه کښې ځانته کوري — د یار نه وینے سینګار
شُنګے ستا او زګارے نه دی — چه صفت دا ثنا وکړے
دخپل نور قصیدے وائے — په کوڅه کښې دَ دلدار
دا سے ته په نیکے مست ئے — لکه دَ فرعون په زور
دریا ښه دېنه تاو دی — لکه لوئے او تور حصار
چه په بل کښې بدی وینے — څومره زړه دِ شی خوشحاله
دبل خیشت دے ته غلا ښکاری — ستا دتور تاریک جماله
دا شمکور راندے چه وینے — چه دغرے وئ غُرزیږی
دا هم ستا په شان روان دی — دا چه پریوزی او پاڅیږی
دا چه ته ورپورے خاندے — دا مجنون او دا ملنګ
ستا قبا د شنو ریښمو — او دَ دوی شلیدے لنګ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داهم زوے دے د آدم — د الله دکوتو جوړ دے
څه که ډوب دے په تیرو کښې — په شرابو کښې شور پوړ دے
دے هم ځی په چغو چغو — دے هم هغلته روان دے
ته چه ئے د کم په طمعو — هم هغه دده مکان دے
اے چه ډوب په فضل ډوب ئے — اے چه بوه ځے خوشحاله
دده شور چغے هم واوره — داهم ځان له وئ هم تاله
داچه دے پرې پرې ځ پریوزی — تاته ښیئے تیندک دلاره
داد دے سرماتے ولیدے — څکه ته روان او ښیاره
شیخ چلو د نیکو ډکه — گنهگار دے ستا اُستاد
ستا دعا د ځان دپاره — تاله دے دده فریاد
ستا د ښو دیوه بلیږی — په سینه کښې ځان د پاره
دده سرے لیمبے داوردی — د هم جهان د پاره
دے تصویر دے د آدم — د ختو او پریو تو

او په سوو وزړو نو
د پتنگ د الوتو

غنی
حیدرآباد جیل
۱۹۴۸ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخ

دخوبانو سره مینه
ده خوراک دزړګی وینه

چه وبائے وی تندی کښ
تل په مخ وی ماه جبینه

زنګ وهلے توره چرے
تویوی نه تګے وینه

قتل عام دهغے کار دے
چه ځلیږی تکه سپینه

دَخزان رنګ دسرو زرو
دَغنی یار ده حسینه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساز

شونا پوله خوند — اوستر گو له رنگ
پوزے له بوئین — د نرگس د لونگ
زړه له امید او — مستی او ارمان
غوږ له سرود او — شنا راو شرنگ
ماله سرور او — جمدون او نور
دا خو آواز د — ژوند د رنگ
تق تق د اور — تپ تپ د باران
اَخ اَخ د وصال — اُف اُف د ارمان
وَنی وَنی د جنون — وَخ وَخ د صنم
نانا ، اَو اَو — هر وَخ د صنم
قت قت د خندا — پرق پرق د مستے
شرنگ شرنگ د پازیب — چن چن د لبتئ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شر شر داوبو — شغ شغ دَنسیم
بس بس دَ دِلبر — بر بر دَ غلیم
هیں هیں دَهنګ — شنګ شنګ دَ کولئے
قر قر دچلم — پر پر دَ لولئے
دُم دُم دَ دوپړے — تنګ تنګ دَ رباب
غر غر دَ پیالئے — سخ سخ دَ کباب
چپ چپ دَ کوکئے — پس پس دَ دلبر
چر چق دَ تارو — کوکو دَ کمتر(*)
بس بس دآشنا — بد بد ے روان

ایش ایش دا قلم
هاں هاں دا بیان

غنی
حیدرآباد جیل
۱۹۴۸ع

(*) کمتر: کوتره کبوتر.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب

زوے م راغے دیورپ د تربیته
جوړ سنبال لکه د ناوے پوټه ښکته
تر یوتندی پوړی مخ ئے وو نیولے
تابه وے و د لاتانو د محلته
د ډوډئ او د فیشن سره ئے شوق وو
دیر نفرت ورله ورته د جماعته
لکولو د پیسو کښې افلاطون وو
خو کتلو کښې غریب و بے همته
من چه ما ورته په فکر نظر وکړ
خرهم هغه و بس نوی ئے وه کته

۱۹۳۰ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اور

گنهګاریم ګنهګاریم — هم د خدای هم د دلدار یم
بے وفا په محبت کښې — نفس پرست او بے اختیار یم
مینه مینه په خوله وایم — مینه نه لرم حیوان یم
نه م لوظ نه م قسم شته — نه مین په یو جانان یم
چه کم خای خوانی او رنګ وی — چه کم خای ګنګر و شرنګ وی
چه دچا د تمبل ټنګ وی — نو زما وتې غور خنګ وی
یو مکه د مسلمان وی — د کافر یو بت خانه
مړه ورځ زه بدله ومه — نوے نوے میخانه
هم م مینه ده بے پته — هم ګناه م بے وفا ده
چه م کمه مخانخ وی — زه ویم دا خمالیلی ده
کله لاړ شمه جمات ته — په سجدے په زاړے پریوځم
مثل سجدے م کړے نه وی — بیا دچا په یار ے پریوځم
یو سور اور م د کوکل کښې — ما سوزی دننه بهر
نه دے یخ خونه دے کم شو — چه دا اور دے که سقر
که ساقی د کوه قاف وی — که شراب وی د شیراز
بس پیکه م تر ے زړګے شی — چه معلوم نے کړمه راز

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ما بنام وی که سپوږمۍ وی — که وی راز او که نیاز
روح م تنګ لکه لحد که — که وی سوز او که وی ساز
دا زه څه پسے حیرانه — سرګردان پریشان ګرځم
دا زه کم خواته روانه — په باغچه بیابان ګرځم
ګنهګاریم ګنهګاریم — آدم خوریمه خپل ځان خورم
خپل بنایست خاورے کومه — اژدهاریم خپل جانان خورم
دے په زړه دننه اورم — رودرتن لوګے لوګے که
دے هیرے (۱) ګرځه سره ګلونه — شین چمن لوګے لوګے که
دے دا اورهسے خوراک که — نوے نوے امبار غواړی
نوے رنګ نوے محفل کښ — نوے نوے خمار غواړی
دے وغجن یم دے وغجن یم — داد قسمته کوم فریاد
نه یم تنګ زه دَ دے اوره — زه په دے یمه آباد
زه به ده له خاشاک ګورم — که باغچه که بیابان وی
زه به ده ته لوګے کومه — که خوانی وی که جانان وی
داد ده په شنو لوګو کښ — زه اوربل د دلدار وینم
داد ده په لمبو ګوره — زه سپوږمۍ او ګلزار وینم
دے زما په وینه پاڼی — زه د ده په لمبو پایم
دے زما وجود او ساده — زه د ده وجود او سایم
چه دده پرق او شنا روی — هلته ژوند هلته انسان وی
چه دے ئی دخاورو توپ وی — پنډ خزله دَ ویران وی

(۱) هیرے ه ایرے .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونے یم لیونے یم — نہ م سرشتہ نہ سامان
نہ پہ مینہ مستے پونے شم — نہ پہ سود او نہ پہ زیان
عجیبہ بے دورہ لاس دہ — عجیبہ پے حی کاروان
کہ قدم اخلم غوږ خیږم — کہ او دریږ مہ تاوان
عجیبہ غونډ شراب دی — چہ نے خکم لا تږے کیږم
عجیبہ من او سلوی ستا — چہ نے خوږم لا وږے کیږم
دا پہ زړہ دننہ اورم — کہ نے وژنمہ رو کیږم
کہ نے نہ وژنم سوزیږم — لوګے کیږم ایرے کیږم
لکہ شمع بد نصیبہ — لا بہ سوزم لا بہ مرمہ
لا بہ خان تالا کومہ — لا بہ توږ دریاب لہ خمہ
بس دے بس کہ لیونیہ — داد ولے ولے باب
جام کہ ډک سترګے کہ پتے — تنګوہ دِ خوږ رباب
ور نزدے شہ ور نزدشہ — چہ دیار شونډے شکرے
رو پہ مینہ مینہ اوکړی — دوہ خوږے خوږے خبرے
تورے سترګے بلیږی — لکہ شمعے دمعراج
دغہ سرو شونډ کښ اوردے — اوردے هم داور علاج
پہ سرو کو تو کښ جنت دے — کہ دوزخ دے کہ بقا دہ
وی سوزہ سوزہ خانڈ خانڈ — ژاړہ ژاړہ دا دنیا دہ

غنی
حیدرآباد جیل
۱۹۴۹ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آدم

عجیبه م وجود لا عجب م خـــکر
څه بے توکه بے توله دا سترګے او سر
یا په بام دحرم د مستۍ تـــرانه
یا په شپه د وصال دنغلونو بهانه

یا موسی ته قصے دفـــرعون د محل
یا فـــرعون ته بیان د ابد د اجل
یا دغم د بی بی نه ســـرور غوښتل
بُت خانه کښې پرقونه د طور غوښتل

کله روح د مجنون او ساقی او پیاله
کله سُـــرد خیام او ژړا او صحـــرا
کله خوب د منصور د رڼا د وصال
کله شوق د حبشی د کوکے او د خیال

کله دوب بے پایانه کوے د غـــم
کله هـــره پیاله کښې صنم صنم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا دَ ژوند کاکو کښې د مرګ تصویر
یا دَ مرګ سلګو کښې د ژوند تعبیر
یا پیغام د فراق په خندا کښې دیار
یا امید د وصال په ژړا کښې دیار

یا دَ جیل کوټکی کښې خوبونه دکور
او ایرو کښې ارمان د رنا او دَ اور
دا بیخوده دماغ بے کماله وجود
پجاری د مندرا او شوق دَ درود

هم غلام د بنایست هم مرګے دَ وفا
هم د رباب د تیرے هم مستی او د نا
بے آرامه ارمان بے قراره نظر
څه بے توکه بے توله داسې اوسر

یا په بام د حرم دَ مستے ترانه
یا په شپه د وصال د نغلو نو بهانه

غنی
خان پور

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه کیږی په عقل

سپین ولینته دِ تاوکه ستوګے څنه ترِ جوړه که
قرض رنګ پرِ توی که قالین جوړ د خپله پوړه که

نه کیږی په عقل توکل غواړی د چړ سیانو
نشته دے کاونه په کوڅه کښ د ملیانو

دلته ښانګو نه دی تالی دی رکیبئ دی
دلته شراب نشته پیکوړی او زلوبئ دی

عقل له سرور کښ سړه عقل کښ کور نشته
داخبرے ماته م رو رو کړے آبئ دی

مینه خو یو مینه وی نه سود وی او نه زیان
دلته په کچکول کښ خورے شوے نوابئ دی

لاړه د هوښیار په کنډو کنډو په درود ده
مینځ دلوړے ژورے دے او دکه داسرود ده

داسے آواز کوری چه نه زیر وی او نه بم وی
خوښه ئے رباب کښ خاموشی د مقبرو ده

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښ خوارله یالوړه او صحـــراوو یامهاروو

خـرد هوسۍ روردے خومین دے په جوارو

کورد طمع څه دے تور محل د بلا کانو دے

روح ناوے کول په دولکی کښې دپیریانو دے

تش دکباب خوند له اسمٰعیل حلاول دی دا

ماداا ورید لے په کوڅه کښې درندانو دے

زور او غرور نه لری عشق صبر او ارمان دے

سُراوسه ورنه لری سرخان دے او جهان دے

رحم نه انصاف دے یو تدبیر دے د دوام

هر څوک نے پکار دے که خیټو دے که خیام

شنګ وی دنزدے نه او دولکے دلرے لرے

دواړه غرۍ یو شان او یو رنګے خبرے

ډک د ظلمه زوره د طاقته د بازپرے

جوړے دمهین او رنګین بوی د ګل ورزے

کومه لارچه اخلے خومقام نے بس یو دے

دلته زرجُماته دی امام نے بس یو دے

ځکه لیونے دے مرورشی کـــله کله

بل خواته ورتاوکړی داد موش تنقه شله

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پریوزی پہ پړاو کړی بتخانہ کښې ډیوہ بلہ
خپلے سپینے پولئ طمع تاقتی ډ منزلہ

تاتہ اورسرور دے یومار ولے وژنے اوکښې؛
اے دسپین اوتور مالکہ څہ مزہ دہ تور کښې؛

ولے زمالال دی پروت پہ خُلے کښې ډ بنامار
ولے دے گلاب لہ نہ اوربل اونہ بہار

ولے دِ بندی کہ څاڅکے تن کښې ډ ډنډ وکی
غواړے ترچپے دسیند سازونہ ډ اَبشار

مالہ مرگ او ژوند دے تالہ تش ډ څنے ول دے
اورکښې دے بل کړے ولے حُسن الول دے

اورتہ دے بنولے یم فولاد جوړے زمانہ
بنہ چہ زہ فولاد شمہ نوخہ زما جانانہ

جسلو فولاد ولہ جوهر ولہ کمال لہ
بس خاورے کیدُ دی روکیدُ دی ډ دُنیا نہ

ولے دِ ورانو لولہ جوړ کړے سورمحل دے؛
اورکښې دے بل کړے ولے حُسن الول دے؛

ډیرہ اسماعیل خان
۱۹۵۰ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختلافات

پلارم ورک په خپل وطن
زه د خپل وطن نه ورک

د هغه خوښ دے تعلیم
زما خوښ ساک د پالک

د هغه خوښ دی ځوانان
تول د قام په جنګ روان

زما خوښ هر کلستان
هر چمن د لولو ډک

د هغه وطن جهان
دا بے نوره بیابان

زما ملک ښکلے آسمان
د ښیسته ستورو نه ډک

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوږه

چه شی خُله دخوږ وسپوږ — د دنیا خوابره همه
ئے ملام ملام یادیږی — غونږاخی(*) او قتلمه
چه شی خیټه ډیره وږے — د دنیا گل خوراکونه
ئے په ستر کو کښې غړیږی — سیخکی او کباپونه
چه شی ستر کے ډیرے وږے — د دنیا کلونه واړه
ورته مخکښې مخکښې کیږی — تورے زلفے سپینه غاړه
چه شی شونډے ډیرے وږے — د جهان همه خوبانے
ورته وړانده وړانده کیږی — سپینے تورے سمے ورانے
چه زړه کے د مینے سپوږمۍ — تیرے نوے خوشحالے
پکښې د تنه رَپې رَپې — لکه ناوے په ډولے
او زیم او زیم دا سے وږے — په یوه کوکۍ ورکومه
دا جهان او جنت دواړه — په دووسرو شونډو خرڅومه
کښینه کښینه لیونیه ! — دال خټه وهه کوکارے
دا مزے دی نصیب کښې — چه ته زوی دا سے پلارے

(*) غونږاخی : خجوره

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخر خلہ بہ دِ خوږہ شی — کښینہ وایہ ګډہ ګډہ
دَ قسمت غاخاورے کړے — راغورځی کند نے تہ لوړہ
کہ بہار کښې دی ګلونہ — نو میوے دی پہ خزان کښې
سبا دغہ دے راوخوت — ستوری ښکاری پہ آسمان کښې
سوه ګلونو شنو او بولہ — بیا بہ لار شے هشتنګرتہ
پہ نو توب عزت بہ ګورے — خوږہ بستر ګو دَ دلبرتہ
بیا بہ غاړہ دَ تلاؤ بہ — دَ سرو میو دک کړے جام
بیا بہ ګرزے پہ مالتو کښې — دَ سحر او دَ ماښام
بیا بہ او ترے پہ یوه — برګ او مست هندکی غوایان
بیا بہ نیسے پہ جینګی کښې — مار مهئی او سره کبان

بیا بہ شور شغرب د ژوندی
دیارانو وشتے مستے
چپ چپ شه مخکښې مه ځه
ژړا راغله بستے بستے

غنی
حیدرآباد جیل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویش

باغ کښې څوک گلاب شي څوک شي سرو څوک ورخاړی
څوک د مینځ غنچه شي څوک کښل د غاړے غاړے
تاج دچاد زړو دَچا تاج شي دَ غمو نو
ویش دَ بل په لاس دی که ته خاندے او که ژاړے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَغم لوُر

لنګه تیاره شوه رڼائے راوړه
آدم چه مست شو حوائے راوړه

مرګ چه دخپل ژوند تالاش کښې روت
ژوندون نے راوړ اوسائے راوړه

توره چه چغه د کفر اوکړه
د هال نے پیدا که قلائے راوړه

چه او بنګ سره شو شراب تر جوړ شو
چه غم با با شو خندائے راوړه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زور

خدای چه پیدا کړ دځان نه زور
کړل ئے ترے لاندے څیزونه نور

سرے اوچت کړ تر نیم آسمانه
بادشاه دهر څه وُے سره زور

الله موسکے شو حسن پیدا شو
طاقت په مزکه پریوت نسکور

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بُت

داشونډے سرے دګل غوټے — داشونډے سرے ورے ورے
داشونډے سرے قطرے دناز — دا مجسم مکمل نیاز
تش او وچو زړګوته دا — رنګ د مستی او ارمان خوری
ماباندے نیسے او خوږے لګی — ماته نقشے دجانان خوری
داخوژوند ون مست شویدے — مرګ پورے مسخرے کوی
داخو ګلاب خندا نه دے — بل پسرلی ته اسرے کوی
داخود تور مرګی په مخ — رنګ او امید د دنیا خوری
داخود مجنون ستر ګوته — خیشت او سینګار د الله خوری
پوهے دِ مدوی د آدم په راز — پوئے په تللو د سوز او ساز
تولے قصے نے یادے دی — تولے قصے د راز ونیاز
داد عیسیٰ دَلاس په شان — ژوند او امید او خندا خوری
"بت" وته ګنګه او وایمه
ماته چه نور او رنا خوری

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیژندګلو

هوښیار هغه وی چه ځان کښې خر توب وینی
خر هغه وی چه خپل ځان ګڼی هوښیار
عاشق هغه وی چه طمع دخه نه که
په شرنګار په مخه ځی لکه آبشار
غوث هغه وی چه له ځانه خبر نه وی
خو خبر وی له ژړا د غریب خوار
چه د قام د پاره دانګی اول اوږته
د هغه منم بریتونه ګونګه د دار
غنی هغه دے چه سړے دے بے سره
که خر که نقلی که هوښیار

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولے؟

کل له بنده خانشت — ستر کوله پسته درنا
شونا وکښ دابیخودی — شونا وکښ نشه نشه
خیشت له دخپل خان پشان — نور او سینگار او خمار
یار له دخندا په خاے — سپین دسرو کلونو خار
مینے له دَ زور دَ سمندر — زړه دَ بادشاه ورکه
ساز لره آواز، اثر — خانشت، تادتنا ورکه
ماله دغمونو ارمانونو — جهان را که تا
ماله زړه کے پوست او مستانه — او حیران راکه تا
او ستر کے خمارے دَ یار — دحُسن د آرام ډکے
کله د سپوږمئے درنا — کله د ماښام ډکے
کله دَ خوانئے د امیدونو — د ارمان ډکے
کله لیونے ستا د خمار — او ستا د شان ډکے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے دَ دوزخونو قیامت او د حساب ربّه
اے د تورو زلفو د لالونو دَ رباب ربّه
اے دَ مستو سترګو د نرګس او د ګلاب ربّه
اے دَ مینے حسن د ځوانۍ او د شباب ربّه
اے دَ لولګۍ د حُسن اے د ګل د خیال ربّه
اے د راز او نیاز او دَ نسیم او د هلال ربّه

ولے دے د حسن نه
جوړکه دا د خاورو ښار
خیشت له د خپل ځان پشان
نور او سینګار او خمار

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

باچا

بادشاهی دجهان څه کے؛ ځان له وے زیاتے غم
دانصاف تلل مشکل دی څه به دیر کړے څه به کم
خپل غمونه دلالږ دی دجهان غمونه غواړے
دا سے تخت بخه کړے څه چه پرشپه اوږدے ژاړے
د تهوانو په سکله کښ غټ تهو مخکښ روان وی
لوئی باچا د ځنا ورو دهماؤ لوئے حیوان وی
دا دنیا دسپی لکئ ده نه نیغیږی نه سمیږی
په وجود توره پیشو ده چه ئے وینځے لا تورپږی
بادشاهی هله جوړیږی چه نیم لکی شی نیم مړه کړی
چه یوکس د بل په غوښو دخپل کور کوتری ماړه کړی
دَدے ژوندہ څه مطلب شو چه یا مړے یا به بل وژنے
دا میوه گلاب دِ څه شو باغ ساتے او بلبل وژنے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

رتبه ماله که درا کړه — بادشاهي دکل جهان

زه به ئے وغورزوم له کوره — لکه سوتے په ویران

دایو دوه کړئ ژوندون زه — په جګړو نشم تیرولے

ددے ظلم په کتوئے دے — رتبه بل کیږده برغولے

ماله راکړه څو کلونه — یو نیاز بین شانتے جانان

یو ورو کے غونډ باغ — او په خوائے سیند روان

چه ئے زه په غاړه ناست یم — په یخ سوری دخرولے

په مزه مزه لیکمه — دمزے مزے غزلے

کله سوال منت جانان ته — کله بد او رد ملا ته

دساغر ساقی صفت کوم — دتیبرو دک لاله ته

کله کله تانه رتبه — دَ ورو په شان کیلے

کله تود جمدے امید (*) — کله سوے اسویلے

کله تنګ کله تکور — کله جام کله دلبر

یو جهان کښ درنګ دوب — دجهانه بے خبره

بادشاهي مغوله ورکه — چه زغملے ئے شي زور

چه په لاس لکه قصاب وي — په خصلت لکه منګور

چه خپل ځان ته شي کولے — قربانی دورد دوینے

هم مغلولے هم خوړے شي — دغریب دغو سنو پینے

(*) جمدے اوزندے .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاج ورلے هغه سرشی — چه و ژل لکه وباکړه
لکه پړانګ داړل ځیرل کړه — یرول لکه بلاکړه
تخت هم نه پاتی بے زوره — بے دتورے دَ جلاّ ده
بادشاهان چه خوړه دیر وی — دومره وی دنیا برباده
لوی بادشاه وی لویه ژوره — دے په وینو زوو پاتی
بادشاهی لکه دَ اور — په روتو په سووپاتی
ربّه فضل په مونږ اوکه — مونږ ساته ددے آفته
چرته غټ خرته په شاکه — دا دسرولا لونو کته

سفارش ورته دا وکه
صیبَ زمونږه دَ بابته
وے پام کوه ـَ دله خره
غنی ونه وے(*) په لته

حیدرآباد جیل

(*) وے: وهے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوزخ

دَ آدم دَ نظر تول دے — که دا تور دے که دا سپین
دَ آدم دژبے خیال دے — دا سپلمے او انګبین
دا آواز زما دَ ګوتو — پوست مروند ننګے ګمین
دا زما دخګر لوبے — ګل اندامه او شیرین
دا زما خودے جوړ کړے — دا وبو شراب رنګین
چاله بحر دَ شرابو — یو قطره ده دَ زمزم
چاله بحر دزمزم دے — یو غمګین ما بنام دَ غم
چاته روکے سپینه شمع — دَ سپوږمۍ نمره روښانه
څوک پیغام دَ جبریل واوري — دَ سرو شونډې ده جانانه
چاته سور په وینو تاج شو — چاته تور په تیرو تخت
چا په سر دَ صلیب ولید — چا په سور ریښمین بالښت
دَ موسیٰ پشان څوک سیٔ کړي — په مریت کښې مخ دَ یار
څوک ترے جوړیږه ژړا کړي — څوک ترے حسن او خمار
څوک دګل دماشوم مخه — دَ آشنا شونډې کړي جوړے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا په خوا د نرګس و منت — چا از غوکښ د کرورے
خوش نصیبه څوک ولاړه — په خندا غیږ ے د یاره
چاد ناوے د جورے نه — کفن او شلوو دلدار له
رتبه : رتبه ! زما رتبه ! — لیونے شوم په فکرونو
څنګه خور قهر او غضب کړم — په سپرلی او سره ګلونو
څنګه غوږ کیدم ملاته — تورانے بلبله هیره
څنګه ستا د نور او خیشت نه — بد رنګی تیاره چا پیره
د خدا د سپین سبا نه — تورما بنام او لحد جور کړم ؟
د انسان د مایوسئ نه — سر سرور د ابد جور کړم ؟
د فقیر د تلو سو نه — د بادشاه خمار کړم جور ؟
د دوزخ د اور او زور نه — ستا خایشت سینکار کړم جور ؟
څنګه و منم تا جور که — د اجهان او آسمان دے له !
چه خیام روان په زور کړے — طوفانونو د کعبے له !
د مستئ د دومره ډک زړه — بس پیدا او وسوے له ؟
جور د حسن یا رانه کړه — د جزا سزا قصے له ؟
تا کړه جور د خپل خایشت نه — یو حسین یو نازنین
ستا د ښکته ښو سوے — هر ما بنام پوست او رګین
تا خندل چه د ګلاب رنګ — د لولګے وزر یوره

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په لاس ، خیام ، په جام کښ — بے خودی او دلبر یو ره
څنګه غم غنی له ورکړم؟ — د قیامت او حسابونو
کرکه زړه کښ د بلبلے — د سپرلی او د ګلونو
څنګه شال دوینزے خوکړم — د لیلیٰ په سپین جبین
د حبشی د عشق لیواله — بنا پیرے کړم د ماچین
څنګه لاس کښ محبوباله — خنجر ورکړم د غماز؟
څنګ دیرے کوی کښ دوب کم؟ — د مینو ستر کو راز
څنګ جهان د حسن دوب کم؟ — په یو څاڅکی د تیرو کښ
او د شمع رڼا څنګه — کړم بدله په ایرو کښ

ربه! ربه! زما ربه!
لیونے شوم په فکرونو
څنګه خو رقص و غضب کړم
په سپرلی او سرو ګلونو

خانپور خیل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونی

یو بنار ے روان کړے د نړو نړو کو څو ډے
یو خیال ے روان کړے د زړګی د تلو سو ډے

یو سُر ے روان کړے تکے سوز او تکے ساز
یو عشق د حقیقت جوړ د عشقونو د مجاز

یو کور ے روان کړے د خوبونو د رنګونو
د تورو تهترینو کړ نګیدونکو سُرنګونو

او خاندی لیونی سترګے ډکے د مستونه
وحدت ے روان کړی د لکهابت پرستونه

او کله لیونتوب فلسفه کل او صنم وائی
او کله د مستۍ خبرے ډیرے په غم وائی

سرے پاڼے کل غوړیږی مخ د شبنم پرے پټوی
او ربل مست خوروی د ستر کو غم پرے پټوی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه

زه یم زه یم رنگ سوړ او راوشر نگار زه یم
دَ جانان ستر کو کښې مړاوے خمار زه یم

دا تعبیر زما د مست زړه د تالاش دے
یار زما د زړه ارمان دے دلدار زه یم

دا زما زړه چه د خیشت او رنگ شی وږے
سپرلے سره کلونه راشی بهار زه یم

دا چه زه شم د مسکو شوند و لیوالے
لیلئ جوړه کړم د حسن معمار زه یم

دا خو زه د خکر سوز په هوا سوړ کړم
روح . مطلب . معنئ . آواز . دستار زه یم

چه زه نه یم بے معنئ جنت آسمان دے
دَ جهان د سوز او مینے مختار زه یم

دومړه پوی شوم په دے روکی غونډ ژوند کښې
یار زما کمال . کمال دَ دلدار زه یم

خانپوجیل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښ

لکښے دِ دَخر چوکی اوغړانګه دِ د بتے
کوږ وو ږ اووران ویجاړ او دولس نیم کړه اوچتے
په غوږ وکښ عرب ئے او په شونډو کښ حبش
که پاوم څوک دراچی، ورته ته شغ اخلتے
دیرزیات بے نوره ښکاری ستا په پوزه کښ مهار
دے دومره اوچت سرکښ د پستے نیستے زنار
نصیب کښ دِ چنه شته نه اور بشے نه شلتے
بس لوئے دراته باروته، کجاوے تغړے کتے
ستاسترګے د شاعر دی تله دلچک دنواب
په شکل معتبر، معقول ملک ے د نیستے
خنداد زړه کښ نشته په ښیرو دِ تل خوله توره
بوږا په هغه وریځ شوے چه پیدا شوے ته دموره
مستی وچه بے نوره او ځوانی دِ بے سروره
غوږ وونه د نیلی، تش د نیلی د خیال غړوره
اوږے دخپے دِ د ډینګ د توپ او تله بے خبره
دَ قبر په شان ملا دِ د سرګی په شان مجبوره

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تہ تول ناکام ناکام ئے نہ رنگ و بینے نہ خمار
ھمت او جوش دِ نشتہ کڑ خہ او بے تڑ ے خوار

پہ خیتہ دِ حان ورکہ خکہ دوب سپک او دوس شو
مین پہ پیکوڑے شوے خکہ پاتے د جلوس شو

جنون خنداد ورکڑہ د زوزانو پہ بدل کښ
د حُسن بادشاھے کښ د ژوندون ویرے جاسوس شو

تا خیشت د ارمان ورکہ بدرنگی کښ د ژوندون
تا ورکڑہ پہ تیپرو فلسفہ د افلاطون

تہ دور شو د خرہ پرے دِ ښوہ رودی دا زمری
تا غرہ موسیٰ ورکڑو پہ کوخہ د سامری

تا لے د یزید وینے وینے نہ مرگ د حُسین
پہ ژبہ دِ شراب تر اخہ خوا بہ لکی تری

تہ نن پہ سبا نہ ور کے تہ نہ ئے جوار گر
دا خکہ مہار تیت کہ، ستا د تولو او چت سر

اے او ښہ غتہ او ښہ، تہ ئے روکے د میڑی نہ
لس چنڑ کہ زمرے شے، خو یرے د لرگی نہ

تر ھغے بہ یرے، او ژرے او کرے
تر کومہ چہ ونہ باسے دِ طمع د زرگی نہ

د طمع ستانہ دیرا او چت سر ونہ کہ م را ښکتہ
د سپینے شہزادگئے پہ سر خوری د ر مے کتہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داطمع مرے اوینځے کاندی ستر گے نرے نرے
داطمع خرڅوی بازارکښې شونډې نه کړے کړے
داطمع شهزاده کاندی غلام دکوردَ وینزے
داطمع دجنت حورے له ستر گے کړی بے شړے
داطمع شهزادگۍ کړی دمرئی سره نوکره
دا ډیرغمی هیرے کړی، کړی کونجکه ترے نه بره
داجوړه دعقابه کړی د تور کوی کمتره
دازړه نه غم راغونډ کړی او خندا خوانی دسره
داجوړه دکعبے نه کړی منډی دسوداوزیان
داچل خاورے ایرے کړی مستی یوسی دَعنبره
داجوړکړی دعیسئی نه مقتدی دسامری
دَدے پهخپو خورکړی نظرونه دلبری
اے اوښه خواره اوښه بے بنانسته بے جماله
اے اوښه دَزوزانو بے خبره دَکماله
تهنے لوږه اوتنده نه سرورے اونه ساز
هم دغه دے داوښ اود آدم دفراق راز

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرګے

مرګے دِ راشی
چه کله نے وس وی

کل به مِ لاس کښې وی
او یا به اَس وی

یا به تو پک وی
یا به قلم وی

ډوب به خندا کښې
دَ دنیا غم وی

چه څه موبخت وی
دومره به بس وی

مرګے دِ راشی
چه کله نے وس وی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمتره

دجنت مرغئ کمتره — دغم دردہ بے خبره
که سپرلے وی که خزان — ستاوی مستے بازیگرے
شپه اوورځ په بقبقورے — دَ آشنا په نداره
دیاری مستے قصے کړے — دَجمات په مناره
دوه دانے کړے چرته پوټه — بیا مستی غوږے شوه کړے
دَ پیریانو په کوهی کښ — لمغړے دبنا پیروکړے
اے دَ مینے لیو نیه! — بے گناه او بے آزاره
دمحراب دپاسه تاخ کښ — کوکئے اخلے دَ دلداره
خپے دِ هر دری سرے وی — هره ورځ په تا اختر دے
تل نشه نے بے شرابو — مدام خواکښ دِ دلبر دے
خوش قسمته بے خبره — د دوزخ نه دَ مُلا نه
دنیکو دَ ثوابونو — دشرمونو دکنا نه
ده کوکوله جوړه شوے — ستا منبوکه بے آزاره
ستا سره سره نری نوکونه — دک دخیشت اوسینکاره

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه دِ جنگ نه دِ غم شته — سوچه مینه بے نفرته
نه دِ چل نه دِ دوکه شته — یاری پاکه بے علته
الوته دِ هم دسیل دی — دمستی د بازیگرو
که باداشتے هم پیښے کړے — د وړو کوتوتکو
غونډ ستر کے دِ معصومے — د رڼا اتباره دِ کے
پیمانے دسرو شرابو — دَ خندا دیاره دِ کے

کاش چه زه هم ستا په شان
اے کمتره مستانه وے
چه نه غم وے نه ارمان وے
بس خندا او یارانه وے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

باویرے

بیا شروع شولے پہ ما دَغم چپے
بیا بے خوبہ بے آرامہ مے شوے شپے

یو خوا رند یو خوا ساقی یو خوا شراب
بل خو آکوت کښ زاهد او وی تسپے

پہ لوکی دهغه او دواړه تو دیږ ی
چہ عالم ئے کړ جلیا تپے تپے

غنی خوبہ د ارمان پہ لمبو سوے
خوبہ وی دا د فراق سړے تپے

دخوانئ اختر دے لاړ نکریږ ئے خه کړے
ښه به وی چه په دیوال ئے وُتپے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرے

اوږد کاروان ستا — کرم روان وی
سم په قطار قطار — لکه اوښان وی
په هله هله — په منډه منډه
نمر درله اوسوه — لنډه برېنډه
لکه دَ سپی هسے — خُله کښې اوږل کړے
او دَ پلټنے په شان — په پریت تلل کړے
دمرمتی په شان — هم غل هم نرے
په حکم کلک روان — دخپل افسرے
دخپل نظام تابع — لکه انګریزے
په زړه مضبوط مړے — لکه چنګیزے
ملا لچکدار نرے — لکه لښتے لرے
خُله دکلهانګ هسے — خپے پت پټے لرے
وجود دَ درے بنده — اوشپږ دِ خپے دی
نرئ نرو چک دی — کږے وږے دی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولاس دیو نشته — دا عجیبه ده
څه بے توله غوندِ — دِ معامله ده
دَ پیدا کولو آفت — دَ جمع کولو بلا
لکه د شوم خنبوے — زمکه کښې واړه دنیا
په هیڅ هیله نه کړے — لږم خوړے مار خوړے
ته دَ چمو ډنبرو — ترسکون اَچار خوړے
د سبا فکر کوے — نوے فاسفی ئے
مستی خندانه کے — پخر صوفی ئے
یو قدم نه اخلے — ته بے غرضه
رب دِ مونږ وساتی — دَ دے مرضه
بس دخوراک له غمه — لیونے کړے ملام
ته ئے دحرص بنده — ته ئے دَ خپلے غلام
ستا طبیعت دَ قارون — دَ خزانو شوقی
مین په هره میوه — د هندوانو شوقی
دا سے په دوړ زغلے — اے بگی
اَچے دَ چرگے هسے — سپینے اَگی
دیرا ستکارے ته — خولا مبو کښې نه وے
په مور زمری ورځے — ژوندے ملخ نه وے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکل جهان صفائی ستا به تمکه ده
ستا نوکری په ماچین په امریک
اوړے اوژمے هر پشکال
ستا دغه لاروی او دغه خیال
دَ پیدا ایش نه واخله تر دَ مرګی
تل دغت پناه لانه کوے زویرګی
نه دِ پوره کړه او نه ته موړ شوے
اوږے پیدا اوے او اوږے زوړ شوے
تاکښ خبرے ډیرے دی زما خوښے
خو هیڅ مستی نه کے په زړګی ښے
بس مناه مناه نے تل اوګاډانه کے
بے دخوړلو خکلو بله سودا نه کے
خو زما خوښ نے په دے نر بهادر نے ته
په ماچک مه لګوه
که زما یارے
الله دِ درکړے
دانے بسیارے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصیّت

که خازئ شنے م په قبروی ولاړے
که غلام مړوم راځئ توکړئ پرے لاړے
که پخپلو وینونه ووم لمبید لے
په مامه پلیتوئ دجمات غاړے
چه قطرے قطرے م فوح دد بسمن نه کا
موړے ماپسے په کوم ځ به تهٔ ژاړے
یا به دا ئے ننگه ملک باغ عدن کړم
یا به کړم دبهشتنو کوشے ویجاړے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشے

د ماښامه تر سبا — سرینده کاله سرنا
پینه پینه پنگه پنگه — هم خوږل کړے مې وینا
سپک به وخیږے پټول — دوؤ ډنو سره غوښتو
خوماتی ستا د گذاره — ځان کړی پټ پخپل بختو
پچکاری دِ ئی تل ډکه — وے هر حاله انجکشن
ته به وے ستا باباجی وو — دنوښار سِول سرجن
د میږی هوډ کوټې کښې — ډم خُله شته هم خرتم
اوږد ځیږے دِ د جوړادی — نرچوکی وزر د دم
اوږده دونگه دپنبرے — بل دِ نشته پلاشه کښې
واړه زهر دِ راغونډ دی — د وکیل پشان چلوکښې
نور همه غله د جهان — وی د مال د فصل غله
ته زما د ژوندون غل ئے — زما وینه ستا خواړه
په زړه سخت ئے دیزیده — د کلاب پشان وړوکے
سر تر خپو سوے سوے کړے — هر سوری کښې آفت پرکے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه زه راشمه ستو مانه — په کټ پریږدم بے اختیاره
ته به وے تاته غوږ ے چا — د پولاو کینبوه تیاره
تک م او باسے دغوږه — پوست بالښت ته رسیږکښ
بیا تمری خپله شرو کړے — په نرو نرو پردو کښ
ستا په طمع گذارو کړم — خان له ست او سوزومه
ته م شا ته سرپیږ وے — زه غوږ ونه کړومه
که ریښین شان ما بنام دی — سوړ گلزار او شین چمن دی
چه یاران اوده په ولینه — نشه شوی په دیدن دی
په سړ خپو دلیلی کیږ دے — پلیت وږے د سپی داره
لیلی وخ او ویش شرو کړی — خوار مجنون پریږدی ولاره
که څوک پټ شی په څادر کښ — ته نے پاس کړے پنگه پنگه
چه آخر ے پوزه راوزی — لکه شکون دخپل سر نگه
ته پے شغ شے دا پریږدے — لکه باز کینی په زړه کے
هله نے پریږدے په قلاره — چه جدا ترے نه استر کے
بنه یان لوے وروکی ځکه ے — هر څیستانه په ازار دی
غوان سناپکان مینے آسونه — دلکو مالو بے آزار دی
روکے خاځکے د دوزخ نے — که د شرافت مخ ترے
خله زما په وینو سړ کړے — بیا پے وے راته سناړے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی ملا بابا چه ستایو — قرنیکه په پاپوش ل
د نمرود سپیره مه کښ لاړ — غلے غلے په چال وَل
هغه اورغوړیدل په زمکه — کلک ئے ونیوله تشی
چه شوع ئے په یو ځل کړه — هم تیزونه هم انتوشی
خوکړے دننه ناست ؤ — دقول به ئے وزد
هله ئے پرینبود چه ئے ونیکه — دَ غریب نه کچومر
حرامتوب کښ دِ شک څه شو — چه دَ دغے بابا زوے ئے
چَلولی لکه لومبړے — اوبه سر کے لکه سپے ئے
لا یوه بله غره دے — دهماؤ ده عجبه
ځان سره کوزے په بله — ښه توده دمنی تبه

دا دعا دَ لیونی ده
پاکه ربّه که قبلے
که دا ښکے په واړو ماشو
تیزه سړه دَ هر (*) سیلے

(*) هر: اهار.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیرے

ویره پیرے دے — امید رڼا ده
دَ شک تیاره کښې — ویره بلا ده
که جوړیده دی — که ورانیده دی
کاروان روان دے — دَ لارے تله دی
ویره تیاره ده — او ورکیده دی
امید ژوندون دی — امید لیده دی
دِ وے ویره کفر دِ — خدائے نه منلے دی
یو تور دریاب کښې — غوپه وهلے دی
لمبے دَ روح — لوګے کیدل دی
په ژوندون کورته — ورکوزیدل دی
امید هستی ده — امید بقا ده

ویره پیرے دے
ویره بلا ده

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آس
بدو

ترپ ئے دھوسئ پہ شان — زړہ ئے دزمری وو
رنگ ئے دغمی پہ شان — خیال دبنا ییری وو
سترگے دکور کوړے — غونډ غونډ ے بشکلے بشکلے
تلہ ئے د نرانو — طبیعت ئے د بلبلے
تن ئے د طاقت اودستی — اود نرانے ډک
روح ئے دھمتہ و — خیگرئے دمرانے ډک
خپوکښ ئے کړا وہ — د ساقی دسپینو خپو پہ شان
سترگو کښ غمونہ — امیدونہ دھوسو پہ شان
زړہ ئے د پښتون وونہ — پہ کندہ نہ پہ غرا یسار
جوش ئے د غازی وونہ — پہ ځان او پہ سرا یسار
چپہ خلہ آشنا زما — لاړے چرتہ لاړے تہ
چرتہ دچاکورکښ ئے — چانہ وبی غواړے تہ
شتہ هغہ دنیا کښ سنہ — نوکر د دِ لاور پہ شان
شتہ هغہ دنیا کښ واسنہ — شنہ د هشتنگر پہ شان
چپہ خلہ آشنا زما — چپہ خولہ وے تول عمر

---

(۱) بدو : زما عربی آس وو. دِلاور ئے سائیس وو.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه چه زه نه لمے وے تل — اوه چه ته وے تول عمر

دغه وُو آشنا زما — دغه وه دَ ژوند قصه

دغه دَ آدم وجود — دغه دَ سمند قصه

تریپ شو او تهوپونه شو — خوب شو او خوبونه شو

دوه دمستی ورځے شوے — دوه دَ غم کاونه شو

نه نے دَ راتلو سبب — نه نے شته دتلو علاج

نه نے دَ ژړیدو دوا — نے دَ ولولو علاج

نه نے دَ کمولو بند — نه نے دَ زیاتولو شان

نه نے دَ هیر ولو تاب — نه نے دلیدلو شان

نه نے دسلکو تپوس — نه نے دخندا وجه

نه نے دَ پرون سبب — نه نے دَ سبا وجه

اے مسته آشنا زما — لاړے چرته لاړے ته؟

چرته دچاکور کښ نے؟ — چانه وږی غواړے ته؟

څوک به نوالے درکی؟

څوک به کوی ستامدار؟

کوم جهان کښ الوزی

ستا دمستو خپو غبار

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

هندوستان کښې دوو تونو منډے راغلے
په کښې خلق خرڅوي ایمان په څټو
بابا وے: غنی: سړے شه جیل ته لاړشه
غنی وے بابا لنډے نه دے ځختو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قارغه

تورد ِ مخ دے غل چکیه — تورد ِ زړه تورد ِ آواز دے
سپے نے خیته دکول بس — ستا انجام اوستا آغاز دے
چا تورے که دماستو وی — که د بچے د کچالانو
که پولاو دخان لاله وی — وظیفه د ملیانو
ستا په هر څه کښې حصه ده — تول جائداد دے ستا دپلار
یا تو ښکے وَنے یا تغیږے — نه آرام کړے نه قرار
غل هم غل نے بے غیرته — دپوټی چرکوټی غله
نه دِ پرک شته نه دِلته — ډک دشوره د چلو له
کله دَپرون دښکه کله دسبا دکے
وینم پکښے زه واره دنیا دجام جم پشان
او ښکے نے دی پاکے پاکوونکی دَزمزم پشان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوب پکښې پرانه د ساز او حسن جهانونه دی
دوی لیدلی زر لکه سپرلی او خزانونه دی
دوی کښې د مستۍ او بیغودۍ د خزانو قصې
دوی کښې د مرګونو د ژوندونو د خوانو قصې
دا به تور چنګی شی او چنګی به تور خاوره شی
دوبه به د ناوکی کښې د غرونو صدا اوره شی
څنګه به چنګی د ما بنام سوز ساز د سبا وخوری
څنګه به چنګی د سپرلی شپه د لمر رڼا خوری
څه شوه دا یاز د زړه مستی د محمود سوی څه شو
څه شوه زلیخا د هغې ښکلی ګوډاګی څه شو
زړه م بے قراره بے آرامه م دے خیال
عقل م حیرانه او فکرونه م جنجال

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند

ژوند م لوئے دریاب دے ورو ورو خوږ شو سمندر کښې
څاڅکی ورک دریاب کښې شو په طمعه د ساحل
بخت کښې د سیلاب دی په مستۍ په چپو تلل
نه ورځی دریاب له غونډ یدل او او دریدل
دے لمر د ساز له تله ژوندون و دریدل مرګ دی
زیرے دما بنام وی د سحر را خلیدل
ګډے دے چپے کړه د ابد مستانه تال ته
وګړنګوه سازے تار خانو کښې د ازل
لاړ لیونی لاړ چرته دلمر شغلو کښې ډوب شو
څاڅکی ورک دریاب کښې شو په تمه د ساحل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اَرِنی

خان له څه بهانه زه د بیکاه اوسبا کومه
خاوره کښې دې کل له د ګلونو د نیا کومه
سترګې م لټې چرته صحرا کښې منارو یوه
شونډې م لټې دُعا له ښکلې ښکارو یوه
کوخم ما ښامی کښې د زړې هلال شغلې لټوم
زه د شبنم څاڅکی له خپلوی او سلګې لټوم
خان له بهانه د خندا وجه د ارمان لټوم
شپې له د سبا زیرې او مینې له جانان لټوم
ځکه کله کل کله پسرلی کله هلال له خم
پورې ترې د نا لټوم په واز و ستر کو جال له خم
کله د ریاب کله کومه د خیام تپوس
کومه د غمونو تلو سونه د آرام تپوس

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان له څه معنی زه د بیکاه اوسباکوم
خاورو کښې دے کال له د ګلونو د نیاکوم
ربه: د خوانی او د مستی خوب له تعبیر لتوم
دے دلمر ذروله زه تولوله ز ختیر لتوم
ربه: زه ژوندون له او مرګی له یارانه ګورم
دے لیونی سله د منلو افسانه ګورم
ځان له بهانه زه د بیکاه اوسباکوم
خاورو کښې دے کال له د ګلونو د نیاکوم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساز

ورکړه شرنګ دے ستاړلے یارۍ — نوے دَ مني ماښام دے
نوے سپوږمۍ را ختلے ده — نوے سرورکښې خیام دے
آه دَ زړه تار خانوته دے — کوتے دساز ورښکته کړے
وئ : دمحمود خبکوته نن — ستړکے آیاز ورښکته کړے
ستړکے مینے په غم دکے — دکے دسرا وصنم دکے
ستړکے ستے دشبنم دکے — څنګه په ناز ورښکته کړے
اودے دَ خاورو ستارکښې تا — څنګ دابد قصه جوړه کړه
او دیوشرنګ اوتهنګ نه دے — ماله مستی نشه جوړه کړه
تاد کلونو دَ رنګ نه — ماله دَ یار تصویر کړ جوړ
تاد تارونو دشرنګ نه — ماله یو خوب او تعبیر کړ جوړ
تاد سرور او غور څنګ نه — ماله باد، منیر کړ جوړ
تاد غمونو دَ رنګ نه — ماله دَ غم اکسیر کړ جوړ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا د غرو د اوارمان نه ما ته بهار او خزان کړ چو

تا د ژړا د آواز نه ما ته تصویر د جانان کړ چو

تا د نرګس د دوه پا نوښه

ما له بهار او ګل کړ چو

تا د نسیم د خبرو نه

ما له فریاد د بلبل کړ چو

ورکړه شرنګ د ستار له یار

ورکړه رنګ د خمار له یار

ورکړه سلام د ګلونو له

ورکړه دعا د یار له یار

بنانست او ارمان د اوسپه

ما له ترنګ ګل او خزان کړ چو

او د نسیم د خبرو نه

ما له تصویر د جانان کړ چو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

رک خیال

یو خیشته غونډ ماشوم ؤ . که یو خیال که یو خمار ؤ
یو مُسکے شان تانے وکړه دازل د تار خانو نه
زما خواله غلے راغے لکه یو ست قدیم دیار
که یو ستوری ستر کے والی چرته لوے د تیارو نه
که د تورے کوټے ورکښے شاهزاد کنے د نورو لاړه
د ناستو کوکښ غمګنو . بنکلے شونډو کښ خندل
د جادوګر یو حرکت ؤ . که یو رنګ د تخیل و
که د تال کنګرو په خپو کښ م خوبونه کړه پیدا
لکه روکے هوسے باغ کښ په هیڅ شی نے یقین نه وی
چرته پټ په کښ یو خوب وی د صحرا او د ځنګل
ما د مینے لاس خواره کړه . څه دعا وه څه ارمان
ما وے آرنګ ینه نه وه . راشه مست که د اجهان
زه به خپل خود ستا وجود کړم چه ته ستر کو ته ښکاره شے
خپل احساس به د جامه کړم چه یو خیشت یو نند آره شے
ستا مستے له اخواله به د ځان سرور درکړم
ستا امید او مشغلا له . به خوبونه د طور درکړم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به خپل ژوند ترجمان کړم ستا د ژوند د کتابونو
زما کوټے به ستا روځ، ستا د شرنګ ستا د سرو
یو قدم مے که راپورته. هم راته هم پریږده
د صحرا عادت هوسے ؤ په ګلزار کښې تر یوه

ما خپل زړه ستا لوکښې خوړکه. ډیر به مینه ورروان شوم
عجیبه جهان ته لاړم هم عاشق شوم هم جانان شوم
خوچه زړه ئے ورتلم خواله. نو چا چغه کړه چه خان
کپه شپوله راغلی. درے خاوره دله دوستان

یو نظر م چے تے وارو، نود نور بنا پیرے نه ؤ
چار چاپیره به تیارو کښې نه ئے نوم ؤ نه نشان
اے زما ماشومه زړه، ته به کرنګ ے کم صحرا کښې
د تیارو به شپه کښې ګه، ستا خوکوردې به رڼا کښې

و لے لاړے یو ورک خوب شوے دازل روکه دنیا کښې
ستا خانګې کښې زما ژوند دے. ستا جمال دے زما سا کښې
یو نظر کښې که دے ماته سور ګلشن تور بیابان
لیونے. لیونے ګرځم دے ورک شوے م جانان

راشه راشه به خدا شه لکه ستورے به سبا کښې
د تیارو به شپه کښې ګه. ستا خوکوردې به رڼا کښې

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه قصه

څوک په ساز کښې څوک په خوږ سوی رباب کښې
څوک په مستۍ توانه کښې یو تمه بل افسانه کښې
هر وخت هر زمانه کښې په فراق په یارانه کښې
بس د خپل جانان قصه ده په هر مخ د دې کتاب کښې
څوک نې وئی په اوستو کو څوک په مستۍ نګین باب کښې

څوک د تال او حرکت نه کړی ژړا او خنډا جوړه
تول وجود نې یو ارمان شی چه د غم کړی کډا جوړه
لاس او خپې د کلو ځانګې د بوډې تال په حباب کښې
د اخیشت د اسے رنګونه نشته نشته په کلاب کښې
خو هم هغه یو ارمان دِ دې د تال او شه نګ د رباب کښې
هم هغه یوه قصه ده په هر مخ د دې کتاب کښې

څوک نې ساتکی د اواخلی په خپل اوږدې سره لمبه کړی
یو مستی سه ورته جوړ کړی په جانان نې صدقه کړی
کله دوب کړی خپل خمار کړی د دی هم خان سره نشه کړی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله تور غمګین ما بنام کښې — دوی یو غم کوی یو تیاره کړی

یو بے وسه مایوسی شی — ناامیده او ډک ماتم شی

یو بے نومه اضطراب شی — سوے لوے پے آدم شی

دسره جام د میخانے کښې — د جات یه سپین معراب کښې

د صوفی یه پټ سره کښې — د عاشق د عشق شراب کښې

د شاعر د لاس کمال کښې — یه جنون یه اضطراب کښې

بس یو رنګ د چه خلیږی — هم جانان کښې هم کلاب کښې

هم یه ساز هم تال کښې — هم یه خوږ سوی رباب کښې

یو خواتور مغ وره موګ د — بل خواژوند یو رنګین خوب

یو خوا غم درد او تیاره ده — بل خوا مست شان لیونتوب

یو خوا ژوند یو بے وسی ده — لویه تور ه مقبره ده

بل خوا ژوند یو ه مستی ده — د امید ارمان نشه ده

یه یو سوال د هم پوے نه کړم — د ژوندون یه لوے کتاب کښې

د غه سوال بس د غه سوال د — هم یه رقص هم یه رباب کښې

عاشق مینه کښې سره ورکښې — شاعر غم او اضطراب کښې

هم هغه یوه قصه ده

یه هر یخ د دے کتاب کښې

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمدون یادونی
او
خرکندونی

دپښتو د اوسنی ادب د ترټولو ستر شاعر خان عبدالغنی خان له نامه سره به د افغانستان او برصغیر په علمی، فرهنګی او سیاسی حلقو کښې ډیر لږ خلق بلد نه وی. خان له پښتونخوا او افغانستان او برصغیر سربیره په نوره دنیا کښې هم د نامه خاوند دے او په خاص ډول د پښتو ادب خارجی محققین او له انګریزانو سره د لرو پښتو د آزادۍ د جګړو مورخین او مطالعین د ده له نامه او ژوند، کردار او کلام سره آشنا دی. او هم لږ و ډیر په هغه مقام هم واقف دی چه زمونږ د غه لوی شاعر د پښتو په معاصر ادب کښې لری.

سربیره پر دے د پښتو ادبیاتو په معاصر تذکرو (۱) کښې هم خان عبدالغنی خان زمونږ مشرانو ادیبانو پرمونږ پیژندلے دے او پوځای

(۱) پښتانه لیکوال د باغ علی هیښ جلد ص ۱۰-۱۹ د ۱۹۵۹ ع ص د پیښور چاپ. او سمې لیدل د جوم اینت د پیښور د ۱۳۴۶ هـ ش ۵ ل د کابل چاپ.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو زما خپلے تحقیقی او علمی مقالے د دوه پړاوند اوفن کښل شوے دی (۲)
مګر داچه اوس د کلام یوه عمده برخه د (کلیات) په نامه د چاپ ګڼ ته
راوځی ، نو بویه چه د کلیات له لوستونکو سره د مرستې په خاطر د دوه په
شرح حال او ژوند او هنرمندۍ هم څه وکښل شي . چه له ابتدایي لوستونکو
سره د رهنما په دود مرسته وکا ، البته منتهیان خود خان له ژوند او هنره
سره تر هر چا ډیر بلد دی .

نو زه به په همدے نیامت خپله لیکنه د دوه د شرح حال له کښلو پیل کړم
او بیا به په ترتیب سره پر بحث و د موضوعاتو تر نورے خبرے هم وکړم .

کورنۍ او د ژوند ابتدایي حالات :

د پښتو ژبے د غږ ځنګونو د شاعر خان عبدالغنی خان پلار
د پښتنو ستر مشر خان عبدالغفار خان د نے او مور
د رحمو د خانانو د یار محمد خان لوروه . چه له باچا خان سره پے په ۱۹۱۲ع
کال واده شوے و (۳)

د غو د دوو خانخیلو له پښتنه په ۱۹۱۲ع کال (۴) د شمال مغربي سرحدي
صوبے د هشنغر د اتمان زو (۵) په کلي کښے د پښتو ژبے د غږ نومیالی او ښکلیالے

---

(۲) کتاب سال اتیس ، د مجموعه استاد بینوا مقاله ص ۱۰۹-۱۲۹ د ۱۳۴۶ هـ ش کال د کابل چاپ .
(۳) زما ژوند ، د ما او وجهه ، د خان عبدالغفار خان ص ۷۰ د ۱۳۶۲ هـ ش د کابل چاپ .
(۴) په پښتانه لیکوال ص ۱۹ کی د غنی خان د زیږیدنے نیټه د ۱۹۱۶ع شاوخوا ښوولی شو ؟
(۵) په کتاب سال اتیس ص ۱۰۹ کی مرحوم بینوا د غنی خان د پیدا کیدو سیمه د هشنغر د ورزو ښوولی ده ؟

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعر وزیږید. پلار یې د عبدالغنی نوم کښېښود.

عبدالغنی د مور و پلار لومړنی اولاد او د دوی ډېر نیازېږن و. استاد بینوا مرحوم دده دیوه دوست په حوالې کښې لیکلی دی چې: «غنی په کوچنیوالی کښې ډېر ښکلی او د مور و پلار ډېر نازولی و. په غاړه به یې د سرو زرو دنه او ږنګی وه او په ښی غوږ به یې د سرو زرو والی وه. په سر به یې ښکلی دارې ډېرې ونوډ که ټوپۍ او په ټوپۍ کښې به یې یوه زرینه جوړه ته ټوپلی وه چې د جوغې نه چارچاپېره بېدوډ دې د نظر مات تاویږونه تاوشوی وو.»

مګر دغه نیازېږن توب ډېر پایښتی نه و. ځکه ننګیالی پلار یې هغه مهال د وطن او خلکو د خلاصون لپاره د انګریزانو پر ضد مبارزه پیل کړې ؤ او په خپل کور کښې آرام نه و ناست. له بله پلوه د غنی مور هم دده په پنځه کلنۍ له دنیا سترګې پټې کړې او نازولی غنی د مور له تودې غېږې محروم شو.

د غنی د مور د مګ واقعه د پښتنو لوړنی ملی مشر د غنی پلار باچا خان داسې کښلې ده: «د جنګ په وجه په دنیا کښې سخته وبا راغله. په جنګ کښې دومره کسان نه وو مړ شوی، لکه په دې وبا کښې چې مړ شول. په هندوستان کښې هم دې وبا ډېر خلک ووژل. پښتانه هم ډېر پکښې مړ شول. دا داسې عجیبه وبا ؤ اکثر به یې ځوانان. جینکۍ او هلکان وهل او مړ کول او چې یو کوټه یو ځل ننوتې بیا به یې یو هم نه پرېښود.... په دې مړ ښ د تولونه اول زه پرېوتې وم خو هسې خدای جوړ کړم.... زما ورسته غنی چې د پنځو کالو و نا روغه شو.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غنی دیر بنکلے وه دموری وریسته دیره مینه وه. دیر بے درته ژړل مابه منع
کوله او دصبر تلقین به مے درته کولو خو دهغے زړه به نه صبر بلدو. یوه ورځ دغنی
رنځوری سخته شوه موری درته دکټ سرته ناسته وه دده سرے په غیږ کښے
اینبے و. مادماښام لمونځ کړے و په مصلی ناست وم. دعا مے کوله غنی ته مے
کتل چه بے هوشه پروت دے چه ناڅاپه موری پاڅیده دزوے سرے دخپل وراته
نه په بالښت کښیښوده او دزوے له کټه چاپیره وګرځیده او سرته یے ودریده
اولاسونه یے په دعا پورته کړل او په ژړا یے وویل چه اے خدایه دده مرض په ما
کښیږدے او دے ماشوم ته شفا ورکړے. دخدایے وه عجیبه حکمت و، په سباله
داناجوړه شوه. دده مرض ورځ په ورځ زیاتیدو او دغنی مرض به ورځ په ورځ
کمیدو غنی جوړ شو. او موری خوانیمګړه شوه. ماشومان راته پاتے شو، دغه
وخت غنی دپنځو کالو. ولی دده یو کالو او خوریے دیو کال وه.» (۶۱)

دموری ترمړینے وروسته دعبدالغنی خان روزنه دده دانا دپاچاخان
دموری په غاړه وه. مګر دهغے هم دژوند دیر ورځے نه وے پاتے. په داوخت کښے
چه باچاخان دپیره غازی خان په جیل کښے قید و. موری هم وفات شوه (۶۲)
او دغنی دغے پالونکے او مهربانے هم له دنیا سترګے پټے کړے. غنی بے سرپرسته
پاتے شو. لنډه داچه پرغنی دماشومتوب په دوره کښے دژوند دناوړه چیپے
راغلے مګر ورو ورو دده حالات مخ په ښه کیدو شول. خاکا جی غنی دملګرے شو

(۶۱) زما ژوند. او جد وجهد ص ۱۳۲ - ۱۳۴ .
(۶۲) همدا غه کتاب ص ۲۱۹ .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ښوونځیونه لاړ دده په شخصي ژوند کښې هم تبدیلي راغله .

زده کړه، روزنه او فرهنګي محیط :

د پښتو د اوسنۍ ادب دغه نومیالے شاعر هغه وخت د مدرسے دتګ شوچې باچاخان او نورو مبارزو اونګیالیو پښتنو په همت په پښتنو کښې د عصري تعلیم د شروع کولو او عاملو جد وجهد جاري وو . او د دوے په همت او میړانه په ۱۹۲۱ع کال د اتمانزو آزاد سکول جوړ شوے و، خو دلرو پښتنو په چاپیرچل کښې په عام ډول د تعلیم څه شوق نه و، او د پیرنګي اجنټانو به د عصري تعلیم د مخنیوي لپاره په خلکو کښې ډول ډول غلطے پروپاګنډے خپرولے او خلک یے له عصري تعلیم څخه لیرے ساتل، په قبایلي او کلیوالي سیمو کښې د سبقونو عام دود په جومات کښې هاغه دیني نصاب و، چه له ښوانه تر اوسه لا په ځینو ځایونو کښې چلیږي .

غني خان په دغسے شرایطو کښې د ښوونځي شو، او میړنی پلار یے د اتمانزو په آزاد سکول کښې شامل کړ .

استاد بینوا مرحوم په دے باب کښې لیکي : « د غني خان ابتدایي زده کړه په هغه آزاد قومي ښوونځي کښې شروع شوه چه باچاخان او د هغه دوستانو د غریبو هلکانو د پاره په اتمانزو کښې جوړ کړے و، او زده کړه پکښې وریاوه .

باچاخان خکه خپل زامن د دغه ښوونځي ته واستول چه خلک

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونه وايي چه: باچاخان دخپلواونورو دزامنوترمنځ توپيرکوی. خپل زامن معتبرښوونځی ته بيايي اودنورو زامن دغريبانو ښوونځی ته استوی (۸)، دلسم ټولګی ترپاس کولو وروسته ددهلی په جامعه ملیه کښې شامل شو، په ۱۹۲۹ع کال باچاخان دیوه مرام لپاره بيرته جلته راوغوښت اوځه موده وروسته يې تحصيل لپاره لندن ته ولیږه. اود ۱۹۲۹ع کال دجولای په ۲۳ نيټه دخورلسوکاو په عمر دلندن په نيت په بمبئی کښې د اوبوجهاز کښې سوار شو.

استاد بينوا ذده دلندن دسفر په باب زياتوی: «غنی خان لندن ته ولاړ اوهلته يې دباچاخان په مشوره دوه نيم کاله ديولوی پادری په کور کښې تيرکړه، وايي چه په دې کښې دباچاخان مطلب داوچه غنی خان که د پرنګيانو په يوه اوچت خاندان کښې عمر تيرکړی نودپرنګيانو دعظمت په راز به پوه شی.... دانګلستان آزاد ماحول کښې دغنی نايب ښايست دهغه دپاره يولوی مصيبت شو. چه چيرته به تی پرنګيانی جينکی به ورپسې وی اوسبق ته به يې نه پرېښود. څوپه آخره کښې دلندن يوه دفلم ستاره پرمينه شوه چه ډيره بې بها ښکلی وه. دده نوره ملګرو ته ويره پيدا شوه چه غنی يې په نکاح واخلی، نويوکس پکښې باچاخان ته خط وليکه اودټولو قصې نه يې خبرکړ، باچاخان دتار په ذريعه حکم وکړچه فوراً امريکې ته کوم کالج لاړشه (۹)،

(۸) اوسنی ليکوال ج ۳ ص ۹۷۰
(۹) همدا غداثر ص ۹۷۱

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه خبره خانے خاے دغنی خان په شاعرۍ کښې هم خان ښکاره کوی چه دلندن د پیرنګو جونو ښایست پے زړه اثر کړے و. «دلندن معشوقې» ترمه لیک ددې یوه ټوټه ده چه داسے پیل کیږی :

دلته خواته ازغی دی بل خوا ځانګے د نرګس
د هنر علم سایه کښې کړځی کل لبانه مس (۱۰)

غنی خان د پلار پحکم له لندن نه امریکے ته ولاړ. او د لویزیانا د ایالت د بوډے او شکرے جوړولو په یوه کورس کښې شامل شو. اما دوئیم کاله وروسته چه باچا خان بیا قید شو. نو غنی خان ته ژوند تریخ شو. ځکه خرڅ نه ورسیدل او پوره اته میاشتے پیسه خرڅ هم نه وو رسیدلے. بالآخره یو خیلوان دومره څه قدمے وو رلیږل چه دے پرے له امریکے هندوستان ته راواپس شی.

باچا خان هم دغے موضوع ته داسے اشاره لری : «مشر عبدالغنی دے چه هغه دتروکمستری دتعلیم د پاره امریکے ته لیږلے و. خو چه زه فیرنګیانو په ۱۹۳۱ع کال کښې جیل ته ولیږلم او زما جایداد دے کډ وډ کړو نو هغه د پیسو د نشت په وجه سرته ونه رسولو او واپس راغے» (۱۱)

کله چه عبدالغنی خان له امریکے راغے نو باچا خان د هندوستان د بهار د ایالت د هزاری باغ په جیل کښې و. چه د غنی ورسره ملاقات وشو. او بیا د جواهر لال نهرو

(۱۰) پاڼوس ص ۱۱۶، د ۱۹۷۸ع کال د پیښور چاپ.
(۱۱) زما ژوند، اوجد وجهد، ص ۲.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نقید (۱۸۸۹-۱۹۶۲ع) پہ مشورہ دے، الہ آباد تہ ولیږلو او هلته د جواهر لال نهرو د پلار موتی لال نهرو پہ کور کښے دیره شو، او اته میاشتے د جواهر لال نهرو مېرمنه کملا د خپل بچي پہ شان ونازاوه خو کله چه پہ هغے پسے د کرفتارۍ انګریزي پولیس راغلل، نو دے او خپله لور اندرا (۱۹۱۷-۱۹۸۴ع) یے د ټاګور بین الاقوامي یونیورسټۍ تہ ولیږل، د چه د غے یونیورسټۍ تہ لاړه، لږ موده پس د محصلینو د اتحاد یے رئیس شو.

د غنی د منظم تحصیل دوران هم له واقعاتو سره مل روان و کله به یوڅه پیښ وو، او کله به بل څه.

د دے تحصیل پہ جریان کښے ده له خپلے مورنۍ ژبے سره پیره عربي، فارسي اردو او انګریزي ژبے د خبرو کولو مطالعے او پہ ځینو کښے د څه کښلو ترسره کړه زده کړے.

پہ اوسنی لیکوال کښے د ده د عربي دانۍ او د اسلامي علومو د تحصیل او مطالعے پہ باب راغلی دی: «د باچا خان د اخیال وچه د غنی نه یولوی اسلامي عالم جوړ کړی، نو ځکه غنی خان اوه کاله د عربي مروج علوم ولوستل پہ تیره یي د قرآن تفسیرونه او د احادیثو کتابونه (مسلم، بخاري) احسن المسائل او بلوغ المرام تقریباً ټول پہ یاد وو او عربي ژبه یے د خپلے ژبے پښتو پہ شان روانه ویله» (۱۲) وایي چه یو ځل د هند د دیوبند د اسلامي

(۱۲) اوسنی لیکوال ج ۳ ص ۷۹۰

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګرے یو مولانا د اتمانزو آزاد سکول ته راغلے و، غنی خان د ټولو شاګردانو مخکښے ولاړ شو او شل دقیقے یے په روانه او فصیحه عربي ژبه وینا وکړه مولانا پوښتنه وکړه چه دا هلک عرب دے ؟ باچاخان په جواب کښے وویل چه نه دا زما زوے دے .

دغسے چه باچاخان په غنی باندے د عربي د زده کړے باعث دے نو څنګه یے د پارسي ژبے د زده کړے سپارښت هم وته کاوه . باچاخان په خپل یوه لیک کښے غنی خان ته کښلی دی : " عربي او فارسي طرف ته هم څه نه څه توجه وکړه او د دے مطالعے د پاره هم څه نه څه وخت وباسه ما تانه د دے متعلق اول هم لیکلی وو لیکن تا یے په خپل خط کښ څه خاص ذکر نه دے کړے "(۱۳)

ملازمت :

بنا غلی هیش خیل کښلی دی که چه غنی خان په ۱۹۲۳ع کال پیښور ته واپس راغلو څه موده وروسته د تخت بهایي په شوګر میل کښے ملازمت وکړو (۱۴)

استاد بینوا لیکلی دی : " غنی خان هلته د بورے جوړولو په یوه کارخانه کښے د میاشتے په سلو شل کلدارے نوکر شو، په لومړی سر کښے یو معمولی نوکر و، خو په دے کاله کښے د ننه د خپل فطري استعداد او لیاقت په وجه د کارخانے د ټولو نه لوے اوغټ افسر شو . . . څه موده وروسته یے د تخت بهایي په سیمه کښے د بورے جوړولو کارخانه جوړه کړه ، کارخانه په چلیدو راغله، خو د اهغه وخت وچه دده د پلار

(۱۳) د باچاخان لیکونه (۱۴) پښتانه لیکوال ص ۱۷

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

(باچاخان) اوپرنګیانو تر منځ بیا جګړه تودې شوه او د غنی خان قول خپلوان د انګریزانو له خوا د استعمارزنده انونو ته بوتلے شول. غنی خان ته باچاخان حکم کړی وچه خان به قید ته نه ورکوی، او د هغوی د جایداد سرپرستی او انتظام به کوی. غنی خان هم د خپل جایداد په یوه کاڼی کښے ځانله سنه کور جوړ کړ... کرمه زمینداری ئے شروع کړه او په مزه کښیناست» (۱۵)

استاد بینوا په اول وار کښے د ده د ملازمت ځانه دے سنوولے او دوهم وایي چه: غنی خان هلته د بورے جوړولو په یوه کارخانه کښے .... نوکر شو. څنګه چه د انجث په هندوستان کښے د ده له ژوند سره اړه لري، نو د ملازمت دغه دوره به یے هندوستان کښے وی. خو په اوسنی لیکوال کښے دغه خانه دے معلوم.

اما په پلوشے (۱۶) کښے چه د میا جعفر شاه په نامه د عبدالغنی خان کوم منظوم لیک چاپ شوے دے، په یوه بیت کښے یے راعلی دی:

چرته نرم ریښمین تار چرته میزرے
چرته زه چرته «کوله» چرته شکرے

د همدے منظوم لیک په حاشیه کښے کښلی دی: کوله: کوکرناتھ د هندوستان پایو. پی) ولایت کښے یو ځاے دے غنی د غلته د بورے په کارخانه کښے افسر و.

نو استاد بینوا چه په هندوستان کښے د خان د ملازمت کوم بیان راوړے دے دا به بنایی هاغه کوله کښے وی.

(۱۵) اوسنی لیکوال ص ۹۰۳
(۱۶) پلوشے ص ۳۶ د ۱۳۲۹ هـ. ش کال د کابل چاپ - پښتو ټولنه.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

واده :

د اوسنی لیکوال کښې راغلی دی : « .... او هغه وخت چه د بمبئی په ښار کښې یې د خپل یو دوست کره د حیدرآباد د نواب رستم جنګ کشر لور واده نو د لیدو سره سمدستی یې زړه پرې بایلود ... » بیا لیکی : « او تر اوږدو کالو منډو وروسته یې د نواب صاحب لور وکړه او د خپل زړه مطلوب ارزو ته ورسیده. »

عبدالغنی خان د خپلې د غنی ملګرې په باب داسې نظر لری :

یو خوب د شاعر په جامه انسانی — یو ساز دور دراز ښکې خوږ آسمانی
یو ګل د جنت په خصلت جهانی — یو جسم ناری یو زړه کې نورانی
شو له دا پیدا د غنی دلبرا — په غیرت پښتنه په ښا ایرا بستانی (۱۷)

سیاسی میدان :

که څه هم استاد بینوا کښلی چه غنی په ۱۹۴۵ع کال د سیاست د ګرخوا ته هڅه وکړه، خو زما خپله رایه او نور شواهد دادی چه د عبدالغنی ژوند له ماشومتوب څخه په یوه سیاسی ماحول کښې تیر شوی دے.

خان په دا سې یوه کورنۍ کښې زوکړے چه هغه پخپله یوه لویه سیاسی ملاسه وه، باچا خان نه یواز د خپلې سیمې په سیاسی حلقو کښې محشور پېژندل کیده بلکه د سیمې په سیاست کښې داخل شخصیت دے.

عبدالغنی په دغسې یوه کورنۍ کښې د نیاته سترګې پرانیستی، د هغه وخت

---

۱۷۱. د جرګې چغار ص ۳. د ۱۹۵۶ع کال - چاپ پېشور. د چرګې چغار په ۵۶ مخ کښې چه موږ یې چاپ کړی په هغه یې کښې ۱۹۵۷ع کال د خپل واده د دولسم کال سږدونی دی. نو سمکاری چه خان به په ۱۹۰۹ع کال کښې واده کړی وی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول سیاسي جریانونه او واقعات دد: یه فکر او نظر او عمل کښې او موثر وو.

زه په خپله د ع. الغني خان د سیاسي فعالیت زمانه او په سیاست کښې دده کلیوون له هغه وخته راپیل کوم، چه د پرنګی د شومونیا تو په نتیجه کښې په افغانستان کښې د غازي امان الله خان (۱۹۱۹-۱۹۲۹ع) په ضد بغاوت وشو او بچه سقا راد ننه شو، زمونږ په ټول هیواد کښې د حق او باطل ترمنځ یوه جګړه روانه شو. او ټول وطن د پرنګی په لمسه په اور کښې سوځید، زمونږ نرنګو وروڼو د دغه مصیبت برداشت نشو کولای، او له مونږ سره یې خان په دغم کښې شریک باله. باچاخان او دده ملګرو د خلکو د پوهولو لپاره جلسې کولې او د امان الله خان په ګټه یې تبلیغونه کول چند مې یې ټولو لې (۱۸)

او د جنګ د زخمیانو د مداوا د لپاره یې افغانستان ته د یو طبي وفد د لیږلو کوښښ شروع کړے و. غني خان هم د باچاخان له خوا دغه وفد ته معرفي شوے و، لکه چه او سنی لیکوال کښې راغلی دی: «باچاخان پنځه زره روپۍ او یو هم غني دغه وفد ته وباخښه» غني خان دغه وخت په جامعه ملیه دهلي کښې سبق وایه، په غني پسې تلګرام لاړ او هغه په دوهم ورځ راورسید. خان ته یې د رضا کارانو خرڅ جامې جوړې کړے او د ډاکټر خانصاحب (۱۹۵۶ع شهید) له کمپوډر څخه یې د پټې تر لوچل زده کړ. خو پرنګی د دغې ډلې له تلوسه موافقه نه درلوده او د روسي پاسپورټونه یې ترهغې وخنډول

(۱۸) مرحوم راحت زاخیلي (۱۸۹۴ - ۱۹۶۳ ع) هم په دې باب ویلي دي: «یاد کړه هغه مانونه چه ما کښې د زخمیانو د داغستان ص ۳۰ د زخمي هیواد مل په زیاد د ۱۳۶۳ هـ ش ۱ ل چ پ)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه امان الله خان له پاچهی لاس وکینبی.

څنګه چه د باچا خان دغه فیصلے ته پرنګیانو په سنه نظر نه کتل او پلمه یے غوښتله چه دے ګرفتار کړی، نو غنی یے له ګرفتارۍ څخه د ژغورلو په خاطر د تحصیل لپاره انګلستان ته ولیږه (۱۹۲۹ع). داو د سیاسی مبارزه په ډګر کښے د غنی لومړے کام او د پرنګی د اعمالو پر ضد یو پاڅون.

د روسته تر دے چه غنی له اروپا او امریکا څخه بیرته هندوستان ته راوګرځید، د هند په سیاسی حلقو کښے محشور و. له ګاندهی جی (۱۹۶۹-۱۹۴۸ع) او د هند له نورو سیاسی لیډرانو سره یے د پلار په وسیله ناسته پاسته وه. لکه چه باچا خان په خپل یو لیک کښے عبدالغنی خان ته کښلی دی: «غنی جانه! د اخوږیږه د خوشحالۍ خبره ده چه د ګاندهی جی په صلاح او مشورے سره بنګال ته روان یے زه به تا نه ډیر خوشحالیم که چیرے ته د ګاندهی جی په صلاح سره کار کوے د هغه تا سره ډیره مینه ده .....» (۱۹)

استاد بینوا لیکلی دی: «عبدالغنی خان په ۱۹۴۵ع کال د روستانو په سپارښتنه د هغه وخت په مرکزی پارلمنټ (برتانوی هندوستان) کښے د انتخابیدو د پاره د درید، خان یے کاندید کړ (۲۰) د ده په مقابل کښے که څه هم د هغه وخت د سیاسی ډلے لکه خاکسار، مسلم لیګ او هندو مها سبها

(۱۹) د باچا خان لیکونه ص ۲۸

(۲۰) د پښتانه لیکوال په ۱۷ مخ کښے یے کښلی دی: «کوم وخت چه خان عبدالقیوم خان د کانګرس نه مستعفی شو نو غنی خان د هغه په ځای د دوه کاله د مشترکه هندوستان د سنټرل اسمبلے ممبر پاتے شو.»

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړ دے، خو غنی خان هغو تولو ته ماتے ورکړه او هند په مرکزی پارلمنټ کښے وتاکل شو نو دهلی ته ولاړ، ـ هند په مرکزی پارلمنټ کښے ښاغلی غنی د خپل مستعد دماغ په برکت ډیر ژر منلے مقام وموند او دهغه وخت د هندوستان په دریو بهترینو مقررینو کښے یوهم غنی خان و، که څه هم دے د پارلمنټ تر ټولو غړی کشر و، خو چه ده به تقریر شروع کړو نو یو دم به چار چاپیره د پارلمان غړی په منډه منډه د پارلمان سالون ته راټول.... سره ددے چه عمر دے لږ و، بیا هم د مرکزی وزیرانو سره د یو ولسوسلا کار کمیټو غړے و یو ځل نیم هم د اروپا بین المللے کنفرانسونو ته لیږلے شوے و.» (۲۱)

هدغه مهال په شمال مغربی صوبه سرحد کښے د مسلم لیګ یانو ورانی د خدایی خدمتګارو په وړاندے زیاتے شوے وے، نو هماغه وچه عبدالغنی خان د خدایی خدمتګارو د محافظت لپاره د زلمی پښتون ډله جوړه کړه او ډیر وطنپرست پښتانه زلمیان یے پکښے منظم کړل، دغه تحریک سره له دے چه شپږ میاشتے وچلید، خو د اتیا زرو په شاوخوا کښے پښتانه زلمیان ورسره وو.

فخر افغان د دغه تحریک په باب کښلی دی: «څه وخت چه زمونږ خلک د میجر خورشید د ارادے او سیکم نه خبر شول نو هغوی د خدایی خدمتګارو د حفاظت د پاره نوے جماعت د غنی په مشرۍ کښے جوړ کړو، نومے (زلمی پښتون) و او په دے کښے هغه ځوانان شریک شول چه د چا عقیدے په عدم تشدد باندے نه وه

---

(۲۱) اوسنی لیکوال ص ۹۷۲

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولے چه هغوی په دے غرض دغه جماعت جوړ کړے و، چه خدائی خدمتگار خو تشدد نه کوی، دد ے عقیدهٔ په عدم تشدد ده دد ے په خلاف د تشدد سازشونه کیږی، نو دد ے اعلان وکړو چه دا جماعت صرف د خدائی خدمتگارو د حفاظت د پاره دے. دد ے په مقابل کښے مسلم لیګو د غازی پښتون په نوم یو جماعت جوړ کړو لیکن پښتون قوم زلمی پښتون پسے و، او مسلم لیګ کښے چه کوم خانان د پرنګیانو تالی څټ وو، هغو په دے نتیجه ورسیدل چه قوم خدائی خدمتگارو سره دے نو که د زلمی پښتون او غازی پښتون جګړه شی نو مونږ مسلم لیګو کښے به یو کس هم ژوندے پاتے نه شی... " (۲۲)

د هندوستان تروئیش وروسته د ۱۹۴۸ع کال د جولائی په څلرمه نیټه د شپے په یوه بجه غنی خان د مسلم لیګی حکومت له خوا گرفتار شو او د هغے شپے په سبا پیښور ته بوتلے شو، او له مرحوم ماسټر عبدالکریم سره یو ځائے جیل ته ولیږل شو. د هر پیور او پاکستان د نورو جیلونو په تورو او سپینو پنجرو کښے یے شپږ کاله تیر کړل او په ۱۹۵۴ع کال کښے له بنده آزاد شو.

دا وه د ده سیاسی ژوند او په سیاسی میدان کښے د ده د فعالیتونو او مبارزو لنډه قصه. اما تردے وروسته هم که ظاهراً خان په روان سیاست کښے لاس وهم نه لری، مګر بیا هم د محیط او خپلے کورنۍ د سیاسی سرګرمیو

---

(۲۲) زما ژوند او جدوجهد ص ۶۹۷ - ۶۹۸

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

له چپو په امان کښې نه شي پاتې کېدے او دغه سیاسي جریانات دده پېژوند اغېز کوے او دده ژوند مل ورسره تېرېږي .

د ادب میدان :

ویلے شي چه خان عبدالغني خان خپل لومړنے شعر د ۱۹۲۹ع کال د جولائ په ۲۲ نېټه د عمر په څوارلسم کال ویلے دے ، او دهغه شعر یو بیت دادے :

د تهمت نه به جهان کښې څوک خلاص نه شي
چه آسمان وي کله کله وي وریځې

عبدالغني خان له هغه وخته د ادب په میدان کښې لومړے قدم کېښود ، مګر دغه قدم یې ډېر پوخ او محکم کېښود چه ان تر دے دمه پورے لار روان دے ، او ادب یې د زړه همدم ایسي .

خان له ۱۹۲۹ - ۱۹۰۵ع کال پورے په دے شپږ پنځوس کالو کښې خپلے ژبے او خپل فرهنګ ته ډېره څه ورکړي دي . چه دغه ادبي کارنامے به یې نوم تر پېړیو ژوند ے وساتي .

پښتو ادب ته د غني خان بخښنے :

د پښتو ادب په اوسني دور کښې په سلګونو شاعرانو او ادیبانو لو او پښتو ژبے ته په نظم او نثر کښې ډېره څه بخښلي دي . چه په دغو ډالیو کښې د ځینو هغو له مرغلرو سره برابر دي ، او د ځینو لا په کونجکه نه ارزي .

د عبدالغني خان بخښنے په لومړي قطار کښې ځاي نیسي ، ده چه څه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلے ژبے او ادب تہ بخښلی دی ډیرے برخے یے د پښتو شاعرۍ په اوسنی دور کښے خپل بل سارے نه لری، او یوازے دے په خپله ژبه کښے د دغسے بکر و اوناویلو شو و مضامینو مبتکر دے.

زه به د دے لیکنے په دے برخه کښے لومړے هغه څه در وپیژنم چه ده پښتو ادب ته ورکړی دی.

۱- د پنجرے چغار:

دا د خان د منظوم کلام اولنۍ شایع شوے مجموعه ده، اوله اختتامیه لیکنے یے ښکاری چه دغه مجموعه خان په جیل کښے تنظیم او بشپړ کړے ده د ده خپله لیکنه په دے خصوص کښے داده: "نن په ۲۷ تاریخ د اکتوبر ۱۹۵۳ع په هرپور جیل کښے دا کتاب لیکل ختم شو." (۲۳)

دغه مجموعه ۲۱۵ مخه په ۱۹۵۶ع کال پیښور کښے د یونیورسټی بک ایجنسی له خوا چاپ شوے ده. د کتاب پیژندګلو د مرحوم ماسټر عبدالکریم په قلم کښل شوے، او په پیل کښے یے د خان ځینے منظومے لیکنے هم چاپ شوے دی.

۲- د غنی پلوشے:

دا د عبدالغنی خان د کلام د وړمه مجموعه ده چه په ۱۳۳۹ هـ ش کال په کابل کښے د پښتو ټولنے له خوا ۲۳۶ مخه چاپ شوے ده. د دے مجموعے د پیل په ۱۲۳ مخونو کښے د خان نوے کلام چاپ شوے دے او وروسته یے د پنجرے چغار

(۲۳) د پنجرے چغار ص ۲۱۵ - خان د دے اثر په پوبل ځای کښے کښلی دی: "هرپور - ۱۵ اکتوبر ۱۹۵۵ کښے دا کتاب شروع کوم." د غنی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظمونه اخیستی دی .

دے مجموعے په پیل کښے د مرحوم استاد الفت یو یادښت او په پاے کښے یے د غنی خان یو یادښت چاپ شوے دے چه د هرپور په جیل کښے کښل شوے او تاریخ یے ۱۹۴۹ع کال د جولای د شلمی نیټے دے. د غنی په دے یادښت کښے راغلی دی : "کتاب خلاص شو خو شعرونه ډیر پاتے شو، خیر بیا به چرته څه غم وکړو، ژوند عجب شے دی. دے کتاب کښے اول شعر د اوبو په جهاز کښے په بحر هند کښے ویل شوے و او آخری د هرپور جیل د کوارنټین په یوه چکۍ کښے په دے منځ کښے چه څه مستی، خوشحالی، غم، ارمان، امید، ویره، خندا او ژړا په ما راغلی دی. نو دے کتاب په دے پاڼو کښے موجود دی ولے افسوس دے چه ژبه مے د زړه هومره طاقت نه لری بیان د احساس نه کمزوری دے. خو هر څه چه دی حاضر دی ما د څه پټولو کوښښ نه دے کړے، بلکه د ښکاره کولو خواری مے کړے ده.

د ازماد خان تصویر دے، ډیر نامکمل او مات کوډے ولے د ازماد ښه په خوشحاله ضمیر ویلے شم چه دے کښے هر څه دی زما دی، د ازماد دے بے ښکاره او بے مطلبه ژوند یوه خواره ډاڼی ده چه ما خپل قام او ملک له جوړه کړے ده. کاش چه دے کښے د ژبے د ښایست او پوهے د کمال د ریا بوټه ما دک بهولی وے ولے څه وکړم چه هماغه وسه وس و. او بنډ د خپله وسه زیاتی په هیڅ نه دے پرے. که په دے خیالا تو کښے د ومره حسن وی، چه له مانه پس هم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندی پاتے شی نوزه به وایم چه واقعی ماد آب حیات چینه وموند له، اوس دوی ماژوندی کړی دی، اوبیا به دوی ماژوندے کوی.» غنی (۲۴)

۳- پانوس :

د عبدالغنی خان د شایع شوی کلام د ټولګه مجموعه پانوس نومی چه په ۱۹۰۸ع کال د قامی مکتبه پیښور له خوا په پنجاب آرټ پریس لاهور کښے ۲۹۲ مخه چاپ شوے ده. په دے مجموعه کښے د خان له نویو نظمونو سربېره د پنجرے چغار او پلوشے انتخابات هم لیدل کیږی. د دے مجموعے په پیل کښے یو یو مخیز یادښت هم چاپ شوے دے.

۴- د غنی لیکونه :

غنی خان د خپل سیاسی او ادبی ژوند په دوران کښے د لرغے او بړے پښتو نخوا او برصغیر ادیبانو، شاعرانو او سیاسی خلکو او مشرانو ته په اردو انګریزی او پښتو کښے منظوم او منثور لیکونه هم کښلی دی، چه زه د خان د غه لیکونه د ده یو ځانته بیل اثر بولم.

که څه هم د ده د پښتو منظوم او منثور لیکونو ځینے بوګی د سرحد په اخبارانو، رسالو او هم د ده په کتابونو کښے شایع شوی دی، خو د هغو ځانګړه ټولګه او خوندی کول په کار دی، ځکه د غه لیکونه د خپل ادبی او هنری لطف سربېره ځینے ډیر مهم نکات او تاریخی وقایع هم رانغاړی، چه د غنی خان

---

(۲۴) پلوشے ص ۲۳۶

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملي، سیاسي او ادبي سیټ په څیړنه او هسې نګه د هغه ماحول او وخت د مطالعې په دوران کښې له څیړونکو سره ډیره مرسته کوي. زه په دې خاګ کښې د سرچاپ له زړور سالوڅه د دویو منثور او یو منظوم لیک دنمونې په ډول راخلم.

دارالامان

۲۰/۱/۵۹

ګرانه مهدي:

ستا دواړه خطونه راورسیدلي دي. معافي غواړم چه اول ې جواب درنګړو. خوزه داوړي نه څه ناجوړ یم اونن سباخو هسې د خپلې خانه او تولې دنیا نه مرور شوې یم. تاته دا هم معلومه ده چه کلونه اوشو چه ما خه خاص شې نه دې لیکلې تیر شوي خرم کښې چه زه په هسپتال کښې وم. نو په امام حسین ې مرثیه لیکلې ده. هغه د لیږم. هغه هم راته ورکه شوې ده. خو کوښښ کوم او را یاد وم. زه ستا ډیر منګړیم چه کله نا کله زما شعرونه د صبر کښې چاپ کړې زه ې ډیر غواړي چه هره هفته دلته څه ناڅه لیکم ولې ډیر پریشانه او زړه ستړیم او هیڅ کار نه مې کړې نه ګلی (۲۵) یغنی »

لاندې یو منظوم لیک راوړم چه عبدالغني خان د ۱۹۵۱ع کال د جون په ۲۵ په جیل کښې ماسټر عبدالکریم ته لیږلی و:

---

(۲۵) د صبر کالیز نمبر ۱۲ فروري ۱۹۵۹ع. الف مخ.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غنی ته نه سړے وے — نه سړے شوے نه به شے
بے ګټه دے خبرے — بے مطلبه دے نشے
بے توله دے دماغ دے — بے لباسه دے بیان
داسے دے دسنډ ادے — نه سود پیژنے نه زیان
تالو کښے الونه وینے — بق بق آسمان ته ګوري
قسمت دتهٔ ناري وے — ته نے ناست او خان ته ګوري

• • •

جوړے لوے محلونه — دخندا اوردهوا نه
په خان لے خاورے کړے — دا بنایسته دنیا ودانه
دا ګه دعیشونو — کښلو جونو او رنانه
په خان دے مقبره کړه — تکه توره ورانه ورانه
داخه غواړے دبل نه — خانه څه غواړے دخانه
داخه بلا جوړے — ددے بنایسته دنیا نه

• • •

نرګس دے دری کړلی په باړو کښے دجوار رو — رامبیل دے لګولی په باغچه کښے دانار رو
دنیا کښے ترقی په خوشامندو ددله ده — تاجونه په سلام دی او تختونه په منت
دنیا واړه کمزورے ده خواره درغ خواره وی — چه څک دبل ښاوی دهغه کیږی صفت
بادشاه دنیا زردی او یا زوردے بل نشته — مطلب دثروند یا خان دے او یا کوردے بل نشته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوته ایونی خانه نه سرے وے نه به شے — گلونو او ګلونو او خنداګانو شمیشے

دخاتمو نظر کښے خاخایول نه درځی — تهتول پاره سنګ پاره نه چلی تو نه درځی

تهتول منصور منصور بے زړه دے تو دسر دے نخ — خاتاله حکمتونه د بهلول نه درځی

منم چه ګلونو ابشارونو سپر لویار دے — خوتاله دوب خنداق دا غوشپونه درځی

پهدے خته چه ګل او نسیم ساقی راز دار دے — چه تاله بل خلول او خاخیزول نه درځی

همیش به دے شغلیوانے خیژی په صحرا کښے — په کوڑ کښے دفغو چه خاباول نه درځی

رنا که ډیره اوکے پهدے تشه رنا خته — داوبه خیژی خاپهدے تشه خنداخته

* * *

تحسن حسن خته دلوګی هوا محل دے — انصاف انصاف دخه دیو هوښیار شا انکل دے

ایمان ایمان دخروی هوښیار غم کړی دسبا

اتبار دهوښیار تیا دا کو ایمان دعقل غل دے

رښتینے دے مړے چغے وهی په زولنو کښے

نن بره دچلی دومره اوبره روان چل دے

په بیه شرافت دے نوم او ښځے په لیلام

یا هی په کرایه بنه سر پیتوب هم په بدل دے

خګل کښے دپیریانو لتو ته بنا پیری — تعلیف کښے پهمو ته په دسته خوان دسامری

پهمو کښے لتے دلرو سرو پلوشے — "غنی" ته نه سے وے نه سے پهمو نه به شے (۲۶)

(دس ستا ور غنی)

(۲۶) رهبر ۲۸ فروری ۱۹۶۱ع ص ۱۱۴ - ۱۱۵

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې آثارو سربېره دخان متفرق اشعار او نظمونه، لیکونه او نورې منثورې لیکنې د پښتو، په ډېرو ملي رسالو او اخبارونو کښې شایع شوي دي چې تولول او خوندي یې په کار دي، ځکه دده هر لیکنه او هر نظم د پښتو ادب یوه قیمتي پنګه ده. او بویه چې زمونږ لرغونې چېل قوم اوژبه مېن ورونه دغه کار وکړي.

دغني خان د آثارو په لړ کښې ادب پوهانو په انګرېزۍ کښې د "پتانز" په نوم دده دیوه اثر یادونه هم کړې ده، چې څو افغان ته اهدا شوې دې والي چې دغه اثر دوه ځله چاپ او شایع شوې دے. یو ځل په بمبئي کښې او بل ځل په ۱۹۵۱ع کال په پېښور کښې. ما خپله دخان دغه کتاب نه دے لیدلے.

دغني د کلام شکلي خوا:

دخان د کلام کومه مطالعه چې ما غریب ته میسره شوې ده چې هغو کښې زیاتره برخه د شعري سکښت لرې چې زمونږ لرغونې ورونه یې "نظم" بولي او د شعري قالبونو د څېړنې قاعدې او اصولو ډېر تابع نه وي. له دغو نظمونو سره سره دده په کلام کښې غزل، رباعي، قطعه او یوه نیمه مثنوي هم لیدے شي.

د عبدالغني خان په کلام کښې څه د آسې نظمونه هم ځان ښکاره کوي چې مونږ ورته دلته په کابل کښې "آزاد نظم" او یا نوې شعر وایو دغه ډول نظمونه هم خان په خاص ادبي مهارت ویلې دي چې له فکري خوا وو سره سره هنري مزیت هم لري او د پښتو د نوي شعر د مطالعې په دوران کښې په خاص ډول د یادونې وړ دي، دلته زه دده دغه ډول نظمونو یوه نمونه وړاندې کوم:

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک د زړه غولو لونشته
ځان له زړه غولوم پخپله
ځان له ناست یمه خپل غم ته
د خپل غم وایم بدله
چرته لرے تیر محفل له
د مستۍ او خندا ځمه
چرته مړه شمع را اخلم
خپل مثال پرے لګومه
دے تور تم غم او افسوس کښے
زه په یاد د مینے پایم
سوی زړه ته قصے ډیرے
د ځوانۍ رنګینے وایم (۲۷۱)

د خان د آزاد و نظمونو ډیرے نمونے په پانوس کښے خوندی. په مجموعه یو ځانیم د علامه اقبال (۱۸۷۳-۱۹۳۸ع) د کلام ترجمه هم لیدے شی او هم د پښتو د اولسی شعر و نمونے هم.

د خان د شاعرۍ مضامین او فکري ارزښتونه:

د خان د کلام له مطالعے هر چا ځانله خوند اخیستے دے او لیکوالو او محققینو هر یو د خپل برداشت سره سم څه پرے لیکلی دی. مګر زما په عقیده تر هر چا د مخه او تر هر څه د مخه باید سے د شاعرۍ په باب د خان پخپله رایه پوهشی چه د دے په باب څه نظر لري. عبدالغنی خان استاد بینوا مرحوم په یو لیک کښے په دے باب داسے لیکلی: «... زما خیال دے چه ژوند کښے د یو شاعر مرام او هدف د یو مبلغ او ملا څخه بیخی جلا او بل شان دے او دا ځکه چه انسان په اساسی او بنیادی توګه یو ځناور دے

(۲۷۱) د هنر جون ۱۹۵۹ع ص ۱۲

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خوږک، ځمکاک جنسي ارتیاوو او استراحت ته نه ورلوی او نه هیڅ
ته نه. دا زمونږ د شاعرانو وظیفه ده چه د انسان توجه او پاملرنه د هغه د ژوند
او هستۍ د لوړ مرکز ونوته وګرځوو، چیرته چه هغه ممکنه ده، د خپل تکامل
انعکاس وویني، او د خپلې ابدي معشوقې د ښکلا او ښایست دیدن وکړي.

زما خیال دے چه یو شاعر باید د فکر او خیال قول او عمل په ډګر کښې
د ښکلا او ښایست عبادت وکړي او انسان دے ته مجبور کاندي چه هغه د خپلو
خواهشاتو له لګښت څخه خپل مخ د خپل باغ عدن خواته واړوي. دا کار په پند
ونصیحت نه شي کیدے. زما هغه خلک بد ایسي چه ماته نصیحتونه کوي.

که چیرے مونږ د زړه له کومې د ښکلا او ښایست د قدر، دانې لپاره خان
راپیدا کړاے شو، نو کومه چه په ژوند کښې د عذاب او مصیبت درد او غم
تعلق دے نو زما خیال دے چه مونږ ته د ښکلا ښایست د تخلیق د پاره د هغے
قیمت ادا کول لازم دي. هر یو آرتست دا بوګنو ونکے قیمت ادا کوي، او په
دے کښې یو څوک سان خوشبخته وي چه د ښکلا، ښایست او دلربایي یو څاڅکی
راپیدا کړي.

د آرټ، ښکلا او ښایست او دلربایي مخ ته د راوستو د پاره ته باید چه
د ژوند د درد او غم ته مخامخ شے.»

د خان له دے څرګندونو ښکاري چه د دوه شاعرۍ مقصدیت هم په
لوړو خبرو کښې نغښتے دے، او د دوه کلام کمال او جمال هم ګډ ګډ دے چه خان پخپله بیان کړل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خان د کلام زیاته برخه فکري محتوی لري چه د ملي او قومي مسایلو له بیان څخه نیولے تر ټیلو فلسفي مسایلو پورے خبرے او د ټولنے ضروریات په خپل کلام کښے رانغاړي .

د خان اکثر فکري آثار د طنز او مزاح په ډول په داسے هنري انداز کښے بیان شوي دي چه د ټولنے او معاشرے ډیرے ناوړے خواوے په ډیرو خوږو طنزونو او ټوکي نظمونو کښے بیانوي . او د پښتو په معاصر ادب کښے ډیرلږ شاعران دغسے طنزونه لري . یا خو به دغه ډول طنزونه ډیرلږ وي که وي نو هغه هم دغسے اهمیت چه غني بیان کړي دي نه وي . په همدے اساس دلرے پښتو څو ادبي محققین لیکي چه په اوسني دور کښے طنز و مزاح ته په پښتو شاعري کښے لیونی فلسفي عبدالغني خان خاصه ځلا ورکړه (۲۹)

د غني په شاعري کښے له وطن او قوم سره مینه په داسے انداز کښے بیان شوے چه هیڅ ډول تفنن او تصنع نه پکے لیدل کیږي او دده د قوم پرستي او وطن پرستي د واقعي احساساتو ترجمانی کوي . او په ټولنه کښے مساوات اجتماعي او سیاسي نظام هم دده د اورني ژبے او د نقاد قلم له څوکے خلاص نه دي . د زیار باسي چه د جامے فسادونه په داسے طنزیه او مزاحیه سمبولونو کښے انتقاد کړي چه په ظاهر کښے ډیر سطحي او پیش پا افتاده ښکاري . خو که سے ډیر مطلب ته ورسي . نو هلته د خان په فکور مغز آفرین ووایي .

---

(۲۹) اتک کښے اسپار ص ۱۰۶ . طبع لوستنه ادب لاهور .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالغنی خان او دده کلام د شاعرانو، ادیبانو او محققینو له نظره :

د خان د پیژندګلۍ او دده د آثارو او افکارو په باب چه کوم بحثونه شول د هغو تکمیل لپاره لازمه ایسی چه د هغو ادیبانو او شاعرانو اراوه هم راوړل شی چه د غنی او دده د آثارو په باب څه ګڼدونی او نظریات لري :

۱- مرحوم ماسټر عبدالکریم (۱۹۰۸- ۱۹۶۱ع) د پنجم چغاره په دیباچه کښې کښلی دی : "... د غنی د شاعرۍ درې دورې دي : اول دور د هلکوانې شاعرۍ ده ... دوهم دور د غنی شاعرۍ هغه وخت ګڼلے شی څه وخت چه غنی له دیورپ، امریکې طواف په هغه زیاته کړے وه ... دے دور کښې د غنی په تخیل کښې پراخولے موندے شی. دلته غنی د خیال په نیلی سمندر کښې خوږ اګے پخپل قابو کښې دی یو آواز دے چه سوز او ساز لري، یو سرور دے چه د مستۍ او سرګرمۍ خمار لري دے دور کښې غنی خان که خپل مسلک هم لري، وایي چه غالب او ټیګور په لاره روان وو غنی مخکښې له ورغے دواړو یو بل ته وکتل. د غنی د دریم دور شاعرۍ ده او چه د خیام مستۍ له یے د غالب بیباکی او د ټیګور رنګینی ورکړه ..." (د پنجم چغاره مقدمه ص ۵)

۲- د پښتو ژبے نومیالی لیکوال هیش خلیل لیکلی دی : "د غنی نوم نه وړاندے ادبی دنیا کښې غنی خان په لیونی فلسفی پیژندلے شو او د خپلو مزاحیه شعرونو له لیکه چه اکثر به په اوږدو پښتون کښې شایع کیدل هم د د غه مجلے په ذریعه لیونی فلسفی نه صرف په خپل ماحول کښې بلکه تولو لري مشهور شو ..."
(پیښاور لیکوال ص ۱۰)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- مرحوم استاد گل باچا الفت (۱۳۵۶ هـ ش مړ) د غنی شاعری
دا ستایی: "د غنی خان په اشعارو کښې چې څه شی زما پېر خوښېږی هغه د فکر
او خیال آزادی او د تقلید له تلقینا تو څخه سرکشی ده.

دده رندانه مقام ته څوک نه شی رسیدای او هغه څه چې دے بے دخپل
سباغلی لیونتوب له برکته ویلے شی د نورو خولو پرے سوچ.

غنی د شعر او شاعرۍ په دنیا کښې د پښتیا غنی دے او په څه بے پرچه
رسیدلی دی. دده په اشعارو کښې عشق او محبت. پښتو او پښتونولی. رندی
او خیامی فلسفه. تهوکے او مسخرے هم څه شته له کارغانو او مارغانو سره بے
هم په شاعرانه ژبه پرے د خوند خبرے کړے دی.

دده په مستانه لیونتوب کښې شاعرانه هوښیارۍ او بیدارۍ پټه ده
او په ملنګو کښې بے د مقصد تګی نغښتی دی. نو ځکه وتې لیونے فلسفی هم
وایی" (پلوشے - الف. ب مخونه)

۴- استاد بینوا (۱۳۳۳ هـ ش مړ) بیا وایی: "... ظاهر بینو خلکو
وتې د ماشوم په نظر وکتل خو د قدرت په نظر کښې هغه د پښتنی ادب پر
آسمان یو ځلیدونکے ستورے و، چې له نمیږه راښکاره شو.

هو! هغه وخت څوک پوهیدے چې د ماشوم به یوه وخ د پښتو د ادب
غنی او مستعد دماغ شی چې د سپیڅلی طبیعت له الهامه، د حقیقی
انسانیت له نورو، د سرمست احساس له جامه د رندۍ او شوخۍ له خوره

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلیونی مینے له سوز وسازه او دژوند دژورے فلسفی له تله به پښتنی ادب دا سے نوے خلا، نوے رنګینی، نوے روح او نوے خوند وبخښی چه د پښتو زوړ ادب لږ وړه اشناو». (اوسنی لیکوال، ج ۳ ص ۹۶۹)

د- شوروی پوه ګ. ف. کیریس بیا دغنی شاعرۍ له تحلیل څخه د خبرو اوباسی،

« دژوند انه د پښتو د ترسیم له پاره دغنی خپل مخصوص سبک او اسلوب انتخابوی طنز، تهکے او تکالے کوی او هر څوک چه د شعر په ګلو کښے د ده مخے ته وغلی دی همدا سے وینه نه دی پاتے شوی او ګوزار یے ورباندے کړے دے. حتی انګلیسان ملایان، وطن دوستان، اولسی بی سوادان او عتیقه پرستان د ده ظرافت لاندے راغلی دی. تیز او مهم موضوعات په دارنګ تعبیر سره بیانول طبعی دول د اشعارو څښی سموی. برسیره پردے دغنی خان د آثارو نه معلومیږی چه د اولس په ورو رستنه پاتے کیدلو کښے پخپله اولس ملامت دے.» (۲۹۱)

۶- استاد اجمل خټک دغنی په نامه یو پاره کے لری چه یوه برخه یے دلته را اخلو:

دغنی په نامه لیکم څو شعرونه — په پنجره کښے یا دوم تازه ګلونه
دهغه سره رنګونه دقلم دی — زه لوم یو څو ساره ساره آهونه
دهغه خوله کښے دخوند ډک چغاړے — زما زړه کښے دی د درد ډک داغونه
هغه خیال فن او ښکلا سره لوبیږی — زه لګیا یم لوبوم داغلی زړونه

---

(۲۹۱) د یا ئی اولس ادبیات. سره محقق معتمد شینواری ترجمه.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیلانے هغه دنورے دنیا کی دے　　بلوم زه دکو دلو مشالونه

دهغه احساس دحسن تاز ه کاد ے　　زه جذبات یم پهٔ ماپل دی سره اورونه

هغه مینه ده، غیرت دے ولولے دی　　زه وفایم، پښتونیم، ننګونه (۳۰)

۷- دپانوس په دیباچه کو ټے کښے اغلی دی: «غنی خان چه خپله دآرټ دیوے ماهر سے حیثیت لری دهغه دافکار سره پوره پوره انصاف وکړے شی. . . . غنی خان دخپلے پاڅے دکاڼو خانګے نه پریکوی. چه دهغه په خیال په یو پښتون باغ کښے دګلاب بوټے خپلے فطری ارتقاته پرینبودل په کار دی.»

۸- پروفیسور ولی محمد خان سیال کاکړے بیا داسے ستاینه کوی:

چه پیدا په هشنغر کښے غنی خان سو
بخت بیدار ه په ربنتیا دلوے افغان سو
شاعرنه دے فیلسوف دزمانے دے
په خپل شعر کښے دپښتون چه ترجمان سو
دلیږنی اشعار چه لولی لیونیان سی
پس له لوستهٔ هر سړے جبر په ځان سی (۳۱)

---

(۳۰) دوخت چیغه ص ۲۴۲ د ۱۳۵۶ هـ ش کال. دکابل چاپ.

(۳۱) منظومه تذکره ص ۲۷ د ۱۹۹۲ع کال دکوټے چاپ.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹- صاحبزاده محمد ادریس پخپل یو نظم کښې دغنی او مفتون مقایسه داسې کړې ده :

فرق څه دے په غنی او په مفتون کښې — کوم چه وینے لیونتوب او په جنون کښې
سړے کوم دانه کړے یو بل ناقلار — اضطراب کوم دے دواړو په خون کښې
د احساس درد کمے په شرابونو — بیا وتیږی دشرابو په بیلتون کښې
بیهوشی کښې اړوی خرابه سرونه — فرق نه ونیم د دواړو په قانون کښې
یو د خیال بل د جذباتو په تال زانګی — وړه د خیال لیلے د مجنون کښې
سر د پښتو په اوستی په زړه جلیل دے — ستیان دواړه د عشق په پهنون کښې
دغنی د خیال نیلے په آسمان کښې — وړه د مفتون آس دے په کړون کښې
صدیونه چه د مینے کوی برسیره — مستی راولی د عقل افلاطون کښې (۱)

۱۰- زموږ نومیالی استاد پوهاند پښتین دغنی د هنر او فن تجزیه داسې کړې:

« دغنی په اشعارو کښې یا په بله ژبه د درد د فکر په پلوشو کښې عشق او مینه او محبت پښتو او پښتونولی ، ښادی او مستی ، تنقید او کږوکنه ، آزاد خیالی او بے باکی د بے باکی فلسفه او نور هر رنګ لذتونه او خوندونه شته او په دے میدان کښې یعنی د خوشحالی د لارې پوخ منګرے دے خو په توګو او ملنډو کښې تر هغه هم وړاندے دے » (۲)

---

(۱) د سپیل ستوری ص ۶۱-۶۲ د ۱۹۵۷ع کال د پښتو چاپ ادارو اشاعت سرحد .

(۲) ورمه د ۱۳۵۶ هـ ش کال کښې ص ۱۳۰

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱- ښاغلی صادق الله خان کښلی دی : " دغنی خان شاعری سیلی ده چه نه نیولے شی او نه تلے پام کوی چه پر خیاه تاو کښے دغنی خان د اچولو کوښښ ونه کړی پر دے چه ستا او زما تاو نه خو دهغے وسعت راکیولے شی او نه دهغے دوزن او چتولو طاقت لری. " (۱۰)

۱۲- سامی شاهین چه دغنی پلوشو کوم جاج اخیستے دے دهغه خلاصه دا ده : " دغنی دفکر پلوشے د حسن وعشق پر دنیا کښے مکه ده چه دنی دتال چل نوهه دیرو ګلونو کښے شینلے دے. دهغه چاڼګرته چپل انداز دنندارو دستو وکوی. " (۲۱)

۱۳- وغ لیونی یوخالیکلی دی : دغنی خان شخصیت دتعارف محتاج نه دے خوک دے چه دردود کیف او بے خودی نه پے خوند نه دی اخیستے او دهغه دے باکی امجت قایله به نه وی دا دقدر نګین عکاس دا کاش پسینه چه پاشوخ لیونتوب کښے هم دستو او پلوشو مجاتا نه خوری هسے خو دد پنځه هم هم بنیاد لیونے دے خکه چه هم بنیاد انو خه بنه ویلی دی چه دنیا پر لیونے خانګی او لیونے پر دنیا پوے تاسو کوی چه دا زه مونږ لیونے فلسفی خه بنه وایی :

زه نجنه جنوایمان نه خو خرمه خکه لیونے یم خلق خکه لیونے

غنی خان شعر وفن پر میدان کښه دیر جدا او آزاد لاره خپله دے. دهغه دا تمه پاک دے دیانت ناکه وی خو زیاد نه کوی. خو دی دوه چه دیو بے باکه او مخلص صحیح غوندے دخپل چاپیریال دکنډو کپړو هوارولو احساس کوی خو سمه تمیدو لره نه وکړی. دهغه احساس موږته دا بنایی چه پر کنډو هر خوک یو ډیر دی. خو خپلی حال وایی خپل نے نه وائی. دغه حقیقت ګماری دچه غنی پی تر جان دے. دهغه کلام دژوند دتولو لوړو ژورو دتولو ویرو ترهو. خوشحالو. خندا کانو شوا وسانو. خوږو تو خو ګماری او تیاګی ذکر ونه کوی. هغه پر زړه ونه دخپل کړیوان کښے دمعاشرے پر مقام مو خلق او ښکے تو یوی. خو پر خوږو خوږو کښے دتر خو حقیقتونه نه خبر هم کوی. " (۳۱)

---

(۱) [illegible] (۲) [illegible] (۳) [illegible]

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴- حامد کښلی دی: «شعر غنی بازتابی از زندگی محیط و درگیری های سیاسی زمان اوست و همین مسایل است که انگیزه های بازسازی دنیای فکری او را می سازد شعر دست او خامه یی است که با آن افکار فلسفی، آزادیخواهی و حب وطن را با تمام ابعادش ترسیم میکند. ..... در شعر او فضای زیبا و پرشکوهی تبلور یافته است. همین ویژگی شعر اوست که او را در ردیف شاعران ممتاز و برازنده زبان پښتو قرار میدهد.» (۴)

غنی او اخوندکری:

په ادبی څیړنو کښې راغلی دی، چې غنی خان اخوندکر (مصور) هم دی. د دې څېړنې اخوروڼه په بعضې کتابونو کښې شایع شوې هم دی. ویلې شي چې د ټیکور په بین الاقوامي یونیورسټي کښې غنی د خپلې استوګنې په زمانه کښې د هلکانو د ټولګو تصویرونه جوړول شروع کړل امادغه تصویرونه چې د کالج پرنسپل او ټیکور (۱۱۶۱- ۱۹۴۱ع) ولیدل نو ډیر زیات خوشحاله او حیران شو.

بناغلی هیش بایکښلی دی: «غنی خان د یوې شاعرانه علاوه یو بهترین مصور هم دی او د پرخپله د تصویرونو نمایشونه شوي دي.» (پښتانه لیکوال ۱۰ مخ.)

---

(۴) حقیقت، دمې د رباعۍ، ژ. حامد نګښه د ۱۳۶۴ کال د اسد ۲ مخ کښې.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غنی د کلام د غړه مجموعه:

کله چه د پښتو ژبې نومیالی شاعر اولیکوال سلیمان لایق ماته د غنی د کلیات د تاوین سپارښتنه وکړه. نو ما لومړی کار له پانوسه پیل کړ. پانوس کتاب شو او کاتب ته د لیکلو د پاره وسپارل شو. تر دې وروسته مود پنجم چاپ ترکارلاندې نیوه او کوم نظمونه چه په پانوس کښې راغلی وو. هغه تر لیږ کړې شول او باقی برخې ولیکل شوې او کاتب ته حوالې شوې. بیا پلوشې وکتلې. د دې مجموعې ټول هغه نظمونه چه په پانوس او پنجم چاپ کښې راغلی وو. هغه تر لیږ کړې شول. او پاتې نظمونه یې ولیکل شوو.

البته کیدای شو چه مونږ د خان ټول نظمونه د پلوشې او پانوس له مخې راجمع کړو خو د دې لپاره چه د عبدالغنی د کلام د مجموعې د خپل هویت هم ساتل شوی وی د هغې برخې لپاره چه جلا جلا سپیلو د ورکړل.

د شعر په کلیات کښې راشاوه شعرونه په املا کښې د پیر لګولو د لهجې تر دیره حده موږ یا رویست چه املا یې دا ده بتوخنوا املا ته وړی. هغه کلمات چه خان په هشنغرې لهجه کښې وخیښتې مونږ سم کړل او په مروجه املا مو لیکل خو خیښتې برخې لا د خان د لهجې مطابق پاتې شول. البته دا خبره باید هیره نشي چه د پنجم چاپ او پلوشې کوم نظمونه چه خان په پانوس کښې راوړی دی. هغو کښې نې لاس ملې دی او ما د متن د ترتیب او د ولیکنې هم د وسپتی شکلونه په کلیات کښې اخیستی دی.

✡ له بده مرغه چه غنی د نکاره نظمونه هم په مجموعه کې راغلی او زه داسې وخت ورته متوجه شوم چې ایستل یې ګران وو.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دد لیکنے په پاے کښے د خان عبد الغنی خان یوه خوږه غزله تاسے ته وړاندے کوم چه زما له د بحث سره ډیره نږدے اړه لری. او دده د ژوند په مطالعه کښے ارزښتمنه ایښی.

غنی غنی ته

ماوے غنی یار څه بے اندازه غوندے یے
ادب دے د کښے کم زبان دراز غوندے یے

قصه د گل و وره نه سم خاشے نه توقی شوے
خوته دے دو پیاز و کښے څه دے پیاز غوندے یے

پتی دے وران ویجاړی او کښے وږے دے پولے
کړے پکښے گلونه حسن ساز غوندے یے

لیندے د ماته گوڼه او شپل ماړل دے غشی
خو غزار دے د ښائکی تیر انداز غوندے یے

دولت وی که صفت وی که ناموس وی که شهرت
په وږے خیټه موږ او بے نیاز غوندے یے

که ننگ وی که تراش وی که چار بیته که بدله
په خپله لار روان یے بی استاز غوندے یے

په مینه یے مین او خدای ته پلار او جانان وایے
داخکه خوبے توله بے اندازه غوندے یے

پښتو جلد (۱۹۸۲ع کال فروری مارچ) ۲۹ مخ
• [illegible] • رحمت الله
خادم العلما مرتب و مدون ۰ ز ۰ ۰

A .S.K B

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library